



او بيا هغوئ هم دَ نن په هندارو کي ............

# پروني مخونه

Ketabton.com

واغوندلو ................

(c) ketabton.com: The Digital Library

( پښتو ناول )

# افضل شوق

له اړخه دَ

## سکام پښتو اکېډمۍ ـ کوئټه

### حقوق محفوظ ...

دا ناول چي دَ " پروني مخونه " تر عنوان دلاندي دَ مارچ په کال 2006ع کي چاپ او دَ افضل شوق په نامه په مارکيټ کي خپور کړل شوی دی ..... همه حقوق يې دَ هغه دَ زامنو عزيزيار خان ، اولس يار خان ،
حکمتيار خان ، قاميار خان او خوږې لور هديل برېښنا افضل خان په نومونو محفوظ ساتل کېږي

### دَ کتاب په باب ...

دَ کتاب ( ناول ) نوم ـ پروني مخونه

ليکونکی ـ افضل شوق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ چاپ کال ـ مارچ کال 2006ع

دَ کتاب سرپانړه ـ الي الا ئس اېن مهاجرې امریکا

اهتمام دَ چاپولو ـ ډاکټر وهیبه سکاني افضل

کمپوزنګ ـ حکمتیار خان او قامیار خان

له اړخه ـ سکام پښتو اکېډمی کوئټه

بیهه ـ 300 کالداري ۲۵۰ افغانۍ او 35 یو ایس ډالر
پاکستانۍ/

## دَ کتاب تر لاسه کولو درك...

- یونیورسټي بك اېجنسۍ ـ خېبر بازار پېښور
- عظیم پبلشرز ـ سوئیکارنو چوك پېښور
- صحاف کتابتون موسسه ـ کاسي روډ کوئټه
- دانش کتابتون ـ ډهکې قیصه خوانۍ پېښور
- پښتو اکېډمۍ بك سټال ـ پېښور یونیورسټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په نامه ...........



دَ خپلي خوږې لور" **هديل برېښنا افضل خان** " چې نه يوازي زه او زما کورنۍ يې مکمله کړي ده، بلکې زما دَ ميني دَ لټون جنوني قيصه يې هم تر خپل ځانه پوري داسې وَ رسوله .. چې زه ورته دَ عظيم، کريم، حليم، حکيم ، عليم، رحمان او رحيم خدائ پاك په لور او لار باندي لومړی ګام ، خو دَ هغې دَ ژوند آغاز وايم - او دَ هغې ښخه دَ يو پښتون پلار په حېثيت دا هيله لرم ، چي هغه به دَ خپل دې غرئيز پښتون پاپا ( **شوق**) او نړئيزي ماما ( **وهيبه**) دَ ميني دغه رښتوني قيصه مخته هم په دې نيت بوځي .. چي دَ پاکي او بې غرضه ميني په تاريخ کي يوه بله قيصه ابدي ژوند وَ مومي .

**خاوري .........**

## افضل شوق

اسلام آباد _

مارچ کال 2006ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښايسته ملغلره

پښتو افسانې لا دَ ديوانو له منګولو ، دَ کوه قاف له تيارو نه راوتلې نه وې چې په بلې لومې کې وَنښتې - په لره پښتونخوا کې دَ پنجابيانو او دَ هغو دَ هندي سنياسيانو ډايجسټونو او فلمونو دَ اثر لاندې دَ ژوندی پښتني معاشرې نه بيرته دَ اسرارو او جادو په سمڅو کې لا درکه شوې - په بره پښتونخوا کې په اول سر کې دَ پښتونستان ، بيا دَ تش په نامه مجاهدو تنظيمونو په بوخته کې ګير شوې - دَ پښتونستان ارمان خو دَ لرې او برې پښتونخوا دَ مشرانو له شامته ، لکه دَ شنډه تُوت ونه تر اوسه بېثمره پاتې ده او جهاد دَ فلسطين اسامه ګانو او آی ايس آی دَ ګټو ډالۍ شو - په پښتو ادبياتو باندې دَ لر او بر دَ همدغو څلورو آفتونو (هندي ذهنيت ، هندي فلمونو ، دَ پښتونستان غوښتنې پلمو او جهادي غرضونو ) اثر دا پرېووت چې له پښتني چاپېريال نه يې پرې کړل - دَ ليکوال او شاعر مخ يې بل پلو ، داسې لورې ته واړاوه چې دَ ټولنې دَ معاشرې او ارزښتونو سره تړاو نه لري - زاړه ، سولېدلي او بې خونده تصورونه ، انځورونه ، تاريخ شرمولي ، زمان زمولي بابولالې دَ جمالګوټې دَ جولاب په څير دَ ادبياتو په نامه په پښتنو باندې وخوړلی شول .

دَ دې ردعمل څه وُ ؟ ځينو ليکوالو بيرته باباګانو ته مخه کړه - شړۍ يې دَ ځانه چاپېره ، شمله داره پګړۍ يې په سر کړه ، په نوره نړۍ يې دَ سامراج او امپرياليست ټاپې ولګولې او دَ ځانه يې بل ، دا ځلې پښتون سنياسي ساز کړ او په دې ترانې بسيا شول چې ، اور د واشنګټن او کرملين په مانۍ پورې شه !.. دا دَ صوفيانو عارفانه ګوښه ګيري ، به ښه وای ، خو که دنيا دَ دوی نه لاس اخيستی وای - دښمنانو شندې پرې وکړې او بيا يې پرېښودل چې دَ خپلې ناپوهۍ په کړايي کې وريته يا دَ ډايناسارانو په شان ورك شي .

خو دَ پښتنو به پيران زوره ور و يا به دَ الله تعالی پېرزوينه ( چې تل يې په خپلو صادقو بندګانو باندې لوروي ) وه چې په دوی کې داسې نوی کول راپيدا شو چې نه يوازې به دَ باباګانو دَ وياړلي تاريخ دَ خوندي ساتلو ذمه وهي بلکه دَ نورې نړۍ سره به يې ګام په ګام پرمخ بيايي - دَ دې کول او نسل استازې په لره او بره پښتونخوا کې په تادۍ سره لګيا دي ، خپلې تقدير ورسپارلې ذمه وارۍ پوره کوي - تادي په دې چې نړۍ انتظار نشي کولی چې يره يو ځلې پښتون را ورسېږي بيا به پر مخ ځو .

افضل شوق دَ همدغو استازو په صف کې ولاړ ليکوال دی - ده ښاغلي ، دَ ادبياتو په ډولا ډول نوعو کې په برياليتوب قلم چلولی دی - سفرنامې يې په پښتو کې نامې دي چې ان زما په شان سخت دريځي لوستونکي هم خوند پر اخيستی دی - تصويرونه يې صفا ، راښه او پر واقعيت ولاړ دي - ياد مې شي چې دَ پېښور په يوه عالمي کنفرانس کې ، چا منکر په ( اووه ګامه مزل ) نيوه که کوله چې دَ بنکاك

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالات يې چې بيان کړي ، هغه دَ پښتني معاشرې خلاف دي - ما ورته وويل چې شوق خو څه دَ پښين يا لورالايي منظرکشي نه ده کړې ، بنکاك همدا شان دی چې ده ستايلی - سړی استوئ بنکاك ته ، تمه ورنه دَ لورالايي کوئ - په دوو نورو سفرنامو کې هم همداسې ، واقعيت ته وفادار چلېدلی دی .

تېره هفته دَ شوق دَ يوه ناول " پروني مخونه " زېرى راباندې وشو - پرون مې شروع او نن مې ختم کړ- اوس په خوشالۍ سره کمپيوټر ته ناست يم ، خپل تاثرات ليکم .

په دې ناول باندې له ورايه دَ شوق ځانګړې ټاپه ده چې دی له نورو همزولو ليکوالانو بېلوي - دا دَ ابن بطوطه ټاپه ده - شوق بلا ملکونه ليدلي او هلته يې بلا زيات خلکو سره شيروار ګډه کړې دی - خو دَ ابن بطوطه خلاف ، دَ شوق په رشته دارانو کې ، نېخه ولي ، تر نيمې زيات زنانه دي - دَ ښايستوکو په دې رنګين انګړ کې شوق خپل دين او پښتو هم ساتي - چې هغوی شراب څيښي ، شوق دَ کپه چينو کافي پياله ورسره جنګوي ، چې هغوی ورسره مينه کوي شوق ورسره سپينه کوي ، چې هغوی يې شيطان ته پوري وهي ، پښتني جذبه يې بيرته رحمان ته ورسيخوي -

زما پورتنۍ خبرې دَ دې مانا نه لري چې ګني شوق هسې ګګبې زړې کړو دی - هسې خو په زړه کې ګوړې ماتوي ، خو دَ حمزه باباخبره :

ما کوز ورته لېمه کړه زما سر نه ټيټېده

شاهد چې په الفت کې هم افغان پاتېکېدم

پروني مخونه " دَ مصر او ځينو نورو ځايونو په زړه پورې انځورکښې هم ده - ښکارې دا چې دَ شوق سترګې برسېره پر انساني ښکلا دَ نړۍ په ښکلا هم نه مړېږي - دَ مصر دَ اهرامونو نه نيولې دَ آلپ تر واورينو څُوکو يو هم دَ ده له قلم نه نه دي پاتې - زه دَ شوق داسې راتلونکو ناولونو ته سترګې په لار يم چې پام يې په ښو شي ، دَ خپلې پښتونخوا انځورکښې هم په همدې تفصيل او مهارت وکړي ، چې چا -يې لا له جماله پلو نه دی لرې کړی .

په " پروني مخونه " کې دَ سېلاني مينه يو ستوې او يو پوړيزه نه ده ، بلکه لکه پراټه پټ په پټ او لکه دَ پښتنو ناوې ، په اوو شالونو کې پټه ده - خوند هم داسې مينه کوي ، نه دَ ډېران ښکار ، دَ لوېديځ والو مينه چې لنډه په لنډو بستر ته ورسېږي - زما يوه ملګري به ويل چې په چرګ کې مې سينه ، لکه لمی او ورنونه نه خوښېږي ، بلکه وزر ، چچوکۍ او ډونګه مې خوښه ده چې سړی په شواخون ترې -کوم خځوزې غوښه بود کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په خپل " دَ سمڅي یاران " نومي ناول کي یو ساده (جټ) پښتون زلمی ، چي نوم یې هم نه ، نه مشاهد ، نه زلمی یا زمری ، نه ایمل بلکه سم صفا کلیوال ، کمال خان ، دی امریکه ته راوست نجیب - دلته مي دَ امریکا دَ بې پروا چټو پېغلو سره په یوه پوهنتون کي واچاوه - ان چي ښائسته شین سترګي مي ورسره په یوه بستر کي څملولې ، خو ده ظالم خور ورته وویل او لاس قدرې یې ور نه وور - همدا کمال خان بیا وطن ته په ستنېدو مین کېږي چي هغه بله کیسه ده - دَ " پروني مخونه " دَ سپلاني مینتوب هم خونده وري لوړې ژورې او دَ پراتې پټونه لري او دَ یوه قوي ناول لېوالتیا (سسپنس) یې په ښکلې طریقه پاللی دی .

ناول برسېره په نورو ښېګڼو دَ ځینو ملکونو دَ تاریخ او جغرافیه په باب ګټور معلومات هم لري - یوه مشوره چي زه یې شوق صیب ، بلکه ټولو لر او بر پښتنو لیکوالو ته ورکوم دَ ژبې او تورو کارولو په هکله دی، هغه دا چي اصلي پښتو ، دَ ولس ژوندۍ ژبه بره دَ فارسۍ او کوزه دَ اُردو او انګرېزۍ دَ یرغل په دوړو کي ورکه نه شي - زه دَ مجاور احمد زیار طریقه هم ردوم چي هر شي ته نوي پښتو توري له ګېډې راباسي ، خو چي ساده ، روانه ، هم فهمه پښتو توري وي ، په نورو ژبو خاوري اړوم - بله مشوره مي دَ املا په هکله ده - پښتو لیك دود باید لر او بر یو شان او معیاري وي - دَ لر او بر پښتنو نیم درځن ځلي په ګډو غونډو کي په ځ ، ږ ، ړ ، ټ ، ی ، ي ، ې ، ئ ، ۍ او نورو تورو باندي په اتفاق سره پرېکړې کړي چي دَ هغې خیال ساتل ضروري خبره ده - متل دی چي دوه پکه ، هغه هم سره ورکه - هسې هم زموږ ژبه په نړیواله کچه په سیالانو کي شمار نه ده ، ان چي په کمپیوټر کي یو منل شوی پروګرام او کیبورډ لا نه لري نو که موږ یې لږ تر لږه په پښتونخوا کي له ګډوډ و نه ژغورو ، نو دَ ډایناسارانو په شان به یې ځای خامخا دَ تباهۍ کنده وي - مشرانو او باباګانو خو پښتو لیکنه ، که ماته ده که ګوډه ، تر موږ راورسوله ، نو دا به دَ پښتون ولس سره جفا وي چي موږ یې دَ خپل زمان او عصر سیاله نه کړو .

دَ افضل شوق په قلم دي برکت شي چي داسي ملغلرې په خپل قام لوروي .

سعدالدین شپون

ویرجنیا ، امریکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ليکوال، يو سپلانی، يو ناول

ښاغلی ليکوال او شاعر افضل شوق تر اوسه پوري دَ يو سپلاني ليکوال په توګه دَ يُونليکونو ډېري په زړه پوري ښېلګې پښتو لوستونکو ته وړاندي کړې دي - خو دا دې ځل دغه دَ نړۍ دَ بېلابېلو برخو دَ ليدلو شوقي سپلاني ليکوال، دَ يو داسي ناول دَ ليکلو تابيا کړې ده چي هم دَ نړۍ له ننداروسره سره تړلی دی، هم دَ ميني له کيسو سره ، هم دَ بېلابېلو کلتورونو له پېژندنې سره او هم له هنر سره، له کيسې او داستاني په زړه پوري بيان سره .

پروني مخونه .. داسي يو ناول دی چي دَ نوې نړۍ دَ مينو او هوسونو ، دَ نويو اړيکو، دَ نويو حقيقتونو تسلسل داستاني کوي او په ډېره په زړه پوري او خوږه ښه يې وړاندي کوي - دَ نړۍ دَ نندارچيانو او سپلانيانو لپاره دِ يو ستر لرغوني مرکز .. مصر ، تاريخي نندارې هم په کې کولای شو او دَ نوې زمانې دَ نويو ځوانانو او پېغلو دَ ميني او هوسونو ډېري ښې نندارې هم په هنري ښه وړاندې کېږي - په حقيقت کي دَ ختيځ دَ تاريخ يوه داسې ننداره ده چي دَ نن دَ لوېديځ اغېزې هم ورسره ملګرې شوې دي او دَ نوي تمدن او په زړه دُنيا کې دَ نويو حالاتو کيسې راته کوي- دَ سپلاني پښتون شاعر او په مصر کې دَ زده کونکې"وسا" نوې هغې پېغلې مينه چي کورنۍ يې ترکۍ ريښته لري او اوس الجيريان دي ، او دَ فرانسي اثراتو هم پرې پرېمانه ليدل کېږي ، دا ټول دَ ختيځو ټولنو هغه نوي حقيقتونه دي چي ښاغلی ليکوال يې په خوږه ژبه موږ ته وړاندې کوي .

دَ ښاغلي افضل شوق دغه ناول ډېري ښېګڼې لري - دَ يو ښه ناول ډېرې زياتې خوبۍ يې په کې خوندي کړې دي ، لکه چي هيڅ کار پرته له نيمګړتياوو نه وي، ښايي چي نيمګړتياوې هم په کې وي ، لکه دَ کُوزې پښتونخوا دَ ډېرو نورو ليکوالو په څير داسې پرېمانه انګرېزي ټکي، اصطلاحات او نومونې کاروي چې ډېر کسان، په تېره بيا افغان ليکوال به پرې په سختۍ په دغو اصطلاحاتو پوه شي - خو دا هم له بده مرغه زموږ دَ سره په زور او جبر ويشلې شوې ټولنې يو حقيقت دی او ليکوال مجبور دي چي دغه حقيقت په پام کې وَلري ، هلته اوس ژبه په همدغه حالت او دريځ ده او دَ بنيادي اوښتونونو او بدلونونو ګامونه ليکوال په يوازې ځان نه شي اوچتولی .

پروني مخونه .. يو ډېر خوږ ناول دی او په داسي ښه کښل شوی دی چي لوستونکی په پرله پسې توګه دَ ځان پر لورې کشوي او نه يې پرېږدي چي دَ پاتې برخې له لوستلو يې تېر شي ، او دا دَ يو داستاني اثر مهمه خوبي ده ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په پښتو ژبه دَ داسې په زړه پورې آثارو کښلو او خپرېدنګ ته ډېره اړتيا لرو - دا دَ ژبې دَ شتمنۍ او اهميت ښې ښانې دي - الله پاك دې داسې ښې ښانې او دَ ژبې دَ شتمنۍ داسې پانګې زياتې کړي .

په مينه

زرين

انځور

جرمني ،

دَ کولن ښار

دَ 2005 دَ جون دريمه

# دَ شوق سفر

پښتو ادب کې دَ ناول شمېره څه حده پورې ضرور شته ، خو دغه شمېره يا مقدار کې دَ معيار تله ښېخې دومره درنه نه ده چې موږ وَ وئيلى شو ، چې " اوس پښتو ناول هم دَ پښتو افسانې دَ معيار په شان دَ عالمي معيار په کانټا يا تله درروند شوى دى - اول خو دَ ابتدا نه پښتو ناول ته ليکونکو څه خاص توجه نه ورکړې - بيا هم که څه موده وړاندې ځنه ليکوالو څه لکل ښښك چې کړې دي او دَ پښتو " ناولي صنف " لمن يې درنه کړې ده - خو دې کې هغه ليکونه هم دَ ناول په نوم بللى کېږي چې يا خو دَ سفرنامو ښه لري - او يا ځنه دَ خطونو په شکل تحرير او چاپ شوي دي - نو ځکه ورته ناول وئيلى کېدل به غلطي ګڼلى کېږي او نه ورته دَ معيار پوره سند ورکولى شي - ځکه چې ناقدان واي ..

" ناول يو داسي مشکل او صبر آزما صنف دى چې دَ ډېري مطالعې او تېزي مشاهدې ضرورت ورته پېښېږي"

نو شايد پښتون دَ دومره صبر او مطالعې زغم نه لري - او شاهد په دې سبب قصه يا داستان زر تر زره انجام يا اختتام رسولو ته لېواله وي - داسي صورت کي که مشاهده هر څو هم تېزه وي ، خو ناول ليکونکي دَ دغه تېزي مشاهدې نه ډېر کم کار اخلي - پاتې دَ تجربې خبره شوه - نو که ناول ليکل صبر ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زغم او قرار غواړي نو دې ناول دپاره تجربه دَ دې نه زيات وخت ته اړه لري - هم دَ پښتو ژبې يو نقاد ډاکټر خالد خان ليکي ...

"دَ يو ناول دپاره دَ واقعاتو راجمع کول دومره ګران کار نه دى ، څومره ګران چې دَ دغو واقعاتو په ښه ډولْ بيانول دي"

ګوا دغو واقعاتو ته ترتيب ورکول ، دَ فقرو ، جملو جوړښت او دَ مکالمو برجسته ادائيګي او هم دغو کي لفظي جوړوالى . پيوستوالى راويستل وخت او هنر غواړي - او زما خپل خيال دى ، چې زما دَ خبري تائيد ځکه کېږي، چې يو ناول ليکونکى دومره محنت ، کړاوْ ربړيو يا ټيليويژن دَ ډرامې دپاره ولي وَ نکړي، چې که وخت هم واخلي نو محنتانه هم ښه پوره ورکولى شي .

دَ ښاغلي افضل شوق ناول " پروني مخونه" دَ ابتدائي صفحو يا بابونو دغه تاثر راوړاندي کوي لکه ښاغلى شوق دَ افسانې په رنګ کي خپله ورځنۍ ډائرۍ بيان کړي وي - يا دَ يوې سفرنامې داسي برخه يې معلومېږي چې هغې کي يو شاعر سپلانى دَ ښائيست يا دَ ښائيسته " قلوپطره" په لټون دَ قاهره يا دَ ټول مصر په بازارونو کي دَ نورو خارجي ملګرو سره په دې بحث سر وي ، چې

" ښائسيت څه شى دى؟ "

او يو خارجي ملګري ورته واي چې ..

" ښائيست په رنګ کي نه ، بلکې په اخلاق کي دى "

خو دَ لېوني او شاعر سپلاني يا دَ دې ناول هيرو يو خپله جُدا رائې ده او هغه هم دَ هغې ښائيست يا قلوپطره په لټون دى .. او بيا . .

دَ دې ناول بنياد دَ قاهره دَ کانفرنس يا سيمينار نه ايښى شوى دى چې ښاغلي ليکونکي لکه دَ سترګو حال په څير بيان کړى دى - خو ، هم دَ دغه روداد لوستونکى چې څومره دَ دې روداد لوسته کوي، نو مخ په وړاندي ځي او هومره يې دلچسپي زياتېږي - او دَ قصې سره سره دَ قاهره خصوصاً دَ فرعوني دور دَ باقياتو دَ سيل نه هم خوند اخلي - او دا دَ ښاغلي شوق هنر دى ، چې په خبرو خبرو کي دَ فرعوني دور او تاريخ نه خپل لوستونکى لکه دَ ماشوم په خپل هنر او خوند خوند آګاه کوي او دې ته يې هم پسخوي، چې هغه دَ ناول لوسته کي په وړاندي لاړ شي ... لکه دَ يو ظالم فرعون " سنېفرو" فرعون يا خداى(نعوذبالله) جوړ شي، نو مور ته واي ..

" زه دَ خپل خداى پلار په شان ظالم نشم جوړېدلى او په انسانانو ظلم نشم کولى "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دې مکالمې ( چي شاهد تاريخي ده ) يوه خبره ښکاره کېږي چي فرعونان که هر څومره هم ظالمان و' او دَ خدای جوړېدلو په نامه يې ځان دپاره هر څه، هر ظلم خپل جائز حق ګڼلو - خو دَ دې باوجود دوئ ( خوفو ) سينه کي هم لکه دَ نورو انسانانو ضمير هم و' - ځکه خو دَ دعوې غرور لرلو باوجود هم واي چي " زه په انسانانو ظلم نشم کولی" - دَ يو ښه او معياري ليکونکي هم دغه خاصيت وي چي هغه په يوه خبره ، جمله او مکالمه کي څو څو معنې را وَنغاړي .

ښاغی شوق څه ډېر مشرقي او مغربي ملکونه کتلي دي - او هم دَ دې (خصوصًا مغربي ) ملکونو دَ ادب مطالعه يې ښه ژوره کړې ده - نو ظاهره ده ، دَ هغه په ليك او تخليق کي دَ دغې مطالعې څه اثر به خامخا ښکاره کېږي - او هم دغه سبب دی، چي ښاغلی شوق په نظم او نثر کي دَ پښتو روائتي ادب نه ډېره کړې ده - نو ځکه هم دَ هغوئ په هر ليك او تحرير کي دَ پښتو ادب په حواله يوه نوي تجربه محسوسېږي - خو هغه دَ دې ژورې مطالعې دَ تاثر باوجود په شعوري توګه دا کوشش کوي ، چي هغه دَ پښتو او پښتنو دپاره وَليکي او معياري وَليکي - خو دا هم کېدلی شي چي دَ شوق دغه معياري او تجرباتي ليك دَ " نن" دَ لوستونکي دَ ذهني قوت نه بالا وي او ممکنه ده چي دَ دغه نن دَ لوستونکي دَ ذهني ، شعوري او علمي قوت حاصل کړي چي دَ شوق دَ " سبا" دپاره ليك مطالعه ورته اسانه شي ـ دا خبره مي په دې بنياد وکړه ، چي ښاغلی شوق خپله اعتراف کوي ، چي " هغه دَ نن دَ لوستونکي په ځای دَ کوي"سبا دَ لوستونکي دپاره ليکل

وئيلی کېږي چي ..

" نن ناول کي چي ليکلی کېږي ، دا دَ عصري رجحاناتو نمائنده وي "

خو شوق دَ ناول دَ سرسري مطالعې نه واضحه کېږي چي هغه دَ پښتو روائتي رجحان نه تر څه حده ځان ژغورلی دی - ولې چي بيا هم هغه يو پښتون دی - نو ځکه هم هغه دَ " پښتونيت " نه نه شي وتلی - ځکه خو يو ځای ليکي ..

" (سپلاني ته ) پښتو ورته دَ څه وئيلو اجازه ځکه نه ورکوي چي هغه دواړه ښځې ( زنانه ) دې - او دَ ښځو سره سيالي دَ پښتنو کار نه دی "

دَ " پروني مخونه " دريم باب يا فصل پوري دَ يوې سفرنامې يا روداد رنګ لري - خو دَ څلورم باب نه ناول کي هم دَ ناول خوند راشي او دَ لوستونکي دلچسپي څه نوره سېوا شي - يوه عجيبه خبره دا ده ، چي دَ ناول " ولن " دَ يو روائتي ، بدشکله ، بدڅېرې او طاقتور دېو رنګه نارينه په ځای تهائي پېغله ده - او هغه هم نرم و نازکه او ښائيسته پېغله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ ډېر بحث کولو په ځای که خبره رالنډه کړو ، نو دې ځای ته به راشو ، چې ښاغلی دې ناول کې دَ دوْ زړونو مینه هم ښکاره کړې ده ، دَ عاشق معشوقې روائتي مرورتوب ناراضګي هم څرګنده کړې ده ، دَ معشوقې ناز نزاکت هم ، منظرکشي يې هم کړې ده او کردارنګاري يې هم په داسي هنر کړې ده ، چې هر کردار په خپل ځای يو اهميت لري - او ناول دَ ځان دننه دَ دې ډېرو کردارونو هم يوه قصه لري - علامت هم لري او دَ نوي دور مغربي او دَ ماډرن ژوند عکاسي هم کوي - مکالمې ډېري دي .. خو زه دَ ښاغلي شوق نه دَ اختلاف جُرات کوم ، چې مکالمو کي هغه تاثرات نه ښکاري ، کوم چې دَ يو " کهنه مشق" يا تجربه کار ليکونکي خاصه وي - چونکې افضل شوق نه يوائې نثرنګار دی ، بلکې هغوئ تر ټولو ړومبی يو منلی شوی شاعر هم دی - هغه دَ شاعر په حېث دَ " شلېدلي امېل" او " په لټون ستا دَ څهرې" غوندي معياري شعري مجموعې هم پښتو ژبې ته ورکړې چې پښتو ادب پرې په ځای ويار کولی شي - نو هم په دې بنياد دَ " پروني مخونه " په لوستو دَ مکالمو کمزوري " شاعرانه هنر" کمی محسوسېږي ..

دَ ډاکټر خالد خان وړاندي ذکر شوي وينا په خپل ځای ده ، چې " .. څومره ګران چې دَ دغو واقعاتو په ښه دوګ بيانول دي .." خو دَ ښاغلي شوق دَ دې ناول ټول واقعات يو تسلسل سره مخې ته راغلي او شوق هم هغه ډوګ بيان کړي - او اوس پاتې دَ " ښه ډوګ " او معيار خبره شوه - نو شوق صاحب خپله واي چې ..

" که دَ نن پښتانه او پښتو ادب زما تخليق ته اهميت نه هم ورکوي يا زما په ادبي هنر پوهـ نشي ، نو پروا نه لري - ځکه چې زه دَ نن په ځای سبا دپاره ليك کوم"

او چې ښاغلی شوق پخپله دا اعتراف کوي ، نو مونږ به اوس دَ سبا دَ نقاد رائې ته ګورو ، چې دَ شوق تخليقاتو ته هغه کوم او څه معيار ورکوي - او دغه سبا ، سبا هم راتلی شي، صدئ پس هم راتلی شي . اوښاغلی شوق چې دَ " پروني مخونه " ناول کي دَ قصې کوم سفر دَ څلورم پنځم باب نه شروع کړی دی .. نو دَ نن لوستونکي حق لري ، چې دَ شوق سره مخ په وړاندي لاړ شي - او بيا خپله دَ نن رائې ښکاره کړي - البته دَ ليکونکو په حېث دَ نن ليکونکي فېصله ورکوي، چې

" شوق پښتو ادب کي دَ شاعر په توګه ، دَ سفرنامه نګار په توګه او اوس دَ ناول نګار په حېث يقينًا يو جوت مقام جوړ کړو - باور لرو ، چې که ژوند وْ ، نو شوق به دغه مقام دَ قلم دَ معمار په حېث نور هم اوچت او بلند کړي"

دَ ښاغلي شوق دَ نېك مرغئ دپاره دَ نن ليکونکي دعاګو دي ..

طاهر آفريدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کراچۍ 04_12_23

# زه هم غواړم چي څه وَ وایم ...

لاکن زه څه او له چا څخه پوښتنه وکړم ، چي دا زه څه لیکم .. آیا هغه څه په زړه او ذهن لګي هم که هسي هوا شي ؟ - منم چي زما په مزغو کي راپورته شوي دې تپوس بلا ځوابونه مخي ته راوړلو ، خو کوم څه چي ما غوښتلو .. هغه څه لا مخي ته که څه هم کټ کټ هغسي نه دي راغلي - نو هم زړه ماتی ځکه نه یم ، چي په نن پسې سبا هم را روان دی .. کېدلی شي چي هغه څه هم مخي ته راشي چي زما دَ زړه او ضمیر تسکین وربانديِ کېږي .. خو یقینًا چي زه به بیا نه یم .

البته دومره وَشولو ، چي پښتنو په یوه صلاح دا خبره آخیر هم وَ منله، چي دَ شوق قلم چي څه هم لیکلي دي .. که هغه نظم دی که نثر په کي دَ خبټي خبري دَ نه برابر دي - زما په خیال بس دغه ایوارډ او ریوارډ راته ډېر دی چي په خپل قول کي دروغجن او په جذبو کي ملاوټي نه شومه یاد.

دا ناول هم شاهد چي هغسي ناول نه وي ، چي تر اوسه په پښتو او ګاونډۍ ژبو کي لیکل شوي دي - ولي چي په دې ناول کي هم له "الفه" تر "یې" پوري هر څه ربښتیا دي او هم هغه څه دي چي زما دي او بس زما شاوخواته زېږېدلي دي - ګوا نه یوازي دَ دې ناول پلاټ زما په خپلي کیسې پوري اړه لري بلکې دَ دې ناول ټول کردارونه هم زما لیدلي کتلي کردارونه او راسره دَ ژوند تر دې ساعته څنګ په څنګ راغلي کردارونه دي ، چي زه هم وریکي دَ سېلاني په بڼه ورګډ یم - یاني چپ له هېرو او هیروئیني ، هن چي نور ټول کردارونه په خپلو اصلو نومونو ور کي رول لوبوي لګیا دي - دَ وختونو تعین ، دَ سیمو ذکر ، دَ پېښو نوغیتونه او کېغیتونه هم داسي ربښتیا دي لکه په سپینه ورځ کي چي په آسمان باندي ژېړی لمر ځرکېږي - ولي چي هر څه دَ ډاکومنټري پروف په رنګه نه یوازي له ما سره خوندي پراته دي بلکې په دې ناول کي هر یاد شوی کردار یې ګواهي په خپله خله هم کولی شي .

پاته شوه دَ منظر کشۍ او مکالمو خبره .. نو دلته به دا وَ وایم ، چي دَ ساده کیسې څخه ناول جوړَول افسانوي او ډرامایي مبالغې غواړي او ما هم داسي حتمًا کړي دي - مطلب دَ کیسې دَ خوند زیاتولو دپاره مي دَ خپل شاعرانه عادت په سمون خبري په افسانوي او ډرامایي انداز کي نه یوازي کړي دي بلکې ښه ډېره مرچ مصاله مي هم ورګډه کړي ده .

ګوا که څه هم دا زما کیسه ده .. زما دَ تېرې ژوند او دَ مړې میني کیسه ده ، خو تر ځانه پوري مي محدوده کړې ځکه نه ده چي په دې کي دَ فرعونانو ، یونانیانو ، رومنو او عربو دَ لنډ تاریخ سره سره دَ مصر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

الجزائر، شام ، اُردن ، عراق او ځيني نورو ليدلو ملكونو سره سم دَ خپل هېوادوالو دَ روئيو ، خوئيونو ، كلتور او هر اړخيزه ژوند په باب تجزياتي اشارې دَ يون ليك تنده هم ماتوي - چي هغه كه يوې خواته دَ دې ناول كيسه سرته رسوي ، نو بلې خواته وَ لوستونكو ته دَ سېل خوند او پند هم ور په گوته كېږي - گوا دَ دې پورتنئيو خبرو له سوبه زما كيسه تشه زما دَ تسكين يا دَ تشهير پلمه څه ، چي دَ رسوائي وسيله هم نه ده - بلكې په كي دَ لوستونكو دَ دلچسپۍ خيال هم ساتلو هڅي شوي ده .

كه يوې خواته لوی سعيدگوهر، چي دَ هيڅ قسم تعريف او تعارف محتاجه نه دی اُستادانه گټورو مشورو او حوالياتي كومك كه زه نن ناول نگارانو په كتار كي وَ دروَلم ، نو بلې خواته بې ساري او په پښتو وتي پښتون مشر سعدالدين شپون له امريكا څخه دَ نيټ او ټېلي فوني تړون په وسيله زما دغسي ملا تړ كړی دی - لكه څنگه چي دَ پښتو افسانې ، ناول او سفرنامې په اړه درانه نوم ياني قدرمن طاهر آفريدي په كراچۍ كي زما دَ درو هفتو دَ استوگني په دوران كي دَ ناول په باب دَ ملگري رياض تسنيم ، يار محب وزير او ورور رحمان بونېري سره په گډه بحثونو زما وَ جديديت په درنه ستر گو كتلو سره سره زما وَ فكري رجحان ته اوږې وركړې - خو دا به دا به هم ادبي خيانت گڼم كه مي دَ عزتمن ايازداودزئی ، چي زه ورته نه تش دَ پښتو ادب بلكې دَ پښتو دَ زني خال وايم ذكر نه وَ كړه ، چا چي په لسم اكتوبر 2004ع له پېښور څخه په گډه په موټر كي دَ سفر كولو په وخت يې له ما سره دَ ناول دَ هئيت او عصري غوښتنو په باب تر هغه وخته پوري خبري كولې چي دَ شړك باران له سوبه مو له وېگن سره ايكسيډنټ نه وُ شوی .

نور.. گران سهېل جعفر ، ملگري محمود اياز او همتگري ليكوالي حسينه گل هم په خپل خپل ځای او وس زما ملا راټينگه كړي ده - هرڅه هرڅه .. خو دَ ستر هاشم بابر ، اكبرسيال ، نورالاسلام سنگر، عطاالرحمان عطا او حنيف خليل نومونه هم نه اخيستل به ما گناهگار كړي - نو ځكه دَ پورته ذكر شوُ سترو نومونو دپاره دَ شكريې توري كه څه هم كم گڼم خو بس فقط دومره به ورته وايم، چي خدای مو هم دغسي په پښتو او پښتنو مئين لره .. آمين

توري خاوري

افضل شوق

## فصل ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ طلب دَ څېرې زېږېدنه

" دَ مصر خلګ ډېر ښائسته دي ، ولي چي حضرت يوسف عليه السلام په دغي خاوري کي خو پيدا شويدی "
هو ، له دې هيلي سره ملګری چي دَ مودو مودو دَ مزل کولو ورسته سپلاني پښتونزوی دَ نړۍ په درويشتم ګوټ کي دَ کال 1997ع دَ ستمبر دَ مياشتي په 29مه نېټه په لومړي ماښام څنګه قدمونه کښېښول ، نو داسي يې وَ سنجولو لکه هغه چي دَ خپلي هغې خيالي ليلا وَ کوڅې ته را ورسېدلی وي ، چي هغه ورپسې کچکول په لاس کي کلي په کلي ، ښار په ښار او هېواد په هېواد ګرځېدلو- هم ځکه خو يې سترګو په مصرۍ څېرو کي سم دلاسه دَ هغې دَ څېرې لټون پئيل کړی وْ او هر چاته يې په نېغه کتلو لګيا و
ۀ -
لاکن ټېکسي چي څنګه څنګه له ائيرپورټ څخه دَ قاهره ښار په لور واټن لنډَولو ، نوکه څه هم سپلاني پښتونزوی دَ دې ځای دَ خلګو دَ حسن په باب نور نور مايوسه کېدلو ، خو زړه يې ګوره چي ماته څله نه منله ؟ او هڅه يې کوله چي په هغو غنم رنګو څېرو کي نور نور ښائست وَلټوي ، چي دې وخت دَ روډ دواړو څنډو ته په دنګو او پړسېدلي بدنونو پوري نه يوازي نښتي ښکاره کېدلې ، بلکې سپلاني يې ډېر ژر بيا په هېلو قاهرو هوټل کي دَ خپلو نابلد و خارجيانو ملګرو په وړاندي دَ خپلي لنډې پېژندګلوۍ کولو ورسته په دې خبره کولو هم وَپارَولو ، چي ..

" دا مصريان خو هم دومره ښائسته نه دي ، لکه څنګه چي مشهوره د ي"
" هو ، ما هم اوس دغسي خبره دې ملګري فلوريتا ته کول"

سپلاني لا سمه خپله خبره سرته نه وه رسولي ، چي له هغې پيت پوزي غنم رنګي پېغلي چي فلپائينۍ وه سره څنګ کي ناست دَ آذربائيجان نري دنګ ځوان او سپينچکي ملګري باګيرلي روُف په ماته ګوډه انګلسۍ کي داسي څه وَ وئيلو ؟ چي وَ دې بل اړخ ته يې په صوفه کي ناست دَ ګامبيا څخه اړه لرونکي تک تور او هسک ځوان بُوباجوُف دَ سګرېټ دَ لوګي يوه غټه خړوسکه را ايستلو ورسته په لابي کي ناستو ملګرو ته داسي په کبرجن نظر وکتلو لکه هغوئ چي تر ده هم بد رنګه وي- نو په دې خو يې غاړه تازه کړه او په خپلي ځانګړي ياني وياړمني ډډني لهجې کي واي ..

" اې ګائيز .. ښائست په رنګ کي نه ، بلکې په انساني اخلاق کي دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره څه وه ؟ چي دَ ناستو خارجیانو ملګرو تر میان ګپي دَ پېژندګلوۍ څخه دَ دوستۍ په لور غزَوني په بیلابېلو لارو پېَیل کړې - هم ځکه خو ډېر ژر بیا دَ هغوئ تر منځ دا فېصله هم وَشوه ، چي ټول ملګري به دَ نن ماښام ډوډۍ په ګډه باندي دباندي چرته په نیږدې رېسټورېنټ کي خوري -

مخته بیا څه وُ؟ چي دَ انساني فطري غوښتنو په سمون هر ملګري ځان ځانته دَ خپلي خوښي ملګرۍ ټاکلو دپاره ارادي هڅي هم پېَیل کړي وې - دَ سېلاني په برخه دَ چائیناخند ه رُویه ځوان ډاکټر لومائي او دَ کمبوډیا نرۍ هلك وزمه ځوان ډاکټر پُو سامنانګ ، چي پنډي چشمکي یې په سترګو وې کرار کرار څه راتلو ، چي دَ تهائي لېنډ چټه او ښېخي مسته خو مسلمانه پېغله سوپیس هم داسي ورته نیږدې نیږدې کېدله لکه جوړه چي یې دَ ماما لُور وي - لاکن بلي خواته سېلاني ورڅخه ځان په دې پېچلو ، چي هغه که څه هم ښائسته وه ، خو تر ټاك اویښتي سپکاوي کي یې هم شك نه درلودلو - ګوا که څه هم هغه خپله ښه پوهېدله ، چي سېلاني په هغې کي چنداني دلچسپي نه اخلي ، خو هغه وه ، چي بیا بیا به یې ورته وئیلو..

" په کار دا دی ، چي ما او تا تر خپلو ښه دوستان وَ اوسو ، ولي چي دواړه ایشئین یُو"

بیا که به هرڅو دَ نه غوښتلو پرته هم هغه ورته دَ ملګرتیا یقین دهاني کوله ، خو دَ هغې تهائي پېغلي زړه به نه په ځای کېدلو او دا هڅه به یې په وار وارکوله ، چي سېلاني دي په نېغه دَ زړه سودا ورسره وکړي - او هغه ملامته هم نه وه ، ولي چي په تهائي ټولنیز کلتور کي خو دغه رنګه په تادۍ رښتې جوړېږي - نو ځکه چي سېلاني به څنګه دَ منګولین پېغلي التانګریل یا فلپانۍ انجلۍ فلوریتا سره خبره لړه اوږده یا خوږه کړه ، نو سوپیس به لکه ماشومه په اوږې باندي ور ټال شوله او دَ هغه پام به یې دَ ځان په لور واړَولو- نو ځکه خو سېلاني که به هرڅو ځان ورڅخه پېچلو ، نو هم په دې ډلي کي ورګډ دَ هر ملګري دَ یقین تر هانده دا خیال غوره شوی وُ ، چي سېلاني او سوپیس ترخپلو جوړۍ کېږي لګیا دي-

**_2_**

" داهغه انجلۍ نه ده ؟ چي زه یې له مودو مودو راهسې لټومه"

دَ سېلاني په مزغو کي یو دم دې سوال غزَوني څه وکړې؟ چي دَ هغه دَ سترګو دَ ژوَر نظر له خوا دَ ځواب یقیني کولو له مخه دَ ژېړو وېښتو هغې سپین مخي دنګي پېغلي چي په تور پېنټ او ګلابي شرټ کي پټه وه له ډاکټر لومائي سره دَ بیا لیدلو لوظ پخَولو ورسته چي څنګه دَ خپل مېز په لور په غټو ګامونو غبرګه شوه ، نو دَ سېلاني زړه یې هم له ځان سره ګنډلی داسي یُوړو ، چي هغه له چیناي ملګري څخه پوښتنه وکړه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لومائي .. دا پېغله څوك ده ؟ "

" دا ډاکټر وسا عربلور ده ، چي نن دَ دې لومړنۍ اکېډمك غونډي ورسته به دلته نیږدې چرته یو فلېټ په کرایه باندي راته نیولو کي کومك کوي"

" تش تاته ؟ او که موږ ته هم "

دَ لومائي دَ خبري ورسته چي څنګه دَ پنډ و چشمکو تر شا ورته کتلو ورسته ډاکټر پُو دا پوښتنه که څه هم دَ ټوکي په انداز کي وکړه ، خو هغه په خندنۍ خله ورته واي ..

" ویل .. دا خو لا ښه خبره ده ، موږ درې واړه به "

هغه لا خبره سرته نه وه رسولي ، چي سبلاني هم ورسره داسي خوښه کړه ..

" هو هو .. يو ځای اوسېږو"

دومره يې لا نه وُ وئيلي ، چي سترګي يې په هغې پېغلي وسا کي نابېره بيرته ښخي شوې ، چي دَ خپلو خوندکيانو په منځ کي دې وخت هلته ليري ناسته انسان نه ، بلکې شاپېرۍ برېښېد له - نو ځکه خو دَ پخوانئيو څېرو دَ يادونو يلغار دَ سبلاني په زړه باندي داسي ور پئيل شو ، لکه يو فلم چي سرې له سره په دويم ځل ګوري - ګوا ..

يو ځل بيرته سبلاني څو کاله شاته دَ يو ځوان افسر په بڼه دَ ملائشيا دَ دارالحکومت کوالالمپور ښار .. دَ 38 باميزه ګرېنډ کانټينېنټل هوټل په لابي کي ورننوتلو ورسته دَ هغې ښکلي پېغلي مهېش وري په لور روان وُ، چي دَ کاوُنټرونو شاته په نيمه خلاسه دروازه کي لا هغسي ولاړه وه -

" ښه وَ شو چي راغلې ځوانه .. ما ته ګوره ، چي په انتظار درته زړَه شوم "

دوه ګامه مخته را اخيستلو ورسته چي هغې اندېين پېغلي دومره په موسکني انداز کي وَ وئيلو ، نو په ځان غره سبلانی هم ورمخته شو - اوس به يې لاس ور غزَولو ، چي ناڅاپه دَ هغه سړي په سلام اچَولو باندي هغه دَ ځان په لور راستون شو ، چي تپوس يې کولو..

"افتتاحي غونډه کله ده؟ "

" لس نيمي بجې "

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په ځای دَ سپلاني .. له هغه سره یو اړخ ته ناست ډاکتر پُوسامنانګ چي ځواب ورېیا کړو ، نو وَ دې بل اړخ ته ناست ډاکتر لومائي لاس ورکولو سره سم له هغه دنګ توربخون ځوان سره په خبرو کي بوخت شولو ، چي ځان ته یې سعید سوډاني وئیلو - ګوا هغه هم دَ دوئ په رنګه دَ کلني ګلوبل ډ پلومه کورس کولو دپاره دلته راغلی وُ - نو ځکه خو په لوی زړه هغه هم له دوئ سره دَ مصر دَ مقعطم نامي غره په سر باندي جوړ شوي دې قاهره ډېموګرافك سېنټر په کېنټین کي په خالي چوکۍ باندي کښېنستلو -

سعید سوډاني له هر ناست ملګري سره سترې مه شي کولو ورسته چي څنګه له هغوئ سره په خبرو کي بوخت شو ، نو سپلاني یو ځل بیرته له خیاله ..

دَ ایران له تهران ښارڅخه په اوتوبوس کي سپور دَ ترکۍ وَ استنبول ښار ته پېښه لا سمه نه وه کړې .. ، چي عذرا نامي تُرکۍ پېغله یې په لالېلي بازاري ائیریا کي بیا مله شوي هم وله - او یو وار بیا څنګ په څنګ دوارړه تر هغه ټاکه پوري رسېدلو ته هڅوال شولو ، چي چرته لاري دوې شوي وې - خو دَ حېرت خبره دا ، چي په نه ساعت کي څه مخته تګ کولو سم دستي بیا سپلاني او عذ را په خپلو خپلو لارو باندي تګ ته چمتو شوي وُ - خو دَ دریاب دَ دوُ څنډو په شان سره سره ، لاکن له یو بله لېري لېري مخ په وړاندي رهي روان وُ -

دغه رنګه چي څومره څومره دا ناسته ډله دَ سې ډي سي په دې واړه غوندي زېر زمیني کېنټین کي تر خپلو په ګپو کي مشغولېدله ، نو هغومره دَ یادونو تړلي ګنډې سپلاني په مزغو کي خلاسَولې لګیا وُ او په نه ساعت کي بیا ..

سپلاني دَ ځینو پاکستانۍخبرو سره سره دَ یو څو پښتنې پېغلو لکه پلوشه ، غرسنۍ ، نانۍ ، .. پنکي ، هاني ګله ، ملالۍ او نورو نورو څبرو په چپه دَ سنګاپور پېغله چانګ چي څنګه سپلاني له ځان سره دَ تېر شوُوختونو په لور مخ مخته لا سم وړی نه وُ ، چي دَ تېر هېر وخت په دُرشل کي ناڅاپه یوې ښکلي او چتې تهائي پېغلي یُوپا ور وَ دانګلو - او هغه یې له ځان سره دَ تهائي لېنډ دَ نوموړي پتایا بېچ په رنګونو کي داسي یوې بلي خواته وَ ویښلو ، چي دَ یو څو لمحو دپاره سپلاني له ځان او جهانه لاس په سر څه ، چي دَ خپل ذات په لور بیرته راستنېدل ورته ګران شوي وُ - خو یَه ، ډېر ژر بیرته ..

دَ انګلېنډ سره اړه لرونکي پېغلي سارا نه یوازي هغه دَ پخوا په رنګه دَ هغې په لور ورغبرګ کړو ، .. بلکې دَ هغه په خیالونو کي یې څبرې ته ورو ورو هغسې زاړه نقشونه هم ور اغوندلو .. کوم چي دَ انډونېشیا په توري بېچ باندي دَ یو سوشل ورکري په بنه هغې درلودلي وُ - لاکن سپلاني ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَژغېدلو ځکه نه ، چي يو دم دَ سکاټ لېنډ سُوربُوړي پېغلي کېلي وار لاس ته کړو او په حېرت باندي يې ورته کتلو ورسته په خندا کي په لغازي انداز ورځخه تپوس وکړو-

" هې سبلانيه .. ته مي لا تر اوسه هم يادَوې ؟ "

" هو کېلي..لاکن راته وايه ، چي ته هم هغسي لا غلا ته جوړېدلي يې که له خپلي ملګري نتاشا سره ..؟

سبلاني به هم اوس نوره نوره هنداره ورته ښکاره کوله ، چي دَ هغې په ځېرې کي ورته دَ ګلاسکو دَ ښکلي پېغلي نتاشا سپينه غوړېدلي ځېره داسي را برسېره شوه ، چي سبلاني يې هم هغسي دَ تېر شوي وخت سره ملګرى په هغه لور بوتلو ، چرته چي ورتګ آسان ، خو ورڅخه راغبرګېدل ګران بلکې بېخي ګران کار بلل کېږي - اوس به لا سبلاني ورڅخه بېرته دَ تېښتېدلو په نيت پائڅې ټولوَلې ، چي مخي ته يې دَ سکاټ لېنډ هغه بله سپين سترګي پېغله ټينا هم دنګه وَ درېدله ، چي دَ فرانس په نيس نامي ښار کي يې دَ انګلېنډ دَ مستي پېغلي کرسټي او دَ فرانس دَ غاوري پېغلي جېن په ګډه دغه يوازيني سبلاني ته دَ ټول عُمر رنځونه په زړه کي داسي ليکلي وُ ، چي لا خو يې تر اوسه رغېدلو ته خلې سمي نه وې جوړي کړي-

مخته .. دَ شګاګو غاوره امريکائي پېغله ونېساا وتېرو وه ، چي په سوئټزرلېنډ کي يې سبلاني دَ رانده غوندي تر لاس نيولي دَ لوسرن له چېپل بريج څخه رك تر هغه رېستورېنټ پوري دَ درياب په څنډې باندي مخ مخته په چلناکو خبرو او دَ مېنَناکو اداګانو په کومك وړلو لګيا وه ، چرته چي هغې څو کالونه پخوا وَ سبلاني ته مانښامنى ورکړى وُ ..

لا يې دَ ونيسا سره دَ سوئس روائتي پاستاخوړلو ورسته دَ اوبو غوړپ سم نه وُ تر غاړي تېر کړى ، چي .. دَ ساوتهه امريکا پېغلي جُوي له خپلو خوږو موسکاګانو سره ورڅرمه شوه او په خوږو خوږو خبرو کي يې دَ شپې په تيارو کي دَ لندن دَ هغو سبلابي رڼاګانو په لور بوتلو ، چي هلته لېري بېخي لري داسي برېښېد لې ، لکه دَ اسمان يوه څنډه چي وَ مځکي ته راځښېدلي -

هرڅه هرڅه ، خو دَ جاپان پيت پوزي کائيکو هم له چا کمه نه وه - ګوا په خپل وار يې سبلاني يو ځل بيرته دَ آسټريا او اټلي تر ميان په ايلپس نامي هسکي او تر ليري ليري پوري خپرې غريزي سلسلې کي دَ سپينو واورو په منځ کي په جوړو نرئيو لارو باندي دَ هغه پنځه زر کلن ائّس مېن په لور ور رهي کړى وُ ، چي نن هم وَ دُنيا ته تر يو غټي عجوبې کم نه دى -

هو ، دَ سبلاني دَ سوچ لکۍ چي تر دې ځايه را اُوږوه شوله ، نو دَ جرمنۍ سُورمخي رينا وَ هغه ته دَ خپل هېواد په ګڼ تور ځنګل کي دَ اُميد لاري وړپه ګوته کولو سره سم دَ هالېنډ دَ شپې په تيارو کي وَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوشل ورك ته رورېدېدلي پېغلي وينا په لور ور وَ دېكلو - خو تر هغې پوري سبلاني ځكه نه وَ رسېد لو ، چي په نيمه لار كي دَ هسپانیہ ښكلي مصوري مارسېلا ډېخا لاس ور واچولو او له ځان سره يې ملګرى دَ بارسلونا وَ نوموړي رامبلاس سټريټ ته چي څنګه وَ رسولو ، نو دَ هغه دَ څېرې نقشونه په كاغذ باندي دَ همېش دپاره اړَولو له پاره چمتو هم شوله -

لندہ دا ، چي دَ پاكستان او دُوبۍ پرته دَ ځينو ايشيائي هېوادونو لكه تهائي لېنډ ، سنګاپور ، ملائشيا ، انډونېشيا ، سري لنكا ، ايران او تُركۍ په ګډه دَ نړۍ دَ ګوټ ګوټ ، چي په كي تر يو درځن زيات اروپائي هېوادونه چي هالېنډ ، بيلجئيم ، اټلي ، سپېن ، فرانس ، سوئټزرلېنډ ، مناكو ، سان مرينو ، آسټريا ، جرمني ، لېچټنسټائن ، انګلېنډ ، وېلز او سكاټ لېنډ هم ورګډ وُ په ښارونو او دَ سمند رونو يا دريابونو په غاړو باندي ليدل شوُ څېرو په خپل خپل وار دَ سبلاني په مزغو كي خپلي كيسې له پخوانئيو زړَو ښو سره ګنډلي چي دَ هغې مخامخ ناستي پېغلي وسا دَ څېرې تر نقشونو پوري څنګه را وَ رسَولې - نو دَ لېوني شاعر دَ خوبونو او خيالونو په سمون دَ هغه په مزغو كي خوندي شوي له مودو مودو راهسې هغې نيمګړي څېرې هم دَ تكميل په لور غزَوني وكړې - چي دئ يې په لټون كي سټړى څه؟ چي ورپسې پرى وزمه شوى هم وُ - نو ځكه خو يې يوه سړه غوندي ساه دَ سكون اخيستلو ورسته په دُسمال باندي له تندي څخه خولې پاكي كړې او دَ نه غوښتلو پرته هم له ملګرو سره له كېنټين څخه د باندي وَ وتلو -

كه څه هم دَ سبلاني زړه دَ هغې نرۍ دنګي او تكي سپيني عربۍ ليدلو ته بيا بيا ټكېد لو ، خو زړه يې بې غمه په دې وُ ، چي دَ نن په افتتاحي پارټۍ كي او دَ پارټۍ ورسته به يې بيا ځكه ورسره ديدن وَشي چي دَ ډاكټر لو مائي دَ يوې هېواد والي ملګري ليانګ ، كومه چي تېر كال دَ وساكلاس فېلو هم پاته شوي وه په خواست به تر هغه علاقې پوري له هغوئ سره راتله ، چرته چي په يوې نېږدې پلازې كي فلېټونه دَ باړې د پاره خالي پراته وُ -

**_ 3 _**

" .. دې وخت په بېلا بېلو ډګرۍ او ډ پلومه كورسونو كي دَ نړۍ دَ 65 هېوادونو سټوډنټس په سي ډي سي كي سبق واي - او زه هغو ټولو نوُ ملګرو ته دَ اداري دَ سټاف او دَ نورو زړو سټوډنټس له خوا په دې ګلوبل پوسټ ګرېجوېشن ډ پلومه كورس كي دَ ګډون دَپاره ښه راغلى وايم .. كوم چي نن ياني په لومړي اكتوبر 1997ع باندي دا دى پئيل هم شو ، خو دا لومړنۍ لس ورځي دَ پروګرام په سمه دَ مصر دَ سېل دپاره ورته غوره كړل شوي دي"

دَ قاهرو ډيموګرفك سېنټر دَ ډائريكټر ښاغلي هشام مخلوف دَ خپل سټاف دَ لنډي پېژند ګلوۍ كولو ورسته چي دويم ځل دا خبره سرته په خپرو كي وَ رسوله ، نو يو ځوان ، چي ښاغلى ذېن نومېد لو راپورته شو اودَ ګلوبل سره سم يې دَ ايم فل وَ لوستونكو ته هم لاندي په بېسمنټ كي جوړي كېفې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور کُوزېد لو خواست څه وکړو؟ چي دَ سپلاني سترګو يو ځل بيا هغه پېغله وسا په سترګو کي داسي واخيستله ، لکه هغې چي يې روُح په خپله قبضه کي کړی وي - نو ځکه خو يې سترګي داسي په تعاقب کي وې - هو..لکه هغه نوري دوې تهائي سترګي ، چي وَ دې ښار ته دَ راتګ له لومړۍ ورځي تر دې ساعته دَ سپلاني په لور بيا بيا په ډېره مينه ورکړېد لې - خو هغه ورڅخه ګوره چي نن څله ځان پټولو لګيا وُ؟ ګوا که څه هم تر پرونه په کي په خوند او خندا غړېدلو-

سپلاني به لا اوس نور نور ورته کتلو ، چي مخامخ په دويم مېز له خوندکيانو سره ناستي وسا له هغه سره په څنګ کي ناست له ډاکټر لومائي څخه پوښتنه وکړه . .

"... تاسو څه فېصله وکړه مستر لومائي؟ هلته به اوسېږئ که بلي خواته مو انتظام کړی دی "

" فېصله .. ؟ "

دَ لومائي په ځای چي دَ سپلاني له خلې داسي ورته يو دم وَوتلو ، نو هغې دَ هغه په حال باندي موسېد لو ورسته ورته وئيلو..

" دَ دې مطلب دا دی ، چي تاسو هم په هغو فلېټونو کي اوسېدل خوښَوئ .. چرته چي لومائي ورتله غواړي"

" هو ، بې شکه .. خوکه ښه فلېټونه وي هله "

ډاکټر پُوسامنانګ چي دا خبره څنګه وکړه ، نو سپلاني هم سر ورسره دَ خوښي په نيت پورته کښته څه وَښَورلو ، چي هغې مخته وَ وئيلو..

" ښه خبره ده - او هغه ښه فلېټونه هم دي - تر تاسو له مخه هم په کي اولډ ستوډنټس اوسېد لو او اوس هم په کي يو نيم اوسي لکه چي ... "

"هو هو زه هم هلته اوسېدل غواړم "

سپلاني خبره داسي ورسره خوښه کړله ، لکه ده چي هغه فلېټونه ليدلي وي - نو ځکه خو ملګري پُو سامنانګ په څنګلي باندي ويښتلو ورسته څوکه غوندي ورته وئيلو..

" لا خو مو ږ هغه ځای ليدلی نه دی او تا ورسره بيا خبره خوښه هم کړه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سپلاني دَ هغه دا خبره په يوه غوږ واورېد له او په بل غوږ يې ځکه وَ ايستله ، چي دې وخت يې دَ هغې عربۍ شهزادګۍ چي که څه هم مصرۍ نه وه الجېرين عرب وه کي داسي سودا بند ه شوي وه - چي هغه پېغله يې خيال له خياله په ښکاره خوی و بُود او دَ روئيو له لارو دَ فرعونانو دَ دور پېغله وَ سنجَوله - ولي چي په هغې کي دَ نن دَ ښځېنه ناز او نخرو په ځای دَ پرون سرې وزمه ښځه له ورايه نغښتي برېښېد له - او دا هغه ادا وه .. چي که يې يوې خواته سپلاني ځانته هوسَولو ، نو بلي خواته يې هغه دَ خپل غاوره شان په وړاندي داسي په ګونډو کولو هم ځانته - لکه هغه چي بله هيڅ ځوك نه .. بلکې خپله هم فرعونه وي - ځکه خو سپلاني په هغې کي دَ ظالم باچا سنېفيرو دَ جلالي رانۍ هتيفېرس څخه واخلې بيا تر خُماري لېډي تاخينميس پوري تر دوُدرځنو هم زياتي دَ هغو فرعوني شهزادګيانو څېرې وليدلې ، چي نن يې دَ جلال او جمال کيسې څه ، چي مميانې او په کاڼو باندي نقش شوي عکسونه لا هم داسي خبري کوي - لکه هغوئ چي مړې ګرسره نه ، بلکې ژوندۍ دي -

يوې خواته دَ وسا داسي جلالي ښائست او بلي خواته خوار سپلاني وُ، چي هغه يې په سوچ سوچ کي ورته که څه هم وړوکی کولو لګيا وُ - خو سترګي يې هم ځکه نه شوی ورڅخه اړَولی ، چي هغې يې دَ زړه په مځکي باندي نه يوازي خپل بېرغ رپَولی وُ بلکې اوس خو يې دَ هغه درستي جذ بې او احساسات هم ځانته داسي مرئيي کړې وُ - چي هغه ته ترې صبربدل بېخي ګران شوي وُ - نو په دې خو سپلاني ته خپل زړه په بيا بيا دا ګواهي ورکوله ، چي ..

" دا هغه ده .. بله نه ده ، کومه چي هغه خپله ګڼله - لاکن خپله شوي يې لا ځکه نه ده ، ولي چي اوس اوس خو هم دغه ده چي دَ هغه دَ خوب او خيال له پړدو راښکاره شوي ده"

که څه هم دې وخت په مېزونو باندي کُوشري او نور رقم رقم مصري خواړه پراته وُ او ملګرو څه ، چي هغې عربۍ پېغلي هم ښه په مزه مزه خوړلو - چا چي دَ هغه په زړه کي کور جوړَولو لګيا وه - خو يو هغه وُ ، چي سترګي يې له وسا څخه نه اويښتلې او نېغ نېغ يې ورته داسي کتلو ، لکه هغه چي به بيرته وزر وکړي او دَ هغه دَ خوب او خيال وَ ټاپوګانو ته به والوځي -

سپلاني به لا دَ خپل نظر ستني نوري نوري دَ وسا دَ څېرې تر ښکلو نقشونو ايستلې ، چي يو وخت دَ هغې هم ورته پام شو - لومړی نظر که يې څه هم ډېر له قهره ډك وُ، خو په شونډو باندي يې په هغه کچکولي مئين دَ رحم خوړَلو د پاره نرۍ لاکن غاوره موسکا نابېره څه خوره شوه؟ چي دَ سپلاني ګوډُو او شَلو جذ بو هم يو دم عسکري بني واغوند لې او هيلي يې تر ډېره هانده جهادي شولې - نو ځکه خو مخته بيا سپلاني وُ، چي سترګي يې داسي په کي کراري کړې وې ، چي که هغې نه هم ورته کتلو ، خو دې سودا به په وار وار وسا په دې خبري باندي پارَوله چي ورته په غلو غلو وَ ګورې ... چي آيا سپلاني ورته ګوري که يَه ؟ ولي چي دَ هر څه پرته هم هغه يوه ښځه وه او ښځه دَ خپل حُسن په باب ستائيونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګي ډېري خوښَوي - ګوا نور که نه ، خو هغه اوس په دې پوهه شوي وه ، چي دا پښتون سپلانی يې ښه په مزه مريض شوی دی -

**_ 4 _**

کله ډوډۍ ختمه شوه ؟ او څنګه سپلاني له سي ډي سي څخه دَ ډاکټر پُو او ډاکټرلومائي په ملګرۍ کي دَ پېغلي وسا ، چي ډاکټره هم وه او نن سبا يې دلته په ډېموګرافي کي ايم فل کولو په راهنمائي کي هغه پلازې ته ورسېد لو؟ چي دې وخت يې هغوئ په دويم پوړ باندي په هغه فلېټ کي ولاړ وُ - چي هغې ورته ډېر ښه فلېټ وئيلو او دا يې غوښتلو چي په هغوئ کي يې څوك په باره وَ نيسي - نوځکه دَ هغې دَ غوښتني په احترام کي سپلاني ورته رامخي ته شو..

".. زه خو په دې فلېټ کي اوسم ، ولي چي"

" هو ولي چي دا درته ډاکټروسا خوښ کړو - څنګه صحيح وايم که غلط ؟ .. "

لومائي چي دَ سپلاني خبره پرې کولو ورسته دومره وَ وئيلو ، نو ملګري پُو هم دَ وړې خندا ورسته ورسره داسي په لغازي موسکا کي خبره وَتړله . .

" لومائي .. ته درست واي ، ولي چي زما شاعر دوست له سهاره راهسې په وسا کي سترګي "

پُو به لا اوس نور څه وئيلو ، چي سپلاني يو دم وار لاس ته کړو او وئيل يې ..

" ډاکټر صاحبه .. دا زما ملګري ډېر اړام دي "

" هو دي خو .. لاکن "

" ګوره ګوره هغه هم در پوهه شوه "

لومائي دَ هغې په " لاکن" چي دا خبره دَ خپل آزاد چينائي فطرت له سوبه څنګه وکړه ، نو وسا وَ سپلاني ته په داسي برګو وکتلو ، لکه سپلاني چي ډ ېر بد کارکړي وي - خو اوس به لا سپلاني نور نور ويري اخيستلو ، چي هغې دَ خوښي په چپه په فرعوني موسکا کي وَوئيلو..

"دا شاعران وي هم دغسي "

" ګوا ښځي او حُسن يې زيات خوښ وي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ؟ لومائي دا دي څه وَ وئيلو ؟ "

" هو خيال کوه دلته خلګ په داسي آزادو خبرو خوا بدَ وي "

دَ سپلاني دَ ردعمل سره سم چي وسا هم ورته داسي خبره وکړهٔ ، نو هغه دَ موسېد لو ورسته په ډېر احترام له هغوئ څخه داسي مافي واخيستله ..

" بخښنه غواړم ، زما مطلب ستاسو له بې عزتۍ څخه نه ګرسره وُ .. داسي خبري خو موږ په خپل هېواد کي په ډېرخوند خوند کوُ "

او سپلاني ورته وئيلو . .

" دا ستا دَ وطن په رنګه آزاد وطن نه دی .. دا مصر دی - او دلته له ښځي سره خبري ډېري په احترام باندي کېږي"

" نو بيا خو ما او لومائي ته احتياط کول په کار دی"

" هو ، دا به ستاسو په حق کي ښه خبره وي "

غاوري وسا دا خبره کولو ورسته له لومائي سره مخته ګام اوچتولو په وخت چي يو فرعوني غوندي نظر دَ سپلاني په لور ور خوشی کړو ، نوهغه يو دم داسي وَ سنجَولو لکه زلزله چي راغلي وي .. نو ځکه خو يې ورسره څنګ کي ولاړ په ملګري ډاکټرپُو باندي لاسونه وَنيولو - او ورته واي . .

" زلزله نه ده ؟ "

" څوك .. هغه چي تا ورته ماته منلي ده ؟ "

" يَه .. يَه زما مطلب دا دی ، چي دې وخت ... "

" هو ، هغه دې وخت ډېره ښه ښکاري .. دا وئيل غوړې ؟ "

ډاکټر پُو چي دَ سپلاني خبري له کسته په بله څنګه واړَولې ، نو هغه هم په خپلي سادګۍ باندي په کلکه دَ لېونيانو غوندي څه وَ خندلو ؟ چي پُو هم ورسره خله تر غوږو پوري ابله پېله وازه کړه - هم په دې خو څو ګامه مخته وتي وسا له ډېره خشمه مخ داسي ورته را واړَولو ، چي سپلاني يې په سترګو کي دَ قد يمي مصرۍ رانۍ هاتشيپسُوت هيبت له ورايه داسي وَسنجولو ، لکه هغې چي دَ هغوئ دا خندا دَ خپل فرعوني شان په حق کي ډېرګستاخانه عمل ګڼلی وي - هم دغه وجه وه ، چي بيا دَ هغې په سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي سترګي اچول خو دَ ليري خبره ، بلکې دَ سپلاني تولي موسائي جذبې لا هم له ډېري ويري ورته داسي په ګونډو شولې - چي بيا يې تر هغه ساعته پوري خله ګنډلي لرلي وه ، چي هغې خپله دَ سي ډي سي په وړاندي دَ اجازه اخيستلو په وخت هغه ته دَ خداى په اماني کولو په وار دَ شونډو په ورستۍ خوږې موسکا کي دَ هجران تريخ دُوك نه وُ اچَولی -

*****

فصل ۲

# دَ فرعونانو پیرزوئینه

سپلاني چي به هرڅو هغه پېغله له خپله ذهنه دباندي ايستلو هڅه کوله ، نو هغه به نوره نوره دَ ده په زړه کي ځګېدله او هغه ته به يې دا خبره په يقيني توګه څرګندَ وله ، چي ګني هغه بله نه بلکې کټ مټ هغه ځېره ده ، چي دَ ده دَ تېر ژوندون ټولو ليد لو څېرو يې تر هغې پوري دَ رسېد لو رهنمائي کړې ده - نو ځکه خو نن سپلاني له ډاکټر پُو سره په هغه فلېټ کي دَ اوسېد لو دپاره ډېر هوسېد لو ، چي وسا ورته خوښ کړی وُ - له ځان سره سوچ کولو ، چي ..

" څومره به خوشاله شي هغه ، چي ما يې دَ خوښي په سمه خبره منلي ده "

او بل ملګري پُو سامنانګ به هم نن سهار بيا بيا داسي ورته وئيلو ، چي ..

" هغه فلېټ ته موږ خپله نه ، بلکې وسا پارَولي يُو ، چي ورځو "

لاکن که څوك دَ سپلاني په دې خوښه نه وُ خوشاله ، نو هغه يوازي سوپيس وه ، چي نن يې په وار وار هغه ته دا وئيلو ، چي ..

" تا تازيله وکړه ، له دې په چپه خو هم فلېټونه وُ - کېدلی شو ، چي ښه او ارزانه فلېټ دې موندلی وی "

لاکن دَ ګامبيا تك تور خرټ ملګري بوبا جُوف او ډاکټر لو مائي يې په حق کي ځکه وُ، چي هغو ئ او په بس کي شاته ناستي البانیۍ ملګري منوبلا مورتي ، چي له خپل مېړه بيسنك او دوُ وړو لوڼو فلاويه او ويندي سره ناسته وه هم په هغې پلازې کي يو بل سره څنګ په څنګ فلېټونه نيولي وُ - او دې وخت چپ له تهائي سوپيس ، فلوريتا فلپائنۍ ، دَ منګوليا التانګريل ، دَ يوګندا بتوکا ، دَ ايتهوپيا ډاکټر تفېرا ، دَ عراق پېغلي عقود او ځيني نورو پرته سعيد سوډاني هم له " هېلو قاهرو هوټل" څخه کډي دَ سي ډي سي په بس کي بار کړي وې او خپلو نيول شوُ فلېټونو ته روان وُ - لاکن بس دَ نيمي ګنټهې دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفرکولو ورسته ، چي کله سي ډي سي ته وَرسېد لو ، نو دَ ټولو په صلاح باندي هغو کړوالو هم دا خوښه کړه ، چي تر فلېټونو دَ مخه که سي ډي سي ته دَ يو څو ساعته د پاره ورشي ، نو به له يوه مخه وَ خپلو کړ و خلاصوَلو ته خلاس هم شي -

سپلاني بيا په دې خوشاله وُ ، چي کېدلی شي ، هغه غاوره پېغله هم وَ ويني ، چي نن يې له لومړي سهاره په زړه کي کُوټېد له لګيا وه - او دَ خپل ښه بخت له سوبه هغه لا سم له بس څخه نه وُ کُوز شوی ، چي يو خوږ ژغ يې پام په هغه لور واړَولو - چي وئيلو يې . .

" صباالخير "

هو ، دا وسا وه ، چي له هغوئ سره سمه له خپلي هغې د نګي توربخوني مګر ښائستې سوډاني ملګري پېغلي منال الجدال سره په غټو ګامونو دَ هغوئ له مخه دَ باد دَ څپې په شان دَ تېرېد لو په وخت يې ورته په موسکني انداز کي وَ وئيلو - که يې څه هم دَ سپلاني په لور کتلي وُ ، خو دَ هغه دَ توقعاتو په سمه ورته درېدلي نه وه - نو په دې خو يې طبعيت څه غوندي خټه شو او اوس به يې لا په مات زړه په سي ډي سي کي قدم ږد لو ، چي سوپيس ورته راورسېدله او دَ پرون دَ ماخستن په شان يې لاس په اوږو باندي ورته ږد لو ورسته داسي ګډ ه ورسره روانه شوه لکه هغه چي په سي ډي سي کي ټولو ته دا شوي ده - لاکن سپلاني ته دَ هغې دغه انداز Patch up ورښئيل غواړي ، چي ګني هغه دَ سپلاني سره خوند نه کړو ور ، نو ځکه يې دَ هغې لاس له اوږې څخه چي ځنګه ليري کړو ، نو هلته يې سم دستي په وسا کي هم سترګي وَ نښتلې ، کومي چي په لابي کي دَ لفټ سره ولاړي دَ هغوئ په لور کتلو . .

" دا دي څه وکړو ؟ "

سوپيس يو دم سپلاني له لاسه ونيولو او اوس به يې په غصه کي څه ورته وئيلو ، چي هغه يې لاس هم وَ ځنډ لو او ورته يې وئيلو . .

" پليز سوپيس . . دا تهائي لېنډ نه ، قاهره ده ، دَ مسلمانانو هېواد . . پوهه شوې "

او بيا يې هغه حقه بقه پرېښولو ورسته مخته چي څګنګه ګامونه کښېښولو ، نو وسا هم لکه داد ورکولو په نيت ورته رامخته شوه او په نرۍ موسکا کي يې لا خله خبري ته جوړه کړي نه وه ، چي ډاکتر لومائي ورته ځان تر هغه له مخه کړو . .

" خبره يې وسا ؟ موږ ستا په همسايه کي نن اوسېدلو ته راځو لګيا يُو "

" دا خو نو ښه خبره شوه "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې دَ سیلاني په خوا مخ اړَولو ورسته تپوس وکړو..

" او تاسوهم...؟ "

" هو ، زه هم "

سپلاني چي دومره وَوئیلو ، نو ترشا یې را رواني سوپیس هم لکه تپي زمری ورته را وَرسېد له او له وسا سره یې هېلو هائ کولو ورسته ورته په لغازي تورو کي وئیلو..

" ډاکټر ډاکټر.. ماته هم چرته له سپلاني سره نیږدې فلېټ راپیدا کړه پلیز "

وسا یو ځل وَ هغې او بیا سپلاني ته کتلو ورسته په نری موسکا کي تپوس ورځخه وکړو..

" له سپلاني سره نیږدې ولې؟ "

" هغه ځکه چي ما او دی دَ یوې سیمي یُو "

" دَ یوې سیمي .. ګوا دی هم دَ تهائي لېنډ دی ؟ "

" یم به نو ، چي دا واي "

سپلاني چي دومره په لغازي موسکا کي وئیلو ، نو هلته ولاړو ملګرو سره سم سپین سترګي سوپیس هم وَ خندلو او خپلي خبري ته یې دَ ټوکي رنګ ورکړو - لاکن ډاکټر وسا ښه پوهېدله ، چي هغې دَ سپلاني په ضد ځکه دغه خبري کړي وې ، چي دَ هغه ورسره نه وه جوړه - هو ، لکه څو منټه مخکي چي یې هر څه په خپلو سترګو لیدلي وُ -

_ 2 _

" اې خدائیني مورکی .. زه دَ بابا خدای په رنګه په انسانانو باندي ظلم نه شم کولی"

دَ ظالم فرعون سنېفیرو دَ مرګ ورسته دَ هغه زوی خوفو چي څنګه دَ فرعونی په چوکی کښېنستلو ، نو یې وَ خپلي مور خدائیني هتیفېریس ته په ډدن ژغ کي داسي وَ وئیلو ، نو هغه ، چي دې وخت ورسره په بلي چوکی کي ناسته وه دَ زوی په دې خبري باندي یو دم ولاړه شوه او دَ مېړه په مرګ باندي یې په سترګو کي راغونډي شوي اوښکي وچولو سم دستي ورته له خشمه وَ وئیلو..

" دا څه وایې زویه خوفو ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" زه سم وايم مورکۍ خدائينې .. ، هغه ځکه چي دا مخامخ په سره رېګ باندي ناست دَ بابا خداى په مرګ غمجن خلګ هم زموږ په رنګه دي"

فرعون خوفو چي داسي خبره له خلې څخه را وَ يستله ، نو که يوې خواته دَ ناستو خلګو په سترګو کي دَ هغه په داسي زړخوږۍ باندي له ډېري خوشالۍ اوښکي وَ څرکېد لې ، نو بلې خواته يې جلالي خدائينه مور وه ، چي هغه ته يې وئيلو..

" زويه دا ستا وَ مختنه ناست خلګ انسانان نه دي .. دا زموږ مرئيان دي مرئيان او په مرئيانو باندي ظلم کول زموږ فرعوني ننګ بلل کېږي"

مختنه فرعون خوفو څه وئيلو ؟ په دې باندي سپلاني ځکه نه شو خبر ، چي هغه که څه هم دې وخت له ګمانه دَ هغو زړګونو مرئيانو په منځ کي ناست دَ خپل زړه په دې فېصلې باندي ډېر خفه شوى وُ ، چي په نادانۍ کي يې دَ وسا ماشومه څېره وَ هغې هتېفيريس ته اغوستي وه ، چي په انساني بڼه کي يوه لېوه مونېد له - اوس به يې لا نور هم په خپل ګرېوان کي تُوکلو ، چي دَ هغه دَ ارمان په سمون لمرخداى " ري "ور مختنه شو او دَ وسا څېره يې دَ زړې رانۍ هتيفېريس دَ ګونځلکو جلالي نقشونو څخه په ډېر قهر باندي رابېله کړه او په خپل لاس کي يې نيولي دَ ځوان فرعون خوفو په دې بل اړخ کي ناستي خندَرويه رانۍ ته چي په ډېر وياړ باندي کله ور اغوند له ، نو دَ هغې په شونډو باندي يوه خوږه غوندي نرۍ موسکا وه ، چي غوړېد له - هم ځکه خو دَ سپلاني له خلې څخه له ډېري خوشالۍ يو دم داسي خبره وَ وتله ..

" ډېر ښه .. ډېر ښه ، دغه خو هغه پخوانۍ څېره ده چي وسا يې ارزي"

هو ، په جيزا کي دَ اهرام مصر دَ څلورکونجيزه مينارو مخي ته دَ \" ساونډ اينډ لائټ شو\" په نامه غوره شوي ډرامه ماخستن خواته کتلو په وخت له ملګرو سره په څنګ کي ناست سپلاني چي له خياله نابېره داسي وَ وهېد لو ، نو وَ کينې لاس ته ناست چينائي ملګري ډاکټر لومائي ورڅخه پوښتنه وکړه . .

" څه دي وئيلو سپلاني ؟ زه پوه نه شوم ، چي تا څه وئيلو ؟ "

" هيڅ نه ، بس مازي مي هغه کنګ خوفو ستائيلو ، چي په نره يې دَ ظلم نه کولو اعلان وکړو "

سپلاني چي خبره يو دم په بله واړَوله ، نو هغه هم په سترګو باندي چشمکي سمَولو ورسته واي . .

" ببشکه ، که هغه داسي نه وى کړي ، نو نه به هغه مخامخ ولاړ لومړنۍ څلورکونجيزه ګومبته ولاړه وى او نه دَ دې نورو ګومبتو دَ جوړَولو دَ رجحان پرته دَ هغه او دَ هغه دَ کورنۍ دومره نوموړى نوم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لا خبره سر ته نه وه رسولي، چي دَ دغو پيراميډز ( اهرام مصر) په باب په انګلسۍ ژبه کي داسي خبري په لاوډ سپيکرانو کي کېدلې ..

" داسي خو دَ نيل درياب له څنډې و سره 87 وړې او غټې څلورکونجيزه ميناري دَ بېلابلو فرعونانو دَ مقبرو په توګه جوړي شوي دي - خو دَ قاهره دَ اهرام مصر په نوم دا درې غټې ګومبتي دَ دُنيا په اووٌ عجوبو کي دَ بېخي نادري عجوبې په توګه پېژندل کېږي"

او بيا مخته کيسه دَ فرعون خوفو دَ ګومبتي سره سمه دَ هغه له مشر زوی فرعون خافرا او کشر زوی فرعون مينکورا په زمانو کي دَ جوړو شوٌنورو دوٌګومبتو سره تړلي دَ رڼاګانو په سېلاب کي دَ غټې ابواالهول چي له انساني سر سره ناست يو زمري دی څخه چي څنګه دَ فرعوني ننګ په لور راغبرګه شوله - نو سېلاني هم ځان دَ زيارت او چوتېر دَ سيمي ننني پښتون نه ، بلکې دَ پخوانۍ زمانې په بوده وزمه غوندي خوراکي انسانانو کي ورګډ يو انسان ګڼلو - خو بيا يې هم دَ ميني دَ جنون له سوبه دَ نورو انسانانو په رنګه دَ خېتي دَ غم خوړلو په مزدورۍ کي دَ دې اهرام مصر وَ اتهه اتهه فَټه پلنو درنو بلاکونو ته اوړې ورکولو په ځای په نهره دَ هغې وسا دَ يوه نظر کتلو په نيت رېګجني لاري کچلې - چي لا يې سر دَ فرعون خوفو دَ رانۍ په اوږو باندي ننښتی ډېر ښکلی برېښېد لو-

کېدلی شو ، چي سېلاني لا نور نور سوچ پوخ کړی وی ، چي ورسره ښي اړخ ته په چوکۍ باندي ناستي منوېلا مورتي ورباندي ژغ وکړو او واي . .

" تا ماڅپښين له سوپيس سره وَ ليدلو که يه؟ "

دا پوښتنه يې څه وکړه ؟ چي هغه يې په وينښوسترګو باندي له ليدلي خواږه خوب څخه بيرته راويښ څه کړو ، چي هغه هم په مات زړه ورته وَ وئيلو..

" يه .. ضرورت يې هم نشته "

" لاکن دَ هغې خو ډېره درسره جوړه ده "

" وي به "

" وي به نه ، بلکې ده هم "
" ولي تاته يې زما په باب څه وئيلي دي ،که ته هسي له خپلي خوا ګډ ه يې ؟ "

" وئيلي خو يې نه دي ، لاکن ښکاري داسي راته ، چي هغه په تا پسې مري"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هرڅه هرڅه ، خو زه يې ګرسره نه خوښَوم .. ولې چې هغه ډېره سپکه او پاسکه انجلۍ ده"

دومره چې سپلاني ورته څنګه وئيلو ، نو هلته دَ فرعونانو فرعون رعمسيس الثاني دَ مړاني په باب دَ نوموړي شاعر شبلې ليکل شوی نظم په سپيکرانو کي خپور شو - او له دې نظم ورسته په فرعوني سازونو باندي دَ زاړه مصري کلتور او دَ رواجونو ښئيلو پرته دَ پخوانئيو رقصونو سره سره دَ بېلې رقص په لور دَ هغه درانه محفل لنډَونه پئيل څه شوه ؟ چي ډاکټرلومائي او ور سره هغه بل اړخ ته ناست دَ آذربائيجان ځوان باګيرلي روُف هم له منګولۍ پېغلي التانګريل سره سم مستۍ پورته شولو - او دَ هغو نورو مستو سپلانيانو غوندي وَ خپل خپل ژواکي ډانس کولو ته يې داسي ملاوي وَترلې ، لکه هغوئ چي هم وَ فرعوني تاريخ ته دَ دانګلو هڅه کوي لګيا دي ..

_ 3 _

" ډاکټر وسا ډېره ښائسته ده ، چي مور يې تول ملګري دي ورباندي ابله کړو .. څنګه غلطه خو نه وايم؟ "

".. هو ، دا خبره خو ده "

دَ سوپيس دَ لغاز په ځواب کي به سپلاني لا څه نوره خله پرې کوله ، چي هغې بيا وار لاس ته کړو او .. واي

" پرون په قاهره ميوزيم کي هم دَ فرعونانو تر ممبانو کتلو ستا پام په هغې ښائسته ډاکټري کي زيات بند راته برېښېد لو او بل .. هغې به هم کله کله سترګي په مينه در اړَولو ورسته وَخند لو"

" سوپيس.. زه نه شوم پوهی ، چي ستا له دې خبرو کولو څخه مطلب څه دی ؟ "

" هيڅ نه ډئير.. بس هسي مي تا ته هغه وسا در يادَوله"

نو ځکه سپلاني ورباندي وَ خندلو او خبره يې دَ ټوکي په لور وړلو په نيت ورته وئيلو..

"... سوپيس ته زما دوسته يې ، خو هغه "

" هغه ستا محبوبه ده .. ستا دَ وئيلو مطلب دا دی؟ .. "

" هو ، څنګه چي ته ګڼې "

"..لاکن تا خو له ماسره هم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" منم او انکاري زه هم نه يم .. او بيا بيا وايم ، چي ته زما خوږه ملګري يې او زه ستا ډېر قد رهم کوم "

" خېر.. تاته به خپله پته وَلګېږي .. ډېر ژر "

" ولي وژنې خو به مي نه ؟ "

" دا هم کېدلی شي "

که څه هم دا او داسي نوري خبري نن غرمه هغه وخت دَ سېلاني او سوپيس تر ميان په موسکنۍ اشارو کي کېد لې ، چي له لوستونکو ملګرو څخه ډك بس دَ سلطان صلاح الدين ايوبي له غټې محل نما کلا او ورسره څنګ کي دَ محمد علي پاشا په دور کي دَ جوړ شوي ښېخي غټ او ښائسته ماجت څخه روانېدلو ورسته دَ قاهره په تاريخي ښار کي دَ خان الخليلي په لور روان وُ -

دَ حضرت امام حسېن عليه السلام ماجت، چي سر مبارك يې په کي پټ کړی دی سره جوخت دَ خان الخليلي په تنګو بازاري کوڅو کي دَ ښه سېل کولو ورسته دَ سي ډي سي له خوا هغوئ ته په يو ښايسته اوپن ائير رېستورېنټ کي دَ تورو لاچي داره چائيو څېښلو اهتمام څه وشو ، چي سوپيس دَ سېلاني سره په خالي چوکۍ کي کښېنستلو ورسته دَ سېلاني له خلې بل سګرېټ غوټه کړو او په پسخوندي انداز يې وړوکی کش ورڅخه لګولو ورسته په مېز باندي پرتي دَ لرګي په ايش ټرې کي مړه کولو ورسته وَ بار والا ته ور ږغ کړو-

" هيلو وېټر .. موږ ته هم يوه شيشه راوړه ، چي زه او ګران سېلاني يې دَ يو چا په نوم لوګی کړو"

" دَ چا په نوم ولي مادام ؟ ولي يې تاسو دَ يو بل په نامه نه لوګی کوئ ؟ "

بار والا ، چي يو پنځه ځوان مصری وُ ، دَ چائيو دوه ګلاسونه ورسره نيزدې پراته دَ بل چا په مېز ږدلو ورسته چي داسي خبره په شوخۍ کي وَ کړه ، نو مستېر ذېن ، چي په سي ډي سي کي اُستاذ وُ هم ورته دَ را رسېدلو سره سم په خندا کي وَ هغه بار والا ته ګوره چي څه وَ وئيلو ، چي بار والا وَ سېلاني ته مخ اړَولو ورسته په موسکا کي وَ وئيلو..

" مبروك مبروك.. مادام کويسه ګاباني"
" لا لا ګاباني .. مادام تهائي "

او بيا يې سېلاني په ملا ټکولو ورسته ورته په غوږ باندي خله ږدلو ورسته ګوره چي څه وَ وئيلو ، چي دواړو په کلکه وَ خندلو - نو څکه خو دَ نورو ملګرو هم ورته پام شو او کرار کرار يې دَ هغوئ په خوا چوکياني ځکه ورنيږدې کولې - ولي چي دې وخت هلته دَ تودې ګپې سره سره درې واړو کسانو دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شيشې ( مصري چولم ) څکولو دپاره اوړده نلۍ هم يو بل ته داسې په خوند او خندا پاسېدله لګيا وه ، لکه په هغه چُولم کې چې اچول شوي خواږه او خوشبوداره تمباکو اثرناکه وي - هم دغه سوب وُ ، چې بيا په نه ساعت کې دَ هر ملګري مخې ته مصري شيشه پرته وه او چا چې کله په ژوند سګرېټ خلې ته نه وُ نيږدې کړی .. هغه چا هم له شيشې څخه خړوسکې ايستلې - سپلاني به لا نور هم مستېدلو ، چې شاته ناست ډاکټر پُو ورباندې ګوزار وکړو..

" سپلانيه .. مزې کوه مزې "

دَ ډاکټر پُو دا خبره څه وه ، چې دَ سپلاني خله يو دم له خندا څخه داسې راټوله شوه لکه هغه چې په اشارو اشارو کې ورته وئيلي وي ، چې ..

" سرې ساهګاني خو دَ يوې په نوم اخلې او هوسېږې له بلې سره "

که څه هم دَ ډاکټر پُو په خوا او خاتر کې داسې خبره نه وه ، خو سپلاني په زړه زړه کې ځانته لانت ملامت کولو لګيا وُ - اوس به لا نور هم ماتېدلو را ماتېدلو ، چې دَ مسټر ذبن دَ دې خبري په اعلانولو بې زړه بيرته خپل ځای ته راغلو .. ګوا سبا سهار لس بجې به هغوئ او دَ سي ډي سي زياتره نور لوستونکي دَ فرعونانو وَ کلي ته وړل کېږي - په نورو خدای خبر ، خو دَ دې اعلان تر شا دَ وسا ديدنونه دَ سپلاني دَ نابېري خوشالۍ سوب ګرځېدلي وُ او بس . .

_ 4 _

دَ فرعونانو دَ فرضي او لاسي جوړ کلي ، چې په کې دَ فرعونانو دَ وخت له کورونو ، کلو ، پټيانو ، ځنګلونو او ځناورانو څخه واخلې بيا تر ژواکي شيانو او رواجونو پرته دَ رقم رقم جامو ښودنه داسې شوي وه ، چې په جوړ واړه نيل درياب کې په چلېد ونکي کشتيانو کې ناستو ملګرو ورڅخه خوند ونه څه اخيستلو ، چې دلته که دَ باګيرلي رؤف او دَ التانګريل جوړه جوړېد له لګيا وه ، نو بلې خواته لومائي او فلوريتا هم يو بل ته نيږدې نيږدې کېدلو-

خو يو سپلاني وُ ، چې په يوازې ځان بې دَ وسا يادونه ځکه لوبَولو ، چې هغه په دې ټوُر کې نه وه راغلې - هيله يې دَ راتلو دَ هغې دَ خوندکۍ منال له قوله وه ، خو وخت ډېر په تادۍ مخته روان څه وُ - ګوا دَ فرعونانو دَ کلي په نوم په دې غټ پارک کې دَ کېنال آف مېتهالوجي په څنګ و باندې جوړ دَ بېلا بېلو زړخوښيانو لکه دَ هغې زماني دَ هل وهلو ، خوشبوياني جوړَولو ، پيپارس کاغذ دَ سازَولو طريقو پرته دَ موسی او فرعون ځيني تاريخي او ډرامائي مناظر ، دَ غم او خوشالۍ ځيني کلتوري ننداري ليدلو ورسته اوس دَ ګلوبل کورس لوستونکي په وچي مځکې باندې دَ فرعونانو دَ ټېمپل ، نوبلز

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاوس ، فرعونك ګارډن او دَ فرعونك ستوډيو کتلو سره سره دَ لاسي جوړ اهرام مصر په لور ګامونه اوچتَولو لګيا وُ -

اوس به سپلاني لا نور نور دَ سوپيس دَ پسخوندي خنداګانو او دَ ډاکټر پُو دَ ميناکو ټوکو پلمه جوړېدلو ، چي هلته ليري وسا په غټو غټو ګامونو دَ ورستي ټاك ګوا دَ ويليج هاربر څخه دَ بوټ هاوس په لور تلونکي کشتۍ ته چي څنګه ځان وَرسَولو ، نو دَ سپلاني شاته ناستي پېغلي منال سره په څنګ کي پرتې خالي چوکۍ پرته هم دَ سپلاني او دَ سوريا ( شام ) دَ پېغلي رانا تر منځ دَ ځان ځايَولو سره سم په ساهکېدلي انداز کي دَ هېلو هائ کولو ورسته واي ..

" دا زه بدبخته يم چي ما هيڅ نه وَ ليدلو"

او بيا يې يو وار سپلاني او بيا رانا شامۍ ته سترګي داسي په سترګو کي سوال کړې لکه هغه چي جوړه واي ..

" زه غواړم ، چي دا درست سپل له سره وکړم .. تاسي دواړه به له ما سره ملګري وکړی که يَه ؟ "

سپلاني او راناشامۍ يو بل ته کتلو ورسته په سترګو سترګوکي دَ هغې دَ دې واړه خواهش په احترام کي چي سرونه په اثبات کي پورته کښته وَ ښورَولو او په ګډه يې ورته ست وَ کړو..

" که غواړې ، نو موږ به له نوي سره درسره هر څه بيرته وَ ګورو "

" ..هو .. زه غواړم ، چي دَ فرعونانو دَ دور دا ماډل کلي وګورم ، خو تاسو "

او ګوره چي يې مخته هيڅ څله نه وَ وئيلو ؟ هو کېدلی شي چي په دې چي خواهش يې نيګړی نه شي پاته - نو ځکه خو يې په شونډ و باندي دَ خپل برياليتوب سره ملګري يوه خوږه غوندي موسکا په لومړي ځل سپلاني ته څه وړاندي کړه ، چي هغه يې ځانته دَ همېش دپاره مات هم کړو-

مخته بيا هغه سپلاني وُ او هغه دَ کېنال آف مېتهالوجي دَ اوبو زړې لاري ، چي په وړې غوندي کشتۍ کي يې دَ رانا او وسا په ملګرۍ کي دَ فرعونانو په دې کلي کي چي څنګه څنګه مخته لنډ وَلې ، هغومره په تادۍ سپلاني پښتونزوی په ارادي او وسا عربلور په غېر ارادي توګه دَ يادونو په ټاپوګانو کي خپلي قديمي ښې لټولو دپاره وختونه دَ فرعوني زړَو زمانو سره سم دَ پېړيانو په شمېر شا شاته دَ لفظي اشارو او دَ ميَناکو روئيو په کومك دېکلو لګيا وُ - هم ځکه چي بيا کله هغوئ له " فرعونك ويليج " څخه دباندي راوَتلو له مخه کوفي څيښلو په نيت دَ ګارډن نامي ځای په هغه رېستتورېنټ کي ورننوتو ، چي لوټس کېفې نومېدلو ، نو شامۍ پېغلي رانا هم په موسکا کي داسي وئيلو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښکاري راته داسي لکه دا زموږ دَ درې واړو دغه سېل چي به هم دَ فرعونانو دَ تاريخ په واقعاتو کي دَ يو اضافې ، لاکن نه هېرېدونکي ياد په توګه دَ سېلاني شاعر په قلم ابدي ژوند وَ مومي"

هو ، که هغې څه هم اشاره دَ سېلاني او دَ وسا تر ميان دَ هغوئ دَ زړونو تر ميان دَ لاري پرانستلو له هيلي څخه وه ، خو په لهجه کي يې لغاز له ورايه شاهد چي په دې سوب محسوسېد لو ، چي هغه دَ فرعونانو په کلي کي دَ درست سېل کولو په وخت دَ هغو دو' تر ميان دَ دريم ملګري په توګه لا هم نه وه ګڼل شوي - که څه هم هغه دَ خپل ښائست او مست پېغلتوب له سوبه په سي ډي سي کي خورا مشهوره انجلۍ وه -

*****

فصل ۳

# دَ فرعوني خدائېنو وسا وزمه څېرې

" نن بيا ډېر نه يې خوشاله ؟"

دَ کمبوډيا ډاکټر پُو سامنانګ ، چي له سېلاني سره په فلېټ کي اوسېدلو له خپلي خوني راوتلو ورسته چي يې هغه دَ يو سند رغاړي په رنګه له خپل ځان سره په بُونېد و وَليدلو ، نو يې پوښتنه ورڅخه وکړه -

" يَه داسي هيڅ خبره هم نه ده ، بس مازي غم غلطوَم"

" لاکن دَ څيښي غم؟ "

" ولي لږ غمونه دي څه په ژوند کي ؟ "

دَ پُو دَ سوال په ځواب کي چي سېلاني بيرته سواليه خبره ورغبرګه کړه نو هغه وَ سېلاني ته سر تر پايه کتلو ورسته ، چي څنګه "واو" غوندي توری لا سم له خلې نه و' يستلی، چي دَ فلېټ ور وَټکېدلو او هغه دَ دروازې په لور ګامونه په داسي ژغ اوچت کړو..

" څوک يې .. ؟صبر کوه درځم "

" مي مي سوپيس "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" یا خدایه خبر.. په اول سهار بیا له کومه را وَرسېدله دا تهائي ماربچې؟"

او پُو لا سم ور نه وُ خلاس کړی ، چي هغه دَ طوفاني سیلۍ په شان دننه راغله او نېغه دَ سپلاني وَ مخي ته داسي په خشم وَدرېدله لکه اوس چي به وربانديې غوټه شي - خو په ځای دَ غُصې یې ورته په سترګو کي نېغ نېغ کتلو ورسته وَ خندلو او بیا یې په ځیګر باندي دَ ناز څُك ورکولو سره سم دَ پُو په لور مخ واړَولو..

" ته خبر یې مستړ پُو ، چي دې سپلاني موږ ټول ملګري دَ هغه انجلۍ په سر پرېښولو ؟ "

" هو ، بې وفا خو دی دا سپلاني ، لاکن خبره دا ده چي هغه انجلۍ خو هم دی خوښَوي"

مستړ پُو چي دومره وئیلو ، نو سپلاني هم وار لاس ته کړو او دَ هغې دَ تنګولو په نیت یې ورته وَ وئیلو . .

" څه کولی خو هم نه شم ، ولي چي معامله دَ زړه ده او دا زړه کله له هغې پرۍ څخه صبرېږي "

" ښه ښه .. نو دَ دې مطلب دا شو ، چي خبره دَ میني په خوا روانه ده"

سپلاني وَ پُو ته سترګه کښېکښلو ورسته چي څنګه " هو" کړو ، نو هغې لکه ماشومه جنۍ سپلاني په پرس ویښتل شروع کړو او له دې سره سم په فلېټ کي دَ خندا کړیکي داسي خپرې شوې ، چي له څنګ فلېټ څخه منوېلا مورتي او بېسنك هم ځانونه ورته راوَرسَولو-

" پوښتنه کولی شم ، چي کومه داسي خبره ده ، چي تاسو یې په اول سهار بیا په خنداګانو پارَولي یاست؟ "
"خبره که خبري دي ...چي"

سپلاني لا سمه خبره سرته نه وه رسولې ، چي سوپیس ورته وای ..

" دا نران ډېر بې وفا دي منوېلا "

" او په تېره بیا شاعران ، چي ښائسته انجلۍ چرته هم وَویني، نو دَ زړه حرکت یې تېز شي "

ډاکتړ پُو چي څنګه دا خبره ورسره وَتړله ، نو منوېلا وای ..

" ښه ښه.. اوس پوهی شوم ، تاسو دا سپلاني ښئیئ - دی خو نن سبا دَ یوې چتې پېغلي په عشق کي ورګېر شوی راته مونېږي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" واو'.. نو ته هم خبره يې؟ "

سوپيس به لا نور څه وئيلو ، چې دَ منوېلا مېږه بېسنك ، چې انګلسي يې نه وه زده په خپله ژبه کي وَ مائنې ته ګويان څه شو ، چې پُو ورته واي ..

" ګوره ګوره .. مسټر بېسنك لا هم خبر دی"

او په دې خبري باندي خنداګاني لا نوري هم سېوا شوې - نو ځکه خو دَ منوېلا دواړې ورېږ لُوني فلاويه او ويندې هم داسي په منډه ورته راوَرسېدلې ، لکه هلته چې مېله لګېدلې وي - او بيا څه وخت ورسته ټول په ګډه لاندي کُوزېدلو سره سم دَ سي ډي سي په لور مخه وکړه -

_ 2 _

لوستونکو ملګرو نن سبا هغوئ ته ځکه زيات کتلو ، چې دَ سېلاني او ډاکټروسا تر ميان ګپه اوس تر ډېره هانده له رسمي هېلو های څخه اوېښتي وه او دواړو دا هڅه کوله ، چې په يوه نا يوه بهانه له يو بل سره خبري وکړي - نه يوازي دا ، بلکې تر خپلو يې سترګي په خوږو موسکاګانو کي جنګولو پرته يو نيم وار يې په کېنټين کي کوفي هم په ګډه باندي څېښلې وه -

که څه هم سېلاني ښه پوهېد لو ، چې هغه دَ وسا په زړه کي کرار کرار ځای جوړوَي لګيا دی ، خو دَ خبري پرته يې هم خپل زړه ته وئيلو ، چې داسي نه ، پېغله وسا له هغه سره هغسي مينه نه کوي ، څنګه چې يې هغه ګڼي لګيا دی - نو ځکه يې دَ هغې دَ جذ بو دَ تلَني په نيت دا کست وَ کړو ، چې هغه به له خپلي خوا نن له هغې سره نه ويني او دا به ګوري ، چې هغه دَ سېلاني دَ لټولو هڅه کوي او که يه - نو دغه رنګه به معلومه شي چې زړه يې ورته څکېږي که يَه - هو ، دا خبره يې هغه وخت په مزغو کي را برسېره شوه ، چې په لفټ کي دريم پوړ ، چرته چې دَ ګلوبل ډپلومه کلاس روم وُ ته دَ ختلو له مخه هغه پېغله وسا دَ بالا لائبرېرۍ په پوړيانو کي لاندي راکښته کېدلو په وخت تر سترګو شوه -

په کلاس روم کي دَ رانا شامۍ ، عراقۍ پېغله عقود او دَ محمد عبدالرحمان مصري ځوان پرته پېغله مديحه مصرۍ ، چې په يوه پښه ګوډه هم وه ناست وُ او ټولو تر خپلو دَ نن دَ پېرامېډز ياني اهرام مصر دَ سېل په باب ګپي لګولې - نو ځکه سېلاني هم ورګډ شولو - او اوس به يې لا خپلي سېلاني مشاهدې ورسره شريکولې ، چې ډاکټر مجدي ، چې په مصري لهجه کي يې ورته مګدي وئيلو دَ راتلو سره سم دا خبره اعلان کړه ، چې په ځای دَ لسو بجو به اوس اوس موږ دَ پېرامېډز په لور ځو - ولي چې بيا ګرمي کېږي - دَ دې اعلان ورسته که څه هم ټول ملګري په خوشالۍ باندي لاندي په لفټونو کي کُوزېدل شروع شولو ، خو يو سېلاني وُ ، چې خفه خفه ورسره مل ځکه برېښېدلو - چې دَ هغه دَ توقعاتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه هيڅرته وسا نه ښکاره کېدله - او نېغ په کوسټر کي شاشاته کښېنستلو - هو په دې هيله ، چي څوك به ورپسې راځي - لاکن دَ نيمي ګنټهې دَ تريخ انتظار پرته چي هم هغه نه راغله ، نو سبلاني هغه وخت لا نور هم مايوسه شو ، چي بس دَ اُستاد مسټر ذېن العابدين او مېرمن هنا الګوهري په ملګرۍ کي مخته روان شو - ګوا وسا له دې ټريپ څخه ځان پاته کړی وُ -

" ولي وسا له هغه سره نن نه وَ ليدلو ؟ او څه وجه وه ، چي هغې په دې ټريپ کي ګډ ون نه وَ کړو ؟ "

دا او داسي نورو رقم رقم وسوسو دَ سبلاني په زړه کي دَ وسا دَ خفګان په اړه ځاولۍ څه جوړه کړه ، چي هغه له خپلي خوا لا داسي هم سنجَولو ، چي ګني نن سهار له هغې سره سترګي ځلور کېدلو پرته هم ورسره هېلو هاى نه کولو له سوبه خو چرته هغه نه شوه ورڅخه بد را ؟ چي ځان يې له دې ټريپ څخه پاته کړو - هو ، دا او داسي نورو وسوسو ورو ورو تر هغه وخته پوري دَ سبلاني په مزغو کي سرونه پورته کولو ، چي يو ښځينه ژغ يې پام دَ ځان په خوا هغه وخت نه وُ اړَولی ، چي بس دَ جيزا په لور په الحرم سټريټ باندي مخته مزل کولو..

" د يغ راته ښکارې .. څه وجه ده ؟ "

دا دَ فلپائن فلوريتا وه ، چي دې وخت دَ سبلاني دَ سيټ له مخه ولاړه وه ، چي څنګه دا پوښتنه وکړه ، نو ورسره په څنګ کي ناستي سوپيس په خپل مخ باندي را خواره شوي درانه وېښتان شاته څنډلو ورسته تر هغه له مخه ورته په وازکي انداز کي وئيلو..

" فلوريتا ډئير..خفه به نو څله نه وي ، چي دَ هغه خوږه ملګري يې په دې ټوُر کي "

هغې به اوس خبري په بله وړلې ، چي سبلاني ورته په زيږو کتلو ورسته وَ وئيلو. .

" سوپيس..ستا مطلب څه دی،چي هرکله خبري کرېي کوې ؟ "

" هيڅ نه .. ما خو فقط دا غوښتلو ، چي لږ دي خوشاله کړم "

" هيڅ ضرورت يې نشته ښه او بل ځل دي خله په خيال چلوه ګني "

سبلاني به لا اوس نور ورته جلالي کېدلو ، چي فلوريتا دَ موسېدلو ورسته په ډېره پسته لهجه کي واي ..

" تاسو دواړه خو لکه ماشومان ، په نه څه وَ غال ته ملا تړئ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې یو لاس دَ سپلاني په اوږه او بل دَ سوپیس په سر ږد لو ورسته وئیلو..

" دا بل هیڅ نه .. مینه ده ، چي تاسو ته دَ ګیلې او تر خپلو دَ غال حق درکوي "

" ربښتیا فلوریتا؟ "

" هو ، سوپیس خورکی.. دا حقیقت هم دی "

" ..لاکن دا سپلاني خو "

" ستا دوست دی ، دَښمن نه "

فلوریتا چي دَ سوپیس دَ تپوسونو داسي ګډ وډ ځوابونه ورکولو ، نو سپلاني که څه هم دننه دننه وَ دوا ړو ته لکه یشپډلي چاجوشه څُوڅکېد لو ، خو پښتو ورته دَ څه وئیلو اجازه ځکه نه ور کوله ، چي هغوئ دوا ړي ښځي وې او له ښځو سره سیالي دَ پښتنو کار نه - هم په دې خو چي کله هغوئ ګپه کوله ، نو سپلاني ورته موسېد لو - او هغوئ چي څنګه چپ شوې ، نو دَ شا له خوا ایمرانشا ، چي دَ کېمرون تکه توره او دنګه افریقن حبشی پېغله وه په خپله مخصوصه تندکي لهجه کي ورباندي ژغ وکړو ...

" هې سپلانیه .. دا په تا کي داسي څه دي؟ چي هر وخت ښځي درباندي راټولي وي "

" هغه ډېر سمارټ ځوان دی "

دَ سپلاني په ځای ورته په دې دویم کتار کي له پېغلي التانګریل سره په څنګ کي ناست رُوف چي په ماته ګوډه انګلسی کي داسي ځواب ورکړو ، نو هفې حبشی دَ کټ کټ خندلو ورسته بیا داسي خله وکړه ..

" سمارټ خو ته هم یې مېن ، چي درسره ښکلي منګولین ناسته ده "

او دا خبره چي یې لا سرته نه وه رسولي ، چي هلته څو سیټان مخته محمد عبدالرحمان او ډاکټر تفېرا پورته شو او دَ عربی ژبي په دې سند ره ، چي په کي دَ " لُولا لُولا " غوندي تورو تکرار بېخي زیات وُ باندي ډانس څه پئیل کړو ، چي شاته هم په سیټونو باندي ځیني نور ملګري ، چي ډاکټر پُو او بېسنك په کي وړاندي وړاندي وُ بدنونه ښورَول پئیل کړو -

**_ 3 _**

" په کار خو دا وُ ، چي وسا په دې ځای کي راسره دَ تاریخ برخه جوړه شوي وی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

له داسي مايوسۍ سره مل ، چي سپلاني هم کله له ملګرو سره دَ هغه درو ببخي غتو او هسکو څلور کونجيزه فرعوني ګومبتو ، چي په کي دَ هغوئ قبرونه جوړ يا تابوتونه پراته وُ په خوا روان وُ - نو يې دَ زمري وزمه ابواالهول چي سر ورته دَ فرعون خافرا لګول شوی دی دَ ضرورت په لور چي څنګه مزغو ته دَ سوچونو لاري جوړَولې چي لوکل ګائيډ واي ..

" دَ اهرام مصر دا دري څلورکونجيزه ګومبتي چي وينئ ، په دې کي تر ټولو غټه ميناره فرعون خوفو ، چي ورته په يونانۍ ژبه کي کيوپس هم واي په 2550ق م کي جوړه کړه او دويمه دريمه په ترتيب دَ هغه دوُ زامنو ياني فرعون خافرا په 2520ق م کي او فرعون مينکورا په 2490ق م کي جوړه کړه - ګوا ځانونه او دَ خاندان غړي (ابدي خدايان کولو) تر نظريې دلاندي دَ ورستۍ آرامګاه په توګه يې دا ګومبتي جوړي کړي دي"

دَ دي خبرو سره اوږه په اوږه به سپلاني هم دَ مصري زاړه تاريخ په لوري دَ تللو دپاره په دې پراخ رېګستان کي له هغو دوړو سره سم هځوال کېدلو لګيا وُ ، چي تر ليري ليري پوري نه يوازي يوې بلې خواته دوړېدلې بلکې يوې نيمې دُوړي خو دَ آسمان په لوري چُورلکونه هم خوړلو - خو چي څنګه يې اوس په خپل نيلي باندي پښه اړَوله ، چي له لوکل ګائيډ څخه دَ بُوباجُوف دې تپوس هغه بيرته وَ ځان او حاضر زمان ته په خولو کي لوند خيښت راستون کړو ..

" نو بيا دَ دي درو ګومبتو په پرته هغه وړې ګومبتي دَ څه مقصد دپاره جوړي کړل شوي دي ؟ "

" په هغو کي دَ ښځو او ماشومانو تابوتونه پراته موندل شوي وُ او دا ګومبتي فرعون مينکورا دَ خپلي مائنې سره دَ ميني په ياد کي جوړي کړې"

په ځواب کي ورته ګائيډ دومره لا سم وئيلي نه وُ، چي ملګری بتوکا په خپل ډډن ژغ کي غاړه ور وَځغلوله

" مينه يې په خپل ځای .. لاکن سوال دا پيدا کېږي ، چي آيا دَ فرعونانو په دور کي هم ښځه تر نر کمه ګڼل کېدله؟ "

" نه يوازي کمه بلکې کهتره هم "

" هغه څنګه مادام ؟ "

لومائي رامخته شو او تپوس يې ځيني وکړو - خو دَ مادام ګائيډ په ځای ډاکټر تفېرا ، چي ځان يې څه دَ مصګرياتو ماهر هم ګڼلو په سپين سترګۍ کي داسي وَ وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغه داسي ، چي موږ په دې لړکي دَ هغوئ دَ ښځو دَ سنتي (ختنه) څخه دا مانا اخيستلې شو ، چي هغوئ نور خو نور بلکې په ښځو باندي نفساني خواهشات لا هم نه ربلېد لو"

" لاکن داسي کېسونه خو اوس هم په مصرکي که څه هم 92 فيصده دي ، خو په سوډان او ډېرو نورو افريقائي هېوادونو کي سل په سله کېږي"

" دَ تفېرا سره سم ، چي توري خرتې ايمرانشا څنګه دا خبره وکړه ، نو مېډم هنا الګوهري ، چي دَ هغوئ دَ سوشل ريسرچ اُستاده وه ورباندي په غصه کي ژغ وکړو"

" ستاپ .. دا دَ دې ځای خبري خو نه دي؟ "

او بيا يې لوکل ګائيډ ته دَ خبرو کولو چي څنګه خواست وکړو ، نو هغې مختته وئيلو ..

" دا ابواالهول چي وينئ .. دا دَ فرعونانو دَ ننګ او په دې مځکه باندي دَ سپر پاوْر کېد لو علامت ګڼل کېږي ، کوم چي تر ډېري مودې پوري په رېګ کي پټ پاته شوی وْ"

هغې لا خبري کولې چي سبلاني له ملګرو سره ملګری ، خو دَ خپل زين شوي سوچ په نيلي سپور دغه وْ ، چي دَ فرعون خوفو او دَ هغه دَ زامنو وَ اوږده شاهي دور ته نه يوازي را وَرسېدلو ، بلکې برخه يې هم په نه ساعت کي وَ ګرځېدلو - ګوا .. اوس هغه دَ ابواالهول دَ غټ بُت دلاندي او شاوخوا ته جوړ دَ فرعوني دور له کورونو ، چي زياتره دېوالونه او بامونه يې له يوه يوه غټ تراشل شوي کاڼي څخه جوړ برېښېد لو باندي دَ رقم شوْ واقعاتو ګواه جوړېدلو او په چيغو چيغو يې دَ دې دور وَ خلګو ته وئيلو ، چي ..

" ګورئ .. ماته ګورئ .. زه له زمانو زمان راهسې ژوندی يم او دا ټول څه زما دَ سترګو وړاندي ساز شوي دي"

خو هيڅا دَ هغه ژغ ځکه نه اورېدلو ، چي دَ هغه وجود دَ نني دور او زمانې په قيد کي وْ -

نه يوازي دا ، بلکې سبلاني له ګمانه دَ هغو زرګونو خلګو په لور هم بيا بيا اشارې کولې ، چي په ستړيا ستړي او په خولو کي لمبېدلي که څه هم اوس نه ښکاره کېدلو ، خو دَ اهرام مصر جوړښت يې ګواهي کوله - ګوا له 70 څخه تر سلو ټنونو پوري درانه او ببخي غټ بلاکونه يې په تاوده رېګ باندي هغې خواته ور دېکلو ، چي چرته دَ فرعون خوفو دَ ابدي مزار په نيت دَ هغه په ژوند کي او دَ هغه دَ سترګو وړاندي هغه لومړی څلور کونجيزه ګومبته چي څنګه تکميل ته وَ رسېدله - نو سبلاني له نيلي څخه را کُوز شو او دَ وسا څېره دَ خوفو له رانې څخه هغه وخت بيرته ځکه ترلاسه کړه ، چي هغې له ساه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه دَ رسۍ شلولو په نيت ورستۍ هڅکۍ شروع کړي وې .. له خدائيګوټي ځخه خدائينه کېدله لګيا وه -

نوځکه خو دَ سپلاني په خوښه دا خبره لمر خداى دَ فرعون خوفو دَ نيږور، ګوا دَ فرعون خافرا دَ رانۍ په نقشونو کي داسي ژر او په هنر تحليل کړه ، چي سپلاني يې دَ يوه ديدن ځه ، چي دَ يوې موسکا د پاره په دغه رېګستان کي په مياشتو مياشتو نهري تېرولې - خو چي لوږه يې له وس ځخه وَ وتله ، نو دغه سپلاني دَ فرعون خافرا ، چا چي دَ خپل پلار په تقليد کي خپله ګومبته جوړوله په هغو مرئيانو مزدورانو کي ورګډ شو ، چي له هغه سره په شمېر پوره يو لکهـ وُ -

هو ، چي کله دا ګومبته سرته لا سمه نه وه رسېدلي ، چي دَ خافرا رانۍ دَ ډاکټر وسا خبره ځکه وَ لمرخداى ته ور وَسپارله ، چي هغې هم دَ خدائينې جوړېد لو په خواهش کي مرګي ته غاړه کښېښوله - نو ځکه خو لمر خداى له سپلاني ځخه تپوس وَ کړو-

" وايه سپلانيه .. دا ستا دَ وسا خبره وَ چاته واغوندم؟ "

سپلاني يوې بلې خواته وکتلو او دَ ځه سوچ کولو ورسته ژغ يې ورباندي وکړو . .

" راځه .. راپسې "

او بيا هغوئ دواړه يوې بلې خواته په رېګستان کي ګرځېدلو ورسته چي ځنګه ماځيګر مال بيرته دَ پېراميډ ز سره جوړي مانۍ ته ور دننه شولو، نو دَ سپلاني سترګي په شاهي محفل کي ناستي په يوې پېغلې باندي کراري ځه شوي چي يو دم يې وَ لمر خداى ته وَ وئيلو . .

" ورشه .. او هغه ښکلي پېغلي ته دا خبره ور واغوند ه ، چي دَ فرعون خافرا په ځنګه ناسته ده او دويمه ماڻينه يې برېښي"

لمر خداى په هغه لور کتلو ورسته کلك وَخندلو او بيا يې ورته وئيلو . .

" هغه فرعون خافرا نه دی .. دَ خافرا کشر ورور مينکورا دی - او بل هغه ورسره ناسته پېغله هم يوه عامه پېغله نه ده ، بلکې رانۍ خاميرېرنېبتي ده .. دَ سبا ورځي خدائينه"

سپلاني به لا اوس په دې خبري باندي حېرانتيا ځرګند وله ، چي لمر خداى دَ وسا خبره چي خاميرېرنيبتي ته ځنګه وړاندي کړه ، نو هغې په داسي خوشالۍ واغوندله ، لکه دا چي دَ هغې خپله . . . خبره وي .. پرېدۍ نه هم په دې خو سپلاني يو ځل بيا په جامو کي نه ځائيد لو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به لا سپلاني له ډېره هوسه ځان دَ نړۍ تر ټولو انسانانو خوشبخته انسان ګڼلو ، چې دَ فرعون خافرا په ګومبتي کي دننه په نرئیو تنګو لارو کي پورته کښته ګرځېد لو په وخت دَ حاضري زمانې دَ مصرۍ ګائیډ دَ ژغ آزانګې خپروې شوې ، نو ځکه هغه هم له تاریخه یو ځل بیا راستون شو او ګائیډ ته یې غوږ وَنیولو ، چې په عربي وزمه انګلسۍ کي یې وئیلو . .

په دې پېرامیډ ز جوړَولو کي په کار راوړل شوي دا دَ ګرېنائټ غټ غټ بلاکونه دَ درو نظریو ګوا ( نېغ نېغه بالا خېږَول) ، ( په کږ لېچونو کي له یو پوړه وَ بل پوړ ته خېږَول ) او یا ( دَ مینارو په سمون له "په څخه دَ دې تر سرونو پوري په جوړو غټو بارُو باندي ورته دېکل ) په سمون وَخېږَول شولو "لیري

او بیا چې کله له دې ځایه دَ ملګرو لوستونکو دا ډ له نیږدې دَ هغې غټې فرعوني کشتۍ په خوا بُوتلل شوه ، چې له هغې دویمي ګومبتي سره په څنګ کي پیدا کړل شوي وه - کومي چې دَ فرعون خافرا له ژوند سره اړه درلود لو-

" دومره ښه جوړه شوي کشتۍ ؟ "

دَ سپلاني په مزغو کي دا سوال ځکه پورته شو ، چې دا کشتۍ دَ کرسټوفر کولمبس له هغې جد یدي کشتۍ څخه هم په هیڅ مانا کمه نه وه ، چې په بارسلونا کي دَ لید لو په وخت هغه دغه رنګه له خیاله له کرسټوفر سره په کي تر لیري لیري پوري سېل کړی وُ ، لکه دې وخت چې یې هم وَ دې کشتۍ ته ختلو د پاره ځان هڅولو - لاکن ور وَختلو ځکه نه ، چې ناڅاپه یې ننۍ ډاکټر وساسترګو ته له خیاله دنګه وَ درېد له ، چې وئیلو یې . .

" سپلانیه .. ما او تا خو له دې عهده مختنه وتلي یُو"

" هو .. ته رښتیا وایې وسا "

او بیا سپلاني سترګي موړلو ورسته له ملګرو سره ګډ دَ هغې دریمي ګومبتي په لور ګامونه اوچت کړو ، چې دَ فرعون مېنکورا سره نه یوازي اړه درلود له ، بلکې دَ وسا څېره خولا هم تر اوسه دَ دې فرعون دَ راڼې په نقشونو کي خوندي پرته وه -

لاکن چې له دې ګومبتي څخه څنګه سپلاني دَ درو وړو ګومبتو په لور ګامونه اوچت کړو ، نو لمر خدای هم ورپسې دَ وسا څېره په داسي په منډ ه منډ ه راوړله ، لکه هغه ښکلي راڼې چې هم دَ هغه سترګو خوړلي وي - نو ځکه خو لمرخدای په ساهکېدلي انداز کي وئیلو ورته ، چې ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" سپلانیه .. هې سپلانیه .. دَ فرعون مېنکورا دَ ښائسته رانړۍ په لور ستا دَ میني دَ نظر ورستی حسدي غښې له ختائي ځخه دَ هغه په ځیگر کي لگېدلی وُ ، نو ځکه هغه له جلاله دَ وسا څېره دَ رانړۍ له څېرې ځخه رابیله کړه"

او مخته یې بیا هغه تپوس ورځخه په ماته خله وَ کړو ..

" وایه اې دَ درست ژوند ون واحد ژوندی انسانه.. زه اوس په دې څېرې باندي څه وکړم ؟ "

سپلاني له هغه ځخه دَ وسا څېره اخیستلو ورسته یو ځل بیا دَ خیال په نیلي باندي پښه واړَوله او مخته په دې گمان تېر شو - چي کېدلی شي ، چي تر هغې پېغلي پوري ځان وَ رسوي، چي هلته لیري دَ پریانو له دُوړي سره په چورلکونو برېښېدله - هو.. هغه مسته او په ځان باندي غره چي شهزادگۍ وه ، خو له محلونو یې زیات دا سپېرې ساراگاني ځکه خوښېدلې، چي هغې دَ باد له څپو سره تگ کول غوښتلو - هغې نه غوښتلو، چي هغه دي دَ هیڅ یو انساني رښتې په جال کي ورگېر شي - گوا هغه په ښائست باندي حُوره او په خویه زمرۍ وه .. په دې خو یې جامې هم دَ پرانگانو اغوستلې -

دَ سپلاني زړه هم نه منلو ،چي دَ وسا څېره به هغه شهزادگۍ ، چي نېفرتیاپیت نومېدله واغوندي - خو سپلاني هم په خپلي هوډې کي پښتون وُ - نو ځکه له لوړو حوصلو سره یې دَ هغې پېغلي شهزادگۍ په لور واټونه لنډ ولولگیا وُ ، چي اوس دَ زمري ځرمن په تن اغوستي بس په یو څو گامه ورځخه لیري وه - خو ځنگه ځنگه چي ورته نیږدې کېدلو .. هغه هغومره ورته زیږه کېدله او له ځناوري روئیو ځخه یې داسي ځرگندېدلو ، لکه هغه چي نه یوازي انسان بلکې هر ژوندی سری دَ خپل حسن دَ جلال په وړاندي سرو کُوزی لیدل غواړي - هم ځکه خو که څه هم سپلاني ورته سم کتلی نه شو .. خو بیا یې هم همت سره را یو ځای کړو او دَ وسا څېره چي یې ځنگه دَ هغې په لور ور وړله ، نو هغې دَ څېرې په لور کتلو سم دستي دَ شا په لور داسي یو دم منډ ه کړه لکه هغه څېره چي دَ هغې خپله څېره وي او هغه نه غواړي چي ښځه شي - هم ځکه خو سپلاني هم ورپسې پائڅې ټولي کړې - ولي چي دَ هغه شك هم زیاته یقین ته رسېدلی وُ..نو په دې خو یې په هر حال کي نیول غوښتله - خو هغه وه، چي په چیغو چیغو یې ورته وئیلو ..

" دا منم ، چي زه ستا دَ لټون کټ مټ هغه څېره یم چي ته یې لټوې .. لاکن ... "

" لاکن څه ؟ وایه..اې خوږې او ښائستې شهزادگۍ نېفرتیابیت "

" هغه دا .. چي زه دومره ښائسته یم چي ما دَ جهان سترگې خوري لگیا دي"

" یه یه .. ته دَ مرگ دپاره نه بلکې دَ ژوند کولو دپاره"

(c) ketabton.com: The Digital Library

سېلاني چي اوس يې مخته ته دَ تللو هيڅ قسم زور په بدن کي نه وُ پاته شوی دَ درېدلو ورسته ورته داسي خبره لا سمه سرته نه وَ رسولي ، چي هغې هم تندکونه وهل شروع کړو او ژړا سر شوه ..

" زه په لاس بيا هم نشم درتلی .. ولي چي زه هم ستا سترګو خو خوړلي يم"

او بيا يې په ورستي ځل دَ سېلاني په لور کتلو ورسته ځان په رېګ باندي داسي چپه کړو لکه هغه ښاپېرۍ وزمي نيفرتيابيت شهزادګۍ چي په رښتيا دَ هغه دَ سترګو نظرونو خوړلي وي - هو .. کيسه وه هم دغه رنګه - ولي چي هغه په ځوانه ځوانۍ دَ مرګ په خوب داسي ويده شوي وه - چي بيا دَ سېلاني خوار دَ وير ساندو اوکړيکوڅه ؟ چي دَ دې رېګ هغو طوفاني سيليانو لا هم نه کړه راوپښه ، چي دا غټ ابواالهول يې په پېړئيو پېړئيو په ځان کي پټ ساتلی وُ -

سيلاني به لا نورهم دَ فرعونانو په تاريخ کي دَ هغې شهزادګۍ په باب په سر باندي رېګ دُوړَولو ، چي دَ نني دور سوپيس يې په اوږه لاس څه ور کښېښولو ، چي دَ نامي سرېخوري او دَ فرعوني تاريخ ظالم ترين فرعون سنېفرو دَ رانۍ هيتيفيريس دَ سترګو اور يې ور په ياد کړو - هم په دې خو هغې دَ پرون له سترو مزلونو څخه راستون شوی سېلاني له ځان سره ګنډلی په پټه خله دَ هغې فرعوني لائبرېرۍ او ميوزيم په لور ورچپ کړلو ، چي په کي دَ انسانانو دَ مميانو او ځيني نورو شيانو پرته دَ بلا ساهداره ځناورو مميانې هم په دومره شمېر پرتې وې ، چي دَ فرعوني دور په اړه يې دَ ګائيډ هغه خبره رښتياکوله ، چي څه ساعت مخته يې کړي وه ، چي ..

فرعونانو په دې خبري باندي ايمان لرلو ، چي که هر ساهداره يا دَ انسان جوړ عکس ، زړه ، سايه ، او روح په پيپاريس پېپر کي نغاړلی په يو مضبوط تابوت کي خوندي کړلی شي ، نو هغه به کله "نوم مري او تل تر تله به ژوندی وي .. خو په غېر مرئي بڼه کي"هم نه

نه يوازي دومره بلکې بيا يې اوږده ساه اخيستلو ورسته مخته هم داسي هم وئيلي وُ ، چي ..

" دَ هغوئ له قوله ، فرعونان چي مړه شي ، نو خدائيان شي"

دَ لوکل ګائيډ دَ دې خبري ورسته چي څنګه هغوئ دَ بس په لور روان شولو ، نو په لاره کي مبهم هنا واي . . .

" دَ ګائيډ له قوله .. دَ فرعونانو په دې خبروکي څومره حقيقت دی ؟ په دې نه يم خبره ، خو دَ عربۍ ژبي له دې متل څخه انکار هم نه شي کېدلی"

او بيا يې هغه خبره رايادولو ورسته وئيلو ، چي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" وخت دَ ژوند په هر شي باندي خاندي ، خو اهرام مصر په وخت باندي خاندي"

هو ، اوس که څه هم بيرته ټول ملګري په بس کي ناست تر خپلو په ګپو باندي اخته شوي وُ ، خو سپلاني سترګي پټي کړي وې او دَ وسا څېره په لاس کي هغسي يو ځل بيا دَ سوچ او فکر په نيلى باندي سپور دَ رود نيل دَ هغې څنډې په لور روان وُ .. چي چرته دَ نن قاهره ښار آباد شوی وُ - خو يَه ، دی وخت سپلاني دَ خپلو خيالونو دَ رفتار په مقابله کي دَ يو داسي ستړي مسافر په رنګه ګوډېد لو لګيا وُ ، چي دَ نيلي دَ پېښو خاورو او دُوړو دئ ورو ورو وَ هغه ابوالهول ته مونَولو لګيا وُ ، چي وُ خو زمری .. لاکن له کاڼو جوړ او دَ وخت په دائرو کي ورګير شوی - هم ځکه خو ورته وسا له ګمانه وئيلو . .

" ما خو دا ګڼلو ، چي ته به زما خوبونه را رښتيا کړې"

او بيا يې له سترګو څخه اوښکي پاکولو ورسته په وړو وړو سُلګيانو کي مخته وئيلو . . .

" . . . لاکن تا خو زما دَ خوبونو دَ ټاپوګانو پُولي لا نور هم دومره پراخ کړو ، چي په کي دَ تعبيرونو دَ لټون هيلي ورکي څه ، چي ځانته خوب شولې"

" منمه .. چي ما درسره ښه نه وکړو - خو دا هر څه ما له کسته نه دي کړي ، بلکې ..."

اوس به لا هغه مخته څه وئيلو ، چي وسا په ډېره حېرانتيا ورڅخه تپوس وکو ..

" نو بيا هغه څوك اوڅه وُ ؟ چي دَ ميني په دويم ګام کي يې ته په ما باندي په داسي ظلم کولو وَ روږدَولې"

" بل هيڅوك نه .. چپ له دې زړه او يا "

هغه به دَ " يا" له مخه څه ورته وئيلو ، چي يو چا يې لاس په اوږو باندي کښېښولو او هغه بيرته دَ هوش وَ نړۍ ته په وازو سترګو راستون ځکه شو - چي هغه لاس دَ بل هيچا نه ، بلکې دَ سوپيس لاس وُ ، چي دې وخت يې دَ سيټ له څنګ سره جوخته ولاړه وه او دَ هغه په لور يې نه يوازي کتلو بلکې داړي يې هم داسي ببيا تر غوږونو پوري وازَولې لکه هغه چي به يې اوس اوس وَخوري - هم په دې خو سپلاني ورته بيا تر ډېره په خشم خشم په دې وجه کتلو ، چي دغه سوپيس خو وه ، چي نوم يې په خلې کي پاته شوی وُ -

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۴

# دَ نیفرتیتي او اخیناتن دَ مینی غبرګون

" نن سبا یوازي ښکارې "

" زه خو اول هم یوازي وم "

دَ مصر په عېن سلېن نامي ښکلي ځای کي دَ اکتوبر په شپږمه نېټه باندي غرمې خواته له بس څخه کوزېد لو ورسته چي دَ بُوبا جُوف دَ سوال په ځواب کي سپلاني دَ خپلي یکړي داسي خبره وکړه ، نو یې سترګي په پېغلي ډاکټروسا کي ښخي شولې ، چي دې وخت دَ ایم فل لوستونکو له بس څخه کُوزېد له لګیا وه ، خو هغه چي څنګه ګامونه ورپسې تېز کړو ، نو هغه په نه ساعت کي بیا داسي هوا شوي وه لکه وزر چي یې کړي وي - نو ځکه دئ هم دَ " قارون لېك " نامي ښائسته ځای دَ هغه غټ هوټل په لور له ملګرو سره روان شو ، چرته چي به هغوئ په شنو شنو تالابونو کي لامبلو-

دَ هوټل په لابي کي وَ سوئمنګ پُولونو ته په تلونکي کاریډ ورکي دَ تګ کولو په وخت بُوبا هغسي ورسره سره مخته روان وْ ، چي سپلاني نابېره تم شو ، نوځکه بوبُا ورڅخه پوښتنه وکړه . .

" درځه دوسته ، ولي وَ درېدې ؟ "

سپلاني هلته لیري دَ یوه سوئمنګ پُول سره خوا کي جوړ ښائسته لان کي دَ وسا او مصري ځوان صلاح چي تر خپلو یې په خندا خندا کي ګېپي کولې په لور سترګي اړَولو ورسته په ځواب کي ورته وئیلو ..

" ته درځه بُوبا .. زه دلته په دې لابي کي دَ څو لمحو دپاره کښېنم "

بُوبا هم پوهی شو ، چي سپلاني له صلاح سره دَ وسا په لید لو خفه شوی وْ - نو ځکه یې هغه خپلي خوښي ته شاته پرېښولو او پخپله مخته تېر شو-

سپلاني چي دې وخت یې په سترګو باندي توره تیاره راغلي وه په لابي کي خپل ښي لاس خواته جوړي کېفې په لور دَ محرومیۍ له احساس سره مل ګامونه څه اوچت کړو ، چي زړه یې هم دَ حلق ژبه ښکل کړه ..

" یا خدایه .. ستا قربان شم ، دا زه دي په دې کوم امتحان کي بیا واچولم ؟ چي دَ خوبونو تعبیر دي راته رښتیا هم کړو او دَ بل په برخه لیك هم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ زړه له کومي يې له خلې څخه داسي ګیله لا سمه وتلې نه وه ، چي اوښکي يې له سترګو څخه بهېد لو ته بيا لاري غوښتلو ته چمتو شوي هم وې - خو په کېفې کي ناست خلګ وربانديي پوهی ځکه نه شولو ، چي دې وخت هغه توري چشمکي اچولي وې ..

بس مخته نو څه وُ ، چي په پيپسي بوتل پسې يې بوتل ځيښلو سره سم ډېر ژر بيا دَ سګرېټونو دَ ټوټو امبار په ايش ټرې کي وَ هم درَولو ..

" دَ دې مطلب دا دی ، چي هغه له هرچا سره دغسي په مينه خبري کوي "

هو ، که يوې خواته دَ دې زړه چاوُدي مايوسی له سوبه سپلاني دَ وسا دَ ميني په اړه دَ ځان نفي کوله لګيا وُ .. نو بلې خواته دَ ګهړی ستني هم يوې بجې ته رسېد لې زياته - نو ځکه خو دَ وسا په زړه کي بېلابېل سوالونه را برسېره شولواو داسي څوك نه وُ ، چي له هغه څخه يې دَ ده تپوس نه وُ کړی - خو چپ له بُوبا ، بل هيڅوك هم په سپلاني خبر نه وُ ، چي هغه چرته دی - هم ځکه خو چي اوس به لا هغه خپل ټول ارمانونه تر غاړي نيولو ، چي دَ کېفې په دروازې کي يې ناڅاپه وسا ولاړه تر سترګو شوه ، چي شاته يې بُوبا جُوف هم ولاړ وُ - او هغې داسي په برګو ورته کتلو لکه سپلاني چي نه ، بلکې هغه خپله ورڅخه خفه وي ..

" راځئ راځئ"

سپلاني لکه له خوبه چي راويښ شوی وي او سترګي موړلو سره سم ، چي څنګه ولاړ شو ، نو وسا دَ هغه داسي حالت کتلو ورسته سر له غصې وَ څنډ لو او بيرته شاته په غټو ګامونو باندي غبرګه شوه - سپلاني لا يو څو تندکونه ورپسې وَ هم خوړلو ، خو هغه بيا دَ لانونو په خوا جاروتي وه ، نو ځکه بُوبا دَ هغه په لور راتللو سم دستي ورته وئيلو ..

" سپلاني .. داسي درته نه وُکول په کار .. خبر يې چي هغه له تا سره ډېره مينه کوي"

" مينه ؟ "

" هو ، مينه "

" لا کن هغه خو سهار له صلاح سره يکړه ولاړه وه او په ډېر خوند او خندا ورسره ژغېد له "

دَ سپلاني په دې خبري هغه په زوره خند لو ورسته ورته وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" سهار چي څنګه يو دم دَ هغوئ په ليد لوباندي ته له ما شاته پاته شولې ، نو زه پوهی شوم چي ستا موډ هاف شوی وُ - لاکن نه چي تر دې هانده .. ته خو تيار لېونی يې"

او بيا يې په سپلاني باندي غوزۍ اچولو ورسته له ځان سره دَ هغو سوئمنګ پُولونو په لور بوتلو ، چرته چي دې وخت له يو څو ملګرو په چپه نور ټول لمبېدلو لګيا وُ -

شاوخوا سترګي ځغلولو ورسته چي وسا هيچرته په نظر نه وره غله ، نو بُوبا دَ موسېدلو ورسته واي ..

" هغه خو هم ستا دوسته ده ، خود به ستا په غم کي اوس چرته ستا غوندي يکړه ناسته وي"

دا يې لا سم نه وُ وئيلي ، چي مسټر پُو ، محمد عبدالرحمان ، دَ جارجيا خاتونا او دَ روس پېغلي نستان او ايلينا په ګډه باندي سپلاني ټانګو پانګو کړو او له جامو سره يې وَ اوبو ته وَغورځولو - بس بيا نو مخته څه وُ ؟ چي که هر څو هغه دباندي وچي ته دَ وتلو دپاره هڅي کولې ، نو هغومره هغوئ نوري نوري ډُوپکۍ په شنو اوبو کي په داسي وئيلو ورکولې ..

" ستا سزا ډېره شديده ده ، ولي چي موږ په تا پسې ډېر ګرځېدلي يُو - چرته پټ شوی وې هان"

لنډه دا ، چي هغوئ ښه ځانونه ورباندي سترې کړو ، نو سپلاني هم ساهکېدلی غوندي له اوبو چي څنګه راوختو ، نو يې سترګي له وسا سره ځلور شوې ، کومه چي دې وخت په ګڼو خوندکيانو کي هلته ليري دَ يوې درختي دَ سيوري دلاندي ناسته وه او لاسونه يې پورته پورته داسي غورځولو لکه هغه چي دا واي
زه له سپلاني څخه کرکه په دې کوم ، چي ..

"... هغه دَ هري انجلۍ په کار دی او بل .. دَ هغه خپله هم انجوني زياتي خوښېږي"

" هو ، بد خو يم لاکن دومره هم نه ، ولي چي په دې اوسنۍ پېښه کي نو زما څه قصور دی ؟ "

سپلاني چي هم دَ خپل وهم په ځواب کي څنګه داسي وَ بُونېد لو ، نو څه ګوري؟ چي وسا دَ هغه په لور لکه ماره راغزېدل شروع شوه ..

" لويه خدايه خېر "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني به لا اوس نور نور وسوسو او وبرو په سر اخيستلو ، چي هغې دا نوره پاته لاره ورته په موسکا موسکا کي څه لنډه کړه ، چي سپلاني داسي خوشاله شو لکه په مړه وجود کي چي يې ساه را ژوندۍ شوي وي او ورمخته شو-

" ته چرته وې ؟ "

" زه .. زه دلته خو وم "

" نن له سهاره ما له چا او چا ستا تپوس نه دی کړی - ولي تاته صلاح ، پُو ، لومائي او فلاني فلاني نه وُوئيلي ؟ "

يو ځل لا دَ سپلاني په زړه کي راغلو چي ورته وَواي ، چي دی به هغوئ چرته ليدلی وی ، نو به يې ورته وئيلو - لاکن هغه دَ خپلي غېر حاضرۍ په ځواب کي فقط ورته خندا څه وړاندي کړه ، چي هغې په ديکو ديکو تر هغې درختي پوري وَرسولو ، چرته چي منال ، ثريا ، مديحه او ځيني نورو پېغلو دَ ډومينو ګېم کولو - اوس به يې لا هغه هم له ځان سره په خالي چوکۍ باندي کښېنولو ، چي صلاح هم را ورسېدلو او په عربي کي يې وسا ته وئيلو ..

" شکر دی ، چي آخير دي هم دا دی پيدا کړو"
او بيا يې له هغه هم تپوس وکړو ..

" چرته وې مستر سپلاني؟ دې الجېګرين خور خو مي مازغه را خوړلي وُ ، چي تا ورته پيدا کړم "

" په کېفې کي وم"

په دې خبره يې خپل تندی ټکولو ورسته مخته وئيلو

" بس دغه يوه کېفې خو وه ، چي ما په کي ته نه يې لټولی - ګني هغه ټول کونجونه څه ، چي دغه سوئمنګ پُولونه مي لا هم په تا پسې وَغوښتلو"

او بيا يې خله دَ سپلاني وَ غوږ ته نيږدې کولو ورسته ورته ورو غوندي وئيلو . .

" هلته په کېفې کي يکړ وې او که په هغه سپينو انجونو کي هم څوك درسره وه ؟ "

سپلاني چي هم څنګه سترګي دَ هغو تکو سپينو بد نونو ، چي په يوه يوه لوسته ټوکرانو باندي پټ وُ په لور څنګه وا ړَولې ، نو وسا هغو دواړو ته په لغازي انداز کي وَوَئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ور شئ ، که مو له هغو لُوڅو او سپکو پاسکو روسۍ پېغلو سره زړونه لمبېدلو ته کېږي ؟ "

" موږ او داسي کار ..؟ مجال دی که یې ستا له وېرې سوچ لا هم کولی شو "

صلاح چي دومره ورته وَ وئیلو ، نو هغې هم په هغه لور سترګې اړَولو ورسته وَ وئیلو ..

" سو پیس هم هغه ده لمبېږي په کي"

سېلاني پوهی شو ، چي دا لغازي اشاره یې دَ هغه په لور ده ، خو چپ له موسکا یې خله بنده ځکه وَساتله ، چي هغه نه غوښتلو ، چي بیا له خپله لاسه ځانته دَ رنځونو کښت کرونده وکړي - هو ، په دې خو بیا دَ هغې له څنګه تر هغه دمه ناست وُ ، چي تر څو پوري دَ بیرته تللو اعلان نه وُ شوی - او سهار چي څومره په مات زړه سېلاني له قاهره څخه تر دې قارون لېك پوري راغلی وُ ، نو له دې خوا بیا رك تر قاهره پوري دا دَ 75 کلومیټره لاره هغه په ډېر خوند ځکه تېره کړه ، چي وسا یې څنګ ته ناسته وه -

_ 2 _

دَ ژوند ورځې شپې ډېري په تادۍڅه تېرېدلې ، چي دوه زړونه که یوې خواته تر خپلو نور نور نیږدې کېدلو ، نو بلې خواته یو بل زړه هم وُ ، چي دَ هغو دواړو تر منځ یې دَ بېلتون لاري پرانیستلو ته خپل هر څه په داوْ باندي ایښي وُ - نو ځکه خو چي یې دَ انتقام جذبې دَ ورستي پُولي تر ټاك هم وا وېښتلې ، نو یې یوه شپه دَ سېلاني دَ فلېټ ور وَ ټکولو ..

" تا چي له ماسره څومره بي وفائي کړي ده ، دَ هغه ظلم بد له به ضرور درڅخه اخلم ، خو .. "

" خو څه ؟ "

" منم ، چي ډاکټروسا تر ما ښائسته او ستا خوښه هم ده ، لاکن زه خو هم ستا . ".

" هو ، یې خو.. له دې نو ما کله انکار کولو ؟ "
" مګر زه هم ټائم غواړم "

" ټائم ؟ "

" هو ، برابر ټائم

او دومره وئیلو ورسته یې سترګې دَ سېلاني په سترګوکي اچولو ورسته په شونډو باندي چي څنګه ژبه تېره کړه ، نو دَ هغه په بدن کي هر ویښته دنګ وَدرېد لو او په رېږدېدلي ژغ کي یې ورته وئیلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لاکن سوپیس .. زه داسي نه شم کولی پلیز"

" دا به کوې ، ګني . ".

" دا دي دهمکۍ ده که ..؟ "

" واست دی خواست ، ولي چي زه خو هم له تا سره مینه کوم"

او بیا دَ څه کولو په ځای یو دم داسي نابېره په ژړا سر شوه ، چي سپلاني که هره تسلي ورکوله ، نو هم هغه په ځای دَ چپ کېد لو ، نوره نوره باغارو ته جوړېدله -

" داسي نه چي دا تهائي مار بچۍ ما په داسي کولو خو نه رسوا کوي ؟ "

اوس به لا هغه په یو رنګه هغه له خپله فلېټه د باندي ایستله ، چي هغه یو دم چپ شوه او سپلاني ته یې شونډي چیچلو ورسته له پرسه یوغټ خنجر چي څنګه را وَ ایستلو - نو سپلاني له ویري څخه څه غوندي شاته شواو تپوس یې ورڅخه وکړو ..

" دا څه دی سوپیس ؟ "

او هغې خنجر دَ هغه وَ سترګو ته څرکولو ورسته په مکرجني خندا کي لکه ډائینه ورته وَ وئیلو ...

" سپلانیه .. ته زما په ژوند کي څلورم سړی یې ، چي زما په زړه کي دَ دُښمن غوندي کُوتېږې "

" لاکن سوپیس ... "

" یاد یې ساته ... "

او بیا یې بیرته هغه خنجر په پرس کي ږد لو په وخت خبره داسي سرته وَ رسوله ..

" هو ، پرېږدم دي نه ، وژلم دي ضرور.. خو نن نه ، بیا کله ، چي وار درباندي پید ا کړم "

" سوپیس ته دا څه واې او ما له تا سره کوم بد کړي دي وایه ؟ "

" تا څه نه دي کړي ؟ دا به بیا درته ښئیم ، چي وخت یې راشي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ سپلاني دَ خبري په ځواب کي سوپيس دَ هغه په سترګو کي سترګي دَ فلمي بد ماشي غوندي اچولو ورسته تر غابښونو دلاندي چي داسي چيچلي خبره څنګه سرته وَرسوله ، نو دَ دروازې زنګ وګنګېد لو - او دَ سپلاني په ځای هغه ورغله او ور يې خلاس کړو -

" سوپيس .. ته او دې وخت ؟ "

" هو ، زه "

" نو درځه درځه ، چي توده کوفي درته پخه کړم "

"مننه مسټر پُو .. ځم ناوخته دی "

او بيا دَ سيلۍ په شان په هوا څه شوه ؟ چي سپلاني هم له تندي خولې پاکي کړې او سړه ساه يې داسي واخيستله ، لکه هغه چي بيا نوی ژوند موندلی وي - لاکن دَ دې هر څه پرته يې هم دَ ډاکټر پُو دَ دې خبري ځواب نه شو ورکولی ، چي هغه بيا بيا کوله ،ګوا ..

" وايه سپلاني .. سوپيس څنګه راغلي وه ؟ "

نو ځکه خو دَ ډاکټر پُو دا يقين شوی وُ، چي هغه تهائي انجلۍ دلته هم په هغه نيت راغلي وه... دَ کوم د پاره چي هغوئ په خپله خاوره باندي پېژندل کېږي -

_ 3 _

" داسي نه ، چي دا سوپيس له ما وسا بد را کړي ؟ "

دا هغه وسواس وُ ، چي په سپلاني کي يې نه يوازي وينه وچه کړي وه بلکې هغه يې دَ سوپيس سره په خوږه او پسته روئيه ساتلو مجبوره کړی هم وُ - نو ځکه به هغه دا هڅه کوله ، چي هغې ته هم څه نا څه وخت وَباسي - او بلي خواته هغه وه ، چي له سپلاني سره دَ ملګرتيا ساتلو په نيت هغې له بُوبا ، لومائي او منوبلا سره هم ناسته ولاړه زياته کړي وه ، ولي چي دَ هغوئ فلېټونه دَ سپلاني سره څنګ په څنګ دَ يوې پلازې په يوه فلور باندي وُ - او زياتره وخت به دَ هغوئ په فلېټونو کي ځکه ليدل کېدله ، چي هغې په سپلاني باندي نه يوازي خپل نظر ساتل غوښتلو بلکې ډاکټروسا ته يې دا خبره هم احساسوله ، چي سپلاني دَ هغې په چپه له دې سره هم اړيکي لري - خو دَ دې هر څه پرته هم سپلاني له وسا سره دَ ليد لو لاري پرانيستلې لګيا وُ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس خو دَ هغوئ تر میان خبره په سي ډي سي کي دَ لید لو کتلو او تر خپلو ماښام مال ټېلیفونو کولو پرته یوه ورځ تر دې ځایه هم ورسېد له ، چي دواړه دَ دې مقعطم په نیږدې کارنیچ کي دَ یوې اوپن ائیر کېفې په لان کي څنګ په څنګ ناست دَ لسم اکتوبر 1997ع مازیګري ژړی لمر هلته لاندي دَ ښکاره اهرام مصر دَ درو غټو څلورکونجیزه ګومبټو تر شا دَ هغوئ دَ اقراري شوي میني په ګواهي کي پټېولو لګیا وْ -

که څه هم دَ هغوئ مینه له هیڅا څخه نه وه پټه او دواړه له یو بل سره په آزادۍ ملا وېد لو ، خو دَ سېلاني په زړه کي هغه ورځ لا نوره هم ویره سېوا شوه ، چي سوپیس له هغه تور بُوباجوُف سره مینه په واز کومي اعلان کړه ، چي هغې او ډاکټر پُو سامنانګ به ورته پسي شا له ډېر پسخونده تور کوبرا یا سانډا وئیلو - ولي چي که نورو ته دا دَ حېرت وړ خبره وه ، خو سېلاني ښه خبر وْ ، چي هغې دَ ده دَ سېځلو پرته له هغه څخه انتقام اخیستلو د پاره داسي کړي وْ - او دا خبره دَ بُوباجُوف له روئیې څخه هم کرار کرار څرګند بد له - ګوا هغه که څه هم دَ سېلاني دَ ښه ملګري په توګه ځان برېښولو ، خو له هغه سره بې په هر څه باندي داسي اخیستي وه ، چي ډاکټر پُو هم ښه وربانديپوهی شوی وْ - ځکه خو به ..یې وئیلو

" دا سانډا دَ سوپیس په میني کي څه نور نه شو مست ؟ "

که څه هم سېلاني دَ دې خبري په ځواب کي هر ځل ورته خندلو ، خو دَ هغه اصل څیره دَ دولسم اکتوبر په سهار دَ سي ډي سي په دریم کلاس کي هغه وخت مخي ته راغله ، چي مېډم جهان شوقي دَ یوې پوښتني په ځواب کي بُوبا له سېلاني او ډاکټر پُو سره دَ غال تر هانده وَ رسید لو -

_ 4 _

په سي ډي سي کي ډېره مصروفه ورځ تېرَولو ورسته نن په لومړي ځل سېلاني له وسا سره دَ هغې په خوښه څلورنیمي بجې خواته په مائیکرو بس کي ناست سعیده عائشه نامي علاقې ته ورچپ شو او له هغه ځایه په یو بل مائیکرو بس کي دواړه ډاوْن ټاوْن ، ګوا دَ قاهره په وسط البلد کي تحریر سکوائر نامي علاقې ته وَ رسېدلو ، چرته چي غټ مصري میوزیم هم دی - دَ دې اسکوائر په غټ میدانګي کي یوې بلي خواته پښې خلاسَولو ورسته په طلعت حرب سټریت کي دَ ډیوټي فري شاپ مخي ته له یوه سره تر بله سره او بیا ورسره نورو ښائسته بازارونو کي یوې بلي خواته ګرځېد لو ورسته چي ښه ستړي شولو ، نو دواړه مئینان لاس په لاس یوه رېستورېنټ ته ننوتلو ..

لا خو دَ آرډر په سمون دَ کاپوچینو مګونه نه وْ راغي ، چي هغې له سېلاني پوښتنه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا سوپیس اوس هم تا تنګوي ، که یه ؟ "

" څه مطلب ؟ "
سپلاني لکه په غلا باندي چي ونیولی شي یو دم تپوس وکړو ، خو وسا دَ موسېدلو ورسته ورته واي ..

" هغه ډېره اړامه انجلۍ ده "

" اړامه .. څنګه اړامه ؟ "

"...هغه بله ورځ یې راته وئیلو "

خبره چي یې تر "وئیلو" څنګه وَ رسوله ، نو دَ کوفي مګونه وېتړ په مېز باندي دَ هغوئ مخي ته ږدلو لګیا وُ ، نو ځکه دَ هغې په دې خبري کي دې راغلي بربېك په سپلاني باندي خولې ور ماتي کړې - او اوس به لا وسوسو هغه په ربړدولو تیاروَلو ، چي هغې په موسکا کي مختته خبره داسي کش کړه ..

"سوپیس هغه ورځ وئیلو ، چي هغې ته ستا دَ سترګو دا ویسکي کلر ډېر خوند ورکوي "

"شکر دی"

دَ هغې په خبري چي یو دم دَ سپلاني له خلي شکر وَوتلو ، نو هغې پوښتنه وکړه ..

" شکر دي څله وَ ایستلو ؟ "
" په دې ، چي هغه کله کله ډېري اوتي بوتي هم واي ، هم ځکه خو زما ورسره نه لګېږي ولي چي سپکه پاسکه انجلۍ ده"

"لاکن هغه خو ډېره ښه او ماشومه انجلۍ ده"

دَ سپلاني دَ رائې په زد چي وسا وَ هغې دَ "ماشومي" ټائټل ورکړو ، نو دَ هغه په زړه کي دې وېري ځای نیول پېئیل کړو - ګوا داسي نه چي دَ هغه په دُښمني کي وَ دې ته تاوان نه وَرسوي - نو ځکه یې ورته وئیلو . .

" هغه دومره هم ماشومه نه ده "

" ستا مطلب دا دی ،چي هغې له بُوبا سره په مینه کولو کي ښه نه وکړو "

"داسي ما کله وئیلو ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیاخبري دَ سوپیس او بُوبا له میني څخه دَ هغوئ دَ خپلي نابېري میني ترهغه خوږو او ترخو لمحو پوري چي کله رسېدلې ، نو دَ ګهړۍ ستني هم وَ اتهو بجو ته رسېدلي وې - نو ځکه په ټېکسي کي دَ نیل دَ دریاب وَ هغه څنډې ته وَرسېد لو ، چرته چي دواړه په یوې غټې کشتۍ کي جوړ رېستورېنټ ته دَ مانېامني خوړلو په نیت ځکه ور وَ ختلو ، چي هغوئ غوښتلو ، چي دَ خپلي پاکي میني دَ سباوُن په باب دَ هغه مقدسه دریاب څپې نه یوازي ګواه کړي ، بلکې دَ خپل ښه سباوُن په نیت یې په دُعاګانو کي ورګډې هم کړي -

نو ځکه خو دَ ډوډۍ خوړَلو ورسته په یو بل واړه لانچ کي له وسا سره دَ هغې په خوښه یوازي ناست سېلاني په لومړي ځل له هر څخه څه ، چي له خپلي وسا څخه هم په پټه یو څو اوښکي وَ نیل دریاب ته په دې ور وَسپارلې ، چي دَ هغه دَ ستړي ژوند هره ستړیا دَ وسا په موند لو وسا شوي وه - او دې وخت سېلاني په یوه مانا هم ځان له پخواني مصري فرعون اخیناتن او خپله وسا له رانۍ نیفرتیتي څخه کمه ځکه نه ګڼله ، چي په دې واړه لانچ کي دواړه هغه رنګه څنګ په څنګ ناست .. په هغه رود نیل کي دَ مستو اوبو له څپو سره پورته کښته کېدلو سره سره .. هغسي مینه رقم کوله ،کومه چي هغوئ زرهاوْ کالونه پخوا کړي وه - ګوا رانۍ نېفرتیتي له خپل مېړه فرعون اخیناتن څخه تپوس کولو ..

" موږ که مړه شولو ، نو به هم دغه رنګه له یوبل سره سره یُو ؟ "
" هو ، زموږ څېرې به نه وي او نه به دا شین رود نیل ، خو زموږ نومونه به دَ مئینانو په څېر ژوندي پاته وي"

نېفرتیتي ځان نور وَ اخیناتن ته نیږدې کولو ورسته چي دَ هغه تر ملا لاس کله جارباسلو ، نو شپه هم تېره شوه او تر شا یې لمر چي ژېړې شغلې وربانديي وَ غوړَولې ، نو هغوئ دواړو یو بل ته دَ میني په حواله امر کېدلو زېري داسي په خوشالي ورکړو ..

" لمرخدای زموږ دَ میني ګواه شو "

هو ، دې وخت سېلاني او وسا هم دَ مصر دَ تاریخ برخه ګرځېدلو کي دَ شنه نیل دریاب څپې په داسي وئیلو باندي ګواه کولې لګیا وُ ..

" وسا .. ګوره ګوره چي ما یوازي نه پرېږدې .. ما په تا پسې ډېري ستړي کړي دي - نور توان نه لرم "

" داسي کله نه شي کېدلی ، چي زه به تا هېروم "

نو ځکه خو سېلاني هم خپل پېښتني بول داسي ورکولو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نو بیا مي دا یاد لره ، چي بې له مرګي .. ما له تا بل هیڅوك او هیڅ شی نه شي بېلوی "

" دُنیا هم ...؟ "

" هو ، دغه دُنیا که زمونږ تر میان اورونه وَکري هم ، نو به زه تر تا پوري ځان در رسومه "

" وعده "

" هو ، دا مي نه یوازي له تا سره لوظ دی بلکې له خپل عظیم خدای سره ټینګه پښتو هم "

او داسي سوګند ورکولو ورسته وسا ځان دَ همېش همېش د پاره محفوظ ګڼلو - نو ځکه خو به کله کله ځان سره په فرانسوي کي داسي وَ هم بونېد له .. لکه زړه چي یې جوړه دَ خوشالۍ سندره واي -

_ 5 _

له قاهره ښارڅخه بیرته مقعطم ته دَ رسېدلو ورسته دَ شپې یولس نیمي بجو خواته چي سپلاني خپله وسا دَ هغې دَ هاستل په ګېټ کي پرېښولو ورسته چي اوس څنګه وَ خپل فلېټ ته زیاته په رسېد لو وْ، چي له سوپیس سره ناڅاپه مخامخ شو - کومه چي دې وخت یوازي دَ بُوبا له فلېټه وَ خپل فلېټ ته روانه وه - هغه نه غوښتلو ، چي ورسره هېلو های وکړي ، خو هغې ورباندي ژغ وکړو . .

" دا منم ، چي زه هم اوس له تا دومره کرکه کوم ، لکه ته چي یې له ما کوې ، خو بیا هم دا هیله کوم ، چي ما به تر خپل فلېټه وَ رسوې"

اوس به لا هغه ورته عذر کولو ، چي هغې داسي سخت نُوك وَوهلو ، چي ابله غورځاره نه شوه - نو ځکه سپلاني دَ نه غوښتلو پرته هم له هغې سره مل شو ، ولي چي دې وخت هغه په حال کي نه وه - نو ځکه دواړه څنګ په څنګ مخته روان شولو-

" وایه سپلانیه .. زما سانډا دي خوښ شو ؟ "

" سوپیس .. هغه دې وخت ستا یار دی او زه یې احترام کوم "

" احترام ... واوْ ، دا خو دي نوي خبره وکړه "

" هو ، په دې چي هغه سره ته مینه کوې او ته بیا زما دوسته هم یې "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني خبره لا سمه سرته نه وه رسَولي ، چي سوپیس زیره شوه اودا هغه لمحه وه ، چي په نشه کي یې اندرون داسي ورته وَ هم څپړلو ..

" هغه زما مینه نه ، بلکې ضرورت دی ضرورت "

" ضرورت؟ "

" هو ، ضرورت .. ضرورت "

دَ سپلاني دَ سوالیه توري " ضرورت " په ځواب کي یې دومره وئیلو سم دستي دَ نرۍ مکرجني خندا کولو ورسته په اوږه را ټال پرس ټکولو په وخت ورته په لغازي موسکا کي وَ وئیلو ..

" خنجر لا اوس هم په دې پرس کي ګرځوم "

" لاکن دَ چا د پاره او څله ؟ "

سپلاني چي فقط دومره تپوس ورڅخه وکړو ، نو هغې یې په خوا مخ ور اړَولو ورسته داسي خله وَ کړه ..

" هغه څوك دی؟ ته په دې هم خبر یې او څه یې کړي دي ؟ په دې باندي هم "

او بیا له ګوډ نائیټ وئیلو سره سمه دَ هغې پلازې په ګېټ کي له تندکونو خوړلو سره ورننوتله ، چرته چي هغه له فلوریتا سره اوسېد له - نو ځکه سپلاني یو ځل بیا له بېلابېلو واهمونو او وسوسو سره ملګری دَ خپل فلېټ په لور روان شو -

*****

## فصل ۵

# دَ تهائي ماربچۍ دَ خوږو زهرو ترېخ اثر

که څه هم یوې خواته سپلاني دَ وسا په موندلو ډېر خوشاله وُ ، خو بلي خواته یې یوه وېره دَ سوپیس په بڼه کي داسي ورځرمه شوي وه ، چي هغه ورڅخه ځان نه شو خلاسَولی - ګوا داسي ورځ نه وه ، چي هغې به په سپلاني باندي ځان نه لید لو او هغه هم په نوي نوي شیطاني بڼه کي - ولي چي یو خو یې هغه کلاس فېلو وُ او بل یې دَ تور اشنا بُوبا فلېټ هم ورته مخامخ وُ - نو ځکه چي به سپلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره څومره له هغې دَ ځان پُټولو هڅي کولې ، نو هغومره به دا تهائي پېغله په سترګو کي ورته ختله .

يوه ورځ دَ سپلاني له خلې ورته دَ منوپلا مورتي په کور کي دَ رناشامۍ ، ډاکټر پُو او عراقۍ پېغلي عقود له مخي په خبرو خبرو کي دَ فلېټ دَ بد لولو خبره له خلې څه وَوتله ، چي سوپيس ورڅخه تپوس وکړو ..

" دلته تا ته څه مسئله ده ؟ ښه ځای خو دی"

" هيڅ نه .. بس لږ مي له دې ملګرو ځان لري کولو ته زړه کېږي"

سپلاني هم دَ نخرو په موډ کي چي څنګه لا داسي سم وئيلي نه وُ ، چي هغې په هنکي انداز کي وار ورباندي وَ کړو ..

" نو ستا څه خيال دی ،چي بلې خواته ته به له موږه ځان خلاس کړې ؟

که څه هم دَ هغې په دې خبري کي دَ سپلاني د پاره يوه دهمکۍ وه ، خو هغه په نرۍ موسکا کي مخته زياته کړه ..

" منم ، چي بد ه علاقه نه ده .. لاکن دلته په دې کوڅه کي شپه او ورځ سپيان غاپي او آرام ته سړی نه پرېږدي"

که څه هم دا خبره ورسره منوپلا مورتي او ډاکټر پُو هم منلي وه ، خو هغې په زړه باندي بد ه اخيستلو ورسته داسي رد کړي وه ، چي ..

" لته خو لا ښه يې ملګري لرې .. بلې خواته خو به دې دا سپف سائيډ هم نه وي سپلانيه"

په دې محفل کي ناست ملګرو که څه هم دَ هغې دا مشوره وَ سپلاني ته دَ هغې له خوا دَ خواخُوږۍ په تول کي وَ تلل شوه ، خو هغه دَ سوپيس له اړخه واضحه دهمکۍ په دې وَ ګڼله ، چي دَ هغې په دويمي څېرې باندي خو يوازي هغه خبر وُ - نوځکه يې دَ هغې دَ څناوري ارادې دَ تلني په غرض خبره مخته داسي په مسخرو کي بوتله ..

" ستا خبره غلطه په دې ده سوپيس ، چي زه هم اوس يوازي خو نه يم ، يو څوك خواخوږی لرم"

" لاکن هغه خو هم ښځه ده "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" څه مطلب ؟ "

دَ هغه په ځای شامیٔ پېغلي رانا لا دومره سم پوښتلي نه وُ، چي عراقیٔ عقود واي ..

" ښځه نو له چا کمه ده او هغه هم دَ ډاکټر وسا په رنګه تکړه الجبرین "

" هو ، زه هم دا منم ، چي ښځه له هیچا کمه نه ده او ښځه هر څه هرڅه کولی شي - څنګه سپلاني غلط خو نه وایم ؟ "

دَ سوپیس په دې خبري سپلاني هم ورته نر شو او په نېغه یې ورته وَ وئیلو . .

" بس خبره دا ده ، چي ښځه ښځه وي .. نه چي ډائینه ، چي چپ له وېرَولو بیا هم نور هیڅ نه شي کولی"

" ډئیر سپلاني .. تا ښځه لا تر اوسه نه ده پېژندلي "

" ولي ښځه شکرونه لري که څه؟ "

دَ هغې دَ خبري ورسته چي ډاکټر پُوسامنانګ داسي سوال وکړو ، نو هغې یو ځل سپلاني ته وَ کتلو او بیا ورته واي ..

" شکرونه که نه هم لري ، خو غاښونه یې ډېر تېره وي لکه چاړې "

او بیا که یې څه هم خپل واړه غاښونه ورته په مکر باندي سپین کړو ، خو هغه یې دَ زړه په مځکي باندي کرَلي هغه داړي لاهم وَلید لې ، چي هغې دَ ده وَ چیجلو ته ساتلي وې-

_ 2 _

اوس که سپلاني ورځ په سي ډي سي کي په کلاسونو اخیستلو او په کمپیوټر لېب کي په کار باندي له ملګرو سره ګډه تېرَوله ، خو ماښامونه به یې دَ مقعطم دَ غره له هغه څُوکي ، چي کارنیچ یا لورز پوائنټ هم ورته واي کي له وسا سره ډېر په خوند خوند تېرَولو - او چپ دَ سوپیس له لانجې بله داسي هیڅ مسئله نه وه ، چي هغه یې پرېشانه کړی وی - لاکن بیا به هم کله کله دَ وسا دې خبري ..چي دَ هغې دَ ایم فل تهیسس به په راتلونکي دسمبر کي سرته رسي او هغه به بیرته خپل وطن ته ځي به هم کله کله دَ هغه په مزغو کي داسي سوالونه رابرسېره کړو ..

" که وسا واقعي خپل وطن ته لاړه ، نو بیا ګوره ، چي هغه به خپل دغه قولونه وَ هم پالي که یَه ، چي له هغه سره یې کړي دي؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا چې به یې دَ هغې وَ جنوني میني ته پام شو ، نو دَ خپل دې سوال په ځواب کې به یې له خپلې خوا خورا ډېرې او یقین ته نیږدې نیږدې هیلې داسې کتار کړې ، چې له ځایه ښوربدلی زړه به یې بیرته په ځای شو - خو هغې تهائي ماربچی به یې دَ هر خوند احساس هر وخت تریخولو - ولې چې اوس که یوې خواته هغې له سپلاني سره دُښمنی کوله ، نو بلې خواته یې له وسا سره دَ دوستی ډرامه هم پئیل کړې وه -

دَ دې خبرې انکشاف هغه ورځ وَشو ، چې کله دَ وسا په خوښه دَ منوېلا مورتې فېمیلي او مستر پُو پرته هغې سوپیس هم له ځان سره ملګرې عتبه نامې علاقې ته بوتله - نه یوازې دا ، بلکې سپلاني داسې هم وَسنجولو ، چې ګنې هغه دواړې یو بل ته تر اول زیاتې داسې نیږدې نیږدې هم کېدلې ، لکه هغوئ دواړه چې دَ چا خلاف محاذ جوړَوي لګیا دي - او بیا چې یو وخت سپلاني څنګه وسا ته له سوپیس څخه دَ لیرې اوسېدلو مشوره ورکړه ، نو هغې وئیلو ..

" هغه ډېره ښه او صادقه انجلی ده "

خو سپلاني ورته وئیلو ..

" منم .. خو دومره اعتبار هم مه ورباندې کوه ، چې یوه ورځ بیا سر ورڅخه ټکوې "

داسې چې یې ورته وَ وئیلو ، نو هغې په ځای دَ دې خبرې منلو چې څنګه خفګان څرګند کړو ، نو سپلاني پوهی شو ، چې سوپیس اوس په وسا باندې ښه پورا کار او زیار شروع کړی دی - نو ځکه یې بیا کله هم ورته دَ هغې په باب بد نه وئیلو او بلکې چې هغې به څنګه دَ سوپیس په باب دَ سپلاني په روئیه کې څه کمی احساس کړو ، نو به یې ګیلې ته داسې خله جوړه کړه لکه هغه چې یې جوړه سکنی خور وي -

نورخو نور ، بلکې دَ اکتوبر په دېرشمه نېټه چې سهار وختي دَ سي ډي سي په بس کې دَ ګلوبل او ایم فل لوستونکې ناست په ګډه وَ سکندریا ته روان وُ - نو بس له قاهره څخه دَ جیزا ډسترکټ په فېصل روډ باندې دَ اهرام مصر ګومبتې کینږلاس ته دَ سحارا هائې وې په لور ور چېپبد لو په وخت لا سمې شاته پرېښې نه وې ، چې ډاکټر وسا دَ سپلاني دَ څنګ له سیټه پورته شوه او شاته دَ سوپیس او پېغلې منال سوډانی په منځ کې کښېښستله - که څه هم په دې حرکت باندې دَ سپلاني ورته ډېره خوا بده شوې وه ، خو بیا یې هم ځانته وئیلو ، چې څه یاره ..کېدلی شي ، هغه دَ خپلې ایم فل ملګرې سره دَ خاص ګپې لګولو په موډ کې وي - او ډېر ژر به بیرته راشي -خو هغه وه ، چې دَ راغبرګېد لو نوم یې لا هم نه اخیستلو او له ملګرو سره په خوږو ګپو کې داسې بوخت ښکاره کېد له ، لکه ترشا چې یې هیڅ غم نه وي پاته -

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سادات نامي ښارونو څخه تېرېد لو ، نوهم وسا لا 6th October City بس چي دَ غرمې خواته له خپل سیټ ته نه وه راغبرګه شوي - نو ځکه سپلاني نه یوازي دننه دننه خوړل کېد لو بلکې اوس په درست بس کي هغه یوازینیسړی هم وْ ، چي دې وخت یې په زړه باندي دَ غم اوریځي خپرېد لې او پټه خله ناست وْ - ګني نور ټول ملګري څه ، چي شاته هم اوس ښه مېله تازه شوي وه - ګوا دَ وسا او سوپیس دَ ګېو خوندکیانو په چپه اوس په محفل کي تور افریقنیان لکه دَ ګامبیا ملګری بُوباجوُف ، دَ ایتهوپیا ډاکټر تفېرا ، دَ یوګنډا بتوکا او دَ کېمرون تکه توره خرټه پېغله ایمرانشا هم ورګډه شوي وه -

لاکن یو وخت دَ لوي لاري دَ یو جدید طرز جوړ " ماسټر رېسټ" نامي رېسټورېنټ مخې ته چي بس ځنګه برېك شو ، نو اېله ډاکټر وسا تر سپلاني پوري ځان وَ رسولو او ورسره ګډه لاندي داسي کُوزه شوه لکه هغه چي یې په درست سفر کي وَ څنګ ته ناسته وي -

" دا ډېر ښه رېسټورېنټ دی او له دې ځایه تر"الیکس پوري رسېدو ته زما له خیاله دوې یا دوه نیمي ګنټهې نوري لګېږي"

دا سي یې لا سم نه وْ وئیلي ، چي سوپیس او منال هم ځانونه دَ هغوئ تر مېزه پوري چي ځنګه وَ رسولو ، نو تر شا ور پسې لومائي ، فلوریتا او بُوبا هم سم تړلي راغلو ..

" های سپلانیه .. څنګه یې ؟ نن خو موږ ډېر وَ خندلو "

" په سپلاني باندي...هان "

پُو سامنانګ چي هم دغه وْ هلته تر خپل سپلاني یاره پوري دَ راتلو سره سم چي ځنګه دا خبره په ټوکي کي وکړه ، نو سپلاني ورته په موسکا کي وئیلو ..

" خود به یې نو په ما او زما په یکړۍ باندي خند لو لکه چي "

که څه هم وسا دَ هغه په اشاره پوهه شوه ، خو دَ دې پرته چي یې هم هغو ولاړو ملګرو ته دَ کښېنستلو ځنګه بلنه ورکړه ، نو سپلاني دَ هغې دا حرکت دَ هغه په باب دَ اعلانیه کرکي په توګه وَسنجَولو اوځو لمحو ورسته چي یې ساه ورتنګه شوه ، نو یې ډاکټر پُو له ځان سره سم ولاړ کړو ..

" وَ بخښئ .. موږ هلته په یو ټاپك باندي یکړه خبره کول غواړو.. اجازه ده ګراني وسا ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسا دَ سپلاني په دې حرکت باندي ډېره خفه شوه - نو ځکه يې نه ورته "هو" کړو او نه "يَه" بلکې مخ يې دَ ملګرو په لور اړَولو ورسته له هغوئ څخه تپوس وکړو ..

" تاسو به څه خورئ يا څيښئ ؟ "

اوس به لا سپلاني له پُو سره مخته يو بل خالي مېز په لور ګامونه اوچتولو ، چي سوپيس وَ پُو ته ور ژغ کړو ..

" هې مسټر پُو.. دا سپلاني دې په کومه راڅخه بوتلو ؟ "

که څه هم ډاکټر پُو دَ هغې دا خبره په زړه باندي ډېره بد ه نه واخيستله ، خو سپلاني پوهی شو ، چي سوپيس دا خبره په هغه باندي دَ پسخوند وهلو په توګه کړې وه -

" دَ ډاکټر وسا ناسته له دغو خلګو سره نه ده په کار.. دا ټول خو زما او ستا دُښمنان دي او بل..."

ډاکټر پُو به لا نورڅه وئيلو ، چي مديحه مصری ، منوېلا او راناشامی هم ورسره ګوره چي څنګه بيا ګامونه دَ هغه مېز په لور سم کړي وُ چي هغوئ يې په خوا روان وُ - نو ځکه دَ پُو خبره په هغه ځای پاته شوه او دَ منوېلا په دې تپوس باندي خبري مخته غزوني وکړې ، ګوا ..

" داسي راته محسوسېږي لکه هغه توران چي يو بېل ګروپ سازَوي لګيا وي ؟ "

" وسا او فلوريتا خو له سپينو سره اړه لري"

رانا چي داسي وَوئيلو ، نو مديحه واي ..

" دا سوپيس او ډاکټر وسا نن سبا ګوره چي په کوم پراجېکټ باندي کار کوي؟ "

" کېدلی شي ، چي هغوئ دواړه زموږ وَ دې يار ته يو شوي وي "

ډاکټر پُو چي دَ سپلاني په خوا اشاره کولو ورسته داسي خبره ورسره وَترِله ، نو ټولو څه وَخندلو ، چي وسا او سوپيس دواړو له هغه ځايه ورته په کږو سترګي واړَولي ، نو ځکه خو پُو وَ سپلاني ته په غوږ کي دا خبره وکړه ..

" موږ ته هم اوس دغسي دَ هغوئ په زخمونو باندي مالګي دُوړول په کار دي .. څه پوهی شوې ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سپلاني هم دغه خبره ورسره خوښه په دې کړه ، چې نن په درسته لاره کې هغه هم دغسې بيا بيا ځانته وئيلو ، چې ځله هغه هم هغسې اور لګوني نه کوي ، لکه دې وخت چې يې وسا په غېر ارادي او سوپيس په ارادي توګه کوي ورسره - نو ځکه يې دې وخت دَ هغه پلان ورسره په داسې نيمګړې خبره کولوخوښ کړو او وئيلو يې ..

" هو ، په کار خو دی چې داسې وکړو "

_ 3 _

غرمه دولس بجې چې بس دَ مصر دويم غټ لاکن وَ ډېرخواپاکې ساحلي ښار سکند ريا ته پېښه وکړه ، نو دَ سپلاني سره ناستې وسا دَ هغه پام دَ هغه غټ او ښائسته محل په لور داسې واړَولو ..

" کنګ فاروق به زياتره وخت په کې اوسېد لو "

" ښه ښه ، لاکن اوس هم "

سپلاني چې تر ضرورت زيات حېرت دَ هغې په خبرې باندې ځرګند کړو ، نو هغې په پسخوندې موسکا کې ورته داسې وئيلو لکه هغه چې تر اوسه هم په مصر کې دَ هغه پاچهي ګڼې - ځکه خو يې ورته وئيلو ..

" هغه خو اوس نشته "

" هو هغه اول وُاو اوس نشته "

دومره وئيلو ورسته يې دَ سړې ساه اخيستلو سره سم خبره مخته داسې کش کړه ..

" بس دا خو دَ وخت وخت خبرې دي "

" بېشکه.. وخت په سړي څه او څه نه کوي "

هغې لا خبره سره ته نه وه رسولې ، چې دَ شا له خوا دَ ډاکټر تفېرا په ژغ کې دَ خپلو ملګرو له خوا داسې بلنه ورته وَ شوه ..

" وسا .. هې ډاکټر وسا راشه "

" يو منټ ، درځم درځم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې دَ هغه ډلي دَ خواهش په سمون سپلاني ته وئیلو ..

" سوري ډئیر.. زه به هلته ورشم "

سپلاني دَ هغې په روئیه باندي ډېر زړه ماتی شو او چي هغې ځنګه وزَر وَ تګ ته وَ تللو ، نو دی له ځان سره وَ بُوڼېد لو . .

" هو ، او دغه رنګه هغه دَ خپلي زمانې شاه فاروق هم زما په رنګه یوازي پاته شو "

وسا دَ هغه دا خبره واورېد له ، ځکه خو وَموسېد له او شاته تېره شوه - او بیا ځه وخت ورسته دَ سي ډي سي بس په بېلا بېلو لارو دَ شنه مېږ یتېرینئین سمندر وَ هغې صفا ځنډي ته وَ رسېد لو ، چي په مامورا بیچ باندي یې شهرت درلود لو-

مخته نو بیا په هغه بیچ باندي ځه وُ ؟ زیاتره ملګرو ورباندي دَ سکول دَ ماشومانو غوندي لوبي پئیل کړي - چا په یو بل اوبه غورځولې ، چا یو بل ته دیکې ورکولې - خو دَ لومائي ، پُو او دَ مراکش حسن له خپلي تاجکې یاري ګل چهره سره سم بیا اوبو ته له روسی پېغلو سره ورټوپ کړي هم وُ -

خو بلي خواته وسا چي تر یو ځه ساعته پوري له سپلاني او منوېلا مورتي فېمیلي سره دَ بیچ په چوکیانو باندي ناسته وه هم ډېر ژر بیا دَ منال په ور بللو پورته شوه او دَ سمندر دَ بنکلاګانو برخه ځه شوه ؟ چي بیا نه یوازي دَ سپلاني په مزغو کي ، بلکې دَ عقود ، رانا ، مدیحه او دَ منوېلا پرته هم دَ ځینو نورو سترګو وړاندي داسي سوال وګرځېد له ، چي ځواب یې تر هغه دمه نه درلود لو ، چي دَ سي ډي سي بس بیرته روان شوی نه وُ - ګوا هغه له سپلاني ځخه اوس باقاعده خفه شوي وه - خو دَ سپلاني په مزغو کي د ې سوال دَ ځواب په تمه غزوني ځه کولې ، بلکې منوېلا دَ پوښتني په ځواب کي یې لا هم داسي بیا بیا وئیلو ..

" هغه په ځه خفه ده؟ نه یم خبر "

او بیا یې مخته لا داسي هم وئیلو ، چي ..

" پرېږده یې ، چي خپل دا ضد هم سرته کړي "

که ځه هم دا خبره سپلاني دَ زړه برسېره کوله ، خو کولی هم ځه شو؟ ولي چي وسا نه یوازي ورځخه خبري بندي کړي وې بلکې اوس خو یې دَ هغه دَ زړه دَ سېځلو د پاره بلا ناروا اداګاني هم وړاندي کولې -

(c) ketabton.com: The Digital Library

## _ 4 _

دا هغه لائټ ټاوَر دی ، چي دَ سکند راعظم په دور کي يې دَ اوبو دَ جهازونو راهنمائي کوله او رڼا په بې له تېلو او بجلۍ له کنکشنه تر دې شل يا پنځويشت کالونو شا ته پوري برېښېد له - خو دې "کي تجسس ، چي دا رڼا ورته څنگه او له کومه راځي ؟ دَ ځواب دَ لټون په تمه چي کله دَ نوي دور په خلاس کړلی شو.. نو رڼا له هغې ورځي ، بیا تر ننه پوري نه شوه په کي بله"انجنئیرانو باندي

په دې کي شك هم نه وُ ، چي هر ملگری دَ مسټر ذ ېن په دې خبري باندي حریان حریان وَ هغه لائټ ټاوَر ته کتلو ، خو يوه وسا وه او بل سپلاني ، چي تر هغه ټاوَره يې زيات يو بل ته په غلا غلا کتلو .. خو په برگو برگو سترگو باندي - هو ، شايد ځکه ، چي هغوئ په خپل خپل سوچ باندي يو بل ته دَ دې خفگان گيلې کولې - هرڅه ، که دواړه په خپل خپل ځای غلط او يو بل ته مات برېښېدلو ، خو په يو بل باندي يې له نازه تلني هم کولې لکه چي -

په دې سمندري څنډې باندي هلته يوې خواته غټه پخوانۍ محل وزمه کلا چي دَ "صلاح سپتهادل" په نامه شهرت لري ښکاره کېد له - خو دَ وخت دَ کمبوت له لاري چي هغوئ ورته نه بوتلل شولو - نو په دې خو دَ ټولو په خوښه دَ ميوزيم کتلو ورسته دَ نړۍ دَ نوموړي الېگزينډ ريا لائبرېرۍ ځکه ورته ښکاره کړلی شوه ، چي په دې ښار کي چي تر ټولو زيات دَ اهميت وړ څيز دی - نو هغه دا تاريخي کُتب خانه ده ، چي په 300 ق م کي بطليموس اول جوړه کړي وه - دا واحده تاريخي کُتب خانه وه ، چي دَ دې لائبريرين به دَ باچا په درباريانو کي تر ټولو لوی او عزت د اره درباري گڼل کېد لو - او نن هم دا دَ قامي ورثه گڼل کېږي - په دې کي دَ اتيا لکهو کتابونو ړدلو ځای جوړ کړل شوی دی - خو دې وخت چي کله سپلاني او دَ هغه ملگري په کي يوې بلي خواته گرځېد لو ، نو په کي څلور لکهه کتابونه پراته وُ - لاکن سپلاني ورڅخه هيڅ استفاده ځکه نه وکړو ، چي هغه دلته په دې لائبرېرۍ کي هم په وسا پسې سترگي يوې بلي خواته داسي ځغلولې ، لکه هغه چي دَ دې لائبرېرۍ هغه يوازينی کتاب وي، چي په هغه باندي ځان نه يوازي لوستل غواړي بلکې داسي ورته وئيل غواړي ، چي ..

" هې سپلانيه .. خبر يې ، چي دا کتاب خانه دَ يوه روايت په سمه جوليس سيزر چي کله په سکند ريه باندي حمله وکړه ، نو يې اور ورکړی وُ ، چي په کي څلو ېښت زره کتابونو سره سم هغه زما او ستا دَ ميني کتاب هم سوځېدلی وُ"

خو بلي خواته ساده سپلاني وُ ، چي يې ورته په سر ښورولو کي وئيلو ..

" يَه .. زه په دې نه يم خبر "

" ته به نو څنگه خبرېدلې، چي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" څه وئيل غواړې ته ؟ "

سپلاني به له خياله نوري تړلي ګنډي خلاسولې، چي هلته يې ليري ولاړي وسا سره چي څنګه سترګي ځلور شوې ، نو هغې تندی ورته تريو کولو ورسته په مخ خورې زُلفي داسي يو دم په شا وَځنډلې لکه هغه چي سپلاني نه جوليس سيزر وي او هغه له خشمه ورته واي ، چي ..

" او دا خو بيا ښه وشو ، چي کله مارك انتهوني حکمران شو ، نو دَ زما په ضد کولو هغه ورته دَ دې عظيم تاوان په بدله کي دوه لکهه کتابونه ور واچولو"

" ستا په ضد ؟؟ "

" هو .. زما په ضد "

او بيا په کلکه خندلو ورسته ورڅخه تپوس وکړو ..

" ولي .. زه ستا قلوپطره نه يم ؟ "

اوس به لا سپلاني له خياله هغه دَ خپل ښايست په وړاندي قلوپطره تسليم کوله ، چي صلاح مصری دَ هغه په اوږه باندي لاس ږدلو ورسته له ځان سره مخته بوتلو -

لنډه دا چي کله له دې ځايه دَ لوستونکو ډله څنګه په بس کي دَ دې ښار په تنګو او پراخو روډونو باندي ګرځېد لو ورسته دَ نامي " سعد زاغلون اسکوائر" سره دَ نيمي ګنتهې د پاره خوشي کړل شوه - نو ملګري په ښائسته دوکانونو کي دَ شاپنګ په نيت په ډلو ډلو کي وَ ويښل شولو - که څه هم وسا له سوپيس او منال سره ګوره چي په کومه باندي هوا شوه ؟ خو دلته دَ پُو او البانیہ ملګري منوېلا مورتي په انتهائي خوښه دا سي صلاح سرته وَرسېدله ، چي سپلاني به له شامیہ پېغلي رانا سره ناسته ولاړه په دې نيت زياتوي ، چي دَ حسد کولو له لاري وَ ډاکټر وسا ته خپله غلطي احساس شي -

که څه هم دا ګران کار وْ ، خو دَ هغویٔ دَ ضد له لاري سپلاني دَ داسي کولو د پاره په زړه کانی کنښېګګولو او په هغې خوا ورسره روان شو ، چرته چي رنا له عراقیہ پېغلي عقود سره تللي وه - هن دا ، چي بس کله بيرته دَ قاهره په لور مزل لنډ وَلو ، نو دَ مابېن په سيټونو کي سپلاني دَ رانا پرته له منوېلا ، عقود ، پُو، مديحه ، حسن ، ګل چهره ، جارجين خاتونا ، بېسنك او دَ هغه وړو لُونړو فلاويه او وينډي سره ګډ دَ ټوکو ټکالو په تاوْده محفل کي داسي بوخت شوی وْ ، لکه غم چي يې په خوا نه وي راغلی -

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه هرڅه ، خو په زړه يې يو عظيم خدای خبر وُ، چې دې وخت دَ هغه په زړه کې وسا ډېره په شدت سره کوټېدله - خو هغه وه ، چې شاته يې له سوپيس ، منال او ثريا سوډانۍ سره دَ ډومينو لوبه ډېره په خوند څه کوله ، چې دَ بُوباجوُف او ډاګټر لومائي په ټوکو باندې يې داسې خوند ونه هم اخيستلو - لکه هغوئ چې يې دَ زړه دَ رباب تارونه خورا په خوند او په هنرچېړې -

_ 5 _

سپلاني که څه هم دَ وسا له ميني لاس نه وُ اخيستی او نه يې دا ګڼلو ، چې ګڼي هغه ورسره مينه نه کوي - خو دَ سوپيس سره تعلق يې دَ بېلتون وسوسې که څه هم دَ فلوريتا په دې خبرې باندې دَ هغه په زړه کې لا نوري سېوا کولې ، چې ګڼي وسا ګاهې ګاهې هلته فلېټ ته هم ورته راځي - خو بيا چې يې دوه درې ځله له سوپيس سره ملګري دَ سې ډې سي په لائبرېرۍ او کېنټين کې دَ بُوبا مخامخ ناسته هم په خپلو سترګو وَليد له ، نو يې دې زړه وَمنلو ، چې هغې يې دَ هېرولو تابيا شروع کړې ده -

ګوا اوس سوپيس له سپلاني څخه جنګ ګټلی وُ او هغه ته يې لا نور نور دَ زړه دُوك ورسپارَلو - هم په دې خو سپلاني اوس نه يوازې له کلاسونو څخه کله کله غېر حاضر پاته کېدلو ، بلکې زياتره وخت به په خپل فلېټ کې پاته کېد لوهم - او وجه يې دا وه ، چې هغه دا هر څه نه شو ليدلی - که څه هم ډاکټر پُو څو ځله له هغې سره دَ سپلاني په پټه خبرې کړې وې ، خو هغې که ورته غوټ انکار نه هم وُ کړی ، نو يې داسې ورته ضرور وئيلي وُ ، چې . .

" سپلاني يوازې له ماسره خو مينه نه ده کړې "

بيا که به يې مخته دَ هيچا نوم نه هم ورسره تړلو ، خو مطلب دا وُ چې سوپيس له خپلې خوا هر څه ورته وئيلي وُ - او بلکې ګوره چې لا يې څومره مالګه مصالحه هم په کې ګډه کړې وه ، چې وسا له سپلاني څخه اوس مينه نه ، بلکې کرکه کوله -

يوې خواته دا غر ، چې په سپلاني باندې را نړېدلی وُ او بلې خواته په کلاسونو کې دَ سوپيس له خوا په خبرو کې رقم رقم اشارو او پسخوندي موسکاګانو خو هغه په دې هم پارَولی وُ، چې يا خو هغه ډائينه مړه کړې او يا دئ خپله وَ تښتي له دې هېواده - خو وژلی يې په دې نه شوله ، چې سپلاني شاعر وُ او هغه هم عاشق شاعر ، چې په درست ژوند کې يې مېږی لا هم نه وُ وژلی او چرته دَ انسان مرګ - هو ، ميدان يې بيا په دې نه شو ورته پرېښولو ، چې پښتون خو هم وُ -

لاکن تر کومه ؟ دَ ظلم خو هم آخير يو حد وي - نو ځکه يوه ورځ سوپيس دَ دې هر څه پرته چې دَ سپلاني دَ ناجوړۍ تپوس کولو ته دَ هغه وَ فلېټ ته ورغله ، نو يې دَ ناروغۍ دَ تپوس له لباسې خبرو ورسته له هغه څخه داسې سوال هم په ډېر پسخوندي انداز وکړو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" وایه سپلانیه .. څنګه وي دَ زړه سوځنه ؟ "

سپلاني هغې ته سرتر پایه کتلو ورسته دَ سرې ساه ایستلو ورسته په اثبات کي سر ورته ښورَولو په وخت په نرۍ دردېدلي موسکا کي داسي ځواب وربیا کړو ..

" منم دي سوپیس ، چي ډېره لویه فنکاره یې "

او بیا یې دَ څه چپیا ورسته په کراره ورته وَ وئیلو . .

" تر ډېره هانده دي لاجوابه کړی هم یم ، خو ماته ځکه نه منم ، چي نر یم او هغه هم پښتون نر "

" وایه سپلانیه .. ته نه غواړې ، چي وسا دي بیرته ستا شي .. "

" یَه .. ګرسره نه ، ولي چي هغه اوس "

" زما په جال کي راګېر ده او ته به هم ته نه پاته کېږې .. "

سوپیس چي دا خبره ورته ځواب کړه ، نو یې په پرس کي ګوره ، چي هغه تهائي چاړه او که بل څه لټول شروع کړو - چي سپلاني هم یو دم ورته الرټ کېد لو سره سم واي ..

" مرګ .. له مرګه دي نه وېرېږم او نه مي هغه ژوند په کار دی ، چي ته یې راسپارې "

او بیا یې دَ زړه له سوخته " اُووف" کولو ورسته ورته وئیلو . .

" ته چي له ما سره څومره بد روا کوې هغه وکړه ، لاکن دا یو خواست درته کوم چي "

" را ورسېد لې وَ خواست کولو ته؟ "

هغې به لا اوس په دې خبري خوند اخیستلو ، چي سپلاني ورته دواړه لاسونه جوړه وَنیولو او بیا یې ورته وَ وئیلو . .

" هو ، دغه یو خواست ، چي هغه ماشومه ډاکټر وسا نه کړې برباده پلیز "

" وسا ... ډاکټر وسا ؟؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا توری بیرته تکرارَولو ورسته هغې خپله سینه موړَلو سره سم مخته په غاښونوکي داسي خبره وَچیچله ..

" په هغي وسا باندي خو به داسي کانې کوم ، چي هغه تباه شي او ته ځله سل ځایه وَچاوْدېږ "

هغې به لا نورڅه وئیلو ، چي دَ سپلاني په سترګو تیاره راغله او دَ لېونو غوندي یې له خلې چیغه وتلو سره سم دَ پلنګ سره نیږدې په چوکۍ باندي ناستي سوپیس ته دَ زړه له اخلاصه چي څنګه لغته ورسمه کړه ، نوهغه که څه هم نه شوه غورځاره ، خو له خلې یې داسي دَ دړد تېره چیغه وَ وتله ، لکه عزرائیل چي یې روح ورباسي او دَ فلېټ دَ دروازې په لور یې یو دم منډ ه کړه -

بس بیا نو څه وْ ، چي له خلې یې لاس داسي واخیستلو ، چي دَ څنګ له فلېټه منوېلا مورتي او بېسنك سره له لُونېو هم دباندي راوَختلو او دَ هغې سرې سپې دا یو څوخبري یې په خپلو غوږونو واورېد لې ، چي هغې وئیلو ..

" ما لا هیڅ نه دي درسره کړي .. مخته ګوره چي لا به څه څه درسره کوم .. یاد یې لره زه هم تهائي یم تهائي"

او بیا چي څنګه دَ بُوبا په فلېټ کي دننه شوله ، نو منوېلا په حېرت له سپلاني څخه تپوس وکړو ..

" دې سوپیس څه وئیلو او څله داسي جلالي شوي وه؟ "

سپلاني سر په دواړو لاسونو کي نیولو ورسته فقط دومره ورته وَوئیلو . .

" نور نه یم خبر منوېلا .. خو زه له او خپلو ټولو ملګرو څخه هم دا یو خواست کوم ، چي پلیز هغه وسا له دې تهائي ماربچۍ څخه وَژغورئ - هغه ډېره ماشومه ده ، ډېره ماشومه ده"

او بیا په ډکو سترګو بیرته خپل فلېټ ته ننوتلو -

*****

## فصل ۶

# په وسا باندی دَ رانې دَ هاتشیپسوت سیوری

" په دې وسا باندي څه وَشولو؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغه ځله له تا سره نن سبا نه ليدل کېږي ؟ "

" چرته خو ستاسو تر مابين بېلتون نه راغلو ؟ "

دَ داسي سوالونو پرته به هم چا ورته وئيلو ، چي ..

" وسا او سوپيس مي په پلاني يا پلاني ځای کي وَليد لې "

چا به وئيلو ..

" هغه پرون په مائيکرو بس کي له سوپيس او پلاني سره وسط البلد ته رواني وې "

يا بيا تر دې هانده لا هم ، چي ..

" مازيګر وسا او سوپيس دَ ډاکټر لومائي له فلېټ څخه را رواني وې او لا ورته رواني وې "

هرڅه هرڅه ، خو يوه ورځ چي سپلاني له ډاکټر پُو سره دَ هلټن رعمسيس هوټل مخي ته ولاړي هسکي او ښېخي ښائسته رعمسيس هلټن پلازه کي وينډو شاپنګ کولو ، نو يې دَ پلا زې په شپېږم پوړ کي ډاکټروسا له سوپيس او فلوريتا سره ګډه دَ هغوئ مخي ته څه وره غله ، چي ډاکټر پُو ورڅخه هېلو های کولو ورسته داسي ګيله هم وکړه ..

" وسا له تا څخه زما داسي توقع ګرسره نه وه ، چي ته به هم داسي سترګي نابېره اړوې "

" ولي ما څه کړی دی ؟ "

" دا هم لا ته پُوښتنه کوې ، چي تا څه کړي دي ؟ "

" هو ، ما داسي هيڅ بد کار نه دی کړی چي ورباندي شرمنده يم "

ډاکټر وسالا دومره وئيلي نه وُ ، چي ډاکټر پُو ورته يو دم څه غوندي په جذباتي اندازکي وَ وئيلو ..

" وسا .. تا تش بد نه ، بلکې دَ يو چا دَ ارمانونو قتل کړی دی - او دا زما يقين دی ، چي خپل دا ويده ضمير به دي هم يوه ورځ ضرور ملامتَوي"

ډاکټر پُو به لا نور ورته څه وئيلو ، چي سوپيس ورڅخه وسا يوې خواته له ځان سره کش څه کړه ، چي هغه په سوپيس باندي هم خله ور خلاسه کړه او ورته يې وَ وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لیري کړه زما له مخه ، ته خو هغه ډائن یې چي زما دَ ماشوم ملګری زړه دي مات کړی دی "

" چا دَ چا زړه مات کړی دی ..؟ دا خبري دلته نه شي سپینېدلی "

سو پیس که څه هم دا خبره دَ سېلاني په لور کتلو ورسته وکړه ، خو سېلاني ورمخته شو او ډاکټر پُو یې ورڅخه بېلولو په وخت وَ وئیلو ..

" درځه ډاکټر پُو .. ته هم لېونی یې - له چا څخه ګیله کوې ؟ دا خو ماره ده ماره او ماره خپل بچي هم خوري ، چي وږې شي"

او بیا سېلاني وَ فلوریتا ته ږغ وکړو ، چي هغه دي دا سره سپې بوځي - نو څکه وسا او فلوریتا هم سو پیس تر څنګونو وَنیوله او درې واړه مخته تېري شولې -

اوس به پُو او سېلاني دَ لفټ په خوا تر خپلو په بُوڼکېدلو کي لا سم ورګرځېد لو ، چي په مخه بُوبا او ډاکټر لومائي هم ورغلو ..

" تاسو په سو پیس او ملګرو پسې خو نه ګرځئ ؟ "

" ولي تاسو لیدلي دي چرته ؟ "

" هو ، هغوئ اوس اوس په هغه خوا جاروتلې "

ډاکټر پُو سامنانګ دَ لاس له اشارې کولو سره سم لا دومره نه وُ ورته وئیلي ، چي هغوئ هم ورپسې ګامونه تېز کړو -

_ 2 _

" دا ډاکټر پُو سامنانګ او سېلاني پښتونزوی هم ډېر په منو بلا باندي نه دي غاوره ؟ "

" هغه یې خور جوړه شوي ده "

ماځیګر دَ سي ډي سي څخه دَ فلېټونو په لور په ډلي کي را رواني ډاکټروسا چي دَ بُوبا جوُف دَ خبري په ځواب کي داسي څنګه وَ وئیلو ، نو ورسره څنګ کي رواني فلوریتا یې لا سم تائید نه وُ کړی ، چي سو پیس واي ..

" نن سبا خور او مور چرته وي .. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ بوباجُوف په لور يې په ماني ښېزو نظرونو باندي کتلو ورسته چي څنګه دا خبره وَکړه ، نو ډاکټر لومائي يې خبره داسي پرې کړه ..

" ښه به نه وي ، چي ډاوُن ټاوُن ته دَ تلو له مخه يو يو کپ ډېره سپېشل کوفي زما په فلېټ کي زما دَ لاس وَ څيښئ ؟ "

" خو په يوه شرط .. هغه دا چي ته به يې نه څيښې "

دا خبره چي څنګه وسا وکړه ، نو ټولو دومره په زوره وَخند لو ، چي سپلاني ، منوېلا او ډاکټرپُو چي دې وخت له هغوئ څخه ښه ډېر مخته روان وُ هم دَ هغوئ کړيکي څه واورېد لې ، چي دَ منوېلا مورتي له خلې داسي خبره هم يو دم وَ وتله ..

" واوْ ونډرفُل .. دا خو نن ډاکټر وسا هم ورڅرمه شوي ده "

" هغه کله نه وه ورسره .. پرون هم هغوئ په رعمسيس هيلټن پلازې کي ګډ ګډ سره ګرځېد لو "

پُو چي دا خبره وکړه ، نو منوېلا ډېره حېرانه شوه او بيا يې شاته کتلو ورسته وئيلو . .

" لاکن دا ډاکټر وسا خو اوس چرته له دوئ سره فلېټ ته نه ده روانه ؟ "

" هو ، خود به ځي ، ولي چي له لومائي سره يې ... "

سپلاني لا له ځان سره سم بُونېدلی نه وُ ، چي ډاکټر پُو ورته واي ..

" زه پوهی نه شوم .. تا څه وئيلو سپلاني ؟ "

" دغه .. چي مورِ ته په نورو پسې ويني نه دي وچول په کار .. هر څوک په خپل کار ښه پوهېږي "

سپلاني خبره په بله اړَولو د پاره لا دومره نه وُ وئيلي ، چي منوېلامورتي دَ هغه په لور کتلو ورسته داسي له حېرته وار ورباندي وکړو ..

"دا ته واې سپلاني ؟ "

" هو ، زه وايم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي خو يې ډېر په اسانۍ وَ وئيلو ، خو په زړه يې يو خداى خبر وُاو بل هغه خپله ، چې دې وخت په وجود کې دننه داسي ماتېد لو راماتېد لو ، لکه هنداره چې څوك په کاڼو ولي -

_ 3 _

" په لوکسور کې 67 خارجي ټورستان وَ وژل شو "

دَ اتهلسم اکتوبر کال 1997ع په اخبار کې دا خبر څه راغلی وُ، چې دَ سي ډي سي په ټولو خارجي لوستونکو باندي هم ښار ته دَ تلو بنديځ وګېد لو - نو ځکه لوستونکو تر خپلو دَ زړخوښيانو پيدا کولو په نيت پارټياني اهتمام کولو اراده څه وکړه ، چې منګلولين پېغلي التانګريل خپله دَ زوکړي پارټۍ اعلان کړه - او درست ملګري لوستونکي يې را وَغوښتلو-

نو ځکه خو ډاګټر پُو او منوېلا مورتي په ګډه دَ هغې په فلېټ کي وَ سبلاني ته وئيلو ، چې ..

" دغه موقعه ده وَ ډاکټروسا ته دَ غلطۍ احساسَولو "

" لاکن داسي نه چې بيا ځانته بل غم جوړ کړم؟ "

که څه هم هغوئ په پلان شوي کار باندي سبلاني پارَولو ، خو هغه چې به کله دَ هغې ډرامې وَ سين ته لړ له سوچه په ځير شو ، نو له خياله به يې دَ وسا ماشومه څېره مخې ته وَ درېد له او له هغه به يې تپوس وکړو ..

" ته په ربښتيا له ما کرکه کوې سبلاني ؟ "

نو ځکه خو به هغه وَ ملګرو ته سر وَ ښورَلو او ورته وئيلو به يې . .

" يَه يَه .. زه کله هم داسي تصور لا نه شم کولی - وسا که له ما سره مينه کوي او که يَه ..خو زه هغې ته دا دُوك نه شم ورکولی ، چې ګني ما هم هغسي هغه هېره کړه لکه هغې چې زه هېر کړی يم"

خو هغوئ به ورته وئيلو ..

" لاکن مورږ خو دا نه وائيو ، چې ګني ته هغه هېره کړه - بس دا غواړو ، چې هغه دَ سوپيس له حصاره خوشي کړه"

خو سبلاني وُ ، چې دَ پښتني فطرت درلودلو له لاري يې بيا بيا داسي ورته وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هو منم.. لاکن ما له هغې سره دا لوظ کړی دی ، چي زه به چپ له هغې بل ته ګورم لا نه او چرته دا دومره لویه ډرامه ، چي تاسو یې په ما باندي کوئ "

هم ځکه خو په آخیر کي منوېلا ورته وئیلو ..

" نو دَ دې مطلب دا شو ، چي ته له رنا شامۍ سره دَ میني ډرامه نه شې کولی "

" هو ، زه مافي غواړم منوېلا خور "

" ګوا که وسا له تا سره مینه نه هم کوي ، نو ته ... "

" هو ، زه به ورسره مینه هغسي کوم ، لکه کوله چي مي ... له مودو مودو راهسې "

سېلاني چي داسي وَ وئیلو ، نو پُو ورته رامخي ته شو او په حېرت یې ور څخه پوښتنه وکړه ..

" یاني هغه تا وَ دې سي ډي سي ته تر راتلو له مخه هم پېژند له که څه ؟ "

" یَه ، مخکي ما هغه نه پېژند له .. خو بیا هم ما لیدلي وه او وینم یې هم "

" هغه څنګه او چرته ؟ "

" په خپلو خوبونو کي .. هر کله او هر چرته "

" په خوبونو کي ؟ "

دَ سېلاني خبره په مسخرو باندي اړَولو ورسته چي ډاکتر پُو داسي پوښتنه وکړه ، نو دَ فلېټ دروازه هم له ټکېد لو سره سمه خلاسه شوه او پېغله رنا شامۍ په ښائسته عربي جامو کي پټه له عراقۍ پېغلي عقود سره ګډه چي رادننه شوه ، نو منوېلا وَ سېلاني ته په غوږ کي وئیلو ..

" دا ده راغله ستا محبوبه "

" زما محبوبه ؟ "

" دَ وسا په زړه کي دَ اور لګولو یوازینۍ وسیله "

" لاکن ... "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ سپلاني دَ "لاکن" ورسته چي څنګه ډاکټرپُو ، ببسنك او منوېلا وَ خندلو ، نو پېغلي رانا ورڅخه تپوس وکړو ..

" ولي .. په موږ باندي مو وَ خند لو که څه ؟ "

" يَه يَه ډ ئير ، موږ په تاسو نه ، بلکې دَ سپلاني په هغه خواهش او دَ هغه دَ خواهش په صداقت باندي وَ خند لو"

" څنګه خواهش او دَ چيشي صداقت؟ "

دَ راناشامۍ دَ تپوس په ځواب کي دَ څه وئيلو په ځای منوېلا هغه تر لاس وَنيوله او خپلي خوني ته يې دننه کړه او بيا هغوئ دواړو تر ډ ېره پوري په خپلوکي خبري سره کولې - او ګوره چي په څه يې فېصله کړه ؟ که څه هم په دې باندي چپ له هغو دو ُنور هيڅوك خبر نه و ُ - خو بس چي کله هغوئ د باندي را وَوتلې ، نو رانا شامۍ تر اوله څه زياته سپلاني ته نيږدې نيږدې کېد له -

— 4 —

ماخُستن نهه بجو خواته دَ التانګريل په فلېټ کي پارټۍ څه پئيل شوه؟ لکه ټولو ملګرو چي پرستان ته پېښنه کړي وي او يا يې پرياني مځکي ته رابللي وي - ګوا په تورو تورو مني سکرټونو کي خوندي شوي دَ مغرب شاپېرۍ وزمو روسۍ پېغلو ايرينا ، ايلينا او نستان په ګډه دَ جارجين خاتونا او دَ تاجکستان ګل چهرې که اورونه لګولو ، نو فلوريتا ، سوپيس ، عقود ، رانا ، التانګريل او نورو پېغلو هم په خپل خپل ځای وَ دې اور ته دَ خپلي برخي لمبې ورسپارلې لګيا وې - نو ځکه خو په دې محفل کي هرځوان خوشاله و ُ او سترګي يې يوې بلې خواته غړوَلې څه ، چي دَ ښکلاګانو وَ چُور کولو ته يې چلونه هم په خوند خوند جوړوَلو لګيا و ُ -

لاکن يو سپلاني و ُ ، چي که څه هم دې وخت دَ خاتونا او رانا شامۍ دَ پام وړ ځوان ګرځېدلی و ُ ، خو زړه يې له هغو سره ګېپي ته څه ، چي ډانس کولو ته لا هم نه غوښتلو - ولي چي دې پارټۍ ته ډاکټر وسا نه وه راغلي - خو دَ راتلو امکان يې موجود ځکه و ُ، چي هغه به هر وخت لکه شهزادګۍ دَ ټولو تر شا راتله -

دَ انتظار ترخې لمحې په خپل ځای - خو دَ سپلاني هغه وسواس ، چي له تېرو څو ورځو يې دَ وسا او چينائي ډاکټر لومائي دَ متوقع ميني په باب په زړه کي روزَلو نن په دې پارټۍ کي هغه وخت ختم شو ، چي منوېلا ورته وئيلو . .

" لومائي او فلوريتا خو هم ترخپلو باقائده مينه پئيل کړه ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښه .. دا خو نو ډېر ښه وشو "

او بیا دَ څه سوچ کولو ورسته په خلې باندي دَ خپل شك په اړه یو دم داسي تپوس وکړو ..

" ولي هغه له ډاکټر وسا سره نه وُ ..؟ "

" دا څه واې سپلاني .. لېونی شوی خو نه یې ؟ "

" لاکن هغوئ خو تر پرونه پوري ... "

"Mr. Selani Come on"

او بیا یې سپلاني ته دیکه ورکولو ورسته ورته په کرار داسي وَوئیلو . .

" زه خبره یم ، چي لومائي او وسا تر منځه دَ ورور او خور رښته ده .. هغه شوخ چینائي خو له اولي ورځي په پټه له فلوریتا سره مینه کوله .. پوهی شوې که یهَ زما ساده وروره"

داسي ورته وئیلو ورسته هغې دَ سپلاني پام دَ هغو دواړو په لور دَ لاس په اشاره اړَولو ورسته داسي لا هم ورته وَ وئیلو ، چي ..

" هغوئ څو لمحې مخته هغې ته دا خبره کړي وه په یوه صلاح وکړه ، چي هغوئ زیاته نور په غلا باندي مینه نه شي کولی"

دَ منوېلا دا خبري څه وې ؟ چي سپلاني په زړه زړه کي دَ رب شکر ادا کړو ، او دَ سړې ساه ایستلو ورسته یې منوېلا ته وئیلو . .

" نو اوس خو به دواړه ډېر خوشاله وي ؟ "

" هو .. په دې کي شك هم نه شته - ځکه خو ګوره هغوئ دواړه له یو بله بېلېږي نه "

نه یوازي دا ، بلکې په دې رنګینه پارټۍ کي که بُوبا جوف وَ سوپیس ته لکه چرګ شاوخوا وزرونه ټپَولو ، نو دَ آذربائیجان روف باګېرلي او التانګریل په رنګه دَ مراکش ځوان حسن او ګل چهره تاجکۍ هم تر خپلو جاربد لو لګیا وُ - نو ځکه خو اوس ډاکټر لومائي هم له فلوریتا سره هغسي ډانس چمتو کړی وُ، لکه په ایډوانس ټولنه کي چي یې دوه مئینان سره کوي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت منوېلا دَ سپلاني دَ زړه ساتلو په نیت خبره دَ وسا په لورغبرګه کړه او وئیلو یې . .

" دَ ډاکټر وسا نخرې لا څه ، چي دا په ځنډ وَ هري هغې پارټۍ ته راتلل چي ته په کې یې ، هم نور هیڅ نه دي ، بلکې ستا دَ سپځلو او تا دَ همېش د پاره خپلولو په نیت کوي"

سپلاني هم داسي محسوسه کړه ، لکه هغه چي رښتیا واي - لاکن چي بیا به یې دَ وسا دَ ظالمو او فرعوني روئیو او اداګانو ته په خیال کي ځیر شو، نو به یې په زړه کي ځانته وئیلو . .

" ګرانه ده سپلانیه .. چي بیا به دي هغه په نصیب کېږي "

او کله کله به یې لا داسي خبره هم مزغو ته وره غله ، چي ګني ..

" دا وسا هغه انجلۍ هم ده ، چي ما په لومړۍ ورځ لیدلي وه که چرته بله څوك ده ؟ "

خو بیا به دَ ښه سوچ او فکر کولو ورسته له ځان سره موسکنی شو او داسي کرار غوندي وَ بُوښېد لو . .

" که هغه انجلۍ نه وی ، نو بیا به دا دومره ورپسې زهیرنه وی "

لنډه دا ، چي څنګه څنګه دا دَ رنګونو ماښام له ماخستن څخه کرار کرار دَ نیمي شپې وَ خواته لنډ ېدلو ، نو هغسي هغسي به پارټۍ هم دَ ملګرو تر میان دَ خوښي نا خوښي په باب دَ هنداري غوندي رښتیا وئیلو ته چمتو کېدله - ګوا دَ نورو جوړو په سمون که څه هم رانا دَ منوېلا په شرارت بیا بیا دَ سپلاني مخي ته خپل ښائست لمبه کولو او غوښتل یې چي نه یوازي دَ خپل عربي رقص په سرور کي یې ټول شاعرانه ویده جذ بات ویښ کړي بلکې مړه احساسات هم را ژوندي کړي - خو هغه وْ ، چي په هیڅ قسم اداګانو یې نه غولېد لو او دا به یې لا جلا ورته وئیلو . .

" رانا .. منم، چي ډ ېره ښائسته یې او که وَغواړې ، نو دَ فرشتې ایمان هم ختاکولی شې ، خو په دې زړه کي ستا د پاره چي کوم ځای ما دَ دوستۍ په نیت غوره کړی دی ...هغه په هوس نه شي بد لېدلی"

ګوره چي هغې به څله دا خبره دَ خپل حُسن دَ توعین په حقله اخیستله او په خندا به یې بیا بیا ورته وئیلو ..

" چپ شه سپلانیه .. داسي مه وایه ..که درته په رښتیا شوم ، نو هر څه به درباندي هېر کړم .. ښه "

خو سپلاني به هم ورته وئیلو ..

" کثیر مشکله "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لا لا مُش مشکله حبيبي "

او هغې چې به ورته بيا په خپل مخصوص انداز کې دغه رنګه ورته وَ وئيلو ، نو به ورسره منوېلا ، پُو ، عقود او ښېسنك مورتي هم خندا ته داسي وَجوړېد لو - چې دَ درستي پارټۍ به ورته پام شو- نو ځکه خو يَو نيم ملګري ، چې هغه سوپيس هم په کې ورګډه وه دَ راناشامۍ عکسونه په دې نه اخيستلو ، چې هغه په لومړي ځل ګډېد له ... بلکې خبره دا وه ، چې هغه تشه وَ سبلاني ته ګډېدله - په دې خو ، چې کله سوپيس ښه ډېر عکسونه واخيستلو ، نو سبلاني ته يې سر ورنيږدې کولو ورسته څُوکه غوندي وَ وئيلو . .

" ستا دَ بې وفائي دا دويم ثبوت هم بد نه دی"

داسي چې يې وئيلو ، نو په سبلاني يو ځل بيا خولې ور ايله شوې او هغه له سوچه څو مياشتي شاته وَ هغه واقعې ته په ځير شو ، چې سوپيس يې تر نن ورځې پوري ور باندي بلبك مېل کوي لګيا ده -

اوس به لا هغه دَ دې عکسونو په باب له خياله وَ وسا ته رقم رقم بهانې تېرَولې ، چې نابېره يې دَ کېمرې په فلش لايټ کې سترګې هغه وخت پاته وازي شولې ، چې رانا شامۍ يې په څنګ کې څه ، چې تر ډېره هانده په خپلې غوزۍ کې ناسته نه يوازي وَلېد له ، بلکې سوپيس يې لا کله بياعکس اخيستی هم وُ - نو ځکه خو هغه رانا ته ديکه ورکولو ورسته تر دې هانده لا هم په لغازي موسکا کې ورته وَوئيلو ، چې ..

" څه خبر وم ، چې ته به دننه هم دغوني بدرنګه يې ، لکه په ظاهره چې سترګې غولوې "

مختته که څه هم هغې دَ سبلاني دَ ديکې پرته دَ هغه دا خبري په زړه باندي ډيري بدي لګېدلي وې ، خو دَ خلګو له مخه يې دَ ردعمل ښکاره کولو په ځای سترګې دَ هغه په سترګو کې اچولو ورسته په خپلې ژبې کې قسم کولو سره سم هغه ته څوکه غوندي په انګلسۍ کې لا داسي هم وَ وئيلو ..

" ياد لره سبلانيه .. دا زما دَ دې ساعت دغه بې عزتي - والله چې ځان ته مي مرئيی کړې نه يې ، نو نه به يم ښځه"

هغې به لا دَ پورته کېد لو سره سم نور څه هم وئيلو ، چې سبلاني ورباندي وخند لو او ورته ګويان شو ..

" په حسن دي نور ختا باسه "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نور نه .. بچو ، هغه به هم ته يې .. هو ته، چې ختا کېږې به . خو دا مې هم لتاسره لوظ دی چې خپل دغه کست به سرته حتماً رسوم"

که څه هم سپلاني دا هرڅه دَ هغې له خوا ټوکي ګڼلو ، خو رانا يې بيا بيا تر څنګه کېد له او په بېلابېلو اداګانو به يې هغه ته دَ خپل ښائست احساس ورکولو - لاکن سپلاني دې وخت چپ له وسا نور هيڅ هم په مزغو کې نه وُ - کومه چې لا نه وه راغلي -

اوس دَ پارټۍ آخيري ډانس او مستي وه - نو ځکه هر ملګري خوله ايستلو ته تابيا کوله ، لاکن سپلاني بيا هم هلته په يوه کونج کي له تحائفو سره خوا کي يوازې ناست خپله محرومي او مايوسي دَ سګرېټ په لوخړکو کې ژړَوله لګيا وُ ، چې ناڅاپه ډاکټر وسا او پېغله منال هم اورونه لګولو په نيت څه را ورسېد لې ؟ چې التانګريل له ځان سره په هغه ډلي کي بيا وَ هم دَرولې ، چې په کي ټولي روسۍ پېغلي نه يوازې ولاړې وې بلکې ځنګېدلې هم -

منال که څه هم ډېر ژر له نورو پېغلوسره په ډانس اخته شوه ، خو ډاکټر وسا دَ منال او خپله تحفه په لاس کي اخيستي ګوره چې دَ چا په لټون کي يوې بلي خواته ګرځېدله ؟ که څه هم سپلاني په خپلو سترګو وَ لېدلو چې دَ هغې وَ استقبال ته په دې پارټۍ کي موجود هر ملګري ځان هغه وخت لا ور رسولی وُ ، چې هغې دې پارټۍ ته له منال سره سمي موسکاګاني راوړې وې -

دې وخت په ښائسته جامو کي پټه وسا که يوې خواته په هره مانا کي خُماري فرعونه تاخينميس برېښېد له او دَ سپلاني خوارکي په زړه يې نُوکري لګولې - نوبلي خواته يې دَ تېرېدونکي وخت له رفتار سره سمي فرعوني خوئيې او اداګاني هم کرار کرار وَ هغې فرعوني ملکه هاتشيپسوت په رنګه جلالي کېد لې ، چې دَ متهو په زور يې دَ لومړۍ او ورستۍ ښځې په توګه په نرانو باندي باچهي کړې وه -

**_ 5 _**

" هغه په چا پسې ګرځي ؟ "

" څوك غواړي ؟ "

دا او داسي نور سوالونه وُ ، چې دَ سپلاني په مزغو کي يې دَ ځواب په لټون غزوني دَ هغو وسوسو په لور کولې ، چې په دې تېرو څو ورځو شپو کي يې دَ هغه په زړه کي ډېر په تادۍ ځای نيولو -

" کېدلی شي ، چې هغه په ما پسې ګرځي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني چي دا خبره ځنګه په زړه کي جوړه کړه ، نو له وسا سره يې سترګي څلور هم څه شولې ؟ چي دَ ده په ټولو اُميدونو باندي خړي اوبه هم سم دلاسه تېري شوې - ډاکټر وسا او هغه هم له تهائي ماربچې سوپيس سره ملګري تر هغه تور بُوباجوُف پوري ولاړه ، چي له کهړکۍ سره يوازي شاهد چي دَ هغوئ په انتظار کي ولاړ و ٚ -

هو ، هغه په خپل دويم اوسني رابرسېره شوي شك كولو كي غلط نه و ٚ ، ولي چي مخته بيا دَ هغو درو واړوخلې له خنداګانو راټولېد لې نه - نو ځکه خو دَ سپلاني دَ زغملو توان ختم شو او يو دم پورته شو- او په غټو ګامونو دَ التانګريل له فلېټه څخه له دې يقين سره ملګرى وتلو ته هڅوال شو ، چي ..

" هغې بل دَ هيڅا نه ، بلکې دَ تك تور بُوبا جُوف لټون كولو"

خو په وتلو کي بريالى ځکه نه شو ، چي ډاکټر پُو يې لاره په داسي خبره کولو باندي نيولې وه . .

" ولي دوسته .. دومره ژر دي بيا ماته وَ منله ؟ "

" هو .. دغسي يې ګڼلى شې "

" لاکن يَه .. اوس دي زه وَ ماتې ته نه پرېږدم "

او بيا يې سپلاني په ملا ټکولو ورسته تر لاس نيولى په هغه لور بُوتلو ، چرته چي سليم يمني او دَ هغه دَ مائينې پرته منوېلا ، بېسنك ، فلاويه او وينډي په چپه راناشامۍ هم دَ التانګريل په خوشاليانو کي خپلې خوشالياني ورګډوَلې - نو ځکه خو دَ نه غوښتلو پرته هم سپلاني دَ هغوئ په هري خبري نه يوازي خله تر غوږونو پوري رسوله ، بلکې يو نيم وار يې دَ رانا لاس په خپلو اوږو باندي يښى په داسي وئيلو پرې هم ښولو-

" راځه راځه .. چي نن دي هغه ضد هم پوره کړم چي ته ماته پرې راکول غواړې "

خو بيا چي به هغې دئيځنګه دَ ځان په لور ور کش کړو ، نو سپلاني به ورته شا کړه او هغې به لاسونه ترې چاپېر کړو او په عربۍ کي به ورته ګوره چي څه او څه وئيلو ..که څه هم هغه پوهېدلو نه ، خو دَ عقود ، ثريا او مديحه کړيکو به هغه ته دَ رانا شامۍ په زړه کي پټ غل ورښکاره کړو-

ګوا ځنګه چي دَ التانګريل دَ زوکړي پارټۍ دَ وخت په اوږو دَ سهار په لور لاري لنډوَلې ، نو هغسي په ښېلا ښېلو روئيو او تېروتنو باندي سپلاني او وسا دَ يو بل دَ سېځلو په ضد اور لګوني داسي کولې - چي دَ هغوئ تر ميان دَ لوستو په شمېر واټونه په ډېره تادۍ دَ ګامونو په حساب اوږدېد لو لګيا و ٚ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

فصل ۷

# دَ سوئیز کېنال په غنډه باندي دَ تاوان سودا

" زه له تاسره یو دوه منټه کښېنستلی شم "

سلام اچولو ورسته لاس ورکولو سره سم هغې نرۍ جګې سوډانۍ پېغلې منال الجدال، چي دَ ډاکټر وسا تر ټولو ښه خوندکې وه چي داسي درخواست وکړو ، نو سپلاني ورته دَ اجازې ورکولو ورسته چي سترۍ مه شي څنګه وَ وئیلو ، نوهغې په موسکا کي پوښتنه وکړه ..

" څنګه ده ستا مطالعه او وایه سپلانیه .. زړه دي په سي ډي سي کي ولګېد لو که یَه ؟ "

" ښه یم .. ګُزاره کوم او دَ دویم سوال په ځواب کي به دَ څه وئیلو په ځای چپیا راته بهتره وي "

هغې ورې چشمکي په سترګي باندي سمولو ورسته وئیلو ..

" خبري به کوُ .. خو اول دا حال راکړه ، چي څه خورې او یا څیښې؟ "

" وَ بخښه .. ما اوس اوس کوفي وَ څیښله "

خو هغې دَ سپلاني په خبرو کي دَ بېزارۍ څرګندَوني ، پرته هم دَ کوفي آرډر وېټر ته ورکړو ،او بیا یې دَ هغه په خوا مخ ور اړَولو ورسته وئیلو ..

" ستا طبعیت ښه نه دی ..چرته زما راتګ خو ...."

" یَه یَه .. داسي خبره هم نه ده ، بس لږ نه یم برابر "

دَ سپلاني په دې خبري باندي هغه څه غوندي وَموسېد له ، او بیا یې مخته خبره په خلاسو تورو کي داسي وکړه ..

" په شروع ورځو کي ته او پېغله وسا ډېر نیږدې نه واست ؟ "

" هو ، وُ خو؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لاکن اوس څله داسې ليرې ليرې ښکارئ ؟ "

سپلاني پوهی شو ، چې دا انجلۍ دَ وسا له خوا ماته راوړې ده ، نو ځکه يې ځانته پچه ږد لو ورسته ورته وئيلو ...

" زه نه يم خبر ، چې هغه له ما په څه خفه شوه ؟ "

" وجه خو به يې نو خامخا څه وي "

دَ هغې په "خامخا" توري باندې سپلاني دَ هغې په لور وکتلو او بيا يې په پسخوندې موسکا کې څوکه اوږې څنډ لو ورسته ورته وئيلو ..
" اوس به نو مخته څه وايم ؟ګوا زه خبر نه يم او ته واې ، چې خامخا به څه وي "

"زما مطلب دا نه ، بلکې زه وايم چې هغه ..."

" هغه.. هو ، هغې کېدلی شي ، چې ترما ښه خواخُوږې پيدا کړې وي - او دغه ستا دَ سوال هغه وجه هم کېدلی شي .. کومه چې اوس تا له ما پوښتله"

پېغلې منال دَ سپلاني په دې خبرې باندې سر په اثبات کې داسې وَښورَولو لکه هغه چې هم دغه خيال لري - لاکن مخته واي ...

" ته په رښتيا مينه ورسره کوې ؟ "

" هو ، ما له هغې سره مينه له مُودو مُودو راهسې کړې ده او کېدلی شي چې اوس هم "

" لاکن هغه څنګه ؟ "

منال دَ سپلاني خبره پرېکولو سم دستې چې داسې په حېرت پوښتنه وکړه ، نو سپلاني سرہ ساه ايستلو سره سم پورته بام ته سترګې اړَولو ورسته ورته واي ..

" منال .. دا ډېره اوږده کيسه ده او زه نه غواړم چې ... "

دومره وئيلو ورسته چې هغه خپله خبره په دغه ځای نيمګړې پرېښوله ، نوهغې چوکۍ نوره مېز ته رانيږدې کولو ورسته تپوس ورځخه وکړو ..

" شاعر هم يې .. ما داسې اورېدلي دي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" یم .. ځکه خو په ویښو سترګو باندي خوبونه وینم "

او سپلاني لا داسي سم نه وُ وئیلي ، چي ډاکټر پُو راغلو - او خبره په هغه ځای پاته شوه - لاکن پُو بیا کله دَ چا آسره کوله - یو دم یې په خپله شوخه لاکن ډېره مخصوصه لهجه کي ورڅخه تپوس وکړو ..

" هېلو منال .. ته ماته دا را ښئیلی شې چي هغه وسا ... "

" او سوپیس دي چرته دي؟ "

" وي به چرته په سي ډي سي کي "

منال چي څنګه دَ ډاکټر پُو دَ خبري په ځواب کي لاعلمي څرګنده کړه ، نو هغه دَ وړې لاکن پسخوندي غوندي خندا کولو ورسته ورته وئیلو ..

" هو ، بېشکه هغه به له ښائسته بُوبا جوُف سره ناستي وي چرته "

او بیا دَ څه خند لو ورسته درې واړو خپل خپل مګونه په لاس کي نیولی په کوفي غوړپلو چي څنګه بوخت شولو ، نو ګېپه له سي ډي سي څخه دَ پُو په دې سوال لا نوره هم خوږه شوه ، چي ګني دَ هغوئ یاني ابِم فل سېشن څله تر راتلونکي جولائي اګست پوري وَ ځنډېد لو -

" ګوا وسا به په دې راتلونکي دسمبر کي نه ځي وطن ته ؟ "

سپلاني که څه هم داسي خبره نه وکړه ، خو تر ډېره پوري یې په زړه کي کُوټېد له په دې چي هغه ډېر خوشاله شوی وُ دَ هغې په نه تللو باندي -

**_ 2 _**

نن سپلاني ډېر خوشاله وُ - ولې چي ډاکټر وسا یو ځل بیرته دَ هغه دَ سوچ په سمون دَ هغه په لور راستنېدل غوښتلو - او څه څه خبره هم دغه رنګه وه - ګواکه څه هم وسا نېغ په نیغه چاته داسي هیڅ قسم دَ ماتي خبره نه وه کړي ، خو دَ منوېلا سره یې ناسته ولاړه تر اوله څه غوندي زیاته کړي وه - او دَ هغې وَ وړو لُوڼو فلاویه او وینډي ته یې فرانسوي ژبه هم ور زده کوله - نو ځکه به په دې بهانه باندي هره ورځ مازیګر مال ورته فلېټ له راتلله -

خو بلي خواته سپلاني که به هغه کله وَلید له هم ، نو چنداني لفټ یې ځکه نه ورکولو ، چي هغه غوښتلو ، چي وسا دَ میني او هغه په قد ر پوهی شي - او دا هرڅه هغه له خپلي خوا نه کولو ، بلکې دَ منوېلا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر پُو په خوښه یې ځکه کولو - چي هغوئ که یوې خواته سوپیس دَ هغې له مزغو ایستله ، نو بلې خواته یې دَ سپلاني تول هم ورته درنَولو لګیا وُ - ګوا اوس سپلاني نه ، بلکې هغه دَ سپلاني په رنځ اخته شوي بربښېد له -

مخته نو څه وُ؟ هغه سپلاني ، چي نن سبا که یوې خواته دَ نر پښتون غوندي په دې خبره باندي ولاړ وُ ، چي ډاکټر وسا دي له هغه ځخه مافي واخلي - نو بلې خواته به یې دَ خپلې خوني له کهړکۍ ورته تر هغو پوري په غلا غلا لاره څارله ، چي هغه به نه وه دَ منوېلا تر کوره راغلي - او یا چي به څنګه وسا دَ منوېلا له کوره وَوتله ، نو هغه او پُو به په منډه دَ منوېلا وَکور ته ورغلو او په داسي پوښتنو به یې وَ خپل زړه ته تسلیاني څه ورکولې ، چي غوښه به یې هم ورباندي زیاتېد له ، ګوا ..

" نن وساڅه وئیلو ؟ "

او دا راته وَوایه ، چي ..

" تا ورته څه وئیلو ؟ "

هم دغه رنګه ورځي او شپې مخ په وړاندي رواني وې - ګوا اوس هغه هم لړه پوهه شوي وه ، چي سپلاني هم ورته هغسي مات شوی دی ، لکه هغه خپله - خو ماته یې په نره ځکه نه منله .. چي هغې په ځان باور درلود لو ، چي کله هم وَ غواړي ، نو ورته دَ یوې خوږې موسکا وړاندي کولو په بد له کي به یې دَ ځان کړي خو ، بیا چي به دَ هغې دَ وېرَولو د پاره منوېلا ورته کله نا کله که څه هم داسي وئیلو ، چي ..

" وسا .. داسي نه چي سپلاني درڅخه څوك هوا نه کړي ؟ "

خو هغې به په خندا کي ورته وئیلو ..

" که داسي په اسانه هوا کېد لو .. نو بیا دي هوا شي"

او یا به یې ورته وئیلو ، چي ..

" ښه دی ، دغه رنګه به یې پټ اندرون هم راته ښکاره شي "

هم په دې خو به منوېلا په وار وار وَ سپلاني ته وئیلو ، چي ..

" ګوره ګوره سپلانیه .. چي هیڅ داسي غلط کار نه وکړې - چي دَ وسا زړه درڅخه بدرا شي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني دا خبره منله ، خو سوپیس وه ، چي نه یوازي وَ هغه ته په غضب شوي وه - بلکې چي اوس یې خپله هم دَ تول تله دَ هغه په مقابله کي سپکه سنجوله وَ وسا ته نور خو نور ، دا هم لا وئیلي وُ، چي سپلاني په هغې پسې مړکېد لو - او سپلاني له هغه سره دا او داسي بد هم کړي دي - خو دَ منوېلا له قوله وسا اوس دَ سوپیس په خبرو باندي ځکه باور نه کوي ، چي دَ هغې له قوله .. هغه یو خوشرابي انجلۍ ده ، او بل .. دَ هري ورځي بیان یې له تېري ورځي بېل او بدل وي - ګوا کله واي ، چي ..

" په لومړي ځل هغې له سپلاني سره مینه آغاز کړي وه"

او بیا واي ..

" یَه یَه دا خو سپلاني وُ ، چي هغه یې ورسره په مینه کولو وَپارَوله "

لاکن کله کله خو لا داسي هم واي ، چي ..

" سپلاني دَ هغې په خوښه نه ورسره تلو ، نو ځکه دَ هغې ورڅخه بد وَ شو "

دَ سوپیس څخه دَ زړه ماتي ډاکتر وسا دغه رنګه خبري چي به کله دَ منوېلا مورتي له خلې دَ سپلاني تر غوږو ورسېد لې ، نو هغه به وَ عظیم خدای ته په سجده باندي پرېوتلو - ولي چي اوس یې هغه په محفوظو لاسونو کي بلله - لاکن بیا چي به یې دَ هغې وَ دې بې ځایه هوډي ته پام شو ، نو له غصې سره سره به یې مینه په دې خبري باندي ورته راتله ، چي هغه خوبه هم هرکله دَ خوب په ټاپوګانو کي ورته راتلونکي خپله خیالي انجلۍ په دغسي بڼه کي لید له -

_ 3 _

ډاکتر پُو او منوېلا غوښتلو ، چي دَ دغو دوُ مئینانو روغه به په هغه ورځ کوي ، چي کله وَ سوئیز کېنال ته دَ ستنېدي ټرېپ په توګه ځي - لاکن نن دَ نهه ویښتم نومبر کال 1997ع ورځ ده او دَ اسماعیلیه او سوئیزکېنال ټوُر دی - خو له بده مرغه یوازي دَ ګلوبل ډپلومه لوستونکي په بس کي ناست دي او دَ اېم فل یو لوستونکی هم نه شته په کي - نو ځکه وسا هم شاته پاته شوي وه او بس چي مخته یې دَ پولیس ګاډی دَ حفاظت د پاره روانه وه په ځای دَ سعیده عائشه دَ سړك .. نن په هغې اوږدې لاري باندي سم شو ، چرته چي په کال 1994ع کي هغه لویه زلزله راغلي وه ، چي خورا ډېري ورانیاني یې جوړي کړي وې - او تر اوسه پوري لا زیاتره ودانیاني هغسي کنډوالې پاتي وې - لاکن دَ دې ځای هد یره دَ کتلو وړځکه وه ، چي دَ هر خاندان مړي په یوې ځلوردیوالیزه ، خو بې بامه ودانۍ کي په قبرونو کي پراته وُ - او دا هد یره له لیري یو کلی ښکاره کېد لو .. هو ، داسي وران او ویجاړو کلی ، ي زړند ورته کله هم پیښبه نه وي را کړي - نو خو سپلاني چي دې وخت یې په زړه باندي دَ وسا دَ نه راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هکله جذبو دَ پریانو دَ دُوړو په شان اتېونه کولو هم خپل ځان او ژوند بې له هغې خپلي خفه شوي وسا څخه په سترېیاګانو ستړی برېښېدلو -

څنګه څنګه چي بس دَ اسماعلیه په لور لاره لنډ وله ، نو ورسره که مځکي هم خپله ښه سمه بد لوله ، نو دَ سبلاني سره په څنګ کي دَ دي بل کتار په سیټ کي ناستي سوپیس چي نوټس یې اخیستلو یو وخت دَ هغه پام خپلي خواته په کاپۍ باندي جوړي کړي چاړې په لور چي څنګه واړَولو ، نو هغه وربانديځکه پسخوندي موسکا وکړه ، چي هغې ګوره چي څه او څه په تهائي ژبې کي ورسره لیکلو هم لګیا وه-

اوس که څه هم ګېم دَ هغې له لاسه وتی وٗ ، خو بیا هم دَ خپل کستناکه فطرت له سوبه ښځه نه شوه - او هغه رنګه یې په زړه کي سبلاني ته غاښونه کرلو لګیا وه - که څه هم یو نیم ځل سبلاني هغې ته دَ هغې دَ بدو احساس ورکولو دپاره ښې ډېري خوږې او درنې خبري هم کړي وې - خو هغه وه .. چي لا نوره نوره به ورته ښا ماره کېد له او له خلې به یې ورته اورونه غورځولو-

اسماعیلیه ، چي دَ قاهره په مشرق کي په سل کلومیټره واټن باندي جوړ ښار دی ته رك له قاهره څخه ډېل روډ ورَغلی دی -

" دلته په لاري کي ځای په ځای دَ کوترو دَ فارمنګ دپاره جوړي سپیني غټي کوټې دَ کتلو وړ دي "

سوپیس چي دَ سبلاني پام په هغه خوا نابېره واړَولو ، نو هغه وربانديوَخند لو - نو ځکه خو هغې په حېرانتیا ورڅخه پوښتنه وکړه-

" څله دي وَخند لو زما دُښمن سبلانیه..؟ "

" ځکه ، چي ستا له خلې دَ کوترو په باب خبري عجیبه راته ښکاره شوې "

" عجیبه ولي؟ کوتره خو ښائسته مارغه دی "

هغې چي بیا تپوس وکړو ، نو سبلاني ورته وئیلو ..

" ښه پوهېږې ، چي کوتره دَ امن علامت ده او ته ..."

" ترهه ګره یم .. دغه وئیل غواړې ؟ "

" هو.. ترهه ګره "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" څه ..؟ زه ترهه ګره ، ياني"

او بيا يې خبره په دې ځای باندي پرېښولو سره سم دَ خند لوورسته ورته وئيلو ..

" تا تر اوسه ليدلي څه دي خوار سبلانيه ...؟ "

هغې به لا نور څه وئيلو ، چي ورسره ځنګ کي ناستي فلوريتا يې پام دَ اسماعيليه ښار په دريابې ويالې باندي جوړ دَ هغه پُل په خوا اړَولو ورسته ګوره چي څه ورته وئيلو- نوځکه سبلاني هم دَ خپلي خوا له شيشو څخه دباندي کتل شروع کړو-

دَ پاو ُکم دو ُګنټهو دَ مزل ورسته چي دَ اسماعليه ښار په تنګو لاکن ډېرو ښائسته لارو باندي چي بس دَ مګرمچهـ په رنګه ډم اوبو ته ورسېد لو ، نو دَ سبلاني تر شا ناست محمد عبدالرحمان له قوله ..

" دا TIMISAH *LAKE* دی او دَ دې مانا هم دَ مصريانو په ژبه کی مګرمچهـ خېړي"

" مګرمچهـ ؟ "

داسي نه چي سبلاني په دې نامه باندي حريان شوی و ُ ، بلکې هغه چي دا توری له خلې په زوره را ايستلو ، نو يې دَ سوپيس په لور کتلو - خو هغه وه ، چي دَ څه وئيلو په ځای يې غاښونه په موسکا کي داسي په کرکه سپين کړو لکه واي چي ..

" تا خو لا مګرمچهـ ليدلی کله دی "

که څه هم سبلاني دَ هغې داسي پسخوندي خندا ټوکه ګڼلي وه ، خو سوپيس يې په لوري بيا بيا ډېر له خشمه داسي کتلو لکه هغه چي يې ډېره زياته بې عزتي کړي وي -

خو سبلاني له هر څه بې خبره دَ محمد عبدالرحمان وَ هغه خبرو ته يو غوږ شوی و ُ ، چي دَ سوئيزکېنال په باب يې داسي هغه وخت کولې لګيا و ُ ، چي دَ يولس نيمي بجې خواته بس نوموړي سوئيز کېنال ، چي ورته نهر سوئيز هم وئيل کېږي ته وَرسېد لو-

" هې سبلانيه .. هغه تکي شنې اوبه چي وينې .. دا دَ سره سمندر ياني دَ رېډ سي او مېډيټېرينئين سمندر تر ميان لاسي جوړه هغه لنډه ګوا 193 کلوميټره اوږده لاره ده ، چي دَ مصر په معاشي ودي کي ډېره لويه برخه لري - يو سر يې تر مېډيټېرنئين سمندر پاني پورټ سعيد پوري رسېږي - او بله څنډه يې په رېډ سي باندي تر پورټ توفيق پوري غزېدلي ده"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت چې په کې يو ډېر غټ دَ تېلو ټېنکر تېرېد لو ، نو له څنګه ورته ولاړ دَ يمن ملګري سليم وَ سپلاني ته په غوږ کې وَ وئيلو ..

" سو پيس دي غواړي "

" چرته ده ؟ "

" له هغه کېبن سره ولاړه ده "

او سپلاني چې څنګه په هغې خوا ور وکتلو ، نو هغې دَ لاس په اشارې هغه ور وَبللو - يو وار لا دَ هغه په زړه کې راغلو ، چې نه شي ور - خو بيا يې وئيلو ، چې ورتګ ورته ځکه ضروري دی ، چې په ارادو يې خبر شي - نو ځکه يې په لوري ورچپ شو -

" سپلانيه .. زړه مې غواړي چې مړ دې کړم او په دې اوبو کې دې وَ بهوم ، لاکن ... "

" لاکن څله سو پيس؟ "

" غلی شه .. ما ته دَ خبري سپينولو دپاره نه يې راغوښتلی .. بلکې زه خو دا درته وايم ، چې که ته زما په خوښه يو کار وکړې هو فقط يو کار .. نو کېدلی شي ، چې ما او تا له دُښمنانو څخه بيرته دوستان شو"

" وايه .. کوم کار دی ؟ "

سپلاني به لا اوس نوره پوښتنه کوله ، چې بُوبا را ورسېدلو او په تريو تندي چې يې څنګه سو پيس ته ورسره دَ تللو وَ وئيلو ، نو هغې په سخته لهجه کې ورته وئيلو ..

" ته درځه .. زه درپسې يم ، نه ګورې چې زه له سپلاني سره يوه پټه خبره کوم"

او هغه چې څنګه ګامونه په مات زړه اوچت کړو ، نو سو پيس دَ سپلاني دَ ځيګر خلاس ښځ بندَولو په وخت ورته وئيلو ..

" کار نوی نه دی او نه ګران يا تاواني دی .. خو چې کله زه تا يکړ وَوينم ، نو به درته وَ وايم "

او بيا يې په دې بل لاس کې نيولي چاړې نرۍ څُوکه هم دَ هغه په لاس چې څنګه جګه کړه ، نو يې ورته وَ وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ځه لاړ شه .. تر هغو پوري خلاس يې "

" لاکن سوپيس ... "

" نه منم هيڅ قسم لاکن واکن .. پوهـ شوې که يهَ "

خو بيا هم چي تلله ، نو يې ورته وئيلو ..

" زه خبره يم ، چي ته له وسا سره ډېره مينه کوې او هغه هم ستا په خوا زياته درکړه شوي ده ، نو ځکه زه نه غواړم چي ستاسو تر ميان دريمه شم"

او بيا يې په سينې باندي څُوك ورکولو ورسته ورته په وازکي انداز کي وئيلو ..
" خو دا هم ياد لره ، چي شرط به تر منځه پروت وي "

_ 4 _

دلته په يو کلب ، چي نادي الشاطي نومېد لو کي ډوډۍ خوړَلو په وخت هم هغه سپين سترگي سوپيس له سپلاني سره په څنگ کي داسي په غټ زړه ناسته وه ، چي په خپل يار بُوبا جوُف کي يې هم هيڅ چُرت نه وهلو - منوېلا او ډاکټر پُو په څو ځله وَ هغه ته دا خبره وکړه ، چي ..

" کار مه ورسره لره .. داسي نه چي نوري کانې درباندي وکړي "

خو سپلاني که څه هم ځان ورڅخه پېچلو ، لاکن هغې به بيا بيا ځان ورته وَ رسولو - او په اشارو اشارو به يې دَ هغه کار وضاحت ورته کولو - چي هغه يې په هېره لا هم سوچ نه وُ کړی - خو هيڅ قسم ردعمل يې بيا هم ځکه نه شو څرگندَولی - ولي چي هغې تهائي ماربچې به ورته دَ وساعربلور نوم څه چي ، دَ هغې ژوند ، او دَ عزت دَ جنازې پورته کولو په باب هم اشارې کولې - نو پدې خو سپلاني په خلې باندي لاس نيولی وُ او دَ هغې دَ هر سوال په ځواب کي به يې که سر په اثبات کي نه هم ورته ښورولو ، خو په شونډو يې موسکا ورته خامخا خپرېد له - هو ، که څه هم منوېلا او پُو لا ورته وئيلو ، چي ..

" دې سوپيس نن په تا باندي گوره ، چي څه جادو کړی دی ؟ چي له سهاره دي خله ويره ويره ورته کېږي "

لاکن سپلاني وُ ، چي هغو ته به يې هم لکه لېونی خند لو ...ولي چي دې وخت سوال دَ هغه نه ، بلکې دَ هغې وسا دَ عزت او قيمت وَ منځ ته راغلی وُ ، چي ده به له ډېره وياړه ورته دَ خپل ژوند نوم څه ، چي دَ ژوند دَ ورستي مرام نوم لا هم ورکړی وُ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کله چي مازيګر خواته بس له سوئيزکېنال څخه بيرته دَ قاهره په خوا را روان شو ، نو هغې دَ التانګريل او محمد مصري سره په ګډه په بس کي په عربي سندرو باندي داسي په مستۍ ګډې پده شروع کړو ، چي ډاکټر پُو دَ سپلاني وَ مخي ته وَ منوېلا ته وَ وئيلو ، چي ..

" دا ګوره منوېلا .. سوپيس هم نن ډېره خوشاله ده ، چي له سپلاني سره يې ګوره چي کومه او دَ چيشي سودا وکړه"

که څه هم دَ منوېلا پرته عقود او ببسنك مورتي هم دغسي رائيې درلود لې ، خو بيا هم هغه سپلاني وُ ، چي چپ له موسکا يې ورته دَ هغه خوارکي زړه حال نه شو وئيلی ، چي سوپيس په کي اوبه کړی وُ - ګوا که څه هم په ښکاره باندي هغه خپلي خواته آزاد مونېد لو ، خو دَ تهائي ډرېګون په پنجو کي داسي ګېر شوی وُ ، چي خلاسيت يې فقط دَ هغې په هغه کار کي مشروط وُ- چي هغې که څه هم ورته معمولي کار وئيلو ، خو يو باضميره سړي ته ډېرګران کار وُ- نو ځکه خو سپلاني هم غوښتلو ،چي په نه څه ورڅخه خلاس شي -لاکن دا دَ يوې زهرناکي تهائي ماربچۍ کست وُ ، چي سپلاني يې په نره لا هم په هغې وړې چاړې باندي وېرَولو ، چي په يوه بڼه هم دَ مرګ ژوبلي وَ هيڅ يوه اوزار ته نه مونېد له - نو بيا ....

" هغه له سوپيس څخه څله وېرېږي ؟ .... "

دا سوال که څه هم سپلاني په بيا بيا له ځان څخه کولو ، خو په ځواب کي به يې چپ له ويرو او وسوسو بله هيڅ خبره مزغو ته ځکه نه راتله ، چي دَ سوپيس مثال دَ هغه مرمۍ وُ - چي ښکاره کېږي له خيچۍ ګُوتي څخه هم وړه ، خو بارودي اثر يې دَ وينبتلي سړي دَ مرګ سوب هم جوړېږي -

خبره دلته دا نه وه ، چي سپلاني ګوندي دَ سوپيس له زوره وېرېد لو - بلکې خبره دا وه ، چي هغې ورته دَ وسا دَ ميني په سودا دَ زړه دُوك اچولی وُ - او دا خبره به يې په واز کومي کوله ، چي ..

" سپلاني تر وسا له مخه له هغې سره مينه کوله "

سپلاني که څه هم دَ هغې دا خبره دروغ ګڼله ، خو خله به يې له دې خبري څخه وَ انکار ته بيا هم نه جوړېد له ، چي ګني ..

نو هم دغه وجه وه ، چي سوپيس دَ لېوې پوستکی اغوستی وُ او ځومره ځومره چي به يې دَ سپلاني په زړه او ذهن باندي ظلم روا کولو - نو هغومره به سپلاني دَ هغې وړې ښځې له تصوره نور نور ويرېد لو او هڅه به يې دَ پُټېد لو ورڅخه ځکه کوله - چي هغه نه غوښتلو ، چي هغه شين توتي والوځي او يا مړ شي ، چي دَ ده اروا په کي بنده وه - ولي چي هغه شين توتي خو هم دَ هغې وسا په لاس کي وُ- چي لا يې مينه خپله هم په خړاپوسو وه-

(c) ketabton.com: The Digital Library

" تر ډاکټر وسا له مخه سوپیس په هغه باندي مئینه وه"

*****

## فصل ۸

# دَ وسا او سپلاني تر میان ناروا کرکه

سوپیس ، چي لا تر اوسه هم دَ بوُباجوُف یاره وه به کله کله بیا په کلاس روم کي دَ سپلاني وَ خنګ ته کښېنستله او یا چي به یې کله مخامخ ناسته وه ، نو به یې ورته داسي په هوسي نظرونو کتلو لکه هغې چي یې جوړه دَ خوړَلو هوډه کړي وي - خو بلي خواته سپلاني په ځان کي دننه ځکه خوړل کېدلو ، چي هغه نه غوښتلو ، چي دَ وسا په ارمانونو ، چي لا یې اظهار نه وُ شوی باندي خاوري واړَوي-

هغه پوهېدلو ، چي وسا یې په لوري کرار کرار راستنېږي لګیا ده - هرڅه هرڅه ، خو بیا یې هم یو بل ته ماته نه خوړله - ګوا په خپل حسن غره وسا خود لکه چي دا غوښتلو ، چي هغه دَ سپلاني په زړه باندي لکه یوازینۍ ښځه فرعونه رانۍ هاتشیپسوت ، چګي په نره یې باچهي کوله غوندي باچهي وکړي - خو سپلاني بیا دَ جمهوري روئې له سوبه دا هڅه کوله ، چي هغوئ دواړه ځان ځانته په میني باندي داسي زړه سوړ کړي ، لکه نوموړي فرعون مینکورا او دَ هغه رانۍ خامیرنیبیتي چي به په خپلو کي سره کوله - هم په دې خو دَ منوېلا او ډاکټر پُو دَ ښېخي زیار پرته هم په دغو دواړو کي پټیل کولو ته یو هم نه تیارېد لو او وخت داسي په تادۍ مخته روان وُ - چي په خپل خپل ځای باندي هغو دواړو ښه احساسولو لګیا وُ -

یوه ورځ مازیګرچي له سي ډي سي څخه سپلاني دَ خپل معمول په شان له ډاکټر پُو او منوېلا سره دَ فلېټ په لور روان وُ، نو وسا هم په داسي وینا کولو ورڅرمه شوله ..

" غواړم چي وینډي او فلا ویه ته نن وختي سبق وَ وایم ، ولي چي بیا به مهندسین ائیریا ته له خپلي اُردنۍ خوندکۍ نادیه سره لید لو دپاره ځم "

نن که څه هم هغې دَ خوښي په چپه له سپلاني سره هم په کبرجن انداز هېلو هائ کړي وُ ، خوبیا یې ځکه تر منځه بله خبره نه وه شوي - چي تر شا یې سوپیس ، بُوباجُوف او بتوکا هم ځانونه را وَرسولو او خبري دَ سي ډي سي له کلاسونو بیا دَ ډاکټر وسا تر برتهډې پارټۍ پوري چي په دې راتلونکي څورلسم دسمبر باندي به وه پوري څه وَرسېد لې - چي وسا وئیلو ، چي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" زه که پارټۍ په هاسټل کي لمانځل وَ هم غواړم ، نو نران ورته نه شي راتلی - نو ځکه يې هلته په ښار کي دَ نادیه په کور کي دَ لمانځلو هڅه کوم - او په دې سوب خو مازيګر ورته روانه يم"

هغې چي څنګه دا خبره سرته وَ رسوله نو سوپیس ورته واي ..

" دا خو نو نه شوه خبره .. ولي زما او يا دَ بُوبا په فلېټ کي يې نه لمانځې ، نيږدې هم دی او بل به موږ ټول درسره کومك هم وکړو"

او دغه رنګه منوېلا او ډاکټر پُو هم ورته وئيلو ، چي که هغه وَ غواړي نو دَ هغوئ په فلېټونو کي يې لمانځلی شي - خو هغې دَ لږ ډېر سوچ کولو ورسته په وړې موسکا کي وَ وئيلو ..

" دَ بُوبا او منوېلا دَ فلېټونو په باب سوچ کولی شم ، لاکن دَ ډاکټر پُو فلېټ ..."

دَ ډاکټر پُوپه فلېټ باندي چي يې يوې بلې خواته سر ښورَولو ، نو هغه په لغازي خندا کي ورته وَ وئيلو ..

" هو ، هغه ستا دَ ستېښدرډ نه دی ، دا وئيل غواړې ؟ "

" يَه داسي خبره نه ده مسټر پُو ، هلته "

" ښه ښه ، نو ستا مطلب دا دی ، چي هلته دَ يو بل چا له سوبه ستا وَ سګتېټس ته تاوان رسېلی شي"

دَ سوپیس دَ دې خبري ورسته که څه هم بیا هغې سر يوې بلې خواته وَښورَولو ، خو مخته يې خبره ځکه نه وکړله ، چي ناڅاپه اُم علي ، چي دَ حسن چوکیدارمائینه وه په منډه منډه تر هغوئ پوري رارسېد لو ورسته په عربۍ کي وَ وسا ته داسي ګډه شوه لکه هلته چي يې په کور کي څه لانجه پېښه شوي وي - نو ځکه وسا هم ورسره په منډه بیرته دَ هغې دَ کور په لور ملګري لاړه - خو څلور پنځه منټه ورسته چي هغوئ هم ورپسې ورسېد لو ، نو وسا شنه شنه له خندا کېد له او په اړدو اوړدو تندکي ساهګانو کي واي ..

" دا اُم علي هم عجیبه ښځه ده "

" او بیا يې له سترګو اوښکي پاکولو ورسته وئيلو"

" وړوکي لوُر يې له بالا پورشن څخه په ژړا کي نارې څه ورته کړي وي ، چي دې دا ګڼلي وُ ، چي هغه وَ مېن هول ته لوېدلي ده لکه چي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نو بیا ؟ "

هغې وئیلو ..

" نو بیا څه وُ، چې زه څنګه ورسره ګډه دَ هغې تر کوره ورسېدم ، نو هغه انجلۍ مخې ته راغله "

او بیا نورو هم له وسا سره خنداګانې انتها ته وسپارَلې - خو دَ سپلاني خله خندا ته ځکه نه جوړېدله ، چې دَ هغه زړه دا خبره منلې وه ، چې وسا زیاته هغه له ذهنه ایستلې دی - په دې خو یې دَ هغه او دَ ډاکټر پُو تر فلېټ ، چې هغې ورته خوښ کړی وُ په ځای دَ بُوبا او منوېلا په هغو فلېټونو کې دَ خپلې پارټۍ لمانځلو دپاره رضا څرګنده کړه ، چې هغې ببخې نه خوښَولو-

**_ 2 _**

" پرون ماښام سپلاني داسې خبره کوله ، چې هغه کېدلی شي چې ډېر ژر دا ولات پرېږدي او بیرته "\ خپل وطن ته لاړ شي "

" نه یوازې دا ، بلکې هغه په فون باندې له څو ټرېول ایجنټانو سره خبره هم وکړه "

دَ منوېلا مورتې په فلېټ کې دَ هغې دَ خبرې په تائید کې چې څنګه ډاکټر پُو داسې خبره وکړه ، نو دَ وسارنګ یو دم ژېړ شو او پوښتنه یې وکړه ..

" هغه څله بیرته تلل غواړي ؟ "

" دلته یې پاته څه شو ؟ "

دَ وسا دَ تپوس په ځواب کې چې پُو ورته خپله خبره سوال کړه ، نو هغې اوږې څنډ لو ورسته دَ څه وئیلو په ځای خله داسې کږه کړه ، لکه هغه چې ګرسره دَ سپلاني په دُوك خبره لا نه وي - نو ځکه خو منوېلا ورته په نېغه وَ وئیلو ..

" ګوره وسا .. ته ښه خبره یې ، چې هغه څومره مینه له تا سره کوي ، ته هغومره کرکه ورڅخه کوې"

" کرکه او زه ؟ "

" هو ، کرکه او ته "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر پُو چي لا سمه دَ هغې دا توری تکرار کړی نه وُ ، چي دَ هغې په سترګو کي اوښکي وَڅرکېد لې - او بيا يې سرہ ساه اخيستلو ورسته تر ډېره پوري سر په دواړو لاسونو کي نيولی لاندي څه کتلو ، چي ډاکټر پُو او منوېلا په سترګو سترګو کي يو بل ته په اشارو کي داسي وَ وئيلو ، لکه هغوئ چي په دې ډرامه کولو کي بريالي شوي وي - نو ځکه خو نري نري موسېد لو هم -

که څه هم هغوئ په خپل سوچ کي غلط نه وُ ، خو دَ وسا پرله پسې چپيا يې زړونو ته له ځينو نورو وسوسو سره ګنډلي دا وسواس هم دَ پوښتني په بڼه کي راپورته کولو ، چي چرته هغه خو له سېلاني څخه په رښتيا کرکه نه کوي ؟ چي په ځای دَ دې خبري چي سېلاني دَ تلو څخه بيرته راګرځوي ، هغې خله داسي وګنډه له ، چي که يې څه هم رنګ دې وخت دَ کتلو نه وُ ، خو تړلي خلې يې سوال څه ، بلا سوالونه زېږولو لګيا وُ -

اوس به لا منوېلا او ډاکټر پُو په خپلي دې ډرامې باندي په ځانونو کي ټُوکلو ، چي وسا په ژړا سر شوه او يو دم داسي دَ دروازې په لور ور روانه شوه ، لکه هغه چي په بله نه ، بلکې په دې ځنګ فلېټ کي دَ سېلاني په خوا ورځي - نوځکه هغوئ ورپسې نه ور وَ دانګلو ، ولي چي غوښتلو يې ، چي وسا دَ هغوئ له مخه له سېلاني څخه دَ مافي اخيستلو په وخت خړه نه شي - لاکن هغوئ خبر نه وُ ، چي هغه به په ځای دَ سېلاني دَ فلېټ نېغه په بله ځي -

هم په دې خو ، چي دَ نيم ساعت ورسته هغوئ سېلاني په خپل فلېټ کي يوازي وَ ليد لو ، نو يې په ډېره حېرانتيا پوښتنه ورڅخه وکړه ..

" ډاکټر وسا دلته نه راغله ؟ "

" يَه نه ده راغلي .. ولي هغه راتله که څه ؟ "

دَ هغوئ دَ سوال په ځواب کي دَ سېلاني دا سوال دَ هغه له خلې څه را وَ وتلو ، چي دَ ډاکټر پُو او منوېلا خلې وازي پاته شولې - مخته که بيا هر څو سېلاني له هغوئ څخه تپوسونه کولو ، خو په هغوئ کي هيچا دَ هغې ډرامې په باب خبره ځکه نه کوله ، چي هغوئ نه غوښتلو ، چي هغه دَ وسا په اړه نور زړه ماتی شي - هو ، که څه هم دَ هغوئ په تند يانو باندي راغونډ و شوُکړښو کي ليکلي کيسه تر ډېره هانده سېلاني وَ هم لوستله - نو ځکه خو يې په زړه زړه کي که يوې خواته دَ خپلو دغو خواخُوږو دَ هغه په حال باندي کړي غمرازي ستائيله ، خو بلي خواته يې دا خبره هم په زړه کي يقيني کېد له ، چي ګني وسا بيرته دَ هغه وَ خوبونو او خيالونو ته کوچ کوي لګيا ده"

_ 3 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن څورلسم دسمبر 1997ع وُ او دَ وسا دَ زوکړي ورځ، چي دَ منوېلا په فلېټ کي به ماښام لمانځل کېد له - نو ځکه سپلاني که يوې خواته دَ هغې په دې خوشالۍ خوشاله وُ، نو بلې خواته وسا په خپله خله نه ، بلکې دَ پُو ، بېسنك ، منوېلا ، وينډي او فلاويه په خلې بلنه ورکړي وه - خو سپلاني لا نور هم ورڅخه زړه ماتی شوی ځکه وُ ، چي دَ پُو له خوا دَ دې پارټۍ دپاره دَ فلېټ پيرزوئينه چي هغې په کومو ټکو رد کړې وه ، له هغې خبري څخه سپلاني دا وَ سنجولو ، چي ګوندي داسي نه چي دَ هغه له ورتګ څخه يې خوشاليانې کمي شي - نو ځکه يې دا فېصله په زړه کي کړې وه ، چي تر څو هغه خپله وَ هغه ته بلنه نه کړي ور، نو هغه به نه ورځي -

او بلې خواته وسا په زړه کي دا خبره جوړه کړې وه ، چي هغه به په دې پارټۍ کي وَ سپلاني ته دَ ښه راغلې په وخت لاس ورکوي او بيرته به يې خپلوي - نو ځکه خو به يې په وار وار منوېلا ته وئيلو . .

" ګوره ګوره چي دَ ګلوبل ملګري درڅخه هېر نه شي - ټولو ته دَ راتګ بلنه ورکړه "

او هغې چي به کله ورته په ټوکو کي وَ وئيلو ، چي ..

" ټولو ته مي بلنه ورکړې ده چپ له هغه ، چي ستا ورڅخه کرکه کېږي "

نو دَ منوېلا له قوله به هغه ورباندي غوټه شوه او په ژړغوني ژغ کي به يې ورته وئيلو ..

" پليز منوېلا .. داسي مه وايه ، څوك چي ته زما دُښمن ګڼې هغه مي دُښمن ګرسره نه دی "

" نو بيا څه دی ؟ "

خو دَ منوېلا دَ دې سوال په ځواب کي به يې هغه توری بيا هم نه اخيستلو - شاهد په دې ، چي په دې پارټۍ کي يې خپل تول نه يوازې سپلاني ته ښودل مقصد وُ - بلکې نورو ته يې هم دا تاثر ورکولو ، چي هغه په سپلاني پسې دومره نه ، لکه سپلاني چي په هغې پسې څومره مري - او داسي يې که نورو ته نه ، خو منال سوډانۍ ته حتمًا وئيلي وُ - نو ځکه خو له پارټۍ څخه دوې ورځي له مخه هغې سوډانۍ پېغلې وَ سپلاني ته په ټوکو ټوکو کي وئيلي وُ ، چي ..

" وسا هغه انجلۍ ده ، چي په درستي سي ډي سي کي يې خلګ دَ غاوري پېغلې په نوم پېژني - زه خو وايم .. بس خپله يې کړه ، ګني څو مياشتي ورسته به دَ همېش همېش دپاره هوا شي درڅخه ... "

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروګرامونه NILE Tv او دغه رنګه نوري نوري خبري چې نن مازیګر سپلاني په خپل فلیټ کي دَ کتلو په وخت څنګه سوچ کولې ، نو دننه دننه یې یوه پښتون هم سر په وار وار پورته کولو او ورته وئیلو یې . ..

" سپلانیه .. دا دَ یوې ورځي معامله نه ده چي سترګي به وربانددي پټي کړې - که هغه واقعي دَ همېش دپاره ستا جوړېدل غواړي ، نو بیا به ته له اوسه ورته تول دروند ښئیې - ګني بیا به ټول عمر ژاړې "

او څنګه څنګه چي ماښام دَ ماخستن په لور واښتونه لنډَولو ، نو دَ منوېلا په فلېټ کي دَ سي ډي سي دَ لوستونکو پېغلو او ځوانانو شمېر زیاتېدلو - او بلي خواته سپلاني هم په هغسي تادي دَ ځان په لور راستنېد لو لګیا وْ - او هغه وخت چي کله ډاکټر پُو هغه له ځان سره وړلو په ضد سترِی له فلېټ څخه وَوتلو ، نو غالب امکان دا وْ ، چي اوس به ورپسې څوك راځي او هغه به هم له ځان سره وړي - لاکن نه څوك ورپسې راغلو او نه هغه له فلېټه په دې وجه وتلی شو - چي داسي نه ، څوك یې وَ ویني - ګوا تر اوسه لا دَ ماخُستن نهه نیمي بجې وې -

" ما نه وئیلو ، چي هغه له تا سره مینه نه کوي؟ "

سپلاني له ځان سره بُونېد لو ورسته پورته شو او له فریج څخه یې دَ کوکا کولا کېن را وَ یستلو او بیرته چي په ټي وي لانچ کي پرتې صوفې په لور ور روان شو ، نو یې دَ کېن خُولبزی خلاسولو سره سم دَ ډاکټر وسا په نوم لومړی غوړپ کولو ورسته بیا ځانته وئیلو ، چي ..

" که هغې له تا سره سُوچه مینه کولی ، نو دومره ضد به یې نه وْ کړی کله هم ؟ "

په صوفې باندي کښېنستلو ورسته یې سرِه ساه اخیستلو سره سم چي څنګه په ریموټ باندي ټي وي آن کړه ، نو یې په ځان باندي یوه پسخوندي موسکا کولو ورسته لا داسي هم وَ وئیلو ..

" دَ هغې تر میني خو دَ سوپیس دُښمني لا هم ښه ده ، چي که نوره هر څومره زاوالجنه ده ، لاکن له لومړی ورځي یې تر ننه پوري په نره خو راباندي پیرزوْ شي"

او بیا یې هغه وخت لا نور هم زړه وَچاوْد لو ، چي دَ منوېلا له فلېټه دَ میوزك سره سم دَ ملګرو ژغونه هم پورته کېدل شروع شولو - داسي ښکاره کېد لو لکه وسا چي په دې پارټۍ باندي ځکه زیاته خوشاله وي ، چي سپلاني په کي نه شته - نو ځکه خو له وخت سره سره سم سپلاني هم دَ وسا په نوم کرکه په داسي ټکوکي لیکلو ته چمتو شوی وْ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

" زه غلط نه وم .. هو ، چي په خپل سترګي فکر باندي مي نه يوازي دَ تېرو ټولو ليد لو نړئيزو څېرو دَ نقشونو په راهنمائي کي دغه څېره خپل آخيري مرام وګڼلو ، بلکې هغه مي هم دَ فرعوني تاريخ په لارو باندي تر ځانه پوري را وَ رسوله - خو داسي راته ښکاري چي لا خو زما په برخه نور نور سفرونه هم ليك دي"

دومره په خپلي ډائرۍ باندي نوښته کولو ورسته چي هغه دَ جنګ له ميدانه دَ يو تښتېدلي عسکر په شان څنګه دَ فلېټ دَ دروازې په لور ګامونه اوچت کړو ، نو يې دروازه خلاسولو سره سم داسي هم وَوئېلو ..

" لعنت لېږم په داسي ميني باندي "

او بيا چي يې بيرته دروازه له دباندي غولپ کړه ، نو يې لاس په آخيري ځل دَ خپلو ارمانونو وَ هغه ځلي ته پورته کړو ، چي دَ هغه دَ درست ژوند دَ مړو ارمانونو په قبر باندي ولاړ وُ - هو ..څو غټې اوښکي په رخسارونو باندي تويولَو سره سم يې په سرې ساه کي دا دوه توري هم مل کړو..

" خدای دي عمر دراز کړه اې دَ فرعونانو سر فرعوني وسا "

دومره وئيلو ورسته په پوړيانو باندي لاندي هغې مځکي ته کښته شو - چي فرعونان يې نه يوازي زېږولي دي ، بلکې په هر دور کي يې روزلي هم دي -

_ 4 _

دلته سپلاني په مات زړه دې وخت دَ مقعطم په کارنيچ باندي دَ وسا بې وفائي او ظلم ژړَولو او هلته له لومړي ماښامه تر دې دمه ، چي ګهړۍ دَ شپې يولس بجاولې لا هم په يوه نا يوه بهانه باندي ډاکټر وسا پارټۍ ځکه ځنډَوله ، چي کېدلی شي سپلاني ورته راشي - که څه هم څو ځله يې منوېلا او ډاکټر پُو ته په پټه خواست هم دَ سپلاني دَ راوړلو کړی وُ ، خو هغوئ ځکه نه شو ورتللی ، چي نن ماښپښين سپلاني وَ دې ټولو ملګرو ته ليکه کش کړې وه ، چي ..

" که هغه خپله دَ ده وَ بللو ته نه راغله ، نو ګورئ ګورئ چي زما په لور رانه شئ .. ګني زه به دَ عمر سلام درڅخه بند کړم"

او بيا چي به چا هم له ډاکټر وسا څخه دَ پارټۍ دَ ځنډولو حال وکړو ، نو هغې به ورته په مړې موسکا کي وئيلو ، چي ..

" له ښاره زما يو کزن راتلونکی دی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې یوې نیمې پېغلې خو لا دَ سپلانې دَ نه راتګ پوښتنه هم ورڅخه وکړه ، خو دې کبرجنې وسا به په ځای دَ څه وئیلو ورته اوربې داسې وَ ځنډ لې لکه هغه چې یې هیڅ باك نه همخ کوي -

لنډه دا ، چې اوس زیاته ملګرې دیغېد لو لګیا وُ، نو ځکه خو وسا هم په زړه باندې کانې کښېښېدلو او ماته یې وَ منله - له منوبلاﻤورتې سره سمه دباندې راختلو ورسته چې ځنګه دَ سپلانې دروازې ته وَ درېد له، نو په دروازې پورې راټال غولپ یې زړه داسې دړې وړې کړو ، چې دروازه یې ابله په لغتو وینښتلو ماته نه کړه - او بیا یې دَ منوبلا په اوږه باندې سر ږد لو ورسته دومره په ارمانې سُلګئیو کې وَژړلو ، چې منوبلا هم ورسره سمه په ژړا سر شوه -

هغوئ چې ځنګه دباندې وَ ځنډېد لې ، نو ډاکټر پُو او بېسنك پوهی شولو ، چې ماملہ سمه نه ده - نو ځکه چې ورپسې وَ وتلو، نو څه ګوري ، چې وسا او منوبلا دَ سپلانې دَ فلېټ وَ بندې دروازې ته ولاړې دې او ژاړې -

" نو دَ دې مطلب دا دی ، چې هغه چرته وتلی دی؟ "

ډاکټر پُو لا دا خبره سمه سوال کړې نه وه ، چې وسا دَ ماشومې انجلۍ غوندې داسې په باغارو شوه چې دَ هغه او بېسنك په سترګو کې هم اوښکې په جرګه شولې -

" داسې نه چې دَ خلګو له مخه تماشه شو .. "

منوبلا دومره وئیلو ورسته خپلې اوښکې پاکې کړې او له ډاکټر وسا سره یې په ګډه چې په فلېټ کې بیرته ګامونه ځنګه ږد لو ، نو پُو او بېسنك هم ورپسې لنډ وره غلو او په یوه صلاح باندې یې ژغ پورته کړو ..

" هېپې برتهـ ډې ټو یُو "

او له دې سره سم ملګرو له یو بل سره ژغونه دَ میوزیك په زېر وبم کې سمَولو په نیت فلېټ چې ځنګه په سر واخیستلو - نو هلته سپلانې هم دغه وُ ، چې دَ پلا زې په پوړیانو کې دَ منوبلا دَ فلېټ تر دروازې پورې راورسېد لو - خو په ځای ورته دَ ننوتلو یو دم ورسره جوخت خپل فلېټ دروازې ته ځکه ورغبرګ شو ، چې دَ منوبلا له فلېټه یې راتلونکې ژغونو پېښې په هغه لور له پورته کېدلو څخه قاصرې شوې وې - هم په دې خو یې چې ځنګه غولپ خلاس کړو ، نو دَ هغو ژغونو له ردم سره سره یې سم ژغ پورته کړو او په خالې لاس خپل فلېټ ته داسې ننوتلو لکه هغه چې کور نه .. دَ هغه ګور وي ، له تیارو ډك ګور -

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هېيي برتهـ ډې ټو يُو .. هېيي برتهـ ډې ټو وسا .. وسا وسا وسا "

او بيا يې دَ وسا وسا وسا له تکرار سره سم دَ ماشوم غوندي دَ ورستي ځل دپاره په خپلې يکړۍ باندي له داسي کُوټلي احساس سره مل وَ هم ژړلو ، چې ګني ..

" هغه بيا يوازي شو - هو ، همېش همېش دپاره "

.. هم ځکه خو يې بيا په وړو وړو سُلګيانو کي له خپل زړلي او کُوټلي زړه څخه داسي ګيله هم وکړه

" اې زړګيه .. دا څېرې چي هر ځل تا غولوي به دي ترکومه پوري کچکولی کوي ؟ ښه به نه وي ، چي دا کچکول دي مات کړي"

او بيا يې لاس دَ خپل زړه دَ ارمانونو دَ جنازې او دَ هغې وسا په لور پورته کړو ، چي دَ هغه له خياله يې دي وخت داسي په دربې او خرپې باندي دَ زوکړې پارټۍ بې له هغه چا لمانځل کېد له ، چي هغې ورته څو هفتې مخکي دَ " ژوند ملګرى " نوم ورکړى وُ - نو ځکه خو هغه په دَعا کي وئيلو ..

" که به دا وخت هم دَ قبولو وي ، نو لويه ربه .. وسا په خپل ژوند کي وسا کړې ، که څه هم زه پرې وسا نه شوم او نه زما ستړيا پرې وسا شوه - خو ستره خدايه .. ته يې په خپل امان کي وَساتې - ته يې مه خوږَوې .. ته يې مه ځورَوې .. ته يې مه کړَوې ..هو ته يې خوشاله لرې ، خوشاله لري ، خوشاله لرې ... "

او دَ وير په داسي ګردان هغه سبلاني چي تر پرونه وَ وسا ته څومره هوسېد لو .. نن يې دَ هغې وسا په نوم کرکه چي په ورستي ځل په ډائرۍ کي ليکله ، نو توان يې په بدن کي فقط دومره پاته شوى وُ ، چي دَ خوني تر پلنګ پوري يې ابله ځان وَ رسولو او دَ يو ې شهيدي مورکۍ پاته شوي ماشوم په رنګه په نرئيو سُلګيانو کي لاړو ويده شو-

بل اړخ ته که څه هم دَ منوېلا په فلېټ کي دَ وسا دَ خوشالۍ په نوم يوه غوغا جوړه وه ، خو دَ هغې په زړه يو خداى خبر وُ - يوې خواته يې که دَ سبلاني په نه راتګ زړه مات شوى وُ ، نو بلې خواته يې په سبلاني باندي تر اوله زياته مينه هم ځکه راتله ، چي هغې يې دا پېښتني هوډه دَ خپل ښه او محفوظ ژوند ضمانت ګڼلو - نو هم ځکه چي کله پارټۍ سرته ورسېد له ، نو وسا وَ منال ته دَ منوېلا ، سوپيس او يو څو نورو پېغلو وَ مخي ته په ډاګه داسي وَ وئيلو ..

" چي زه يې دَ هغه وَ دې ننۍ ظالمي روئيې ته پام کړم ، نو زړه مي غواړي چي دا سبلاني مړ کړم او غوښې يې اومې وَ خورم .. خو بيا چي يې دې کلکي هوډې ته ځيره شم ، نو وايم چي اوس اوس ورشم او په پښو کي يې وَ رغړېږم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه خو منال او منوېلا ورباندي له ډېره رشکه چي " واو" له خلو ورته وتلو ، نو سوپیس سم دستي ورباندي داسي وار په پسخوندي موسکا کي وکړو ..

" دا سپلاني ، تاسو اوس په مئینانو کي ګڼئ - که هغه مینه کولی ، نو اوس به هغه دلته دَ ډاکټر وسا له څنګه ولا ړ وی او له دې سره به یې خوشالي ګډَ ولی "

خبره که یې څه هم بده نه کوله ، خو وسا ورباندي داسي خله پرې کړه ، لکه هغې چي سپلاني ته نه ، بلکې وَ دې ته بد رد وئیلي وي - مخته بیا دَ هغوئ دواړو تر منځه لږ یا ډېر غال شوی ، خو دا خبره نن په دې پارټۍ کي هر یوه تسلیم کړله ، چي وسا په سپلاني پسې مري -

ګوا نن وساعربلور دَ ظالم فرعون سنیفرو دَ هغې خوني کشي فرعوني راڼۍ هیتیفېرس په بڼه نه ، بلکې دَ هغې بلي پېغلي هیتیفېرس په رنګ کي رنګېدلو ته جوګه شوي وه ، چي په درست فرعوني تاریخ کي یې دَ یوې عادلي ښځي په څېر دَ انصاف تول دَ هیچا په حق کي ناحقه دروند نه شو او نه یې خپل خواخُوږي نر عادل ملګري کادیپ ته کله په زړه کي خیره پیدا شوه - هرڅه هرڅه ،خو توپیر په هغې او دې ښځي کي دا وُ ، چي هغې دَ میني دَ تقاضو په سمه هري ماتي ته غاړه په نره ږد له او د لته وسا وه ، چي که یې څه هم په سینې کي دَ غوښي زړه درلودلو ، خو خپلو کبرجنو روئیوکانۍ ته مونوَله -

که څه هم دَ پارټۍ ورسته منوېلا او ببسنك په ګډه ورته وئیلي وُ ، چي اوس لا سپلاني په خپل فلېټ کي دی - که یکړه نه شي ورتلی ، نو هغوئ به ورسره ملګري لاړ شي - خو هغه وه ، چي دَ ماتي خوړلو پرته یې هم ننواتی نه خوښَولو او بیا بیا به یې هغوئ ته وئیلو ، چي ..

" که څه هم نن سپلاني ډېر بد وکړو ، چي نه راغلو - خو هغه به سهار وَ سپلاني ته لاس ضرور وړاندي کړي او بیرته به یې خوشاله کوي"

خو بلي خواته سپلاني له ځان او جهانه بې خبر یو ځل بیا دَ خوبونو په ټاپوګانو کي دَ وسا شاپېرۍ په لټون پائڅې پورته کړي وې او ورپسې له نوُ لاکن ببخي ستړو هیلو سره ولاتونه کچلو لګیا وُ -

*****

## فصل ۹

# دَ حُوري په خلې کي دَ مار غاښونه

" ته ولي برایه شپه دَ وسا وَ پارټۍ ته نه وې راغلی؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" زه خبر نه وم او نه چا راته بلنه راکړې وه"

سپلاني چې دَ روسۍ پېغلې ایرینا په څوب کې داسې په مات زړه وَ وئیلو ، نو ورسره ولاړې دې بلې روسۍ ملګرې نستان ورځخه ډېر په حېرانتیا تپوس وکړو ..

" لاکن نو بیا څله په هغې پارټۍ کې خلګو ستا په نه راتلو افسوس کولو "

" کومو خلګو ؟ "

" هغه ، چې په تا پسې مرې "

" هیڅوك په ما پسې ده مرې - دا هر څه ټوکې دې - حقیقت دا دی ، چې زه یوازې یم او بس "

خو هغه روسۍ پېغلې وې ، چې دَ سپلاني په خبرو یې باور نه کولو او بیا بیا یې ورته وئیلو ، چې ..

" ته دا خبرې دَ زړه برسېره کوې .. موږ پوهېږو "

لاکن حقیقت دا وُ ، چې سپلاني نن هر څه شاته غورځولې وُ او ځان یې یوازې ګڼلو - خو بیا هم تر اوله زیات ورته ملګرو په سې ډې سې کې ځکه کتلو ، چې هغه برابه شپه په خپل نه راتلو باندې چې کوم زړه دَ ځان په نامه نوښته کړی وُ - هغه دَ هر چا له قوله له کانړو جوړ وُ - خو هغه په دې نه وُ خبر او په خپل حال کې په ظاهره مست او په اندرون کې زرې زرې برېښېد لو - ځکه خو به یې کله کله له ځانه پوښتنه وکړه ...

" دا نن راته څله هر څوك داسې په برګو ګورې ؟ "

او بیا به یې دَ څوب په ځای له ځان او جامو سره شاوخواته ښه په دې وکتلو ، چې چرته څه شیان خو نه دې پرې نښتې او یا یې شرټ چپ اغوستی دی - خو بیا چې به یې ټول شیان په خپل حال کې سم وَلید لو ، نو به یې په ځان دَ لېوني ګمان وَ شو - ځکه خو هغه په لومړې سهار بیا خپل فلېټ ته په دې رسېدلی وُ - چې هغه وېرېد لو ، چې چرته داسې حرکت نه وکړې ، چې بیا له چا سره دَ سترګو ملا ولو پاته نه شې -

خو بلې خواته ډاکټر وسا وه ، چې په سپلاني پسې لېونۍ لېونۍ غوندې په سې ډې سې کې ګرځېد له څه؟ چې یو وخت له هغو روسۍ پېغلو سره هم مخامخ شوه ، چا چې نن سهار دَ سپلاني په ښه قسمت ویار او دَ وسا په بې حسۍ افسوس کړی وُ - نو ځکه خو پېغلې نستان ورځخه دَ هغې دَ کړاو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باب تپوس کولو ورسته چي دَ سپلاني حال تېر کړو ، نو هغه نیمه هم نه شوه پاته او په منډه یې تر منوېلا پوري ځان وَ رسولو - که څه هم هغې دَ سپلاني په باب دَ ناخبرۍ ذکر ورته وکړو ، خو ډاکټر پُو ورته وئیلو ، چي هغه نن سهار سپلاني په فلېټ کي په لومړي ځل دومره زیات ماښجن لیدلی وُ - چي دَ هېلو های پرته یې خبره لا نه شوی ورته کولی -

" هو ، دغسي راته اوس اوس نستان او ایرینا هم وئیلو ، چي هغه نن په حال کي نه وُ "

" نو بیا خو موږ ته په کار دي چي وریسپ وګرځو ، چي هغه چرته دی او څنګه دی؟ "

منوېلا چي څنګه داسي خبره وکړه ، نو ډاکټر پُو ورته وئیلو ..

" دَ پرېشانۍ هیڅ ضرورت نه شته ، دَ کلرکي ابمن له قوله هغه دَ چټهۍ درخواست دَ هغې په دفتر کي جمع کړی وُ سهار"

" دَ چټهۍ درخواست ؟ "

دَ وسا له خلې دا خبره داسي نابېره وَ وتله ، لکه دَ هغې چي دا یقین شوی وي ، چي سپلاني لاړو والوتلو دَ خپل وطن په لور - هو . لکه هغه بله ورځ چي ملګرو ورته دَ هغه دَ بیرته تګ په باب خبري کړي وې - خو ډاکټر پُو نه غوښتلو چي دا دي په هغه سپلاني پسې نوره پرېښانه شي ، چي برایه یې په نوم شوي وه - نو ځکه یې ورته دلاسه ورکولو دپاره وَ وئیلو ..

" زما یقین دی ، چي هغه په فلېټ کي دی "

" هو ، زما هم دغه خیال دی "

منوېلاچي هم دَ هغه له ګمان سره خپله رائي حتمي غوندي وړاندي کړه ، نو پُو دَ وسا دَ تنګولو په نیت هغې منوېلا ته سترګه وهلو ورسته ورته وئیلو ..

" وایه وسا.. اوس به یې څنګه خوشاله کوې ، هغه خو دَ چا خبره لا نه اوري "

" دا څه ګران کار نه دی .. سړی چي کاڼی هم شي ، نو به یې هم ښځه داسي په یو څو موسکاګانو باندي ویلي کړي"

دَ وسا په ځای چي منوېلا ګُوتي کړچَولو سره سم څنګه داسي خبره وکړه ، نو که څه هم هغې یې په موسکا کي تائید وکړو ، خو ډاکټر پُو ورته وئیلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغه هم سپلاني دی .. له کسته ډك سپلاني - ښه دی ، نو بیا به وګوروچي څه کېږي؟ "

وسا چي دَ هغه دا خبره واورېد له ، نو يې په زړه کي دې ويري ځای وَنيولو ، چي چرته واقعي هغه داسي نه وکړي - او بيا يې که څه هم چاته دَ زړه حال نه وئيلو ، خو دَ سپلاني وَ ليد لو ته يې نه يوازي نپس ختلو ، بلکې دَ ليد لو دپاره يې ورته بهانې هم غوښتلې -

**_ 2 _**

" زه غواړم ، چي ما او تا نن سره وَ وينو "

" لاکن کله او چرته؟ "

په ټېليفون باندي دَ سوپيس دَ سوال په ځواب کي چي څنګه سپلاني داسي وَ وئيلو ، نو هغې ورته وئيلو ..

" زما په فلېټ کي نن ماښام شپږنيمي بجې "

" ستا په فلېټ کي؟ "

" هو ، زما په فلېټ کي "

" لاکن که مور يو بل ځای سره وَ وينو ، نو "

اوس به لا سپلاني نور څه وئيلو ، چي سوپيس فون بند کړو او هغه هېلو هېلو کولو ورسته چي څنګه دوې غټې شکنځاګاني له خلې وَ وتلې ، نو يو دم ډاکټر پُوهم سترګي موړلې او له خپلي خوني راوَ وتلو ..

" سپلانيه .. خېر خو دی ؟ "

" خېر خو نه دی "

" څوك وُ په فون باندي ؟ "

سپلاني دَ پُو په دې خبره باندي ځان اچولو ورسته ګهړۍ ته وکتلو او بيا واي ..

" ځه .. تر اوسه لا يوه ګنټهه پاته ده "
.. او بيا يې دَ پُو په خوا مخ اړولو ورسته ورته وئيلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

" بخښنه غواړم .. زما له وجي به ته ډېر په تکلیف شوی یې "

" دَ چیشي تکلیف؟ "

هغه په موسکا کي داسي لا سم وئیلي نه وُ ، چي سپلاني ورته واي ..

" که زه تر تا له مخه باتهـ روم ته لاړ شم نو ... "

" په دې کي دَ پوښتني څه خبره ده؟ "

او بیا چي تولیه په لاس کي هغه وَ باتهـ روم ته ځنګه ننوتلو نو پُو په زوره په اعلانیه انداز کي ورته واي ..

" نن په اووه نیمي بجې هغه راځي د لته؟ "

" څوك راځي ؟ "

سپلاني چي دَ باتهـ روم له دنني دروازه بندَولو سره سم پوښتنه وکړه ، نو هغه په خپل مخصوص انداز کي خپړي ټکولو ورسته مخته خبره کش کړه ...

" ښه ښه.. اوس ګرسره خلګ نه پېژنې "

" خلګو زه کله پېژندلی وم ؟ "

مخته که بیا هغه هیڅ هم نه وئیلو ، خو ډاکټر پُو وُ ، چي په زوره زوره یې دا خبره تر غوږو پوري ور وَرسوله لګیا وُو چي ..

" هغه له تا سره مینه کوي مینه ... پوهی شوې که یَه شاعره ؟ "

" مینه ؟ "

هو ، دا هغه یوازینی توری وُ ، چي سپلاني ورباندي څوکه غوندي وَ موسېد لو او له ځان سره داسي بُونېد لو ورسته یې هغه دَ برایه شپې دمامې چي په زړه شولې ، نو یې غوښتلو ، چي په چیغو چیغو دَ داسي میني په نوم دَ دُنیا جهان کرکي ټولي وَلیکي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ تیارېد لو ورسته چي سپلاني دَ دروازې په لورګامونه اوچت کړو ، نو يې ډاکټر پُو ته دَ هغه دَ خواهش په سمه له وسا سره دلته دَ ليدلو په ځواب کي په رډه وَ وئيلو ..

" زه تا او منوېلا دواړو ته دا خواست کوم ، چي وسا پرېږدئ خپلي خوښي ته - هغه نور هيڅ نه .. يو شو پيس دی - مينه دَ هغې دَ وس خبره کله هم نه شي کېدلی"

او بيا چي له دروازې دباندي وتلو ، نو يې په خلاسه دروازه کي دَ خدای په امانۍ کولو له مخه بيا دغه خبره ورته په ژړَغوني ژغ تکرار کړه ، چي ..

" ملګرئيه پُو.. هغه فقط شو پيس دی او شو پيس انسان نشي کېدلی - بس زما له خوا دغه ورته وايه ، چي ما دي هېر کړي"

او بيا په سترګو کي راغونډو شوْ اوښکو سره ملګری چي ځنګه وَ وتلو ، نو ډاکټر پُو هم څو غټي اوښکي په لومړي ځل دَ فرعونانو و دې خاوري ته له ځان سره په داسي بُونېد لو وَسپارلې ..

" دا څنګه الميه ده ، چي دواړه له يو بل سره مينه هم کوي او کرکه هم "

_ 3 _

" سپلاني چرته دی ؟ "

فلېټ ته را ننوتلو سره سم چي څنګه منوېلا مورتي پوښتنه وکړه - نو ډاکټر پُو هم دَ سوال په ځواب کي بيرته له هغې پوښتنه وکړه ..

" ولي خبر خو دی ؟ "

" هو ، خبر دی .. هغه وسا راغلي ده او زما په فلېټ کي ناسته ده "

دَ پُو له خوا چي څنګه ځواب وَځنډېد لو ، نو هغې مخته وئيلو ..

" زما خو دا خوښه ده ، چي دَ سپلاني او وسا روغه زما په فلېټ کي وکړو ، او ... "

" ستا خبره درسته ده ، لاکن "

" لاکن څه ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ منوېلا دَ خبري پرې کولو ورسته چې څنګه ډاکټر پُو " لاکن " وَ وئیلو ، نو هغې په فلېټ کي شاوخوا کتلو ورسته له پوښتني سره سم سېلاني ته ژغ وکړو . .

" سېلانیه ..هې سېلانیه .. چرته یې ؟ "

" هغه نه شته .. نارې مه پسې وهه "

" هغه نشته ؟ "

" هو نشته "

له دې سره سم ډاکټر پُو ورته ټوله کیسه تېره کړه او لا یې داسي هم ورته وَ وئیلو ، چې سېلاني له وساڅخه دومره زړه مات شوی دي ، چې ګرسره یې هغه په سترګو باندي هم لیدل نه غواړي - ځکه خو زما دَ بیبخي ضد کولو پرته هم نشو تم - بیا که هر څو منوېلا له پُو څخه دا ګیله کوله ، چې ..

" هغه څله سېلاني دباندي وتلو ته پرېښولو ؟ که څه هم هغه ښه خبر وُ ، چې وسا به نن ورته راځي "

.. خو ډاکټر پُو به ځان له ملامتیا څخه داسي خلاسَولو

" ته خو دا وایې ، چې هغه دي ولي نه ویسارَولو ..خو زه بیا دا وایم ، چې هغه په دې لا هم نه دی خبر چې برایه شپه په پارټۍ کي وسا دَ هغه دَ ضد په وړاندي ماته خوړَلي وه"

" Come on Mr. Po "

منوېلا دَ حېرانتیا داسي اظهار کولو ورسته له پُوڅخه دا ګیله وکړه ، چې هغه ولي نه وُ ورته وئیلي ؟ دا خو دَ هغه ذمه واري جوړېد له ، چې سېلاني یې خبر کړی وی - چې برایه شپه وسا دَ ټولو له مخه له هغه سره دَ میني کولو اعلان کړی وُ - لاکن ډاکټر پُو یوې بلي خواته سر ښورَولو ورسته ورته وَ وئیلو ..

" منوېلا .. ته یقین وکړه ، چې ما څو ځله هڅه وکړه ، چې ورته وَ وایم - خو خبره دا ده ، چې هغه له ماسره لاهم اوس په سمه خله خبري نه کوي او نه دَ وسا نوم اورېدل خوښوَي"

ملګري پُو چې تر دې ځایه خبره را وَرسَوله ، نو دَ فلېټ دروازه په خرپ خلاسه شوه او ډاکټر وسا له پېغلي التانګریل سره په ګډه په دروازه کي وَ درېد له او په هغو دوُ باندي یې داسي ژغ وکړو ..

" راځئ راځئ ..ستاسو ګران ملګری سېلاني دې وخت دَ سوپیس سره دَ هغې په فلېټ کي ناست دی "

" داسي چا درته وَ وئیلو ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر پُو چي دا پوښتنه په حېرت کي وکړه ، نو پېغله الټانګريل واي ...

" ما ورته وَ وئيلو .. ولي چي نيمه ګنټهه مخکي ما هغه په خپلو سترګو وَليد لو ، چي دَ سوپيس دَ فلېټ په خوا روان وُ"

او بيا يې په خپل ځانګړي انداز کي خندلو ورسته دا خبره لا هم وکړه ، چي ...

" سپلاني نن ډېر ښکلی سوټ اغوستی وُ او ډېر سمارټ ښکاره کېدلو "

منګولين پېغلي الټانګريل به لا نور څه وئيلو ، چي دَ وسا سترګي يو دم سرې وا ويښتلېګ او له ډېره خشمه شاته غبرګه څه شوه ؟ چي په عربۍ کي له ګڼېد لو سره سمه په نه ساعت کي دَ منوېلا وَ فلېټ ، چي په دوه ګامه باندي وُته دننه شوله - نو ځکه بيا ورپسې منوېلا او پُو هم په منډه وره غلو - خو الټانګريل ځکه نه ، چي هغه پوهه شوه ، چي هغې غلط کار وکړو - نو په دې خو يې ورڅخه اجازه اخيستلو ورسته لاندي په پوړيانو باندي ژر ژر کُوزېدل شروع کړو -

مخته څه وُ ؟ دَ منوېلا په فلېټ کي که يوې خواته منوېلا او دَ هغې دَ مېړه پرته ډاکټر پُو څه ، چي دَ بېسنك سره سره دَ هغه وړو لوښو يې لا هم وَ ډاکټر وسا ته دلاسې ورکولې - خو بلي خواته وسا وه ، چي اوښکي يې نه تم کېد لې او ګوره چي څه يې ګڼلو ؟ دا .. چي هغې سپلاني دَ همېش همېش دپاره وَ بائيلولو او که دا .. چي سپلاني له هغې سره ډېر بد وکړو نو ځکه به هغه زياته دَ نبي سلام لا هم ورباندي نه اچَوي ؟

دَ وسا په زړه کي څه وُ ؟ دې سوال ځانته ځواب په دې نه کړو حتمي ، چي هغه چپ وه .. بس تشي اوښکي وې ، چي يې له سترګو څخه څڅېد لې لګيا وې -

_ 4 _

سپلاني چي څنګه په شپږنيمي بجې مازيګر لا سمه ګوته په ډور بيل باندي ايښي نه وه ، چي يوه حُوره په تهائي جامو کي پټه ورته دروازې ته راغله - يو ځل خو لا دَ سپلاني په زړه کي راغلو ، چي چرته هغه خو غلط فلېټ ته نه دی ولا ړ - خو بيا چي يې دَ سوپيس ژغ تر غوږه شو ، نو حق بق څه پاته شو ، چي دَ ننوتلو په وخت يې دَ فلوريتا پوښتنه چي څنګه ورڅخه وکړه - نو هغې سپلاني تر لاس نيولی دننه بُوتلو او په ډېره خوږه لهجه کي يې ورته وئيلو ..

" ډ ئير وېرېږه مه ، خورم دي نه .. زه هم هغسي انسان يم لکه ته او ستا وسا چي ده "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بيا يې په ټې وي لانچ کې کښېنولو ورسته ورته تهائي کلتوري سوغات او مشروبات مخې ته داسي کښېښودلو ، لکه هغه آدم زاد چي دې تهائي شاپېرۍ له ځان سره تهائي لېنډ ته وړی وي - نو ځکه خو يې غوښتلو ، چي هره هغه تنده پرې ماته کړي ، چي دَ نني تهائي کلتور ويا ړ بلل کېږي - خو سپلاني که څه هم حسن پرسته شاعر وْ ، خو دَ وسا سره دَ کړي پښتني بول په سمون يې دَ بل په لور نه شو کتلی - نو ځکه خو يې په حېرت باندي له تهائي سوپيس څخه پوښتنه وکړه ..

" دا هر څه .. څه دي سوپيس؟ "

" دا هرڅه ستا دَ وژلو اهتمام دی ، نور هيڅ نه دي "

" لاکن دا ځان دي څله تيار کړی دی؟ "

.سپلاني چي له تندي خولې وچولو ورسته دا تپوس ورڅخه وکړو ، نو هغې په موسکا کي وئيلو ..

" دَ هر چا دَ وژللو خپل خپل انداز وي او دا زما دَ انتقام اخيستلو انداز دی "

" انتقام ؟ لاکن تا خو دا وعده کړي وه ، چي ... "

" هو ، انتقام انتقام "

که څه هم هغې دَ انتقام توری دوه واره تکرار کړو ، خو دَ خشم په ځای يې هوس په سترګو کي وَ سپلاني ته څه ورڅرګند شولو ، چي هغه يو دم ورته ځان پښتون کړو او په لوړي ځل يې په نره داسي ورته وَ وئيلو . ..

" ګوره .. دا هر څه چي ته کوې ، هغه ښه نه دي او بل را واخله چاړه .. که مي وژل غواړې ؟ "

" چاړه خو به تا مړ کړي او زه تا په داسي اسانه وژل هم نه غواړم "

" نو بيا زه ولاړم "

" ته نشې تللی ، ولي چي ته وسا خپلول غواړې او دَ وسا عزت څه ، چي ژوند لا هم زما په لاس کي دی "

دومره وئيلو ورسته هغې په لوړي ځل داسي په کلکه وَخندلو ، چي دَ سپلاني زړه په رېږدېدلو شو - خو بيا يې هم غېرت سره را يو ځای کړو او سپك پورته شو - لاکن هغې بيرته کښېنولو او په سترګو کي يې سترګي ورته اچولو په وخت ورته په مکرجني موسکا کي وَو ئيلو ..

" هغه ورځ ځله په ځای دَ شاکېد لو مخ مخته مخته کېد لې ، چي دا نن تښتې "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لاکن هغه خو هم ته وې "

" او نن خو نو هم زه یم ، نو څله شاشا ته کېږې ؟ "

سپلاني هم دَ هغې په دې خبري بیرته کرار شو ، او دَ څه سوچ کولو ورسته یې ورته وئیلو ..

" که خبره تر هغه هانده ده ، نو بیا خو "

" یَه خبره تر هغه هانده هم زیاته شوي ځکه ده ، چې ماته دي دَ خپلو کړو سزا لا هم راکړي ده "

سپلاني په حېرت ورڅخه تپوس وکړو"

" څنګه سزا ؟ "
" ولي ستا ډاکټر وسا او زما تك تور بُوباجوُف لا سزا نه ګڼي ته ګ؟ "

" زه پوهـ نه شوم سوپیس "

او له دې سره سم هغې ورسره په رېك باندي پرتې ډائرۍ ته لاس کړو او هغه ته یې ورکولو په وخت ورته وئیلو ...

" دا ګوره .. ما په دې ډائرۍ کي څه لیکلي دي؟ "

سپلاني چي ډائرۍ خلاسه کړه ، نو په اوله پاڼه باندي یې لیك وُ، چې ..

" نن له ما سپلاني په دې خبري انکار وکړو ، چې هغه تر ما ښائسته پیدا انجلۍ کړه "

دا فقره په زوره وئیلو ورسته سپلاني ورته وئیلو ...

" ما او تا خو دوستي کړي وه ، مینه نه "
هغې وئیلو ..

" ځه .. مخ مخته یې لوله "

او په دویمه پاڼه باندي په سره مارکر نوښته وُ ، چي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" يو دم دومره کرکه؟ چي که يې دغسي پرېږدم، نو زما دَ ذات نفي به وَشي او زه نه غواړم ، چي زيرو شم - آخير زه هم ښځه يم"

دغه رنګه چي څنګه څنګه سپلاني دَ هغې دَ ډائرۍ پاڼي مخ مخته اړَولې ، نو هغسي يې دَ هغې دَ انتقامي جذ بو شدت ورته څرګندېد لو - او کله چي يې ورستۍ پاڼه را واړَوله ، نو په هغې باندي دَ نن دَ نېټې او وخت په سمون داسي ليك شوي وُ ...

" ما فېصله کړي ده ، چي نن به سپلاني دَ خپل کست په سمه خپلي ځواني ته داسي لوګی کوم ، چي وسا ته له ځان سره اېرې يُو شي .. اور نه"

سپلاني چي دا فقره څنګه وَ لوستله ، نو په بدن کي يې دَ وېري يوه څپه وَځغلېد له او په مړو يې وَ سوپيس ته چي څنګه سترګي دَ بخښلو دپاره کچکول کړې ، نو هغې په مکرجني موسکا کي ورته وَ وئيلو ..

" دا خو ما په ډائرۍ کي ليکلي وُ - وايه .. اوس هغه نه ګورې ، چي تا کړي دي؟ "

" ما کړي دي .. لاکن ما څه کړي دي ؟ "

دومره يې سم نه وُ وئيلي ، چي هغې درې عکسونه له ليري يو په يو ورته ښکاره کړو ، په کوم کي چي يو دَ " هېلو پوليس قاهرو" هوټل دَ خوني هغه عکس هم وُ، چي سپلاني يې تر دې دمه ورباندي بلېك مېل کولو او نور دوه خو هغه عکسونه وُ ، چي څو ورځي مخکي يې دَ منګولين پېغلي التانګريل دَ زوکړي په پارټۍ کي باسلي وُ -

" په دې کي خو يو هم داسي دَ اعتراض وړ عکس نه شته ؟ "
عکسونو ته په ښه غور کتلو ورسته سپلاني وَ موسېدلو او بيا يې مخته خپله وئيلو ..

" زه خو ابله پېبله له تا تر اوسه پوري وېرېد مه او بل دا لومړی عکس خو هم ستا دَ اُستادۍ نتيجه دی"

" لاکن يې خو له ما سره او زما په خوني کي "

" هو ، دا خبره دي منم "

بس دغه خو هغه سوال دی ، چي ستا دَ ځواب نفي کوي او تا له ما سره ګنډي -ګوره .. لکه په دې "\
"\ عکس کي چي ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوپیس چي دې وخت ښځه کمه .. تهائي ډېرګون زياته مونېد له دَ هغه وَ مخته عکسونه يوې بلي خواته کولو ورسته واي ..

" دَ يو ساعت دپاره به زه دا هم وَ منم .. چي تا هيڅ نه دي کړي - لاکن دَ دې عکسونو په باب به وضاحتونه چا او چا ته کوې .. وايه ؟ "

هو ، سوپيس دا خبره غلطه نه وه کړي ، او سپلاني هم دا سنجولو ، چي هغه به څنګه او په چا او چا باندي دا مني ، چي دا هر څه حقيقت نه .. بلکې دَ ټوکو بازۍ وه -

نو هم ځکه خو نن سوپيس له دې ټولو شيانو لاس اخيستلو لګيا وه خو له بده مرغه په دومره لوی قيمت ، چي دَ سپلاني دَ وس څخه ځکه دباندي وُ - چي هغه نه غوښتلو ، چي نور نور دي دَ هغې له خوا بلبك مېل شي - ګني دَ اولي او ورستۍ تېروتني دپاره به يې لا سترګي يو رنګه ورباندي پټي کړي وی - ګوا ،که يې په رښتيا باندي دَ همېش دپاره دَ هغې تهائي ښامارېچۍ له ځامو څخه دَ داړلو ويره ختمېدلی هله - خو يَه .. هغه بې باوره وه او سپلاني ورته زړه نشو ټينګولی - نو په دې خويې له خشمه ورته په لومړي ځل دَ نر پښتون غوندي داسي ليکه کش کړه ..

" زه په تا هيڅ اعتبار نه شم کولی .. ته غواړې ، چي ما نور نور ځانته مرئيی کړې او زه مرئيی جوړېدل نه غواړم"

هغه به لا نور څه وئيلو ، چي سوپيس په خپلي مرۍ سوګند کولو ورسته ورته وئيلو ...

" دا هر څه به په خپل لاس ستا وَ مخي ته وَڅيرم .. بس که ته تر وسا له مخه له ماسره"

دا خبره چي دَ هغې له خلې دَ لاس وهنو سره سمه تر دې هانده څنګه وَ رسېدله ، نو سپلاني يو دم پورته شو او هغه يې يوې خواته ديکه کولو ورسته ، چي دَ دروازې په لور ګامونه واخيستلو ، نو يې ورته وَ وئيلو ..

" لاس دي آزاد دی .. چي څه کوې ، هغه وکړه "

او بيا که څه هم سوپيس ورپسې وَ دانګلو ،خو هغه يې بيا له لاسه وتی وُ -

*****

# فصل ١٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون جولی‌س سیزر ته دَ قلوپطره تحفه

دَ وسا او سپلاني تر منځ په دې پټ پټانو کي که څه هم دوا ړو ته ورځي شپې تر اوله لوي محسوسېدلې ، خو دَ وخت په بهیر کي تاریخونه ډېر ژر ژر بدلېدلو لګیا وُ - خو دَ دې هر څه پرته هم سپلاني دَ پریانو خولیٔ په سر له وسا څګخه په دې نه پُوهېدلو ، چي ګني هغه ورڅخه په رښتیاوُ کرکه کوله .. بلکې هغه یې دَ میني تنده نوره نوره سېوا کول غوښتلو -

نن دَ قاهره په ښار کي دَ سي ډي سي له خوا 27م انټرنېشنل سېمینار په انټرنېشنل کانفرنس هال کي لمانځل کېد لو سره سره وَ سپېشل او جنرل ډپلومه کورسونوکي بریالي شوُلوستونکو ته سندونه هم ورکول کېد لو - نو ځکه دَ سي ډي سي ټول لوستونکي هم په دې هال کي ناست وُ -

شا شا ته په هال کي له سپلاني سره په څنګ کي ناست ښېسنك مورتي ګوره چي په خپله ژبه کي دَ وسا وسا کولو په نیت څه وئیل غوښتلو ، خو هغه نه وربا ندي پوهېد لو - نو ځکه یې دَ هغه له ورې لُور فلاویه څخه تپوس وکړو ..

" فلا ویه .. دا پلا ر دي څه وئیل غواړي ؟ "

" زما پلار واي ، چي پرون ماښام ته چرته وې .. وسا راغلي وه "

دَ هغې دَ خبري ورسته به سپلاني لا اوس څه ورته وئیلو ، چي ورسره په څنګ سیټ کي له منوبلا سره ناستي راناشامیٔ په سپلاني باندي داسي ټوکه وکړه ..

" ته کوه دغسي نخرې سپلانیه "

" نخرې او زه .. دا خو ستا په رنګه چاکلېټي پېغلو سره ښاي "

سپلاني په پسخوندي موسکا کي خله ورته جوړَولو سره سم چي څنګه داسي وَ وئیلو ، نو هغه هم دَ سپېشتي په ډانګ وَختله او واي ..

" منم چي نخرې کول زما حق جوړېږي ، خو ته هم ... "

" کمي نخرې نه کوم .. ستا دَ وئیلو مطلب دا دی ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ رانا شامیۍ دَ خبري پرېکولو سم دستي چي سپلاني وار لاس ته کړو ، نو هغې يې په سترګو کي سترګي کرارَولو ورسته ورته وَ وئيلو . .

" دومره هم مه نازېږه په خپل دې نرتوب باندي ، ګني يوه ورځ به په ميدان باندي يکړ پاته شې "

" نر خو نو يم او نر چي کله نر شي نو بيا ښځي ته ګوري لا نه "

په دې خبري باندي رانا ورته غاړه راغزولو ورسته څوکه غوندي وَ پُوسکېد له . .

" مه کوه ، داسي خبري .. بيا درته وايم چي که درته په رښتيا شوم ، نو بيا به نر نه شې پاته "

" زما خو توبه ده زياته دَ ښځي له شناخته که څه هغه له اسمان راکښته شوي حُوره وي هم "

او دومره وئيلو ورسته چي هغه ځنګه لکه ماره وَ وشېد له ، نو سپلاني ورباندي دَ زړه له ډېره سوخته داسي بې ساخته وخندل، چي بيا يې تر هغو خله نه راټولېد له، چي اوښکي يې له سترګو نه شوې را ايله - او بيا مخته داسي هم چپ شو ، لکه هغه چي ګرسره ژبه په خلې کي نه لري -

لاکن چي کله دَ هغه سترګي ناڅاپه هلته ليري دَ څو نورو پېغلو په منځ کي ولاړي وسا سره څلور شوې ، نو که يوې خواته هغه په څومره تادۍ خپل فرعوني غرور دَ هغه دَ سترګو په وړاندي په عاجزۍ باندي اړَولو ته جوګه شوي وه ، نو بلي خواته دلته دې ناست پښتون سپلاني دَ خپلو ټپي شوُ جذبو له جوره دَ خپل کړي کست په سمون دَ همېش دپاره هغه وَ ځانته ښځه کولو په نيت مخ له هغې څخه څه واړَولو - چي په نه ساعت کي يې له سترګو څخه داسي په هوا هم شو ، چي ورسته بيا دَ هغې له سترګو اوښکي دَ هغو ګڼو خوندکيانو په وړاندي دَ نه غوښتلو پرته هم تر ډېره نه وې تم شوي -

نو ځکه خو په وسا باندي دا خبره ډېره بده لګېدلي وه او په دې بله ورځ يې دَ پېغلي منال په لاس سپلاني ته پېغام لېږلی وُ ، چي هغه دې نه دَ خپل سبق وخت ضائعه کوي او نه دې په داسي کولو دَ نورو له مخه دا بې عزته کوي - ولي چي دَ منال له قوله هغې دا څو کلونه ډېر په درانه انداز تېر کړي دي - او مخته يې لا دا سي حال هم ورته رالېږلی وُ ، چي سپلاني دې اوس بې غمه شي - هغه به بيا کله هم دَ هغه په لار کي رانه شي - ګوا هغه اوس خپلي مخي ته آزاد دی .. چي څه هم کوي -

" خپلي مخي ته آزاد دی ... داسي يې هم وئيلو؟ .... "

" هو ، وسا اوس له زړه وَباسه .. هغه به کله هم بيا ستا نه شي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم دا خبره چې منال کوله ، نو موسېد له ، خو په سپلاني باندي يو دم خولې را ماتې ځکه شولې چې دا دَ هغې وسا پېغام وُ ، چي غرور يې په هيڅ اړه هم تر فرعوني روئيو کم نه وُ - هم په دې خو هغه دَ وسا دا فېصله حتمي ګڼلي وه او بل يې په ځان باندي هم غصه په دې سوب ورته راتله ، چي دا هر څه خو دَ هغه دَ خپله لاسه شوي وُ - ګني وسا خوارکۍ خو ورپسې ډېري سترې کړې وې او ماته يې هم منلې وه -

اوس به هغه څه کوي ؟ دا هغه سوال وُ ، چي هغه دَ منال له مخې په نورو ټکو کې داسې واړَولو ..

" ګوا .. زه له خپلي خوا زياته له وسا سره دَ ميني باب ختم وَ بولم ، ستا مطلب دغه دی .. که زه غلط پوهی شوی يم ؟ "

" صحيح پوهی شوی يې سپلانيه .. خودا اوس په تا پوري اړه لري ، چي ته له هغې سره څومره مينه کوې او څنګه ځان دَ اشنا په توګه ورباندي منې "

دَ منال په دې خبري کي که څه هم څو واضحه اشارې سپلاني دَ وسا دَ حتمي فېصلې په باب شکمني وَ سنجولې ، خو هغه بيا هم ماتي ته ځان نه ورکولو - ولي چي پښتون وُ - نو ځکه يې تپوس ورڅخه کولو ، چي ..

" ګوره منال.. زه په ځان خبر يم ، چي زه له هغې سره څومره مينه کوم ؟ خو خبره دا ده ، چي که هغه هم واقعي له ماسره مينه کوي ، نو بيا خو ... "

کېدلی شو ، چي سپلاني لا نوره هم منال دَ ډاکټروسا په اړه ژغولي وی ، که دَ ګلوبل کورس پروګرام کوارډ ينېټر پروفېسر مجدي ، په دې نوموړي االهجوزه تهېټر کې دَ ټولو لوستونکو پام دَ سي ډي سي له خوا دَ ښه راغلي وئيلو په لور نه وی اړَولی - نوځکه منال او سپلاني هم خپلو خپلو چوکيانو ته ور چپ شولو -

په تهېټر کي نن سپلاني ډېر شاته ناست وُ ، چي څنګ ته يې دَ بوسنيا چټه سپينه پېغله ريزا ، دَ مراکو حسن او دَ تاجکستان پېغله ګل چهره هم ناسته وه - نوځکه هلته په مخامخ ستېج باندي دَ مصري کلتوري جامو او رواجونو پرته په درځنو ښېلي ډانسرانو که دَ کتونکو زړونه ټکور کولو ، نو بلي خواته دَ ملګري حسن له خوا يې دا بلنه هم حتمي کېد له چي په دې نوي کال پارټۍ کي به هغه ته دَ روسۍ پېغلو په فلېټ کي ورکول کېږي - کوم چي په څو څو حوالو دَ هغه له رويُه ډېر خوندوَر تقريب وي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن دَ کرسمس چتهي وه ، خو سپلاني درسته ورځ په ستړي کي ځکه تېره کړه ، چي نن سبا دَ هغوئ دَ لومړي سميسټر پېپران کېدلو لګيا وُ - او هغه غوښتلو ، چي نن دَ فلوريتا وَ ګفټ اېکسچېنج پارټي ته تر تګ له مخه دَ هغو دوُ پېپرانو لږ ډېره تياري وکړي ، چي په دريمه ورځ ګوا 28 دسمبر باندي کېدلو -

" انکل.. ته به چا او چا ته ګفټونه ورکوې نن؟ "

يو وخت ماشومي وينډي له خپلي خور فلاويه سره په فلېټ ورننوتلو ورسته چي دا سوال له سپلاني څخه وکړو ، نو هغه په تندي باندي څپ کولو ورسته ورته وئيلو ، چي ..

" هر هغه چا له ، چي ماته ګفټ راکوي "
" نو بيا خو وسا آنټي تاته ګفټ درکوي نن "

" ته څه خبره شوې ، چي هغه به ما له ګفټ راکوي؟ "

نو دَ هغې په ځاى يې مشري خور فلاويه وئيلو ، چي ..

" وسا پرون خپله زما وَ ممي ته وئيلو داسي"

" نو هغه به ما ته ګفټ څله راکوي ؟ ولي چي "

سپلاني چي لا داسي نه وُورته وئيلي ، چي رنا ، عقود ، منوېلا او فاطمه له يو بل سره ملګري په فلېټ کي ور دننه شولې او ټولو بيا فلېټ په سر باندي په داسي ګپو وا هم خيستلو ..

" نن که هم ته نه راغلې هغې پارټي ته ، نو موږ ټولو دا صلاح کړي ده ، چي له تا به سوشل بائي کاټ کوُ "

که به هر څو سپلاني له هغوئ څخه پوښتنه وکړه ، چي .. دَ هغه ورتګ دَ فلوريتا وَ دې پارټي ته څله ضروري دى ، نو هري يوې به په بېل بېل شوخ ځواب کي هغه تنګولو ته څه ، چي مستي راناشامي خو به لا داسي هم په خوږې خندا کي ورته وئيلو ، چي ..

" عيسائي کوُدي .. وايه کېږي که يَه ؟ "

" ظالمي .. ستا خواهش خو ستا دَ سر دُښمن لا هم نه شي رد کولى "

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي دَ سپلاني په ځای ډاکټر پُو ورته ځواب ورکړو ، نو هغه دَ خپل عادت په سمون یو وار په عربي کي څه وَ بُونېدله او بیا یې ورته وَ وئیلو ..

" وایه پُو .. دا ښه موقعه نه ده چي تا مسلمان کړو ؟ "
" خو .. که ته واده ورسره کوې ، نو موږ به یې درته په مسلمانۍ هم ست کړو "

پېغلي عقود چي څنګه دا خبره ورته وکړه ، نو رنا ګوره چي په عربي کي هغې ته څه وَ وئیلو ، چي بیا دَ دوارو خلې له خندا تر ډېره پوري نه ټولېدلې -

نه یوازي دې پېغلو وَ سپلاني ته دَ فلوریتا په پارټۍ کي دَ خامخا ورتلو بلنه ورکړې وه - بلکې احمد بابا ، ثریا او منال هم پرون دغه ضد کولو ، چي هغه به په هر حال وَ دې پارټۍ ته راځي - بلي خو اته نن له سهاره دا څویم فون وُ ، چي ورته فلوریتا څه کولو ، چي سوپیس هم دغسي سُرناګاني وهلې - لاکن ډاکټرپُو خو تیار لکه سایه ورځرمه شوی وُ -

نور خو نور ، په دې پارټۍ کي دا شرط هم په ټولو لګول شوی وُ ، چي یو به هم په دې پارټۍ کي دوې تحفې چاته نه ورکوي - او نه یوازي دا ، بلکې له تحفې سره یو لائن لیکل یا یو ډائیلاګ وئیل هم دَ خپل خوښي ملګري په نوم ضروري دی - نوځکه سپلاني هم له دغو ملګرو سره په دې مقعطم ائیریا کي وَ ګفټ شاپ ته وردننه شو او چي دباندي را ختلو نو خالي لاس ځکه وُ چي کوم شی هغه غوښتلو .. هغه دلته نه ، بلکې وَ غټ نفورا اسکوائر ته نیږدې په هغه غټ سټورکي وُ ، چي یو ځل وسا ورته ګوته نیولې وه -

**_ 3 _**

" راځه راځه .. دا زما ظرف دی ، چي لاره دي ګورم او هغه ستا ظرف وُ ، چي زه دي نیمه نه پرېښولم"

سپلاني چي څنګه دَ فلوریتا په فلېټ کي لومړی ګام وردننه کړلو ، نو سوپیس داسي وار په ډېره خوږه لاکن فرېب جنه موسکا کي وربانديِ وکړو - خو سپلاني چپ ځکه پاته وُ ، چي هغه دَ نن وَ دې ډرامې ته حېرت وړی وُ - چي هره مطلوبه څېره یې په دې محفل کي تر سترګو وړاندي کرار کرار راتله ، خو چپ له هغي څېرې چي هغه دَ همېش په شان نن هم لټوله -

" څوك لټوې ؟ "

التانګریل او روف باګېرلي چي په ګډه دا سوال وکړو ، نو هغه ورته وَ وئیلو ..

" هغه ، چي لا تر اوسه نه شته "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغه به کېدلی شي ، چي نن را هم نه شي "

دَ سېلاني دَ دې خبري په ځواب کي چي کله داسي توري ایمرانشا او ډاکټر تفېرا په خپلو خپلو افریقن لهجو کي وَ وئیلو ، نو هغه دَ منال څخه په لومړي ځل دَ هغې دَ راتګ په باب داسي تپوس کړی وُ ..

" وسا به دې پارټۍ ته نه راځي که څه ؟ "

خو هغې ورباندي نه یوازي خندلي وُ ، بلکې دا یې لا هم ورته وئیلي وُ ، چي . .

" له ځانه تپوس وکړه - تا په هغې کي پرېښي څه دي .. چي هغه به راځي دلته؟ "

که یې څه هم دا خبره وَ سېلاني ته په ښېخي نرمه لهجه کي وکړه ، خو هر توری یې دَ سېلاني په زړه لکه -غشی وَلګېدلو -

ګوا په پارټۍ کي هر ملګری ترخپل وس زیات هوسېدلو او دَ مسافګرۍ غمونه یې له یو بل سر په خنداګانو سپکولو ، خو یو سېلاني وُ ، چي دې وخت لکه خلائي مخلوق له هر ښکاره څیز پرته هم په خیالي ګودرونو باندي ګرځېدلو او هغه څېره یې لټوله ، چي دَ هغې دَ ګراني خوندکۍ منال له قوله ...
" هغه په کي هیڅ نه وُ پرېښي"

څو ځله لا هغه دا سوچ هم وکړو ، چي له دې پارټۍ وتښتي او نبغ دَ هغې وَ هاسټل ته ځان دَ یو ملنګ غوندي وَ رسوي او یا یې دَ درست مصر له فرعونانو څخه په چیغو چیغو وَغواړي - او بیا لیري بیخي لیري لا ړ شي ، چي چرته نه سوپیس وي او نه بله وېره -

اوس دَ ګهړۍ ستني هم زیاته ماځُستن یولس بجو ته رسېدلي لګیا وې ، خو چپ له ډاکټر وسا ، نور هر څوك په دې پارټۍ کي موجود وُ - نو ځکه فلوریتا پورته شوه او په ډېره مینه یې دَ ملګرو شکریه په دې خبرو کي ادا کړه ، چي ..

" زما خوږوملګرو.. وَ دې پارټۍ ته دَ راتګ دپاره ډېره مننه - څوك چي راتلو ، هغه راغلو او څوك چي لا نه دي راغلي ، نو له هغو څخه معذرت ځکه کوم ، چي بې دَ هغو دَ انتظار کولو پارټۍ پیئل کوُ"

او بیا یې دَ لومائي په نوم دوه دَ میني توري وئیلو او دَ ملګرو په خپړو کي تحفه ورکولو سره سم دَ ګفټ ایکسچېنج پروګرام آغاز څه وکړو ، چي په خپل خپل وار هر چا وَ یو چاته تحفه ورکول پئیل کړو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوا منوېلا او بیسنك یو بل ته ، ډاکټرپُو وَ منال ته او منال وَ مسټر داوُ سوډاني ته ، التانګریل وَ روف او روف هغې ته ، تفېرا وَ پُو ته ، احمد بابا وَ تفېرا ته ، ایمرانشا وَ بتوکا ته او بتوکا وَ هغې ته ، فاطمه وَ ثریا ته او ثریا وَ هغې ته ، خاتونا وَ مدیحه ته او مدیحه هغې ته - غرض دا ، چي څنګه په دې هال کي موجودو ټولو ملګرو یو بل ته تحفې ورکولې ، نو د سېلا ني په زړه کي دا راغلو ، چي ..

" کېدلی شي ، چي زما دې ملګرو زه په اعلان سره یوازي کولو په نیت دلته په ډېر تکرار راوړی یم "

او هغه په خپل دې شك کي دَ خپلي اندازې په سمه غلط هم نه وُ ، ولي چي اوس خو زیاترو سترګو دَ هغه په لور په دې سوب کتلو ، چي وَ ګوري .. څوك وَ هغه ته پیرزوئینه کوي -

مخته چي رانا وَ عقود ته او عقود وَ هغې ته ، نستان وَ ایرینا او ایرینا وَ هغې ته ، حسن وَ ګل چهره ته او هغې وَ حسن ته ، سعید او دَ هغه مائینې یو بل ته - ګوا لنډه دا ، چي آخیري پاته سلیم یمني چي هم خپلي مائینې او هغې وَ ده ته پیرزوئینه وکړه ، نو په دې درست هال کي یوازینی دا سېلاني وُ ، چي نه چا هغه ته تحفه ورکړه او نه له هغه چا تحفه تر لاسه کړه - نو ځکه خو درست هال دې وخت هغه ته کتلو لګیا وُ - او هغه وُ ، چي په خپل نظر کي لا دَ دوُ پیسو نه وُ پاته شوی -

اوس به لا سېلاني دَ خپلي دې بې عزتۍ دپاره دَ ټولو ملګرو شکریه ادا کوله ، چي فلوریتا پورته شوه او دَ ډېك په سپیکرانو کي یې سېلاني وَ خپلي خواته وَبللو -

" خود لکه چي لا څه کسر زما په بې عزتۍ کي پاته دی ، چي اوس مي مخ هم دا فلوریتا دَ سو پیس په شرارت وَ دې ګڼ محفل ته ورښکاره کوي که څه ؟ "

سېلاني په مات زړه له داسي ټپي احساساتو سره چي دَ فلوریتا وَ څنګ ته وره غلو ، نو هغې په سپیکرانو کي داسي وَ وئیلو ..

" هیچا وَ سېلاني ته پیرزوئینه نه وکړه او چا چي به ورته کوله هغه بیا له بده مرغه راغلي نه ده - نو دَ دې خبري مطلب دا شو ، چي سېلاني په درستي سي ډي سي کي یو خواخُوږی هم نه لیري .. وایه سېلاني دا منې ، چي ته یوازي یې ؟ "

دومره وئیلو ورسته فلوریتا چي مائیك وَ هغه ته ورکړو ، نو هغه یو ځل سترګې په حاضر مجلس کي یوې بلې خواته وَځغلولې او بیا یې دَ سرې ساه ایستلو ورسته فقط دومره له خلې وَوتلو . .

" هو زه دا تسلیموم چي زه هیڅوك نه لرم .. زه یوازي یم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له دې سره سم يې مائيکخپل څنګ ته ولاړې فلوريتا ته اوسپارلو .. اوس به هغه ګامونه بيرته په شا اخيستلو ، چې فلوريتا دَ هغه په اوږو لاس کنښېګښنولو او په ډېر ژغ کي يې بيا هغسي وَ وئيلو ..

" هو ، په دې کي شك هم نه شته ، چې سپلاني په دې درست محفل کي يوخُوا خوږې نه لري "

دومره وئيلو ورسته په درست محفل خاموشي خوره شوه .. خو فلوريتا دَ سترګو نه اوښکي پاکولو ورسته په ډك ژغ کي يوه اوږده ساه سره يوه نرۍ جيغه تړلو ورسته ګويانه شوه ..

" منم.. چې دا زموږ ګران سپلاني يوازي دی .. هيڅوك نه لري - خو په دې خبري کي هم شك نشته چې موږټوله خو دَ ده خواخُوږي يُو"

دومره وئيلو ورسته يې سپلاني دَ ځان پو خوا رانيږدې کولو ورسته په غټ آواز کې دَ خپلي خبري تائيد داسې له ملګرو وَ غوښتو ..

" څنګه ملګرو .. دغسي خبره ده که يَه ؟ "

او دَ فلوريتا دَ دې خبري په تائيد کي ټولو خپړي څه ، چې ډاکټر پُو او ډاکټر تفېرا خو لا شپېلکيان هم وَ وهلو او بيرته فلوريتا دَ ټولو ملګرو پام خپلي خواته په داسي وئيلو ور واړَولو..

اوس چې خبره حتمي شوه ، چې موږ ټول دَ سپلاني ملګري او دوستان يُو - نوځکه په دې محفل کي "\ دَ هغه دَ راغونډ شوْ ملګرو له خوا وَ سپلاني ته يوه پيرزوئينه وړاندي کول کېږي .. هو ، په دې هېله چې هغه به يې تر مرګه پوري نه يوازي ژغوري ، بلکې له زړه سره به يې ګنډلي هم ساتي ..

هغې لا خبره سرته نه وه رسولي ، چې دَ هغې دَ خبرو تائيد په خپړو کي بيا وَشو او هغه مخته واي ..

" نو ما ، سوپيس ، منوېلا ، رانا او منال ته اجازه راکړئ ، چې دا ولاړ پېچلی کارپټ دَ نوي دور وَ دې "جوليس سيزر" ته وړاندي کړو"

" جوليس سيزر؟ "

دَ سپلاني مازغه لا سم دَ دې نامه تر شا وَ تاريخي کيسې نه وْ رسېدلي ، چې دَ شا له دروازې هغه پېچلي غالۍ تر خوني پوري راوړل شوه -

" دا څه ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دې پېچلي غالۍ په ليدو دَ هغه په ذهن کي دَ مصر دَ اخيري ښائسته رانۍ قلوپطره هغه تاريخي کيسه ذهن ته يو دم راغله چي هغه يې .. په هم دغسي غالۍ کي پېچلي جوليس سيزر ته په هغې شپې وړاندي کړې وه - چې هغه په مصر باندي قابض شوآ وُ - نو ځکه په مزغو کي دا سوال راپورته شو چي ..

" چرته په دې غالۍ کي خو هم هغسې "

هو ، هغه په خپل دې شك کي صحيح وَ وتو .. گوا چي څنگه دل غالۍ خلاسه کړل شوه ، نو دَ سپلاني له خلې اپله چيغه نه وَوتله - ولي چي په دې کي نور هيڅ نه ، بلکې وسا پخپله موجوده وه ، چي دې وخت په داسي ښائسته گڼوجامو کي انسان نه ، بلکې دَ اسمانونو څخه را کُوزه شوي حُوره برېښېدله - نو ځکه خو ، چي څنگه فلوريتا هغې ته دَ " نن قلوپطره" نوم لا سم ورکړی نه وُ ، چي سپلاني له ډکو سترگو سره ورمخته شو او هغه يې تر لاس وَنيوله ..

" مرحبا مرحبا .. خدای دي له بد و سترگو په امان کړه وسا !! راځه راځه را غا ړي وځه ، چي زما دَ ژوند ټولي ستړياگاني په تا وسا شي"

او بيا دواړه يو بل ته داسي په مينه سره غاړې وتلو ، چي په درست محفل کي يوه هم داسي سترگه نه شوه پاته، چي هغې دي اوښکي نه وي څڅولي - او مخته کېدلی شو ، چي هغه دوه مئينان کله هم له يو بله نه وی بېل شوي .. هو ،که چرته تر شا په غټو سپيکرانو کي دَ دې پارټۍ دَ موډ په سمون ميوزك په زوره نه وی ژغېدلی - هم ځکه خو مخته دَ دې دوُ زړونو دَ پيوندکولو په خوشالۍ کي ملگري خپلو زړونو ته هم مستياني ورسپارَلو په نيت داسي هڅوال شولو ، چي په نه ساعت کي بيا درسته فلښې له هغوئ سره سم ځنگېدلو لگيا وُ -

**_ 4 _**

هو ، دَ نيمي شپې وخواته چي دا محفل سرته رسېدلو ، نو دَ يوه پاس شوي قرار داد له روُيه دَ سپلاني او وسا وَ ميني ته چي څنگه دَ \" دَ فرعوني پيرزوئيني \" نوم ورکړل شو ، نو يې دَ دراز عمر دپاره يوه اجتماعي دُعا هم په حق کي ځکه وَ شوله ، چي هغوئ دواړو خو اول لا له يو بل سره دَ ژوند لنډَولو سوگندونه کړي وُ - نو دَ باقاعده کوژدن نېټه ټاکلو اختيار هم وَ فلوريتا ، منوبلا او رانا ته وَ سپارلی شو - خو سوپيس هم په کي نوم له خپلي خوا چي کله ورگډولو ، نو سپلاني يې په ډېر جوش باندي تائيد هم کړی وُ - ځکه خو که يوې خواته ورسره ولاړي سوپيس دَ هغې په لور په کړو کتلو ، نو بلي خواته وسا هم نن له هغې ډېره خوشاله برېښېدله - هم ځکه خو چي کله وخت دَ اجازې راغلو ، نو سوپيس هم سپلاني يوې څنډې ته کړو او ورته يې وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ما چي ستا دَ بدو په ځواب کي څومره ښه کولی شو ، هغه مي دا دي وکړو - اوس مخته ته او ستا " مړانه

که څه هم دَ هغې دَ دې ډرامائي ښو په ځواب کي سپلاني ورته سر په اثباتو کي ډېر په موسکا ښوَرولی وُ ، خو بیا یې هم ورته وئیلو ..

" سوپیس .. ښه به نه وي ، چي ته دَ دې شرط په بدله کي بل څه راځخه وَغواړې ؟ "

" یَه ... ستا ضد چي مي څنګه درپوره کړی دی ، نو هغسي زه هم خپل ضد سرته رسول غواړم او بس .. ګني زه له تا ډاکټر وسا غواړم - وایه .. راکولی یې شې ؟ "

دې خبري یې سپلاني په خپلي خبري کي راګېر کړی وُ ، نو ځکه خو یې یو ځل بیرته هغه ښه واغوستله ، کومه چي هغې له پښښه درلودله - او چي کله سپلاني له وسا سره په ګډه له فلېټه وتلو ، نو هغې یې په اوږو لاس ټکولو ورسته دا ماني خېزه خبره هم داسي په چیچلو تورو کي تر غوږونو ورتېره کړي وه ..

" زه غواړم چي تاسي دواړه دَ جولیس سیزر او قلوپطره په رنګه یو بل ته مینه ورکړئ "

او بیا یې سپلاني ته مخ ور اړَولو ورسته په خندا کي وَ وئیلو ..

" هې دَ دې زمانې سیزره .. پام کوه ، چي دَ دې قلوپطره په ژوند کي بل مارك انتهوني نه شي را "

که څه هم دَ سوپیس په دې خبري باندي شاوخواته ولاړو دَ ټولو ملګرو پرته وسا هم وَ خندلو ، خو سپلاني دَ هغې دا خبري ټوکي نه ، بلکې په ښکاره دهمکۍ سنجولي وې - ځکه خو یې په خپلي خاموشي باندي دَ هغې دَ خبري چي څنګه ځواب ور بیا کړی وُ ، په هغه باندي چپ له هغو دوُ .. نور هیڅوك هم ځکه نه پوهېدلو - چي په خبرو کي یې که څه هم په ظاهره هیڅ ول نه وُ ، خو چلونه په کي بېخي زیات .. خو مستوره وُ - نو ځکه خو دې ازلي دُښمنانو په پسخوندي موسکاګانو کي له یو بل سره دَ نوي غال پئیل کولو په نیت بیا ملا وُي وَتړلې -

*****

فصل ۱۱

# دَ سوپېس تلکی او فرېبي دامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر وسا اوس سي ډي سي ته په دې سوب کمه راتله ، چي يو خو يې دَ اېم فل تهيسس په ورستۍ مرحلو کي وُ او بل يې په عرب ليګ کي ځانته جاب هم موندلی وُ - نو ځکه به زياتره وخت سپلاني له هغې سره په ډاوُن ټاوُن کي ليدل کتل کولو - نو ځکه خو که هغوئ کله کله ماخستن مال دَ مقعطم په کارنيچ کي له يو بل سره ځنګ په ځنګ ليدل کېدلو - نو مازيګرونه به يې دَ قاهره ښار دَ مهندسين او زمالك دَ شاپنګ مالونو پرته په قصرنيل ، طلعت حرب سټريټ، په رود نيل باندي جوړ غټ پُل سره سره ټرېلې سېنټر پلازه ، رعمسيس هلټن پلازه ، خان الخليلي ، دَ امريکن يونيورستۍ مخي ته لائبرېرۍ او دَ مېکډونالډ شاوخواته تېرولو -

هر څو که سپلاني ډېر خوشاله وُ، خو دَ سوپېس وېره يې لا له زړه نه وه وتلي - ولي چي هغې دَ خپل هوسي کست په وړاندي هره ورځ هغه ته په يوه نا يوه چل دَ زړه دُوك څه ورکولو - بلکې وخت بې وخته يې هغه په ټېليفون باندي داسي هم تنګولو - لکه هغه بله ورځ چي يې لا داسي هم ورته وئيلو ..

" ګوره .. دا مي وَ تاته ورستی وارننګ دی ، چي که ته دَ يودېرشم دسمبر په شپه تر دولس بجو پوري له ما سره نه شوې زما په خوښه ملاوُ ، نو په دې بله ورځ به زه وَ وسا ته نه يوازي ستا عکسونه ښئيم ، بلکې هغې ته به دا هم وايم چي .. "

بيا که هر څو سپلاني وَ هغې ته دَ هغې دَ دروغجنو دعوُ احساس ورکولو هڅي کولې ، خو هغې به بيا بيا داسي ورته وئيلو ..

" هو ، زه دا هم منم چي تا هيڅ نه دي کړي او نه يې کولی شې - لاکن زه غواړم چي ستا دغه کبر درمات کړم ، چي ماته يې دَ انا مسئله را اچولي ده - او دا به ضرور پوره کوم .. څله ؟ په دې هم ته ښه خبر يې"

سپلاني به نور اوس مخته څه وئيلو؟ چپ له دې چي فون بند کړي - لاکن هغه وه ، چي دَ روژې په لومړۍ ورځ ګوا په دېرشم دسمبر يې لا هم چي ورته دهمکۍ ورکړه ، نو هغه ورته له خشمه له خلې داسي لاس واخيستلو ..

" اې دَ کافر فرعون لُوري .. خدای دي ژبه ګونګه کړه - لږ خو له دې روژې مبارکي حيا وکړه، خو ځانته مسلمانه لا هم وايې"

لاکن هغې دَ دې هر څه اورېد لو پرته هم ورته وئيلو ..

" زه نه يم خبره بس .. سبا شپې ته دي زه له دولس بجو څخه تر دوُ بجو پوري دَ کارنيچ په " پېرامېډ ز وئيو" رېستورېنټ کي لاره ګورم - مخته ستا خوښه .. که راځې او که نه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره وئیلو ورسته هغې چي فون څنګه په قهرناکه انداز ينبى وُ ، نو وَ سپلاني ته يې دَ دهمکۍ دَ شدت احساس په ورستي وار ځکه شوی وُ ، چي هغې بيرته تر دې بل ماخستنه تر هغه وخته پوري لا هم فون نه وکړو ، چي هغه دَ حسن او ګل چهره تاجکۍ په ست دَ روسۍ پېغلو له خوا په غوره کړل شوي نيو ائير پارټۍ کي دَ ګډون په نيت له فلېټ څخه وتلو-

_ 2 _

پارټۍ څه وه؟ تر قيامت له مخه قيامت وُ ، چي راغلى وُ - ګوا نن خو روسۍ پېغلو په دې سارړه ژمي کي دَ ټمك يخ په ضد چي څنګه اهتمام کړی وُ ، نو له برکته يې په هغو دوُلوستو تکو تورو مني سکرټونو او تر سينو پوري محد وده شرټونوکي لا هم ګرمي کېدله - ځکه خو چي به يې کله دَ راغلي مېلمه ملګري لور ته سروس کولو په نيت تګ کولو ، نو هغه به ستر ګي داسي ترې آرپار کولې ، لکه هغوئ چي دَ غوښي بدنونه نه ، بلکې په هوا کي تحليل شوي غېر مرئي وجودونه درلودلو-

او بيا دَ نوي کال هغه لومړۍ لمحه څه وه ، چي له راتګ سره يې هغه مستياني هم ګنډلي راوړلي ، چي سپلاني په لومړي ځل نه يوازي ليدلي وې ، بلکې سنجولي يې هم وې - نو ځکه خو هغه خاتونا ، چي تر پرونه يې دَ هغه په لور په سمه نه کتلو.. دې وخت داسي دَ هغه په وړاندي په رقص کولو پارَبدلي وه ، چي هغه په ځان وَ وېربدلو ، چي چرته هغه بيا دويمه سوپيس نه شي ورته - نو ځکه يې وَ ګل چهرې ته دَ هغې دَ ليري کولو دپاره چي څنګه وَ وئيلو ، نو هغه پخپله هم ورسره دَ لېونتوب پُولي ولانګلو ته په دمالي انداز چمتوشوه -

بُوبا جُوف چي نن يوازي وُدې وخت په هغو پېغلوکي داسي ور ايله وُ ، چي دَ خپل تور مخ په شان يې اند رون هم تك تور ښئيلو- نو ځکه خو سپلاني دَ يوې بلي ويري دَ احساسولو له کبله سپك پورته شو او ټولو ملګرو ته يې دَ نوي کال مبارکي بيا ورکولو سره سم چي دَ هغو په اجازه له فلېټ څخه دباندي کله ګام ږدلو ، نو دَ ګهړۍ ستنو يې پام دَ هغې دهمکۍ په لور واړَولو ، چي زياته يې په وخت ختمېدلو کي فقط آخيري ګهنټه پاته وه - اوس به لا هغه دَ هغې سوپيس په نوم دخپل انکار آخيري فېصله ليکله ، چي وسا يې له خياله وَ سترګو ته څه وَدربدله ، چي په مزغو کي يې دَ سوپيس دَ غوښتني په سمون درسته ډرامه داسي په وير دَ انجام په لور له داسي ابدي ساند و سره رهي شوه ... چي سيلاني يو ځل بيرته له خياله خپل ځان په هغو رېګجنو دښتونو کي وَ سنجولو ، چي چرته تر ليري ليري پوري ژوند دَ هغو خوبونو په لور بې تعبيره کېدلو ، چي هغه په څنګه څنګه ستړياوُ تر دې ځايه پوري رالنډ کړی وُ - نو ځکه خو يې له خلې يوه چيغه وَ وتله او له ځان سره داسي ګويان شو-

" وسا اې زما خوږې وسا.. زه هر څه کولی شم ، لاکن ستا دَ بېلتون رنځونه نه شم سهلی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دومره وئيلو ورسته يې بيرته قد مونه په هغه لور ګوره چې په کوم نيت غبرګ شولو؟ چې چرته يې دَ تهائي هېواد ښاماري سوپيس دَ وسا دَ ميني په سودا دَ هغه ضمير تر پښو دلاندي کولو په نيت انتظار کولو-

_ 3 _

" وَ منه سوپيس.. چې زه به ټول عمر لکه نوکر ستا دَ کور چوپړ وهمه ، خو بس ته زما دا خبره ومنه "

څومره څومره چې سبلاني دَ هغې په وړاندي خپله څولۍ غوړَوله ، نو هغومره هغې په ټينګه باندي وَ خپل کست ته اوړېِ ورکولې او سبلاني يې له ځان سره په هغه لاره وړلو لګيا وه ، چې که څه هم دَ هغې دَ کلتور په سمون بد کار نه بلل کېږي ، خو سبلاني ورته دَ ضمير قتل ځکه وئيلو ، چې هغه اوس دَ چا امانت ګرځېدلی وُ - او په امانت کي خيانت دَ هغه نيږدې تر ټولو لوی جرم وُ "

اوس لا دَ سوپيس فلېټ له دي ځايه دَ لسو منټو په واټن باندي وُ ، چې دَ هغه له پښو مځکه يو دم هغه وخت وَختله ، چې ډاکټر وسا يې په ساهکېدلي انداز کي نابېره مخي ته دنګه وَدرېدله ..

" چرته وې ته سبلاني؟ "

اوس به لا سبلاني ورته کپ نيولو ،چې هغې اوږدې اوږدې ساه اخيستلو په ميان کي دَ هغه په اوږه باندي لاس ږدلو ورسته مخته خبره داسې پوره کړه ..

" دَ دې کارنيچ کوم کوم کونج مي په تا پسې نه وَ کتلو"

او بيا يې دَ هغه لاس داسې په دواړو لاسونو کي په خوند وَ نيولو ، لکه دَ يخ ژمي په دې نيمه شپه کي دَ سوپيس سره دَ سبلاني دا يوازې ګرځېدل چې ګرسره هيڅ خبره نه وي - نو ځکه خو هغه هم زړه ورباندي پيدا کړو او ورته وئيلو يې ..

" ډئير.. موږ دغه يُو ، چې دَ حسن او خاتونا له پارټۍ څخه را روان يُو او دې سوپيس غوښتلو ، چې هغه لږه وَ کور ته نيږدې کړم"

" هو ، دغسې خبره ده وسا لکه سبلاني چې واي "

سوپيس ، چې دې وخت يې کېدلی شو ، چې دَ وسا په وژلو لا هم زړه نه وی سوړ شوی ، هم دَ سبلاني په خاطر چې دَ هغه په دروغو کي ورګډ ه شوله ، نو سبلاني يې له ډېري خوشالۍ په دې تياري کي په ادوم باندي نوك دَ منني دپاره څه جګ کړو ، چې هغې دا وَ ګڼلو ، لکه هغه چې ورته واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" بس ته فکر مه کوه سوپیس .. چي کله هم موقعه پیدا کړم ، نو ستا په خذ مت کي به حاضر شم "

نو ځکه خو هغې هم اوس دَ هغو دوْ مئینانو په ګپو کي ډېره په خوند برخه تر هغه وخته پوري اخیستله ، چي دَ هغې فلېټ نه وْ را نیږدې شوی -

دَ سوپیس رخصتولو ورسته چي بیرته هغوئ دواړه دَ کارنیج په لور ګامونه دَ وسا په خوښه اوچت کړي وْ - نوکه څه هم سېلاني غل غل کېدلو ، خو هغه ځومره دَ صفا ذهن خاونده ده؟ دَ منال دا خبره یې نن بیا بیا وَ مزغو ته نه یوازي راتله بلکې دَ هغې قد ر یې په زړه کي نور نور زیاتېدلوهم - لاکن چي کله په هغه رېستتورېنت کي ، چي لږ ساعت مخکي ورڅخه هغه او سوپیس ولاړ شوي وْ ته ځنګه لاس په لاس ورننوتلو ، نو وېټرانو هغه ته په بیا بیا داسي کتلو لکه هغه چي ډېر غټ WOMANIZER وي - خو کور یې ودان چي سوال یې نه ورباندي وکړو - ګني دَ وسا وَ مخي ته به یې خړ کړی وی -

" له سبا څخه خو ستا دَ لسو ورځو چتهیاني هم شروع کېږي - وایه سېلانیه ..څه به کوې په کي ؟ "

" خوبونه .. بل هیڅ نه "

" واوْ .. بیا خو دي مزې دي "

او دَ هغې له دې خبري سره سم ګپه ورو ورو دَ هغوئ دَ راتلونکي سباوْن په لور داسي په خوند غزَوني وکړې ، چي ګرسره په دې نه شول پوهی ، چي ځنګه بیا پېشلمی شو- نو ځکه چي کله دَ پېشلمي ډوډی خوړلو ورسته ځنګه دواړه له \" پېرامیډ زوئیو رېستورېنت\" څخه دباندي راختلو ، نو یې دا خبره فېصله کړي وه ، چي هغوئ به دَ بل خبري تر هغه دمه نه مني ، چي خپله یې تصدیق کړي یا لیدلي نه وي -

**_ 4 _**

ځنګه ځنګه چي ورو کیاختر رانیږدې کېدلو ، نو دَ قاهره دَ ماښامونو خوند او پند نور نور زیاتېدلو - هم په دې خو به سېلاني که دَ ورځي په سي ډي سي یا کور کي لیدل کېدلو ، نو ماخستن مال به له وسا یا ملګري یُو او منوېلا فېمیلي سره دَ قاهره په بېلابېلو علاقو کي کله کله ، خو دَ خان الخلیلي په کېفو کي زیاتره لیدل کېدلو -

کمپوډین ډاکټر یُو که څه هم دَ بُدها دَ لاري سړی وْ ، خو دَ مسلمانانو سره دَ ملګری په خاطر یې که روژه نه هم نیوله ، خو په ښکاره یې خواړه نه خوړلو ، بلکې له سېلاني سره به یې په روژې ماتونو او پېشلمیانو خورا خوند هم اخیستلو - نو ځکه خو یې یوه شپه دوې بجې خواته ، چي هغه له وسا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني پرته دَ منوېلا فېميلي ، رانا شامۍ او عقود په مابېن کي دَ بس په شا شا اوږده سيټ باندي ناست دا تپوس وکړو ، چي ..

" تاسو چي دا يوه مياشت په نهره تېرَوئ ، نو بيا خداى په انعام کي چيشي درکوي؟ "

نو سپلاني ورته وئيلو ..

" دَ دې راتلونکي اختر دَ خوشاليانو پرته ذهني، قلبي او روحاني تسکين راکوي "

خو وسا ورته وئيلو ، چي ..

" په لمونځ او روژه کولوباندي خو يو سړى مسلمان کېږي "

" دَ دې مطلب دا شو ، چي اوس خو په دې مياشتي کي زه هم مسلمان يم .. ما له به ستاسو خدايڅه راکوي؟ "

که به نورو له خپلي خوا ورته دَ هغه دَ زړه ساتني دپاره نښه او خوږه ځوابونه ورکولو ، خو مستي او شوخي شامۍ پېغلي رانا ورته په خندا خندا کي وئيلو ..

" تا ته به نو خداى څه درکوي مستړ پُو؟ .. که يې درکولې هم ، نو به څپلاخي درکوي "

" هغه څله ؟ "

چي هغه په ماشوم انداز ورڅخه بيا تپوس وکړو ، نو هغې ورته وئيلو ..

" هغه ځکه ، چي تا خو تش زمونږ دَ مخه خله تړلي ده .. په پټه خو يې خورې "

بس بيا نو مختنه څه وْ، هغه هم دَ چشمکو ترشا ورته په ځير ځير کتلو ورسته وَ وئيلو ..

" سوري .. ماته زما خداى ښه دى - چي په نه څه هم راڅخه خوشاله دى "

" سر به دي نو هغه ورځ خلاس شي ، چي تا او ستا خداى دواړه وَ دوزخ ته بوځي "

دَ راناشامۍ په دې خبري دَ ټولو ملګرو سره سم هغه هم وَخندلو ، خو بيا يې ورڅخه دا سوال وکړو ..

" دا حال راکه ، چي دا ستاسو او دَ عيسائيانو يو دوزخ دى ، که بدل بدل دى؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دَ هغې په ځای منوېلا ورته وئیلو ..

" دوزخ دَ ټولو داسي یو دی لکه جنت چي یو دی "

" نو بیا خو زه جنت ته ځم .. دوزخ یې ستاسو "

پُو چي څنګه دا خبره کړه ، نو پېغله رانا له خندا تکه شنه شوه او یو څو توري یې په عربۍ کي وئیلو ورسته په ډکه خله خندا کي ورته وئیلو ..

" داسي ابله پېله ؟ بچو دوزخ خو یې جوړ کړی تا ته دی "

" لاکن زه یې نه کوم .. څه دَ زور کار خو نه دی "

او په دې خبري باندي ملګرو دومره وَ خندلو ، چي په بس کي ناست ټولو سوارلیانو دَ هغوئ په لور بیا کتلو -

_ 5 _

" اوس خو وسا خپله هم ته له ما سره یوازي وَلیدلې ، نو ځکه په لار شه بچو"

نن سوپیس تر اوله هم نه یوازي زیاته اوپن شوي وه ، بلکې په دهمکۍ کي یې څه څه دَ ناز غاړي هم دَ هغې تېري شپې دَ کړي قربانۍ له سوبه ورګډي کړي وې - نو ځکه خو سپلاني هم له هغې سره په اوپن کېدلو او ټوکي ټکالي کولو کي خپل سباوُن څه غوندي محفوظ ګڼلو - او هغې چي به هرڅه هرڅه وئیلو ، نو ده به نه یوازي ورته دَ ټوکي رنګ ورکولو ، بلکې په خلاسه به یې خبره هم ورسره کوله - ګوا څومره چي هم کېدلی شو ، داسي غوړ لاس به یې ورباندي تېرَولو لکه نن چي یې ورته وئیلو ..

" منم ، چي دَ نورو ښو پرته دي هغه شپه هم زما دپاره دروغ وَ وئیلو ، خو خدای دي نه کړي ، چي په تا باندي هم کله سخته راشي نو ژغ راباندي کوه .. زه به دي مایوسه کوم نه"

خو هغې که څه هم دَ دې خبري په ځواب کي ورته دَ بیا یوازي لیدلو غوښتنه کړي وه ، لاکن سپلاني په ځای دَ منلو داسي ورته وئیلي وُ ..

" دَ سر په سترګو .. ولي نه ، خو بس دا عذ ر لرم چي دَ کوم وخت تقاضا چي ته کوې - هغه وخت به زه ځکه نه یم ، چي له وسا سره به په وسط البلد کي وینم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغې هم دَ سپلاني داسي بهانې منلې او نور نور به يې نه يوازي فري هېنډ وركولو ، بلكې غوښتلو به يې ، چي هغه په مينه محبت باندي دَ خپل هغه كست په سمون ځانته مرئيی كړي ، چي په خله يې نوم لا هم نه اخيستلو -

نور لا نور.. اوس سوپيس ګاهی ګاهی دَ پُو او سپلاني سره دَ دوستی پاللو په بهانو دَ هغوئ وَ فلېټ ته هم راتله - كه څه هم رنا او منوېلا په څوڅو ځله هغوئ ته وئيلي وُ ، چي ..

" دا تاسو چي له پېغلي سوپيس سره كومي دَ دوستی رښتې جوړَوئ - دا ښه نه كوئ "

خو ډاكټر پُو به په خندا كي ورته وئيلو ..

" څه به وكړي .. خوري خو به مي نه "

" هغه ښځه ده او ښځه هر څه كولی شي "

بيا چي يو ورځ راناشامی دَ ډاكټروسا له مخه هم دَ پُو دَ دغه رنګه خبري په ځواب كي داسي وئيلي وُ ، نو هغه په دې خبري باندي لا تر دې هانده هم خپله رائيې څرګنده كړي وه ، چي ..

" نر كه نر وي نو دا ښځي هيڅ نه شي ورباندي كولی "

نو ځكه خو چي سپلاني هم ورسره دا خبره خوښه كړي وه ، او وئيلو يې ..

" هو ، انسان كه ښځه وي نو هم انسان وي او كه نر وي ، نو هم "

لاكن راناشامی ورسره دا خبره ځكه نه منله ، چي په عربی كي يې ورته وئيلو ..

" دا خبري خو زه او ته كوُ - كوم چي حقيقت دی .. په هغه څوك نه دی خبر؟ "

" ګوا ستا مطلب دا دی ، چي په عربو كي تر اوسه لا هم"

پُو چي څنګه دا دومره وئيلو ، نو منوېلا هم خله داسي پرې كړه ..

" نه يوازي په عربو كي ، بلكې نر په درستي دُنيا كي دَ ښځي استحصال كوي "

" ښه ښه .. نو بېسنك هم ستا استحصال كوي؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني چي دا خبره وکړه ، نو ورسره ناست ښسنك ته چي منوبلا دَ هغه خبره په خپله ژبه کي ترجمه کړه ، نو هغه هم خپل يوازيني توری ګوا " کريمينل منوبلا کريمينل" چي څنګه تکرار کړو ، نو راناشامۍ ورته په ډېره مستۍ کي وَ وئيلو ..

" ښسنکه وروره .. ته خو هم اوس له دې کريمينل توري څخه لږ نور را وَوځه ، خو په کي زوړ شوې "

دا خبره څه وه ، چي ټول له خندا داسي تك شنه شولو ، چي بيا تر ډېره پوري بله خبره بې دَ کريمينل کريمينل له تکراره ګرسره منځ ته نه راغله -

**_ 6 _**

" وسا .. زه يو ځلي بيا درته وايم چي زما له سپلاني څخه لاس واخله ګني "

" ګني څه به وکړې ؟ "

الجبرين پېغلي ډاکټر وسا ، چي دې وخت يې ژېړېخون او پېچلي وښتان په سترګو باندي را پرېوتي وُ شاته په خشم ځنډلو ورسته چي دَ تهائي پېغلي سوپيس دَ دهمکۍ په ځواب کي داسي وَ وئيلو ، نو هغې يو دم له پرس څخه هغه عکس چي له سپلاني سره يې په ګډ ه دلته دَ راتګ په لومړۍ هفته کي دَ هغې دَ هوټل په خوني کي اخيستی وُ را وَ يستلو او دَ وسا په لوري يې ور غورځولو ورسته په لغازي موسکا کي ورباندي خله داسي خلاسه کړه ..

" دا وَ ګوره زما او دَ سپلاني دَ ميني لومړی هغه ثبوت چي ستا دَ سترګو خلاسَولو دپاره بېخي زيات دی"

عکس ، چي دې وخت لا دَ هوا له اوړو سم مځکي ته نه وُ راکُور شوی ، چي وسا غُوټه کړو او سترګي يې ورباندي کرارَولو ورسته په مات زړه له ځان سره وَ بُونېدله ..

" په دې باندي خو دَ دېرشم ستمبر 1997ع تاريخ او ټائم لس بالا لس بجې دَ شپې هم نوښته دی "

" نه يوازي دا ، بلکې دا هم په کي وَ ګوره ، چي دا عکس چرته اخيستل شوی دی او که دي سترګي ښې کار کوي ، نو تا ته به دغه زما پرس هم په کي ښکاره شي"

سوپيس ورمخته کېدلو سم دستي دَ خپلي نرۍ ګوتي دَ اوږده او تېره نُوك څُوکه په عکس کي راغلي پرس باندي ږدلو ورسته چي په اوږې باندي راځنېدلی هغسي سپينچکی پرس ورته دَ سترګو وړاندي نيولو په وخت دا وينا لا سمه سګرته نه وه رسولي ، چي دَ وسا په سترګو کي اوښکي راغونډې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وَ عکس ته یې نور نور کتلو ورسته په ډډن ژړغوني ژغ کي ورته دَ اوږدې او سړې ساه ایستلو سره ترلي وَ وئیلو ..

" سوپیس..ته رښتیا واې چي سپلاني زما نه بلکې ستا دی او ... "

هغې به لا نور څه وئیلو ، چي دغه وْ سپلاني هم داسي په منډ ه منډ ه ورته را وَ رسېدلو لکه یو لوی ښامار چي ورپسې لګېدلی وي - نو ځکه خو یې دَ راتګ سره سم په لنډ و ساهګانو کي وَ ډاکټر وسا ته وئیلو ..

" وسا وسا .. درځه چي یو ځای پټ شو .. تر شا یوه ښځي لویه بلا راپسې را روان دی .. وَ به مو خوري "

او اوس به یې لاس وسا ته ور غزَولو ، چي هغې یوې خواته وَ دېکلو-

" داسي دي ولي وکړو ؟ "

" ځکه .. چي ته له اصله زما نه ، بلکې دَ سوپیس اشنا یې "

له دې خبري سره سم هغه عکس چي سوپیس ورته ورکړی وْ دَ هغه په لور هغسي په داسي وینا کولو والوځولو ..

" دا واخله هغه عکس چي ستا او ستا دَ ګراني سوپیس دَ میني کیسه بیانوي "

" زما او دَ سوپیس دَ میني کیسه .. دا څه واې وسا ؟ "

" زه نه .. دا عکس واي "

او عکس لا هغسي په هوا کي الوتلو ، چي په فضا کي یوه تېره کړیکه دَ خندا لکه تنا خوره شوه - بیا مخته څه وْ ؟ چي دَ هغې غټې پریانو دُوړي په منځ کي دَ سوپیس خړه پړه غاښوره ښېره دَ هغوئ په لوري نه یوازي په چورلکونو خوړلَو کي را روانه وه ، بلکې دَ دې سارا رېګ یې هم یوې بلې خواته تُوتاټلو لګیا وه-

هم په دې خو .. په ځای دَ سپلاني ، هغې زړه ماتي وسا په نه ساعت کي هغه تر لاس وَ نیولو او په وېرند وکي انداز کي یې ورته وَ وئیلو ..

" هله هله ژر کوه ، چي ورڅخه خلاس شو "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا هغه دواړه لاس په لاس دَ اهرام مصر په لور وَ تښتېدلو - لاکن دَ پریانو هغه دُوړه وه ، چي تر هغو غټو ګومبټو دَ رسېدلو له مخه یې دواړه داسي راګېر کړلو ، چي سبلاني په کټ کي له یوې تېرې چیغې ایستلو سره سم جګ راکښېنستلو - او یوې بلې خواته سترګي ځغلولو ورسته یې دَ تندي خولې په لاس باندي وچولو سره سم سترګي یو ځل بیا په داسي وئیلو دَ یو ساعت دپاره پټې کړې ..

" شکر دی لویه ربه ، چي دا خوب وُ - ګني مورِ خو یې وژلي وژلي وُ "

لاکن زړه یې بیا هم په ځای ځکه نه شو ، چي په زړه کي یې دَ سوپیس ویره لا نوره هم سېوا شوي وه -

*****

فصل ۱۲

# په سدر سي‌نائي کي دَ خوائیش تکمی‌ل

نن دَ جنورۍ کال 1998ع اتهه ویشتمه او دَ روژې دَ میاشتي دېرشمه وه ، چي دَ ګلوبل ډپلومه لوستونکي دَ دوُ شپو او درو ورځو په سېل دَ اختر تېرَولو په نیت دَ سینائي په سیمه کي دَ سره سمند ر ګوا دَ رېږ سي دَ "راس سد ر" نامي هغې ځنډي په لور وړلو په نیت په بس کي سپاره کړل شولو ، چي اسرائیل تر ډېري مُودې پوري په خپل تسلط کي ساتلي وه -

ډاکټر دعد ، ډاکټرهنا چي دې وخت یې دَ نهو او اووُ کلونو دوې وړې لُوڼې مریم او سلمه هم ورسره په ځنګ سیټ کي ناستي وې په راهنمائي کي بس مخته روان شو- دَ ځینو نوُ ځېرو لکه دَ مېړه یکل ستهوډنټ پېغلي ایمن ، دَ دعد خور عزا او دَ هغې لور دالیه پرته چي وار دَ پېژندګلوۍ تر هغه تهائي ځوان پوري راغلو ، چي له سوپیس سره په ځنګ کي ناست وُ - نو دا خبره هم معلومه شوه ، چي هغه دَ نوا په نوم مشهوره ځوان دَ سوپیس وراره دی - کوم چي دَ هغې له قوله په الازهر اسلامي یونیورستۍ قاهره کي سبق واي -

نو ځکه خو نن بُوباجُوف نه یوازي هلته شاته یوازي ناست وُ ، بلکي دَ هغه او سوپیس تر منځ مراسم هم دَ خبري نه کولو تر هانده لا بند برېښېدلو - نو ځکه خوکه یوې خواته البانین منوېلا ، عراقۍ عقود او دَ دمشق راناشامۍ په خپلو کي دَ سوپیس دَ سمېدلو دَ چانس په باب خبري کولې ، خو بلې خواته سبلاني په دې خوشاله وُ ، چي هغه به هم دا یو څو ورځي ښه په کراره تېري کړي -

دَ څو ګنټهو مزل کولو ورسته چي کاروان ځنګه دَ سوئیز کېنال دَ شنو اوبو دلاندي جوړي روښاني سب وې ځخه مخته تېر شولو ، نو دَ یو غټ درز کېدلو ورسته بس له قابو وَ وتلو او له روډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه وتلو ورسته له ښه بخته په رېګ کي تم شو - دلاندي چي سامَولي ملګري کښته شولو ، نو څه ګوري ، چي دَ بس دَ مخ په ټائرونو کي يو برستې شوی و ْ -

دا رېګستاني سيمه وه ، خو ځای په ځای په کي دَ لاسي زيار څه څه زرغونه پټيان هم برېګښېدلو - نو ځکه ملګري يوې بلي خواته وَ وېښل شولو ، لاکن سېلاني چي دې وخت دَ نوا سره دَ سوپيس په خوښه ستړي مه شي وکړو ، نو سوپيس ورسره په رېګ باندي يو دوه ګامه تللو ورسته چي هغه ته هلته په بيچ باندي تر خپلو دَ يکړي ګپي کولو خبره څنګه وکړه ، نو هغه به لا اوس ورته جوړه لاسونه نيولو ، چي هغې مخته وئيلو -

" زما مطلب دا ، چي زه اوس هغه نه يم څنګه چي ته ما ګڼې او نه اوس زما په زړه کي هيڅ خيره شته ستا دپاره"

" رښتيا واې سوپيس؟ "

سېلاني هغې ته سرتر پايه کتلو ورسته چي څنګه داسي په حېرت ورڅخه تپوس وکړو ، نو هغې په لومړي ځل په ډېري ماشومي موسکا کي ورته وَ وئيلو ..

" هو ، دې وراره نوا ، چي اسلامي تعليم کوي راته په دې څو ورځوکي دومره تبليغ کړی دی ، چي ... "

" دا خو يې بيا ډېرښه کار کړی دی او خبره ده هم دغسي ، چي"

هغه به لا مخته دَ خوشالۍ اظهار کولو ، چي هغې په مخ باندي را ټالېدلي درنې زُلفي شاته څنډلو ورسته وئيلو ..

" هو ، دا هر څه پاته کېد ونکي دي "

" بېشکه "

او بيا يې له ډېري خوشالۍ ورسره دا پښتو هم په انعام ورکولو کي وَ کړه ، چي ..

" هغه .. هلته چي چرته او کله هم وَ غواړي ، نو له ده سره ليدلی شي "

کېدلی شو ، چي هغوئ لا نوري خبري هم کړي وی ، چي محمد ډرائيور هارن وَ بُوغَولو او درست ملګري راغونډېدلو ورسته يو وار بيا بس مخته روان شو - او ملګري بيرته تر خپلو په ګپو کي اخته شولو - لنډه دا ، چي هغوئ کله په راس سد ر باندي جوړو هغو بيچ هاوْسونو ، چي ډېر پخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرائیلایانو جوړ کړي وُ ته رسېدلو ، نو دَ مازیګر درې بجې وې - نو ځکه سترې ستومانه په هغو وړو کورونو کي ځله وَ وېښل شولو-

– 2 –

" سبا اختر دی .. په رېډیو کي اعلان وشو"

ماخستن په لس نیمي بجې دا خبره دَ ډاکټر دعد له خلې څه وخته ، چي درست ملګري که هرچرته په محفلونو کي ناست وُ په نه ساعت کي دَ هغې په فلېټ کي په خوشالۍ راجمه شولو- او بیا تر ډېره پوري هلته دَ ملګرو تر منځه دَ ټوکو ټکالو محفل له خنداګانو څخه دَ وړې دالیه په بېلي ډانس دوام ته څه وَ رسېدلو ، چي زیاتره ملګري ډله ډله دَ مخامخ بیچ په لور ور روان هم شولو ، چرته چي که څه هم دَ لائټونو اهتمام نه وُ شوی ، خو ورسره جوخت په ښې لاس باندي دَ واړه پراته ښار او دَ دې کورونو رڼاګانو له سوبه دَ سمندر وړې او غټې څپې څه څه برېښېدلې هم - که څه هم دې وخت یخ وُ ورباندي ، خو دَ اختر دَ خوشالۍ له سوبه ملګرو په تودو ګپو او خنداګانو باندي ماحول تودَولو لګیا وُ -

– 3 –

څنګه څنګه چي دَ ګهړۍ ستني دَ نیمي شپې په خوا ور ټکېدلې، هغومره دَ ملګرو تر میان بېلا بېلي لوبې او ګپې که څه هم دَ سترِیا سوب جوړېدلې ، خو په دې بیچ باندي وار په وار دَ ملګرو شمېر هم کمېدلو لګیا وُ- ګوا دَ فلاویه او وینډي دَ سملستلو دَ ضد له لاري منوېلا مورتي او بېسنك خو له لومړي ماخستنه بیا تر خپلي خوني پوري رسېدلي وُ - او ډاکټرپُو هم اوس غوښتلو ، چي لاړ شي - خو بلې خواته یو سېلاني وُ ، چي تر پرونه یې له چا ویني قی کولې .. اوس دَ خپل کړي قول په سمه له هغې سوپیس سره دَ هغې دَ غوښتني په سمون لا دغه وُ ، چي دَ سمند ر په څنډې باندي وَ ګرځېدلو ته جوړېدلي وُ -

که څه هم دې وخت ببخي سړه هوا ګلېدله او دَ یخ شدت نور نور زیاتېدلو ، خو هغوئ له هر څه څخه بې خبره نن دَ یو بل سره داسي په اعتماد څنګ په څنګ روان وُ ، چي نه خو سوپیس هغسي شوده او بلېك مېلره سوپیس وه او نه سېلاني هغه بې زړه سېلاني وُ ، چي دَ هغې له تصوره یې لا تر پرونه پوري ویره کېدله - هم ځکه خو دې وخت دواړه ډېر په مزه مزه له پاته شوُ څو ملګرو څخه مخ مخته لکه ساې دَ نیمي شپې په تکو تورو تیارو کي تحلیل کېدلو او تر میانه یې ګپه یو او بل پلوُ اوبښتله -

یو وخت چي سېلاني شاته وکتلو ، نو داسي ورته محسوس شولو ، لکه هغوئ چي بلې دَنیا ته وتلي وي او یا په فضا کي الوځي - ولي چي اوس که یوې خواته دَ سمندر دَ څپو له شرپې په چپه هیڅ قسم ژغ نه وُ، نو بلې خواته داسي ښکاره کېدلو ، لکه اسمان چي مځکي ته راکُوز شوی وي - ګوا تر لیري لیري پوري ستوري په اوبو کي برېښېدلو او بس - نو ځکه سېلاني وَ هغې ته وئیلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" درڅه چې بیرته غبرګ شو .. اوس خو چپ بې ما او تا بل هیڅوك هم په بیچ باندي نه شته "

هغې چې دواړه لاسونه یې په خپلو بغلونو کې ورکړي و ، دَ څه وئیلو په ځای چې سپلاني په اوږه باندي وَ وهلو ، نو یو دم دَ هغه په زړه کې هغسي پخواني ویره رابرسېره څه شوه ، چې ځای په ځای دَ دربدلو ورسته یې ورته بیا وَ وئیلو .. .

" ډېر یخ دی .. او مخته تیاره هم "

" دغسي ماحول خو ما او تاته په کار دی "

هغې دا خبره څه وکړه ، چې سپلاني دَ موډ جوړَولو ورسته لږ په سخته لهجه کې ورته ګویان شو ..

" سوپیس .. دا ته بیا څه وایې؟ "

" هغه .. چې هر کله مې وئیلو "

" لاکن نن دَ ورځې خو ... "

" هو ، زه ډېره بدله شوي یم لاکن "

او دا چې یې وئیلو ، نو یې لاس هم دَ سپلاني په اوږه باندي کښېښولو -

" دَ دې مانا خو دا شوه ، چې تا دهوکه کړم "

" هو ، دغسي دهوکه لکه تا چې ماته راکړي وه "

هغې به لا اوس نور څه وئیلو ، چې سپلاني یې لاس له اوږې وَ څنډلو او له ډېري غصې کولو ورسته شاته غبرګ شو - او اوس به لا دوه ګامه تلو ، چې هغې ورپسي وَ دانګلو او هغه یې تر لاس وَ نیولو ..

" وَ وېرېدې .. ویرند وکیه ؟ "

" مه کوه له ما سره خبري .. ته ښځه نه یې "

" نو بیا ما ښځه کړه پلیز "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره وئيلو ورسته سوپيس دواړه لاسونه لا په هغه نه وُ جارباسلي ، چي هغه داسي په زوره وَ دېكله ، چي هغه ستوني ستخ وَ لوېد ه - او له لوېدلو سره يې سم يوه تېره غوندي چيغه داسي له خلې وَ وتله ، لكه جوړه چي يې دَ ملا هډ ونه مات شوي وي - نو ځكه سپلاني هم چي څنګه ځان ورته وَ رسولو ، نو هغې ټينګ ټينګ تر لاسو وَ نيولو او په خندا كي يې ورته وئيلو ..

" ما له هر بد ه توبه ايستلي ده .. چپ له دې ورستي بد ه "

" او دا بد به دي په نصيب نه شي "

او له دې سره سم دَ هغو دواړو تر منځه دَ خپلي خپلي هوډي په سمون هڅي پيل شوې -

" ستا تر وژللو ما دا بهتره وګڼله ، چي دَ درست ژوند دپاره دَ زړه رنځ دركړم "

" لاكن زه هم پښتون يم ، ځان وژللی شم خو ښځي ته ماته نه شم منلی "

په دې كش او بګير كي دَ هغې دَ خبري په ځواب كي سپلاني داسي وئيلو ورسته چي څنګه ځان خلاس كړو او اوس به يې ځغاستلو ته پائڅې ټولولې ، چي هغه يې په لاري كي لكه ټپي زمرۍ بيا وَ درېدله او په خشم كي ورته واي ..

" ما كست كړی دی او دا كست به نن په هره بيهه پوره كوم يا به "

" يا به .. څه؟ "

سپلاني بيا په دواړو لاسو ديكه وركولو ورسته چي د دوُتورو دا تپوس له خلې څخه دَ يوې ناخبري پېښي دَ امكان له رُويه څه وَ وتلو ، چي هغې هم خپله ماته په دې دهمكۍ باندي اعلان كړه ..

" يا دا ، چي زه به دَ سمند ر وَ دې يخو څپو ته ځان سپارم "

" نه به وكړې ؟ "

كه څه هم سپلاني هغه په دې باب تلل نه غوښتله ، خو نا ببره چي يې دا خبره له خلې وَ وتله ، نو هغې خپل پرس له مځكي وهلو ورسته يو دم منډ ه كړه او دَ شنه سمند ر په اوبو كي ورګډ ه شوه - تر يو څه وخته پوري خو لا سپلاني دا ګڼلو ، چي هغه خود لكه چي ټوكي كوي - خو بيا چي يې پام شو ، نو څه ګوري ، چي سوپيس وركه شوه او هيچرته ځكه نه ښكاره كېدله ، چي تياره وه -

" داسي نه چي په رښتيا خو يې دَ سمند ر وَ مستو څپو ته ځان نه وَسپارَلو ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه سوال وُ ، چې يو دم دَ سپلاني په مزغو کې را برسېره څه شو ، چې ورپسې يې منډه کړه - څنګه چې په اوبو ورګډ شو ، نو هغه يې لړه لړه دَ ساې په شان تر سترګو شوه - ګوا که اوس څه هم تر ګونډه و پورې په اوبو کې پټه وه ، خو لا مخ مخته روانه وه - نو ځکه هغه ورباندې په زوره ژغ وکړو ..

" سوپيس اې سوپيس .. راغبرګه شه "

" لاکن څله ؟ "

دَ څه چُپيا ورسته چې دَ هغې له خوا داسې سوال دَ هغه تر غوږو راغبرګ شو ، نو سپلاني هم دَ يو انساني ژوند دَ ساتنې په خاطر په زړه باندې يو غټ او ببخي دروند کاڼی ږدلو ورسته ور ژغ کړو ..

" دَ خپل هغه کست پوره کولو دپاره "

او بيا وخت هم دَ يو څو لمحو دپاره په خپل ځاى څه تم شو ؟ چې دَ سمند ر څپې هم ځاى په ځاى ولاړې محسوسې شولې - او دې وخت چپ دَ سپلاني دَ زړه له درزا که بل څه په فضا کې متحرك وُ ، نو هغه وُ دَ سوپيس بانه چې دَ هغه په لور يې دَ کتلو په وخت تر اوله هم زيات په تادئ رپېدلو او يا دَ هغې نرئ شونډې ، چې دَ کړې کست په سمه دَ کاميابئ دَ خوارۀ احساس له لارې په لومړې ځل په ډېره مينه موسېدلې وې .. خندېدلې -

خو بيا چې وخت مخته رهې شو ، نو دَ وچې په لور دَ سپلاني دَ غبرګون په دويم ګام سوپيس هم لمد ه خيښته تر هغه پورې را ورسېدله - او دواړه په پټه خله له يو بل سره څنګ په څنګ چې څنګه څنګه دَ وچې په لوراوبه کچلې ، نو دَ يخې هوا په زد يې يو بل ته ځانونه نيږدې کولو لګيا وُ - خو بيا چې څنګه وَ وچې ته وَ رسېدلو ، نو دواړه له تيارو سره ملګرې په هغه لور روان شولو ، چې چرته دَ سهار په ځاى نورې تيارې دَ هغوئ په انتظار کې ولاړې وې -

**_ 4 _**

نن سهار به سپلاني ځان دَ خپل ضمير په وړاندې نور نور ملامتَولو ، چې دَ هغه سره دَ اختر مبارکې کولو په نيت تهائې پېغله سوپيس وَ خوني ته له خپل وراره نوا سره څه ورننوتله ، چې هغه يې په ځاى دَ مجرم يو مجاهد په څير په خپلو سترګو کې رابرسېره ځکه کړو ، چې هغې دَ عربيانو غوندې وېښته په دوسمال باندې څه تړلې وُ ، چې په اوږده جامه کې هم ترځُورې کمه نه برېښېدله -

" السلام وعليکم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" وعليکم السلام .. سوپيس دا نن زه څه وينم ؟ "

سپلاني چي دې وخت دَ سوپيس په احترام کي ولاړ شوی وُ ، چي داسي تپوس وکړو ، نو هغې ورته دَ يوې مومني ښځي په رنګه دَ زړه له کومي موسکا وړاندي کولو ورسته وئيلو ..

" هو ، خدای دي ما ماف کړي - دا څه چي وينې .. دا هم يو حقيقت دی "

او بيا يې له هغه سره دَ اختر مبارکي کولو ورسته هغه ته داسي وکتلو ، لکه هغه چي له هغې سره بد نه ، بلکې ډېر ښه کړي وي - او بيا چي څنګه سپلاني له هغوئ سره دباندي وَ وتلو ، نو هر هر چا چي وَ سوپيس ته دَ اختر دَ مبارکي سره ګنډلي دَ حق په لور دَ داسي بدلون دپاره مبارکي وئيله ، نو سپلاني به پرې کېدلی شي چي په دې خوشاله کېدلو ، چي له شره يې وسا او هغه په امان شولو -

نن که څه هم ملګرو دَ اختر خوشالياني له لومړي سهاره په مخامخ بيچ باندي په فټ بال کولو پئيل کړي وې ، خو دَ سوپيس بدلون په باب هره خله ژغېدله - چا به وئيلو ، چي ..

" دا دَ يو څو ورځو کيسه ده .. ډېر ژر يې ګوره ، چي بيرته هغسي بې لاري شي لکه چي وه "

لاکن رنا او عقود يې په داسي کولو که خوشاله وې ، نو دَ بُوبُا په زړه يو خدای خبر وُ - خو بيا يې هم وئيلو ...

" خدای دي دا په لار کړي زما دَ دوستۍ خبر دی "

" فکر مه کوه ډېر ژر به هغه بيرته ستا په لور درستنېږي .. ولي چي زه دَ تهائيانو فطرت پېژنم "

دَ پُو په دې خبري که څه هم دَ بُوبُا زړه تر ډېره هاند ه ښه شوی وُ ، خو منوېلا مورتي ورته وئيلو ..

" هغه ډېره کست ناکه انجلۍ ده "

" هو ، ډېره کست ناکه ده "

سپلاني هم دا خبره ورسره که څه هم يوې خواته منله ، خو بلي خواته يې داسي هم ملګرو ته وئيلو ..

" انسان هم عجبيبه شی دی ، هيڅ يې نه معلومېږي "

صلاح مصري ، ډاکټر دعد او دَ نائجېريا احمد بابا دَ هغې په دې بدلون بېخي زيات خوشاله وُ او يوه خطره يې هم دَ هغې دَ بيرته غبرګون نه محسوسوله -

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه هرڅه ، خو سپلاني تر نن سهاره پوري په ځان کي تُوکلو ، لاکن اوس يې دَ هغې په داسي بدلون باندي خپله دَ تيارو هغه سودا تاواني نه ګڼله - ولي چي هغه نن له هر قسم ويرو څخه چي تر پرونه يې دَ سوپيس په نوم او بڼو باندي هغه وَ کرار ته نه پرېښولو لاس په سر برېښېدلو - ځکه خو يې غوښتلو ، چي دا بيچ ډېر انجواى کړي -

_ 5 _

سوپيس چي به دَ سپلاني دَ دې بې اندازې خوشالی پر لور دَ سوچ نيليان وَ ځغلولو ، نو به يې زړه ته دا خبره راغله ، چي ګوندي هغه خود لکه چي له دې سره دَ تيارو په هغه کړي سفر باندي هوسېږي - ګوا ..که به يې څه هم په زړه کي هغو رېبلو غابڼونو بيرته سرونه وَ کړو ، نو هغې به کليمې په ځان چُوف کړې او دَ هغه له سترګو به ليري شوه - ولي چي هغې دَ نوا دَ مخه نن سهار نه يوازي له بد و توبه ايستلي وه ، بلکې دا يې هم ورته وئيلي وُ ، چي هغه به په ظاهره باندي هم ځان وَ يوې پخې مسلماني ښځې ته مونوي -

" نن له بُوبُا سره په ځنګ کي څه زياته نه ښکاره کېږي؟"

منوېلا دَ تاش پته په ميدان باندي غورځولو ورسته چي دَ راغلي راناشامی پر لور کتلو په وخت دا خبره وکړه ، نو سپلاني ، پُو او بېسنك چي دې وخت يې په بيچ باندي تاش کولوورباندي چي څنګه وَ موسېدلو ، نو رانا دَ مستی له لاري واي ..

" زه غواړم ، چي دَ تور بُوبُا په هغو پُرهارونو باندي ملهم کنبېږدم ، چي سوپيس ورکړي دي "

" لاکن په خيال يې ړده ، چي چرته يې ريزلټ هغه زما دَ پرونی کړي ټوکي په شان نه شي "

ډاکټر پُو چي څنګه داسي ورته وَ وئيلو ، نو هغې منګولي له رېګه ډکي کړې او په پُو باندي يې ور تويه څه کړې ، چي هغه هم ورپسې منډې کړې - او بيا دواړه يو بل په رېګ کي چي کله په سات سات کي مرورړلو لګيا وُ ، نو سپلاني دَ يوه تريخ ياد په تصور کي داسي لاهو شو ، چي نابېره يې وسا هم وَ سترګو ته له خياله جګه وَ درېدله - او له هغه څخه يې سر دوباره هغه تپوس ، چي هغې دَ رعمسيس هلټن پلا زې په يوې سېنما کي دَ " ميډ نائټ فئير" نامي فلم کتلو په وخت ورڅخه کړی وُ ، ګوا ..

" زما مينه خو به په بل چا نه روا کوې ؟ "

" يَه يَه کله هم نه..ولي چي ما له تا سره پېښتني بول کړی دی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره چي يې لا په ځواب کي له خلې نه وُوتلي ، نو بېسنك او منوېلا ورباندي څه وخندل؟ چي سپلاني يو دم له خياله راستون شو او خپل هغه وهېدل يې په داسي خبري واړولو ..

" ما دَ تاش دَ پتو حساب ټينګ کړی وُاو سنجول مي ، چي کېدلی شي ، چي که ما دا دَ " پان باچا" ميدان ته وَغورځولو ، نو چرته به يې پُو خو په "يکه" باندي وَ لاس ته نه کړي"

دَ سپلاني دَ دې خبري ورسته بېسنك په موسکا کي واي ..

" کريمينل کريمينل "

او دَ خپل معمول په شان چي يې په دغه ځای انګلسي هم تمامه شوه - نو ځکه خو يې مائينه له خندا شنه شوه او په خندا خندا کي يې په البانۍ ژبې کي ورته ګوره چي څه وَ وئيلو ، چي هغه هم خله خندا ته جوړه کړه -

ټوله ورځ لکه ماشومان ورځ په رېګ کي له لوبو سره تېرولو ورسته ، چي کله دَ ډاکټر هنا دَ کوارټر په لوګيانو کي BAR .B.Q مخي ته دَ فلوريتا ، ډاکټردعد ، ايمن او بتوکا له خوا اهتمام شوي ملګري شاوخوا ناست وُاو دَ خپلي خپلي برخي کباب شوي غوښي يې خوړلې - نو مديحه مصرۍ دَ سپلاني په څنګ کي دَ کنبېنستلو ورسته ورته په غوږ کي واي ..

" سوپيس راته وئيلو .. چي دئ دي له هغې سره اوس اوس وَ ويني "

سپلاني شاوخوا ته کتلو ورسته پوښتنه ورڅخه وکړه ..

" لاکن مديحه .. هغه خو دلته نه ښکاري ؟ "

" هو ، هغه دَ خپلي خوني مختته ولاړه وه "

" خوني مختته ؟ "

" هو .. هاغه ګوره ، له دې ځايه هم لړه لړه ښکاري لکه انساني سايه "

مديحه دَ سپلاني پام شاته هلته ليري ولاړې ساې په لوري اړَولو ورسته چي داسي څنګه وَ وئيلو ، نو دَ هغه بدن نه يوازي مېږي مېږي شو بلکې يوې بلې نابېري ويري يې زړه په لاس کي مروړل هم شروع کړو - - او په مات زړه ولاړ شو

" چرته خو بيرته هغې دَ سپيۍ خرمن نه ده اغوستي ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو ، هم له دغسي شيطاني وسوسې سره ملگرى سپلاني په رېږدېدلي وجود دَ هغې انساني ساې په لور روان شو ، چي دې وخت هغه ولاړه نه ، بلکې دَ سمند ر په لور يو ځل بيا لکه ښاماره غزېدلو ته هڅېدله لگيا وه -

*****

## فصل ۱۳

# دَ وخت او مقام له قيده آزاده مينه

سپلاني چي له کومي ورځي له سينائي ښځه راغلى وُ، نو له هغې ورځي تر ننه ، خو دَ اختر دَ مياشتي څلورمه وه ، چي سي ډي سي ته دَ ناروغۍ له سوبه نه وُ تللى او په فلېټ کي يې آرام کولو - نو ځکه به ورته ملگري پوښتني ته تلو او راتلو - لاکن دَ وسا ، منال ، ښېسنك فېميلي او حسن پرته که بل څوك ډېر ډېر راتلو ، نو هغه وه سوپيس ، چي سهار او ماښام به له خپلي خوندکۍ فلوريتا سره راتله - خو ملگري پُو دَ هغې داسي همېشه راتگ نه وُ خوښ او په وار وار به يې سپلاني ته وئيلو ، چي ..

" دَ دې ښځي راتگ ماته له غرضه خالي نه ښکاري "

" نو بيا پليز ورته وَ وايه ، چي نه دي راځي "

خو هغه به ورته وئيلو ..

" هغه تاته راځي .. زما وئيل بې مانا دي "

که به څه هم سپلاني هغې ته په څو څو واره ښېلابېلي اشارې دَ نه راتگ دپاره کړي وې ، خو هغه وه ، چي گرسره يې سر نه خلاسولو - او بل يې دَ رناشامۍ او عقود په ملگري کي په منوبلا او ښېسنك باندي هم کار شروع کړى وُ ، چي هغوئ هم په لمونځونو باندي وَ پاروَي - نو ځکه خو به سپلاني ورسره کله کله په دې نېك کار کي ملگري څه کوله ، چي منوبلا او دَ هغې وَ مېړه ته به يې لمونځ وريادَولو ديارہ په ورځ کي يو نيم لمونځ دَ جماعت غوندي هم ورکولو -

" دا سوپيس او فلوريتا څنگه له يو بل سره دومره په مينه مينه ليدل کېږي ؟ که څه هم يوه کټره مسلمانه او بله عيسائي ده"

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ چي دَ وسا په موجودګۍ کي ډاکټر پُو داخبره دَ سوال په توګه پورته کړه، نو سپلاني ورته وئیلو..

" مذهب له انسانه دَ انسان جوړلو او انسان وَ انسان ته دَ نیږدې کولو وظیفه سرته کوي "

اوس به یې لا نور څه وئیلو، چي دَ پُو له خلې یو دم داسي خبره نابېره وختله، ګوا ..

" سپلانیه ..ته دَ سوپیس په حق کي نن سبا ډېر ښکارې "

بیا چي یې خپلي دې غلطۍ ته پام شو، نو واي ..

" زما مطلب دا، چي هغه په دې اسلامي جامه کي ګرسره ښه نه برېښي، خو ته ورته ښه واې "

وسا که څه هم هیڅ نه وَ وئیلو، خو دَ سپلاني په خوا یې داسي په سوالیه نظرونو وکتلو، لکه هغه چي هم دَ ده دوستي له سوپیس سره نه خوښَوي -

خو بلي خواته سوپیس وه، چي دَ اخلاق او دَ خوئیو په اړه یوه ښه مسلمانه برېښېدله، لاکن دَ هغې تګ راتګ دَ منوېلا او سپلاني وَ فلېټونو ته اوس که څه هم وسا هم نه خوښولو، خو دَ خپل آزاد او بېخي صفا فطرت له سوبه یې سپلاني ورڅخه ژغورلی هم په دې سوب نه شو، چي هغې خپله خو هم په شروع شروع کي ورسره ښه ناسته ولاړه پاته شوي وه -

_ 2 _

نن اتهلسمه فروري، ګوا دَ سپلاني دَ زوکړې ورځ وه، ځکه خو دَ هغه په فلېټ کي دَ هغه دَ جماتیانو پرته هم تر دوه درځنه زیات ملګرو دَ هغه په خوشالیانو کي برخه اخیستله او هغه سره یې چي څنګه مازیګری دَ ماښام په لور په خوند او خندا بُوتللې وُ - نو هغسي یې دې وخت دَ نیمي شپې په لور دَ منال او ثریا په بېلي، دَ التانګریل په منګولي، نستان او ایرینا په روسي، خاتونا په جارجین او ګل چهره په تاجکي رقصونو که محفل نور نور تودولو- خو داکټر پُو، منوېلا، دَ هغې مېړه بېسنك او لُونې ویندې، فلاویه، رنا، بتوکا او لومائې هم دَ خپلي خپلي برخي خوشالیاني او خنداګاني دَ سپلاني په نوم داسي په مزه مزه سپارَلې، چي دَ هغه فلېټ څه، چي درسته څلور بامیزه پلازه ځنګېدله -

هر څه هرڅه، خو نن وسا په ګڼو فرانسوي شنو جامو کي له خپلو سنهري خلاسو ویښتانو سره که څه هم دَ فلاویه او رنا په مرسته دَ مېلمنو په خذ مت کي بوخت یوې بلي خواته ګرځېدله، نو بلي خواته یې منوېلا او عقود له صفت کولو مړېدلې هم نه او په وار وار به یې سپلاني ته وئیلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا وسا خو نن تیاره له اسمانه راغلي حُوره بربښي "

او لا چي به يې خبره نوره زياته کړه ، نو به يې وئيلو ..

" څومره چي په خوی او خصلت ښه ده ، نو خدای ورته ښائست هم په هغه حساب ورکړی دی "

هم دغه خو وجه وه ، چي نن سپلاني داسي په سترګو کي اخيستي وه ، چي کله به دَ هغې ورته پام شو ، نو په خوږې موسکا به يې هغه لا نور هم په کتلو وَ روږدولو -

نه يوازي دا ، چي سپلاني يې له ښائسته ډېر متاثره وُ ، بلکې نن په هغې کي ورته يوه داسي ښځه هم ښکاره کېدله ، چي هغه يې په هره مانا تکميلولو - نو ځکه خو هغه به دا سوچ کولو ، چي ..

" هغسي هم دَ هغوئ تر منځه دَ واده کولو خبره شوي ده ، نو بيا څله ژر تر ژره نه وَ شي ؟ "

که څه هم هغه دَ ملګرو په مجلس کي پوره پوره برخه اخيستله ، خو په مزغو کي دَ راپيدا شوي سودا کته کولو په غرض نه يوازي يې له ځان سره دَ واده نېټي غوره کولې ، بلکې دَ بې صبرۍ مظاهره يې لا هم هغه وخت وکړه - چي کله په وسا پسې بورچيخانې ته يو دوه ځله په دې ورغلو ، چي ورته وَ واي ..

" هله ژر کوه وسا ، دَ واده نېټه غوره کوه - نور انتظار راڅخه نه کېږي "

خو په هر ځل به هلته يوه نا يوه بله پېغله هم موجوده وه - نو ځکه چي به هغې ورڅخه دَ راتګ تپوس وکړو ، نو ده به خبره په بله واړَوله -

خو آخير هم ، چي کله پارټۍ دوې بجې خواته سرته ورسېدله ، نو يې هغې ته دَ خدای په اماني کولو په وخت په غوږ کي داسي وَ وئيلو ..

" زه نور انتظار نه شم کولې - بس په دې باندي سوچ کوه ، چي ژر تر ژره معامله خلاسه شي "

او بيا که يې څه هم هغې په خله ځواب نه وُ ورکړی ، خو په څنګلي باندي څوکه وهلو ورسته يې ورته داسي په مينه شونډي موسکا ته ضرور غوړَولي وې ، لکه هغې چي هم ورسره دغه خبره خوښه کړې وي -

_ 3 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ناصر ستي قاهره کي دَ بين المللي کتابي مېلې په ستالونو کي ، چي دَ نړۍ دَ هري ژبي په لکهونو کتابونه پراته وُ - خو سپلاني دَ وسا دَ سودا په سمون دَ پښتو يو کتاب يا ليکل شوی سکرپټ هم چي دَ نمونې دپاره تر قضا ماښامه پوري نه کړو موند ه - نو يې ورته وئيلو ..

" درځه ډئير .. بله ورځ به ورته بيا راشو"

که څه هم هغې دا خبره ورسره منلي وه ، خو چي کله له دې ځايه په مائيکرو بس کي بيرته دَ مقعطم په لور روان وُ ، نو هغې دا سوال څه وکړو ، چي سپلاني نيم هم نه شو پاته - ګوا هغې وئيلو ..

" تا خو وئيلو ، چي په نړۍ کي کم او زيات پنځه پنځوست ميلينه پښتانه اوسېږي - لاکن نور خو نور دَ پاکستان او افغانستان ، چي ستا له قوله په کي ډېر زيات پښتانه اوسي په ستالونو باندي هم تا يو کتاب دَ خپلي ژبي نه کړو پيد ....ا"

هغې به لا نور هغه وړکی کولو ، چي ده دَ هغې پام په بله اړَولو دپاره په نرۍ موسکا کي ورته وئيلو ..

" هو ، پاکستان دَ پښتنو وجود مني نه او په افغانستان کي پښتانه ټوله ملايان او طالبان شولو "

" هغه څله؟ "

" هغه ځکه چي په تاريخ کي دې مارشل قام چي کوم کوم قام ځانته مرئيې کړی وُ ، نن دَ هغو بچي ورڅخه دَ خپلو پلرونو او نيکه ګونو بدلې اخلي"

لنډه دا ، چي خبري دَ پښتنو څخه په نړۍ باندي راګرځېدلو ورسته چي کله دَ واده دَ پروګرام په لور څنګه ورغبرګي شوې ، نو دې وخت دواړه له بس څخه کښته شوي هم وُ او اوږه په اوږه دَ لورز پوائينټ ګوا کارنيچ په لور روان وُ -

" زما مور، خور او ورور لکه چي څنګه ما مخ کي هم درته وئيلي وُ به دَ مارچ په مياشتي کي راځي "

" نو بيا به ورسره خبره کوُ .. ستا مطلب دا دي؟ "

سپلاني چي دا پوښتنه وکړه ، نو هغې وئيلو ..

" داسي خو ما له مور سره په فون خبره کړي ده او هغه به مختته نورو ته واي "

"\ لاکن که هغو يَه کړو ، نو ..؟ "\

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغوئ به نو څله يَه کوي .. دا خو زما خوښه ده "

که څه هم مخته سپلاني دا خبره وه نه خبرِله ، خو په زړه کي يې دا خبره راغله ، چي هغه له يوې ماډرني کورنۍ سره نه يوازي اړه لري بلکې هغه دَ صلاح مصري خبره ، چي..\" الجيرين ډېر اوپن خلګ دي\" - لنډه دا ، چي مخته بيا خبري دَ سباوُن په اړه دَ پرګرامونو په لور غزوني پيَل څه شولې ، چي ډېر ژر بيا دَ واده ورسته دَ کېد ونکو ماشومانو خبري هم منځ ته راغلې -

_ 4 _

دولس نيمي بجې درست لوستونکي په بسونو کي وَ الازهر، چي تاريخي بين الاقوامي يونيورستۍ ده ته يُو وړل شولو - ولي چي نن په \" آبادۍ او توليدي صحت \" تر عنوان دلاندي نړيز کانفرنس وُ او دَ نورو سکالرانو پرته دَ سي ډي سي پنځه ګلوبل ډيپلومه لوستونکي ، چي سپلاني هم په کي ورګډه وُ دَ خپل خپل هېواد نمائندګي کوله -

دا غونډه دَ شيخ الازهر يونيورستۍ عزتمن محمد سيد طنطاوي په مشرۍ کي کېدله - عجيبه پېښه خو هغه وخت وه شوه ، چي دَ سپلاني دَ نامه په اناوُنسمنټ باندي دَ هغه په ځاى يو دم په پاکستاني سپينو جامو کي پټ ډاکټر لئيق احمد خان پورته شو او مقاله يې وئيل چي څنګه پيَل کړه .. ، نو وربانديَ دَ پريزيډيم له خوا ژغ وَ شو

" وَ بخښه .. مورِ په ستېج باندي سپلاني راغوښتى وُ ، ته نه "

" لاکن هغه خو نه شته ، نو ځکه زه راغلى يم له پاکستانه "

" هغه دا دى .... "

او بيا چي يې څنګه سپلاني ور پورته کړو، نو هغه وئيلو ..

" زه بخښنه غواړم له سپلاني او تاسو ټولو څخه او په دې کي زما قصور هم ځکه نه شته ، چي زه دَ خپل هېواد له خوا په سرکاري توګه رالېږل شوى يم"

خپله مقاله چي يې وړاندي کړه ، نو يې په ستېج باندي سپلاني ته غوزۍ ورکولو ورسته ورته وئيلو ..

" وروره .. زه پرون په هوټل کي ډېر درسپې وَ ګرځېدم "

" لاکن زه خو دلته سبق وايم سر "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښه ځکه هلته نه پيدا کېدلې "

او بيا چي سپلاني هم خپله مقاله وړاندي کولو ورسته بيرته دلاندي خپلي چوکۍ ځنګه وَ رسېدلو ، نو ورسره څنګ چوکۍ کي ناستي وسا له خندا شنه شنه کېدله او هڅه يې کوله چي خلګ يې نه واوري ، خو بيا شاوخواته نيږدې خلګو ورته کتلو -

" ځله خاندې وسا .. چرته خو ما مقاله غلطه نه کړه وړاندي "

سپلاني چي څنګه په شکي انداز کي تپوس وکړو ، نو هغې په خندا خندا کي دَ هغه ډاکټر صاحب بې پروګرامه دَ هغه نامه په ستېج باندي راتګ په باب په خندا کي وئيلو ..

" ښه نو ستاسو په هېواد کي داسي هم کېږي "

" څه مطلب وسا ؟ "

هغه پوهه شوه چي دا خبره په سپلاني باندي بد ه وَ لګېدله ، نو يې خبره لږ په بله واړَوله ..

" زما مطلب دا .. چي ستا له مقالې سره خو ستا نوم دَ دې پروګرام په چاپ شوي شيډ ول کي ما خپله هم ډېر پخوا لا ليدلى وُ - نو بيا ستا هېواد دا بل سړى ځله رالېږلو "

" زما هېواد نه ، بلکې هغه خو ستا هېواد هم جوړېدوکى دى "

" هو ، دغه خبره خو ده ، لاکن خداى دي کوي خېر چي دا زما "

مخته که څه هم هغوئ دَ منوېلا دَ مقالې اورېدلو په نيت چپ شولو - خو دَ وسادَ راپورته شوي سوال په ځواب کي سپلاني له خياله چي هر دليل هغې ته وړاندي کولو .. په هغه دليل کي بلا نور نور سوالونه دَ خپل هېواد او کلتور په بابت دَ هغه په ذهن کي رابرسېره کېدلو - او هغه دا ګڼلو ، چي چرته دَ هغه له خوا هغه ټولي خبري يو په يو دروغ نه شي ، چي ده دَ قام دَ سر لوړۍ په باب دَ يقين تر هانده ورته کړي وې -

لنډه دا ، چي څنګه کانفرش دَ ماښام وَ خواته سر ته وَ رسېدلو ، نو سپلاني له وسا سره دَ هغې په خوښه تيبا مال نامي شاپنګ پلازې ته دَ وينډ و شاپنګ کولو په نيت ورسېدلو - او چي لس نيمي بجې بيرته دَ کورونو په لور تلو ، نو دَ واده دَ خبرو څخه خبري دَ واده تر تياريانو پوري رسېدلي لګيا وې - نو ځکه خو فېصله هم دا وَشوه ، چي وسا به دَ نن ماښامنى له سپلاني سره خوري -

_ 5 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياته خو فقط يو څو مياشتي پاته وې ، نو ځکه په سي ډي سي کي دَ مصروفيت پرته فيلډ ورك دپاره هم هره هفته يوه نا يوه خواته لوستونکي وړل کېدلو - ګوا پرون دَ عرب آرګنائزېشن انډ سټريز په نهو کارخانو کي دَ څلورو دوړه کولو ورسته بيا نن دَ پروګرام په سمه دَ ګلوبل لوستونکي دَ درو ورځو دپاره دَ منصوره ښار په لور چي بس کله روانېدلو ، نو وسا وَ سبلاني ته په بيا بيا داسي لاسونه ښورَولو ، لکه هغه چي دَ درې کلونو دپاره ورځخه بېلېږي - که څه هم بيا په درو ګنټهو کي دننه هغوئ دَ منصوره په شاوخوا کلو کي په هغو سېلف هېلف پراجېکټونو باندي راګرځېدلو ، چي دَ ببلا ببلو ابن جي اوګانو له خوا پئيل کړل شوي وُ -

په پېرامون نامي کلي کي دَ سکولانو او ببلاببلو سېنټرانو کتلو ورسته چي ځنګه په منصوره ښار کي دَ ميوزيم مخي ته له بس ځخه لوستونکي مازيګر مال کښته شولو ، نو له سبلاني سره په ځنګ کي روان صلاح چي له مصر سره يې اړه لره له هغه تپوس وکړو ..

" وايه ملګريه .. زما خور وسا ځنګه ده ؟ "

هغه به اوس لا ځواب ورکولو ، چي صلاح بيرته وار لاس ته کولو ورسته مخکي واي ..

" واده څه وخت کوئ ؟ "

" ډېر ژر ..بس چي کله فارغ وخت په لاس راشي "

سبلاني لا دومره سم نه وُ وئيلي ، چي سعيد سوډاني دَ هغه په خبري کي دَ ختلو ورسته واي ..

" دغه خبره خو پرون ما هم له وسا ځخه وَ پوښتله او هغې وئيلو چي ډېر ژر به دا خبر هم واورئ "

" نو دَ دې مطلب دا دی ، چي ګني واده تيار دی "

" واده .. دَ چا واده ؟ "

حبشۍ پېغلي ابمرانشا چي تر شا ورته را روانه وه ګامونه تېزولو ورسته يو دم داسي پوښتنه څه وکړه ، چي صلاح ورته وئيلو ..

" دَ وسا او سبلاني واده "

" ولي په ميني کي واده ضروري دی څه ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" څه مطلب اېمرانشا ؟ "

دَ صلاح دَ تپوس په ځواب کي دَ کبمرون توري خرتي اېمرانشا کلك خندلو ورسته مخته خبره داسي په خوند کش کړه ..

" زه خو وايم ، چي واده نه دی کول په کار .. هو ، لکه دا ما چي نه دی کړی او دَ خوند خبره دا .. چي درې بچيان هم لرم"

دا خبره څه وه ، چي هغو درو واړو غوږونو ته لاس وړلو ورسته يو بل ته داسي وکتلو لکه هغه چي دَ هغه بازار ښځه وي ، چي څوك هم ورته پيسې ورکوي دا دَ هغه شي -نو ځکه خو صلاح هم داسي وار ورباندي وکړو ..

" وايه اېمرانشا ... دلته په مصر کي دي هم چرته له چا ښځه دَ بچی پيدا کولو هڅه کړي ده که "

هغې دَ صلاح خبره پرې کړه ، خو مخته يې خپله ځکه نه وکړه ، چي دې وخت ډاکټر مجدي په ميوزيم کي دننه دَ لوستونکو پام دَ هغه وړې خوني په لور اړولو ، چي لوئيس نهم باچا دَ يوې مياشتي دپاره په کي بنديوان کړل شوی وُ - او دې وخت يې ټول دَ جوړي شوي مجسمې مخي ته ولاړ هم وُ -

له هغې خوني څخه راوتلو ورسته چي سپلاني دَ آزادۍ په نوم دَ ښځي له هغې مجسمې سره په څنګ کي تېرېدلو ، چي په يو لاس کي يې قرآن او په بل لاس کي چاړه نيولي وه ، نو يې خپل مخته رواني سوپيس په اوږدو لاس بدلو ورسته څوکه غونډي داسي تپوس ورڅخه وکړو ..

" داخو ته نه يې سوپيس ؟ "

سوپيس دَ هغې مجسمې په لور کتلو ورسته په موسکا کي ځواب داسي وربيا کړو ..

" زه نه يم .. بلکې زما په رنګه وخت زپلي مظلومه ده لکه چي "

" خبره يې لا سمه سرته نه وه رسولي ، چي ورسره رواني منوېلا ورڅخه پوښتنه وکړه

وايه ډارلنګ .. چا درباندي ظلم کړی دی "

هغې هم دَ خندلو ورسته په نېغه وَ وئيلو ..

" يوه نر ، چي لا خو ژوندی دی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا چې یې دَ سېلانې په لور وکتلو ، نو منوېلا دَ خندلو ورسته ورته واې ..

" چرته .. هغه خو دا نر نه دی ؟ "

خبره چې یې تر دې ځایه وَ رسوله ، نو ډاکټر پُو هم راورسېدلو او واې ..

" نر ؟ نر خو زه هم یم "

" لاکن ښکارې نه "

دَ هغه وَ مخته رواني رناشامۍ داسي وار څه ورباندي وکړو ، چې ټولو ملګرو وَخندلو او مخته تېر شولو -

**_ 6 _**

دَ سېل په دویمه ورځ دَ طوخ الا قلام نامي کلي په ښېلابېلو برخو کي دَ راګرځېدلو ورسته چې مازیګر خواته په څلور خالیزه مارشل الجزیره هوټل منصوره کي سېلاني خپلي خوني ته ځنګه ځان لا نه وُ رسولی ، چې دَ وسا فون ورته راغلو ..او هغې داسي دَ هر شي پوښتنه کوله ، لکه سېلاني چې ماشوم وي او په اول ځل له کوره وتلی وي - نو ځکه خو چې کله هغه دَ ستړیا وسا کولو دپاره په پلنګ باندي لا سم غزېدلی نه وُ ، چې خوب په خپله غېږ کي واخیستلو او نبغ یې دَ وسا وَ مخي ته دَ مقعطم دَ کارنیچ دَ پېرامیډ ز ویو ُ رېستورېنټ په خلاس لان کي کښېنولو -

" هغه لاندي په څه واټن باندي ښکاره کېد ونکي دَ اهرام مصر څلور کونجیزه ګومبتي به زمونږ دَ میني هم دغسي ګواهي وَ راتلونکو نسلونو ته ورکوي لکه له پېړیانو پېړیانو چې راهسې یې سلسله تر ما او تا پوري رارسولې ده"

وسا چې دې وخت یې سپیني جامې په تن وې پرله پسې ژغېدله او سېلاني چپ ورته ناست وُ او په ځیر ځیر یې ورته ځکه کتلو ، چې څبرې یې نقشونه بدلولو رابدلولو لګیا وه - هو ، چې کله سترې شوه ، نو یې په سېلاني باندي ژغ وکړو ..

" راپورته شه او ماته هغه څبرې هم را واغونده ، چې لا خو تا خپله هم نه دي لیدلي "

سېلاني په سوچ کي دَ څو لمحو دپاره ډوبېدلو ورسته ورته وئیلو ..

" زما په سوچ کي خوندي شوي هره څبره خو تا واغوندله .. بله یوه هم داسي څبره نه لرم ، چې له تا سره ښاي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسا دَ سپلاني په سترګو کي سترګي اچولو ورسته ورته ځوکه غوندي وَ وئيلو ..

" ما ته دا ځبره هم را واغوند ه ، چي ته يې دې وخت زما په سترګو کي وينې "

" لاکن دا خو زما خپله ځبره ده او زه نر يم "

سپلاني چي ځنګه داسي ورته وَ وئيلو ، نو هغې کلك وَخندلو او په خندا خندا کي يې ورته زياته کړه ..

" منم .. چي دا ستا ځبره ده ، خو زه يې اغوند مه ځکه چي زه په تا او ته په ما کي تحليل شې"

او بيا مخته سپلاني ځه ګوري ، چي هغې دَ ده ځبره هم واغوندله او اوس به يې له سپلاني ځخه دَ هغې ځبرې په باب رائې غوښتله ، چي دَ خوني دروازه يې ډاکټر پُو وَ ټکېدله او دَ هغه سترګي خلاسي شولې -

دَ سپل په دريمه ورځ سهار نهه نيمي بجې هغوئ دَ رود نيل په ځنډ ه باندي جوړ دَ منصوره ګورنرېټ دوړه کولو ورسته په منصوره ښار کي دَ يوې ګنتهې دپاره خوشي کړل شولو - نو ځکه خو سپلاني له ډاکټر پُو او بېسنك سره تر ليري پوري په دې صفا ښار کي وګرځېدلو او دَ وسا دپاره يې يو سوټ چي ويسټرن وْ اخيستلو ورسته هلته په يو اوپن ائير ريسټورينټ کي توري چاى ځکلو ورسته چي ځنګه دَ بس په لور ګامونه اوچت کړو ، نو ځه ګوري ، چي رناشامې له بُوبا سره يوازې له يوې خوا ځه راورسېدله ، چي پُو ورته په غوږ کي مبارکي هم وړاندي کړه - لاکن هغه وه چي په زوره يې ورته وئيلو ..

" بُوبا چي ځومره په مخ تور دي دننه هغوني سپين دى "

" ښه ښه تا يې بيا دننه ته هم ځان ورسولو لاکن هغه ځنګه؟ "

پوُ چي ځنګه داسي وئيلو ، نو رنا ورپسې داسي ورمنډې کړې لکه دَ هغه تر خبري چي يې لا هم په نور ځه سر خلاس شوى وي - خو دَ دې هر ځه پرته هم چي کله له دې ځايه بس دَ قاهره په لور روان شو ، نو رنا له بُوباجُوف سره داسي په ځنګ کي ناسته وه ، لکه هغوئ چي له مودو مودو په يو بل کي ښخ وي - نو ځکه خو بُوبا خوشاله هم وْ او دَ هر چا په لور به يې داسي کتلو ، لکه هغه چي ډېره غټه توره وهلې وي -

" دا بُوبا جوُف هم ډېر خوش قسمته نه دى؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دی خو ، چي يوه يې پرېښې نه وي ، بله بيا ورځرمه شوي وي"

دَ عقود ، چي دَ رناشامۍ ملګري وه دَ سوال په ځواب کي چي مديحه داسي وَ وئيلو ، نو منوبلا هم دا خبره وکړه ..

" ځيني ښځي توران زيات خوښوي "

او بيا يې خله خندا ته جوړه کړه -

*****

## فصل ۱۴

# دَ فرعون په دربار کي دَ سپنج سوري پېشي

دا خبره اوس هر چا منلي وه ، چي دَ سوپيس بدلون دَ يو څو ورځو يا هفتو دپاره نه ، بلکې تر ډېره پوري دَ ساتلو په نيت شوی دی - ولي چي دَ هغې له جامو څخه اوس جينز پېنټ هم کرار کرار وتونکی وُ - او هر کله به يې دغه هڅه کوله ، چي لمونځ په خپل وخت وکړي - که څه هم ورارہ نوا يې ورته ډېر کم راتلو ، خو دَ هغې په کردار او ګفتار کي دَ مسلمانۍ رنګ هغه نوره نوره وَ مثالي ښځي ته مونوله - او دا هغه شيان وُ ، چي دَ سېلاني په ګټه تمامېدلو - ګوا اوس هغوئ تر خپلو دومره په اخلاقي توګه نيږدې شوي وُ ، چي ګرسره يې يو بل ته دَ دې سوچ موقعه لا هم نه ورکوله ، چي هغه دي په خپل پرون کي دې بل ملګري ته وَ ګوري -

هرڅه هرڅه ، خو په 25م مارچ کال 1998ع ماښام چي درست کلاس دَ \"مدينه العاشره من رمضان\" نامي ښېخي غټ صنعتي ښار ، چي په کي قريباً لس زره کارخانې دي او پنځوست زره مزدوران په پنځه دېرش هاسټلانو کي استوګنه کوي څخه چي راغبرګ شولو ، نو سوپيس په ځای دَ خپل فلېټ له ډاکټر وسا سره دَ ليدلو په غرض له سېلاني او پُو سره ګډ ه دَ هغوئ فلېټ ته لاړه -

دَ ستړيا له کبله درو واړو ملګرو غوښتلو ، چي کوفي وَ څيښي - نو ځکه سوپيس بورچيخانې ته ورچپه شوه او سېلاني او پُو خپلو خپلو خونو ته دَ جامو بدلولو په نيت دننه شولو - که څه هم پُو بيا په نه ساعت کي وَ دباندنۍ واحدي غسل خانې ته ننوتی وُ ، خو سېلاني په خوني کي ځکه وَ ځنډېدلو ، چي دَ هغه طبعيت هم څه غوندي ناساز وُ - په دي وجه هغه دَ يو څو لمحو دپاره لا سم په پلنګ غزېدلی نه وُ ، چي سوپيس دَ هغه کپ هلته دننه ور وړلو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ولي خبر خو دی سپلانیه ، چي بیا پروت یې؟ "

" هو ، خبر دی - داسي لړ غوندي مي په سرکي درد دی "

او بیا یې لا نور ځان چي څنګه وَ غزولو - نو سوپیس چي له اولي ورځي یې په دمونو باندي یقین وْ او په ملګرو یا په کلاس کي چي به دَ چا هم په سر یا په بل ځای درد وْ ، نو هغې به یې هغه ځای په یوه لاس کي ټینګ وَ نیولو او دَ بل لاس په ګوتو به یې دَ کلیمو ورد په پټو سترګوکولوهم دې وخت سپلاني سره څنګ کي کښېنستله ، او دَ هغه سر یې په غوزه کي کښېښولو ورسته یېخپل عمل لا سم شروع کړی نه وْ ، چي له بد ه مرغه دَ فلېټ دروازه خلاسه څه شوه؟ چي دَ هغوئ دواړو په لیدلو باندي یو چا په داسي خرپ بیرته بند ه څه کړه ، چي ډاکټر پُو له غسل خانې ور ناړې کړې ..

" څوك دی ، چي دروازه ماتوی؟ "

دا وسا وه ، ځکه خو سپلاني ورپسې منډې کړې ، لاکن هغه بیا په دومره وخت کي له پوړیانو کښته شوي هم وه او دې وخت په غټو غټو ګامونو مخته په مات زړه روانه وه - نو ځکه هغه نه غوښتلو ، چي بیا په ځان باندي خلګ وَ خند وي - په دې خو چي څنګه یې په فلېټ کي بیرته قد م کښېښولو ، نو پُو له غسل خانې راختلی وْ او پوښتنه یې وکړه ..

" څوك وْ دا چي دروازه داسي په خرپ بند ه کړه ؟ "

" وسا وه "

" کومه ده ؟ "

" هغه راغله ، خو بیرته ولاړه هم "

" څله ولاړه ؟ "

" ځکه چي هغې سوپیس له ماسره په خوني کي یوازي وَلیدله "

سپلاني چي لا دومره وئیلو ، نو سوپیس واي ..

" ولي چي ما دَ سپلاني سر په غوزه کي ینښی وْ او هغه روحاني علاج مي ورته کولو "

" ستا دي دَ غم علاج شي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې وَ سپلاني ته مخ ور اړوَلو ورسته په نیغه وَ وئیلو ، چي ..

" ما نه درته وئیلو ، چي دا سوپیس به یوه ورځ غم درته جوړ کړي "

سوپیس دَ هغه خبره بد ه ځکه نه وَ ګڼله ، چي دې وخت هغه په خپلو کړو باندي ډېره پشېمانه وه -

اوس به لا نور هغوئ دَ وسا دَ بیرته خوشالولو پلان جوړَولو ، چي بُوبا راغلو او وئیل یې ..

" فلوریتا ډېر شدید ایکسیډنټ کړی دی او دې وخت په عباسیه اسپتال چي دَ عېن شمس یونیورستۍ سره جوخت دیکي پرته ده"

بس بیا نو څه وُ ، چي درست ملګري ورته په ټېکسیانو کي له یو ې بلې په درې پاوْه کي وَرسېدلو - فلوریتا په دغه وخت له تهېتر څخه سپېشل وارډ ته راوړل شوي وه - دَ نورو پرهارونو پرته یې دَ ښي ادوم هډ غوټ مات شوی وُ - که څه هم لږ وخت ورسته وسا هم ورته راغله ، خو خلاف توقعه هغه خفه نه ، بلکي زړه ماتي برېګګښېدله - او په بیا بیا به یې سوپیس او سپلاني ته ډېر په حېرت کتلو څه ، چي په څېرې باندي یې څېرې داسي اغوندلې لګیا وه - لکه هغه چي دَ خپلو جذباتو له لاري بیرته له قلوپطره څخه لېډي تاخمینس په لوري یُون کولو ته جوګه شوي وي - او دَ رعمسیس الثاني دَ رانۍ نېفرتاري څخه هم زیاته جلالي ملکه هاتشیسوت چي تاریخ یې لومړۍ ښځه فرعونه باچا په دې ګڼي ، چي سړي ورته په زور کي هیڅ وُ په رنګه به دننه دننه خُوځکېدله .. یشېدله - خو بیا هم په ښائست کي نوموړي هغه وسا وه ، چي دَ پېغلي فرعوني شهزادګۍ نېفرتیابیت په رنګه یې مړې او ډېري خوږې موسکاګاني کولې او دَ فرعوني عادلي هیتفېرس غوندي دَ خپلو سترګو په ګواهي یې دَ سپلاني په باب لا زړه حتمي فېصله نه وه کړي - ولي چي هغې دَ رانۍ خامیررنبیتي په رنګه له خپل مېړه اشنا کنګ مینکورا سره مینه خو هم ډېره.. ښېخي ډېره کوله - هم ځکه خو سپلاني ، چي که څه هم لا تر اوسه ورسره سترګي سمي نه شولې جنګولی ، خوهغه یې په زړه زړه کي داسي ستائیله ، چي ..

" قربان دي شم له میني .. واقعي چي له اصله خاندانه سره اړه لرې "

دې ځل سپلاني په ځان کي ځکه نه تُوکلو ، چي ملامت نه ، بلکې عبث دَ هغې دَ سترګو دَ دهوکې تر هاند ه قصور واره وُ -

_ 2 _

که څه هم وسا څه څه خفه غوندي وه ، خو دې وخت له سپلاني سره په څنګ سیټ کي ناسته وه او دواړه له لوستونکو ملګرو سره دَ پورټ سعید په سېل روان وُ - تر پورټ سعید پوري دَ دوْ سوْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلومیټرانو واټن څنګه تېر شو ؟ په دې باندې ګرسره پوهی نه شولو - ولې چې په درسته لاره کې که یوې خواته نورو ملګرو خپلې ټوکې ټکالې او رقم رقم شوخیانې کولې ، نو بلې خواته که څه هم وسا له سپلاني څخه دَ هغه په خونې کې دَ سوپیس دَ موجودګۍ په باب هیڅ قسم تفصیل نه غوښتلو .. خو سپلاني ورته بیا بیا وئیلو ، چې ..

" هغه ورځ زما په سرکې ډېر درد وُ او سوپیس دَ هغه درد روحاني علاج کولو "

خو هغه وه ، چې په ځای دَ څه وئیلو بې ډېر په حېرت باندې شونډې څه چیچلې ، چې سپلاني داسې سنجولو ، لکه هغه چې به ډېر ژر دَ خپلې ناکړدې ګناه له سوبه وَ هغې سزا ته غاړه ږدي ، چې هغې دَ هاتشیپسوت په شان په خپلې فرعوني غاورانه چپیا کې ورباندې روا کړې وه - هم ځکه خو چې ګای به بې دَ سترګو تر کونجو ورته په سوالیه نظرونو وکتلو ، نو هغه به داسې وَ سنجولو ، لکه .. هغه چې بې په یو غټ رېګجن میدان کې دَ سلاوُ غلامانو په وړاندې په سره لمر کې لاس تړلی درَولی وي - او څه وخت ورسته دَ هغې فرعوني راڼۍ په اشاره باندې یو دنګ او پنډ جلاد ، چې تك تور سړی وي په اوږو یو غټ غوندې ساتول را اخیستی وي دَ سپلاني په خوا چې څنګه ور روان شي ، نو هغه په چیغو چیغو واي ..

" زه بې قصوره یم ، زه بې قصوره یم "
خو جلاد مخ مخته ور روان وي له تناوزمه خنداګانو سره - او داسې هم واي ..

" تیار شه مرګ ته اې مُشرکه "

بیا دَ یوې غټې قهقهې وهلو ورسته واي ..

" ستا سزا دا ده ، چې تا شرك کړی دی "

" شرك ؟ "

په میدان کې ناست ټول غلامانو په یوه آواز داسې دَ حېرانتیا اظهارچې څنګه وکړي ، نو هلته لیرې دَ راڼۍ هاتشیپسوت سره په یوه اړخ کې ناست یو بل خېټوَر درباري راپورته شي او په غټو تورو برېټونو باندې لاس وهلو ورسته په خپل درانه ژغ کې واي ..

" هو ، دې سپلاني ګستاخ دَ یوه خدای په وړاندې دَ بل خدای درولو هڅه کړې ده "

خو سپلاني .. چې له ویرې رېږدېدلو دواړه لاسونه پورته کړي او په تېره فریادي چیغه کې واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا دَ وخت دَ رانۍ دَ سترګو دهوکه ده شرك نه ... "

اوس به یې لا نور څه په خپلي صفائي کي وئیلو ، چي دَخیال له فرعوني نړۍ څخه ناڅاپه هغه وخت خپلي زمانې ته راستون شي ، چي ډاکټروسا وربانديژغ وکړي ..

" سبلاني ..! درځه چي کُوزېږو - پورټ سعید راورسېدلو "

_ 3 _

پورټ سعید ، چي په میډیټېرنئین سي باندي جوړه غټه بندرګاه ده تر ډېره هانده په لومړي نظر کتلوباندي دَ سکندریا ته مونېږي په بازار کي دَ ښه ګرځېدلو ورسته ، چي په بس کي دَ بند رګا په لور په شارع تمانین باندي ښنګه ورسېدلو ، نو بس سره له ملګرو په کشتۍ کي بلي څنډې ته بُوتللی شو - او هلته دَ سمند ر په غاړه باندي جوړکلب کي چي ښنګه خوشي کړل شولو ، نو سبلاني دَ وسا دَ درستي لاري دَ بې رُخۍ له سوبه ورته دَ وئیلو داسي جرات وکړو ..

" داسي سنجوم ، لکه ستا سېل چي زما دَ موجودګۍ له سوبه خرابېږي ، نو ځکه زه به "

هغه به لا نور څه وئیلو ، چي هغې دَ سبلاني په سترګو کي سترګي دَ یو څه وخت دپاره کراري کړې او بیا چي یې ښنګه خبري کولو ته خله جوړه کړه ، نو شونډې یې لکه دَ ماشوم وَرپېدلې او ناڅاپه په ژړا شوه -

" وسا .. زما مطلب ستا دَ زړه له ماتولو څخه نه وُ "

او بیا چي ښنګه یې په اوږه باندي لاس ورته ږدلو ، نوهغې یې لاس په زوره وَ څنډلو او په لومړي ځل یې دَ میناکي فرعوني رانۍ نېفرتیتي په شان له هغه څخه فقط په داسي تورو کي ګیله په سُلګیانو کي په ژبې باندي راغله ..

" ما لتا سره ډېره مینه کړې ده ، لاکن ته "

لا به یې نور څه وئیلو ، چي سبلاني هم دَ هغې دَ ژوند ملګري کنګ اخیناتین په رنګه چي ښنګه بیا ورنیږدې شو ، نو هغې وَ دېکلو او له سوخته ورته واي ..

" زه له تا کرکه کوم .. مه رانیږدې کېږه "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا په غټو ګامونو داسي دَ سمند ر په لور رهي شوه لکه هغه چي به یې اوس مستو څپو ته ځان ژغوري خو هغه ولاړه او هلته لیري لکه خفه ماشومه وَ دربډله - نو ځکه سپلاني یې په لور ګامونه اوچت کړو ، خو هغې ورباندي ژغ وکړو ..

" پلیز ما یوازي پرېږده "

" دَ همېش دپاره او که ...؟ "

سپلاني چي هم دَ ځینو ملګرو له مخه دَ هغې له داسي روئې څخه دَ هغوئ په سترګو کي سوال شو ، نو یې څه غوندي په کلکه چي داسي تپوس ورڅخه وکړو ، نو هغې په سترګو کي داسي واخیستلو ، لکه واي چي ..

" دا ته څنګه خبري کوې ؟ "

هم په دې خو سپلاني ځای په ځای وَ دربډلو او دَ څه سوچ کولو ورسته یې په هغه لور ګامونه اوچت کړو ، چي چرته دَ دي کلب په یوه غټ هال کي دَ سوریا ( شام ) دَ جامو مېله لګېدلی وه - او اوس به یې لا له سترګو پُټېدلو ، چي وسا هم دَ خپلي میني دَ شدت له سوبه چي ورپسې څنګه روانه شوله ، نو یې سوپیس هم ملګري شوله -

" وسا .. تا چي کوم څه په خپلو سترګو باندي لیدلو وُ - دَ هغه قصور سزا سپلاني له څله ورکوې ؟ "

" څه مطلب ؟ "

دَ سوپیس دَ خبري په ځواب کي چي هغې خبره سوال کړه ، نو سوپیس ورته له \"الفه\" تر \"ي\" پوري کیسه چي څنګه ټکي په ټکي تېره کړه - نو په ځواب کي وسا دَ سوپیس په غوږ باندي دَ څه وخت دپاره خله ړېدلو ورسته په خپل ځای وَدربډله او سوپیس ته یې په هغه هال کي دَ ننوتلو اشاره په موسکني انداز وکړه ، چرته چي سپلاني څو دقیقې وړاندي ننوتی وُ .. او سوپیس هم شاوخواته سترګي ځغلولو سم دستي بیا په نه ساعت کي دَ کلب په هال کي دَ سپلاني وَ مخي ته وَ هم ودربډله ..

" چېري یې سپلاني ډئیر ؟ خو ګرسره مي پوښتنه نه کوې "

" دا مرداره خله دي بند ه کړه سپی. او ګوره ګوره چي بیا زما وَ مخي ته رانه شې .. پوهی شوې "

سوپیس په شونډ و خندا خپرولو ورسته چي څنګه لاس ور وړلو ، نو سپلاني هغه سرین سلیپنګ سوټ له مځکي وَ وهلو چي دَ اخیستلو اراده یې کړي وه او بیا ورته له ډېره خشمه واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ستا له وجي خو هغه له ما خفه شوه او ته لا "

دَ هغه خبره په دغه ځای پرېکولو ورسته سوپيس واي ..

" هو ، زه خو هم ځکه داسي کوم ، چي مينه درسره کوم "

دا خبره يې څه وکړه ، چي سپلاني له خلې لاس واخيستلو او دَ غټو غټو شکنځاګانو کولو ورسته به يې اوس لا دباندي قد م اخيستلو ، چي وسا يې ناڅاپه لار په دروازه کي وَ نيوله او ورته واي ..

" ته له سوپيس څخه نه شې صبربدلی هان ..؟؟ "

او بيا يې وړه غوندي ديکه ورکولو سم دستي دَ پسخوندي خندا کولو تر منځه ورته وَوئيلو ..

" ځه ورشه.. ورته بخښلی مي يې دَ همېش همېش دپاره "

دا خبره څه وه ؟ چي دَ سپلاني په سترګو باندي توره تياره راغله او ځان يې په داسي تورتمونو کي محسوس کړو ، چي هغه سم له خپلو ټولو ارمانونو او اُمېد ونو سره دَ محروميانو په تك تور ګړذ کي فناکېدلو ته تابيا وکړه - او اوس به لا هغه درست په تيارو بدلېدلو ، چي ناڅاپه ډاکټر وسا په کلکه څه وَ خندلو ، چي ده ته هغه ښځه نه بلکې ډائينه وَ بربښېدله - او هغه وخت خو لا نور هم بې خُوده شو ، چي هغې تر لاس وَ نيولو او له ځان سره چي يې څنګه دباندي وَ ايستلو ، نو سوپيس هم ورته په منډ ه منډ ه تر شا راورسېدله او ژغ يې ورباندي وکړو ..

" وسا.. اې ډاکټروسا ؛ دا زما محبوب چرته وړې ؟ "

دَ سپلاني له پښو به اوس مځکه ختله ، چي وسا ورته دَ سپلاني په زړه کي دَ راپيدا شوَ ويرو په زد په خندا کي خبره ور بيا کړه ..

" سوپيس ډئير .. بس بس ، ډېره ډرامه وَ شوه - داسي نه چي په ربښتيا ستا محبوب شي "

او بيا چي دواړو تر خپلو کلك وَخندلو ، نو دَ سپلاني سترګو او مزغوڅه ، چي دَ هغه ټولو احساساتو هم داسي سواليه بڼې وَ زېږولې ..

" چرته دا دواړي پېغلي خو دَ يوه نامه دوې څېرې نه دي ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به لا نور دَ خپل دې سوال په وړو او غټو ګېرډکو کي وېښل کېدلو ، چي وسا او سوپيس په ګډ ه دَ هغه واړه لانچ په لور موسکاګاني په بوتلې ، چي په کي له ځينو نورو ملګرو سره ناست بُوباجُوف دَ لاس له اشارو پرته په زوره زوره نارې ورته وهلې ..

" هله ژر کوئ .. راځئ .. لانچ روانېږي "

او مخته بُوبُاخپل دواړه لاسونه لا سم نه وُ ورته غزولي ، چي هغوئ يې په نه ساعت کي بيا يو ځنګ او بل ځنګ ته په خوند او خندا کښېنستلې هم - نو ځکه خو سبلاني ځای په ځای په وچي مځکي باندي داسي ولاړ پاته شو ، لکه پښو چي يې کار پرېيښی وي او يا يې دَ ميرګي مريض په رنګه له اوبو ويره کېږي - هم په دې خو بيا دَ وسا په پرله پسې بللو هم په هغه کي وَ لانچ ته دَختلو توان نه شو پاته او لانچ روان شو-

هو ، که څه هم دَ نورو ملګرو سره سمه وسا هم دَ هغه په داسي ارمان باندي له لانچ څخه دَ پاته کېدلو په غم کي نه يوازي هوسېدله بلکې له خندا داسي شنه شنه هم کېدله ، لکه هغې چي هم دَ سوپيس په رنګه دَ هغه په دې ناکامۍ باندي پسخوند وهلو او لاسونه يې ورته په هوا کي داسي ښورَولو لګيا وه - لکه هغه چي وَ سبلاني ته دَ همېش دپاره دَ خدای په اماني واي - نو ځکه خو هغه هم په مات زړه ورته لاس پورته کړو -

" دومره عظيمه ټوکه هم وي ؟ "

لانچ دَ اوبو په ميان کي دَ تېرېد ونکي سوربخون ايراني آئيل ټېنکر په لوري دَ ورتللو په وخت سبلاني له ځان سره داسي بُونېدلو ورسته ګامونو دَ دې بيچ دَ کلب دَ هغې څنډې په خوا اوچت کړو ، چي چرته دَ اسرائيل په غلامۍ کي پاته شوُ مصري ځوانانو خوبونه سوغات کولو - هم ځکه خودَ سبلاني په مزغو کي دَ را پورته شوُ سوالونو په ځواب کي يو بل وسواس دَ سوال په توګه داسي هم ورڅرمه شو ، چي ..

" چرته دې تور بُوبُاجوُف خو هم دَ هغه نوموړي فرعوني خازن سينيج سوُري بڼه نه ده ز ېږولي ، چي دَ ډېري زيرکتيا پرته دَ کال2150ق م شاوخواکي \"دَ فرعون دَ اروا ملګری \" ځکه هم بلل کېدلو ، چي دَ خپلو دوُ ښائسته پېغلو لوڼو دَ خوږو موسکاګانو دَ سوغات کولو له لاري به يې خپله درباري وفاداري دَ وخت وَ هر فرعون ته خورا په ډېر هنرښکاره کوله؟ "

نو ځکه خو سبلاني په روڼو سترګو دَ خوب په جزيرو کي تندکونه خوړل شروع کړو-

_ 4 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

" منم ، چي وَ خلګو ته خواړه زه رسوم ، خو خبره دا ده ، چي دې کال لمر خدای " ري " دَ جلالي قهر له مخي دَ باران خدای اوریځي په اسمان کي نه کړلې تم - نو ځکه دَ مځکي په سر کرلي ټول فصلونه وچ شولو"

فرعون په خپل دربار کي په ډېرن ژغ کي چي څنګه دا وَ وئیلو ، نو شاهي خازن او دَ معیشت مشهور صلاح کار سینیج سوُري راپورته شو او وَ فرعون ته یې سر ټیټولو ورسته په ډېر احترام وَ وئیلو ..

" که زما وَ سر ته خبر وي باداره ! نو زه به یوه مشوره وړاندي کړم "

اوبیا چي فرعون دَ اجازې ورکولو په نیت ورته سر پورته کښته وَ ښورَولو ، نو تك تور خرټ سېنېج سوُري واي ..

" رود نیل په خپلو څنډ و کي دَ ربګ دَ میدانونو او وچو غرونو پرته ځای په ځای ډېري پستې مځکي هم لري "

" څه مطلب ..؟ خبره صفا او واضحه کوه سوُري "

دَ فرعون په دې خبري باندي سینیج سوُري یو دم ورته په ګونډو شو او بیا یې وئیلو ..

" زما مطلب دا دی ، چي که هغه ټولي مځکي وَ کرل شي ، نو ... "

هغه به لا نور څه وئیلو ، چي فرعون په خپل پراخ تندي دَ حېرت ګونځي راغونډلو ورسته پوښتنه وکړه ..

" نو بیا څله تر اوسه هغه مځکي نه دي آبادي شوي ؟ "

" او بیا یې دٍ څه چپتیا ورسته له خشمه داسي حکم ورکړو"

" سوُري .. دَ رود نیل سره سره چي څومره پسته خاورینه مځکه پرته ده .. هغه دي سم دستي آباده کړلی شي"

" لاکن ...."

" نه منم لاکن .. دا زما حکم دی حکم او بس تعمیل یې دستي غواړم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینیج یو دم خپل تندی په مځکه باندي لګولو ورسته ورته په سجدې کي دننه په فریادي انداز کي
واي ..

" دَ فرعون حکم په سر سترګو .. خو دَ نیل درست دریاب دَ هغه په خداي کي نه راځي - له ده په چپه هم ځیني نور خدائیان وربانديي قابض یاد شوي دي"

دا خبره څه وه ، چي فرعون یو دم ولاړ شو او په ډېر جلال کي یې وَ جلاد ته ناره کړه ..

" جلاده ..! اوس اوس دَ دې ګستاخ سر قلم کړه او وینه یې ماته هم دَ ده دَ سر په کاسې کي راوړاندي کړه، چي تنده پرې ماته کړم"

او بیا یې په مخ باندي سرې او شنې راختلو سره سم دواړه لاسونه خلاسولو ورسته په تنا وزمه ژغ کي وئیلو ..

" دا دُنیا زما ده او زه دَ دې ټولي نړۍ یوازینی خدای یم .. دَ رېګ میدانونه زما دي ، غرونه زما دي .. په سر اسمان او دلاندي دا ټوله مځکه زما ده او ...."

هغه به له قهره ډك نور نور څه وئیلو ، چي دوې ښائسته پېغلي دَ شرابو له سُرایانو سره په موسکا کي په دربار راننوتلې او په یوه صلاح یې په لوړ ژغ کي ورته وَوئیلو ..

" او مورِ هم ستا یُو اې دَ وخت زورَور فرعونه ..."

فرعون دَ هغو په لور کتلو ورسته یو دم چپ شو او بیا یې هغوئ ته په ځیر ځیر کتلو کي نړۍ موسکا په شونډو څه راغله ، چي په دربار کي ناستو ساه نیولو خلګو هم سترګي وَ رپَولې او را ژوندي غوندي شولو-

فرعون بیرته دَ کېنېنستلو ورسته په دربار کي یوې بلي خواته چي سترګي لا سمي نه وې غړَولې ، چي درست درباریان ورته په سجدو کي پرېوتلو او هغه وَ جلاد ته ور ژغ کړو ..

" سینیج مه وژنه "

تور خرټ او خېټور جلاد په خپل ځای باندي تم کېدلو ورسته وَ فرعون ته چي څنګه په مړو وکتلو ، نو هغه ورته سر په اثبات کي ښورَولو ورسته وئیلو ..

" ړوند شې جلاده ..! نه ګورې ، چي دَ سینیج سوري ښائسته لوُښي دَ ده دَ سر خېر غواړي ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بيا جلاد هم دَ هغو دواړو پري وزمو پښغلو په لور ور كتلو سره سم موسكنى شو او غټه ګېډ ه يې ګيرولو ورسته چي ساتول په اوږه ايښى څنګه دباندي وَ وتلو ، نو سينيج سوُري هم راپورته شو او له دواړو لوُڼو سره ګنډلى تر فرعونه پوري وَرسېدلو -

مخته چي بيا تور سوُري څه وئيلو ، فرعون ځكه منلو - ولي چي دَ هغه يوه لوُر يې په يوه اړخ او بله په دې بل اړخ كي ناسته وه - او اوس به هغوئ وَ فرعون ته له خپلو سُرايانو څخه شراب په جامونو كي ور اچَولو ، چي دَ سېلاني ورته نابېره څه پام شو ؟ چي اېله يې له خلې چيغه نه وَ وتله ... ولي چي هغه پښغلي بل هيڅوك نه ، بلكې سوپيس او وسا خپله وې ، چي وَ هغه فرعون ته يې دَ ده او تور بُوبا جُوف ته دَ سينيج سوري مخونه ور اغوندلو لګيا وې -

اوس به لا سېلاني دَ فرعون په حېث له لمرخداى څخه دا خواست كولو ، چي دَ وسا او سوپيس له څېرو څخه يوه څېره جوړه كړه - چي په اوږه باندي يې دَ پخوانىِ زمانې دَ لمرخداى په ځاى كي دَ هوش دَ ننني وخت ډاكټر وسا لاس نابېره څه كښېښښولو ، چي هغه يو دم سترګي خلاسي كړې -

" وووسا ... ته ؟ "

" هو ، زه .. ولي بيا دي په وينښه كي وَ خوب ته تابيا كړي ده ؟ "

وسا چي سېلاني يو ځل بيا په داسي لړلي حال كي وَليدلو ، نو يې لا دومره په خشم كي نه وْ ورته وئيلي ، چي سېلاني سترګي مُوږلو ورسته ورباندي داسي په طنز وار وكړو ..

" وسا .. زه نه پوهېږم چي ته ... "

" څه مطلب ؟ ما څه كړي دي ؟ "

" مطلب دا ، چي ته خپله هم ښه پوهېږې ، چي دا ته كوم څه كوې .. هغه زما دَ پاكي ميني ځواب نه دى"

سېلاني به لا نور ورباندي خپل زړه سپكولو ، چي وسا ورته په سترګو كي سترګي ښخولو ورسته داسي له رُوڼو اوښكو سره سوال شوه ، چي بيا يې دَ سېلاني موسكاګاني لا هم تر هغه وخته پوري ځواب نه شولې ، چي كله هغوئ دواړه دَ قاهره په لور په بس كي په څنګ ناست روان وْ -

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۱۵

# له ابوالهول څخه تر ابوسیمبل پوري ځُون

سپلاني یو ځل بیا دَ تاریخ له هنداري څخه ګرځونه پاکولو ورسته خپله ځېره په کي ناڅاپه څه ولیدله ، چي دَ وخت او مکان له قید ه هم آزاد شو - نو ځکه خو په غلامانه حېثیت باندي هم لکه کاتب انهیرخاوْ، خو په بېلا بېلو نامعلومه نومونو باندي دَ فرعوني شاهي کورنئیو مهمه برخه چي څنګه وګرځېدلو - نو تر ټولو له مخه چي یې کومه ځېره سترګو ته راغله - هغه وه دَ دې خاوري دَ فرعونانو فرعون رعمسیس الثاني ځېره ، چي دَ یو داسي جلالي فرعون په حېثیت یې ځانته خدای وئیلو ، چي له هېبته یې انسانان څه ، چي کاني او بُوټي هم رېږدېدلو - هم په دې خو ، دې وخت سپلاني هم دَ هغه نیل دریاب له څنډې سره جوخت په یوه هوار میدان کي دَ هغو مرئیانو په منځ کي ناست وْ ، چي چاته رعمسیس دَ یوې وړې غونډۍ له سره څخه دَ خپلي خداي دعوه داسي کوله ..

" او بیا زه هم خدای شوم - ولي چي زه په یوه او هغه هم په کیڼ لاس باندي له2500 آسانو درلودلو له لښکر سره په یکړه څه وَجنګېد م ، چي زما په زَد یوه هم لاس پورته کولو همت نه وکړو او دَ هغو دُښمنانو په سینو کي زما له هېبته زړونه په کېېدلو اخته شولو ، پښې یې وچي شولې او ما ټول داسي راغورځار کړو لکه مګرمچهان چي په اوبو کي وَلوېږي - او بیا مي ټول دَ یو بل په سرونو امبارَولو ورسته دَ خپلي روحاني او قلبي خوشالۍ له مخي یو یو وَ مرګ ته داسي په خوند وَسپارَلو ، چي بیا یو هم ژوندی نه شو پاته"

که څه هم دا خبري سپلاني دَ لوکسور نامي ښار په یو جدید نوټل نامي هوټل په 202نمبرخوني کي دَ ستړیا وسا کولو په نیت هغه وخت احساسولې چي په پلنګ باندي پروت وْ - خو بیا هم چي څنګه یې دَ رعمسیس دَ هېبت له ویري چي کله سوچ په بله واړَولو ، نو بدن یې خولې خولې شوی وْ او داسي یې سنجولو لکه هغه چي اوس اوس دَ سر په سترګو هغه لیدلی وي -

هو.. دَ لوکسور او آسوان دَ ستډې ټوْر په غرض سپلاني هم له خپلو جماتیانو سره ګډ دَ دولسم اپرېل کال 1998ع په جهاز فلائګټ نمبر 137کي له قاهره څخه چي څنګه دَ لوکسور په هوائي ډګر باندي غرمه دولس بجې لا سم کُوز شوی نه وْ ، چي یو دم هغه دَ سوچونو په ورړو او غټو ګیرډکو کي داسي په چُورلکونو خوړلو بوخت شوی وْ - چي دَ لوکسور ټېمپل په هسکو او پلنو ستنیانو باندي دَ نښتي لومړي نظر له لاري هغه دَ نوبیان وَ فرعوني تاریخ ته داسي وَ دانګلو ، چي تر ډېره یې دَ ځان او مکان په لوري راستنېدل ګران شو-

_ 2 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

په درې نيمي بجې ماخپښين چي دَ کرناك او لوکسور دَ نورو فرعوني ټېمپلونو په لور دَ سي ډي سي بس روان شو ، نو رناشامۍ او منوېلا مورتي له سېلاني څخه داسي ګېلې شروع کړې لکه هغه چي يې په تېرو څو ورځو شپو کي ليدلی نه وي - نو ځکه سېلاني دَ هغوئ دَ ناز او نخرو په ځواب کي داسي عذر وړاندي کړو ..

" زما ضرورت نو تاسو اوس کله محسوسولو ؟ "

" چي ته وخت وَ لرې ، نو به دي څوك په کاروَي "

دَ منوېلا په دې خبري کي تر طنز زياته ګيله وه ، خو رنا وئيلو ..

" هې سېلاني.. منم ، چي وسا اوس دلته له تا سره نه شته او ته پرېشانه يې ، لاکن مورِ خو يُو "

"مګر هغه خو نو هغه ده ، مورِ چرته هغه کېدلی شو "

منوېلا چي داسي دَ هغې خبره مخته بُوتله ، نو رانا وَ سېلاني ته په ترخوکتلو ورسته واي ..

" که مورِ ته لږ متوجه شې نو به دَ يکړۍ غم درڅخه وَتښتي "

" داسي نه ، چي "

منوېلا به لا دَ هغې په باب مخته خبره په خندا کي وړله ، چي سيلانې وار لاس ته کړو او خبره يې داسي پوره کړه ..

" دَ بوُباجُوف له کاره يې هم وَ نه باسم .. دغه وئيل غواړې منوېلا ؟ "

داسي چي يې څنګه وَ وئيلو ، نو راناشامۍ هغه ته په اوږې باندي ټُك ورکولو ورسته په پسخوند کي وئيلو ..

" وايه وايه سېلانيه .. څه چي دي خوښه وي هغه وَ وايه ، خو دا مي ياد لره ، چي دَ رښتيا ميدان ډېر ګران وي - لاکن زه به دي يو ځل ضرور له امتحانه تېروم ، چي دا غرور دي خاوري کړم"

" هو ، دغسي خو دي راته دَ التانګريل په پارټۍ کي هم وئيلي وُ ، لاکن "

" لاکن وخت يې لا نه دی راغلی ، چي کله وار درباندي پيدا کړم ، نو به درسره ګورم بچو "

(c) ketabton.com: The Digital Library

منوېلا چي دې وخت يې دَ هغو دواړو په دې تاوده بحث خوند اخيستلو ، په خندا خندا کي دَ هغې پام دَ کرناك ټېمپل مخي ته دَ کُوزېدلو په وخت دَ بُوبا په لور ځه واړَولو ، چي سپلاني کلك وربانديَ وَ هم خندلو او بيا يې ځوکه ورته وئيلو ..

" ورځه ورځه .. تور ساندا دي غواړي "

که ځه هم هغې مخته هيڅ نه وَ وئيلو ، خو سپلاني ته يې په برګو داسي وَکتلو ، لکه هغې چي يې په ځامو کي دَ چيچلو پوره کست کړی وي - او يا هغه خپله دَ شام عربۍ پېغله نه ، بلکې هغه فرعوني خدائينه مآت وي ، چي دَ دې دور دَ تهاڼېدارانو غوندي يې په زړې زمانې کي دَ امن و امان ساتلو وظيفه تر سره کوله - لاکن سپلاني ځکه هيڅ ردعمل نه کړو ښکاره ، چي دې وخت هغه له ټولو ملګرو سره دَ کرناك ټېمپل په لور په هغه لاره له داسي احساس سره ملګری روان وُ ، چي ګوندي په هم دغي مځکي به دَ خپل وخت فرعونان بيا بيا تېرېدلو -

نو په دې خو يو ځل بيا هغه دَ خپل سوچ په سمون دَ فرعونانو تر شا شا په هغې لاري ور روان شو- چي دواړه اړخه يې غټې غټې شکرَور مرونه له زمري وزمه وجودونو سره ناست دَ فرعوني وياړ کيسه داسي تېروله -

" دَ خدای عمون په نوم مشهوره په دې ټېمپل کي هغه له130زامنو او په څو درځنه مائينو سره نه يوازي استوګنه کوله ، بلکې دَ دې ټېمپل دا هسك هسك او پلن 134کالمان ګواه دي ، چي دلته نورو فرعونانو څه ، چي رعمسيس الثاني لا هم دَ خداي دعوې ځکه په ډېر وياړ کولې ، چي ځان يې په کي له موسمي او بشري زور او زياتوب څخه په امان ګڼلو"

په پلرانو کي يوې بلي خواته ګرځېدلو په وخت چي ملګري دَ رعمسيس الثاني دَ هغه عکس ، چي په ګڼو ونو کي ولاړ وُ او دَ ژوند خدای يې په هري پاڼې باندي نوم ليکلو سره سره عمر هم دَ يو حساب په سمون يو لکھ کاله ټاکلی وُ -

" تش يو لکھ کاله عمر؟ "

دَ سپلاني په مزغو کي دَ رعمسيس الثاني دا تاريخي سوال څه راپورته شو ، چي هغه له خياله لاس تړلی دَ هغه وَ مخي ته وَ درېدلو او په ډېر احترام يې ورته وئيلو ..

" په دې درختو کي نوري پاڼې نه ځاېږې "

" نو بيا نوري درختي ورسره جوړي کړه ، چي عمر مي دَ هغو ونو دَ پاڼو په شمېر نور هم زيات شي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

رعمسیس الثاني دَ خپل حکم دَ تعمیل انتظار لا هم نه وکړو او مخته واي ..

" یو لکهہ کاله عمر کم دی "

" لاکن "

" لاکن څه ؟ ما چي څه وَ وئیلو .. هغه شاهي فرمان وګڼه "

او بیا دَ تنا غوندي له جلالي بربښناګانو سره ملګری داسي مخه روان شو ، چي سپلاني څه ، چي دا ولاړي ستنیاني هم ټولي وَ لړزېدلې - او اوس به سپلاني په څوټك او چونهٔ باندي له هغو جوړو شوُ ونو سره په څنګ کي جوړ ځیني نور عکسونه بیرته ورانولو ، چي دَ نن ملګري احمد بابا یې په اوږه باندي لاس ږدلو ورسته وئیلو ..

" راځه سپلانیه .. ملګري راځخه ډېر لیري وَ وتلو "

او بیا هغه دواړه هم دَ دې ټېمپل سره څنګ کي دَ هغه مقدسه ډم اوبو وَ ننني وچ بند ته رهي شولو ، چي دَ روایت په سمه .. په هغه وخت کي به یې اوبه په ژمي کي تودې او په اوړي کي سړې وې او فرعونانو به غسلونه په کي کولو -

_ 3 _

دَ لوکسور ټېمپل په لورچي څنګه دَ لوستونکو ملګروکاروان ورچپ شو ، نو دَ ټېمپل مخي ته دَ ولاړي ښېخي هسکي ستنیٔ ، چي له یوه کاڼي څخه جوړه وه په لورتلونکي لاري دواړو څنډ و ته ناستو انسان وزمو زمریانو په منځ کي دَ تېرېدلو ورسته دَ رعمسیس الثاني ښېخي غټو دوُ مجسمو یې په پټه خله په خبر راغلی څه وکړو ، چي سپلاني په زړه کي ورته واي ..

" تا خو تر یولکهہ کالونو هم زیات عمر غوښتلو - لاکن دا خو ته په یو څو زره کلونو کي کاڼی شوې بیا"

سپلاني به لا نور ورته وهېدلو ، چي دَ هغه ژغ دَ تند رونو غوندي درست ټېمپل په داسي وئیلو وَ ښورَولو ..

" چا وئیل چي زه مړ یم - ما خو هغه وخت لا ابدي ژوند تر لاسه کړو ، چي خدای شوی وم "

" لاکن دَ تاریخ په کتابونو کي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني دَ پسخوندي خندا ورسته چي په کړه خله داسي ورته ځنګه وَ وئيلو ، نو رعمسيس الثاني په زوره وَخندل او واي ..

" يَه .. اوس هم زه خداى يم او هر څه نه يوازي تر اوسه هغسي زما په نامه خوندي پراته دي ، بلکې دُنيا مي عظمت هم مني او دا ګوره څومره په زيات شمېر مي خلګ سلام ته راځي"

او بيا يې دَ درانه ژغ په ازانګو کي دَ لوي ساه اخيستلو ورسته چي څنګه روح دَ خپل بُت په کاڼي کي بيرته قېد شو ، نو دَ خداى عمون بېخي ښائسته او پرى وزمه خدائيني موط خپل غټ وزرونه وهلو ورسته په نرى هوا ګلولو کي اول دَ وسا څېره واغوندله او بيا يې په خواږه ژغ کي وَ وئيلو ..

" رعمسيس رښتيا واي - هغه ژوندى دى او تر هغه ورځي پوري به ژوندى وي ، چي ترڅو پوري لمر خداى وي"

" خو.. دا ښکاري ولي نه او بل "

دَ سپلاني خبره پرې کولو ورسته خدائيني موط وار داسي تر لاسه کړو ..

" هر فرعون په خپل ژوند کي دَ خداى په رنګه وي - لاکن چي کله مړ شي ، نو بيا خداى شي او خداى ښکاري نه"

او بيا يې خوږه خندا په ټېمپل کي چي څنګه خپره شوه ، نو که بوې خواته يې له څېرې څخه دَ وسا نقشونه والوتلو ، نو بلي خواته سپلاني هم داسي وَ ځنګېدلو ، لکه جوړه چي وېد ه وي - نو ځکه خو له ځان سره وَ وهېدلو "

" تر دې هانده به يې ومنم ، چي فرعونان په نامه ژوندي دي ، خو "

لاکن بيا دَ څه سوچ کولو ورسته واي ..

" خو.. بيا چي زه وَ دې مصريانو ته وَګورم ، نو دَ فرعونانو دعوې دَ دې هېواد تر هانده څه دَ يقين په لور غزوني ځکه وکړي - چي دَ دې هېواد دَ خلګو دَ روزګار تر ټولو لويه وسېله لا اوس هم دغه فرعونان خو دي"

او بيا سپلاني لا سم دَ ذات په لور راغبرګ شوى نه وُ ، چي غوږونو ته يې لاسونه ځکه يُوړو ، چي داسي خيال يې هم دَ مسلمان په څيرګناه وګڼلو ، ولي چي مالك ، رازق او خالق يوازي هغه عظيم خداى خو دى ، چي رب العالمين يادېږي - ځکه خو يې دَ حق دَ کليمې دَ ورد کولو ورسته چي بيرته لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوربو ته ورلو، نو ملګري صلاح ، چي مصری و ورته له څنګه دربدلو ورسته دَ سګربټ په غټي لوخړکي کي وئیلو ...

" بې شکه چي دا دَ عبرت ور کردارونه دي او موږ ته له دغو دهوسانو څخه سبق اخیستل په کار دی "

" صلاح .. دا ته وايې ؟ "

وَ دې بل لاس ته یې ولاړي منوېلا ورڅخه داسي په حېرت پوښتنه وکړه ، لکه هغه چي واقعي لویه ګستاخي کړي وي - هم په دې خو صلاح دَ موسېدلو ورسته ورته وَوئیلو ..

" منوېلا .. ښکاري راته داسي لکه ته چي وَ دې دهوسانو ته ډېر احترام لرې؟"

" هو ، دا فرعوني تهذیب خو دَ قدیم انساني تاریخ دَ یوه یادګاره باب برخه دی "

منوېلا چي څنګه دا توري له خلې راوَ یستلو، نو صلاح ورباندي یو دم داسي ذاتي تنقید وکړو ..

" یې خو مسلمانه ، لاکن"

" ښکارم نه .. ستا مطلب دا دی هان ؟ "

" هو ، دغه دی "

په خندا کي چي صلاح خپله خبره په اثبات کي تکرار کړه ، نو احمد بابا چي دغه وَ ځان یې هلته را رسولی وَ ، دَ صلاح مصري خبره داسي رد کړه ..

" خبره دا نه ده ، چي دا خدائیان دي .. بلکې دا لویه خبره ده، چي هغوئ دَ زاړه مصري تهذیب نخښې دي"

" دغه خبره خو منوېلا هم کوله "

سېلاني دَ احمد بابا خبره تائید کولو ورسته به لا اوس مخته څه نور وئیلو، چي مستر ذبن یې پوره خبره اوربدلو له مخه داسي چپه وګڼله ..

" لاکن دا هم دروغ دي ، چي مصریانو ته له دې فرعونانو څخه ډوډۍ رسېږي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نو بیا یې څوك ورته رسوي ..؟ زما مطلب دا ، چې په دې مصر کې نور داسې څه دي ، چې تاسو ورباندې ډوډۍ پیدا کړی ؟ "

منوېلا چې څنګه دَ خپل زړه تاو ٔ ایستلو دپاره دا خبره ورته سوال کړه ، نو ډاکټر مجدي دَ موسېدلو ورسته واي ..

" هو ، که موږ پام وکړو ، نو دَ منوېلا مورتې خبره درسته په دې ده.. چې چپ له دې فرعونانو زموږ په دې هېواد کې نور څه شته ؟ "

" نو دَ دې مطلب دا شو ، چې مصریانو ته رزق فرعونان ورکوي سر "

" هو .. په دې کې شك هم نه شته "

دَ ذېن دَ سوال په ځواب کې دَ ډاکټر مجدي په ځای چې منوېلا دا خبره څنګه له خلې وَ وتله ، نو ټولو ولاړو ملګرو ښه کلك وَ خندلو او بیا مخته دې بحث له خبري څخه دومره خبري په خندا او ټوکو کې وَ زېږولې ، چې کله بس بیرته دَ هوټل په لور روان وٌ ، نو په سیټ سیټ باندې دَ ملګرو تر میان دَ فرعونانو په حق کې او یا په زد خبري کېدلې لګیا وې -

_ 4 _

دَ درستي ورځې دَ سېل په رڼا کې نن ماښام هر ملګری په هوټل کې له یوه نا یوه بل ملګري سره دَ فرعونانو په باب خپلې مشاهدې ژغولَې - خوکه چپ وٌ ، نو هغه سبلاني وٌ - چې دَ وسا په باب یې پیدا شوي دې سوال ته ځواب لټولو دپاره هڅه کوله ..ګوا

" چرته خو زه خوب نه وینم ؟ چې دَ وسا په باب هر سوچ او فکر مې هغه پخوانۍ زمانو دَ هغو کیسو او څېرو په لور وړي ، چې ما نه کله اورېدلې دي او نه مې په سترګو باندې چرته لیدلې دي"

او بیا چې به یې دَ سوچ نیلیان یوې بلې خواته وَ ځغلولو ، نو بیرته به یې وَ دې خپلې پیدا شوي سودا ته داسې یو بل سوال ځواب کړو ..

" که یه .. هغه دَ نن انجلۍ ده او په نن کې اوسي ، نو بیا چرته خو زه خپله دَ فرعونانو له قافلې څخه نه یم شاته پاته شوی ؟ چې خپله مینه په تېرو هېرو لارو باندې دَ تکمیل په لور بوځمه"

دومره سوچ کولو ورسته دَ سبلاني په زړه کې ناڅاپه داسې وسواس هم سر را پورته کړو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نو دا زه چي له وسا سره دَ دې فرعوني تاريخ په لور په کومو لارو باندي مزل کومه - آيا هغه لاري به زما دَ دې خيالونو په سمون کله زما دَ سباوُن په لور راغبرګېږي هم .. که به دا هرڅه دغسي دَ فرعوني ياد برخه جوړېږي ؟ "

اوس به لا سپلاني نوري تړلي ګنډي خپرلې ، چي هغه له خياله دَ جيزا دَ فرعون سنيفرو دَ کورنۍ دَ لومړۍ شهزادګۍ له څېرې څخه دَ وسا دَ څېرې دَ نقشونو کاروان مخ مختته وهل شروع کړو - او دَ هري فرعوني شهزادګۍ دَ څېرې له نقشونو څخه يې ښائست په څُوڼ څُوڼ چي څنګه دَ پېړيانو پېړيانو دَ مزل کولو ورسته دَ مصري نوموړي رانۍ قلوپطره تر درباره پوري وَ رسولو ، نو سپلاني داسي وَ سنجولو لکه هغه چي بله هيڅوك نه ، بلکې دَ وسا تکميل شوي تاريخي څېره وي - نو ځکه خو په دې نيت ورمخته شو چي ښکل يې کړي - خو يو دوه ګامه لا نه وُ ورمخته شوی ، چي دَ قلوپطره په تندي کي راغونډ و شوُنرۍ ګونځو داسي يو فکردَ سوال په توګه ځواب ته تږی دَ سپلاني په ذهن کي رابرسېره کړو ، چي ..

" هغه ته اوس کومه څېره اغوستل په کار ده ؟ "

ګوا .. دَ هغه جوليس سيزر څېره ، څوك چي دَ قلوپطره په ژوند کي څومره ژر راغلی وُ .. هغسي په تادۍ دَ بروټس چاړې وړی هم وُ - اوکه يَه .. دَ هغهَ مارك انتهوني څېره ، چي دَ بې کچي ميني جنون يې دَ قلوپطره په ځان مړوني باندي وَ پارَوله ؟

سپلاني به لا نور نور سوچ کولو ، چي خيالي وسا يې مخي ته دنګه وَ دربدله - او په موسکا کي يې وَ سپلاني ته وَ وئيلو ..

" ماته هغه څيره په کار ده ، چي زما له څېرې سره وړام خوري "

" نو وايه .. هغه کومه څېره ده ؟ "

سپلاني لا دَ خيالي وسا څخه دَ هغې دَ خوښي څېرې په باب تپوس سر ته نه وُ رسولی ، چي هغې په ډېره مينه ژغ ورباندي وَ کړو ..

" سپلانيه ..! هغه څېره بل دَ هيچا څېره نه .. بلکې ستا خپله څېره ده "

دَ وسا له خوا دا خبره څه وه ؟ چي له ډېري خوشالۍ دَ سپلاني له خلې ابله چيغه نه وَ وتله - اوس به يې هغې ته دَ کنبښنستلو ست کولو ، چي دَ هغې دَ څېرې دَ نوراني ښائست په وړاندي يې يو دم خپله څېره تته او خاکي څه وَ برېښېدله ، چي هغه ورته په ډېر احترام وَ وئيلو"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" منم .. هرڅه دي منم ، لاکن "

هغه به مخته دَ خپل ماند ه تول کيسه ورته له \"الف\" څخه تر \"ی\" پوري کوله ، چي هغې په دواړو لاسو له سترګو څخه وښتان يوې بلي خواته سمولو ورسته خوږه غوندي موسکنی شوه - هم بيا ورته رامخي ته شوه او له ځان سره يې دَ هغو ټاپوګانو په خوا روان کړو ، چي چرته سپلاني دَ خپلو شاعرانه خيالاتو په سمون لا ډېر په خوا سوچ کړي وُ - هو ، اوس به يې لا هغې ته سترګي ، زړه او هر څه هرڅه په لاس کي ږدلو ، چي ناڅاپه دَ خوني دروازه وَ ټکېدله او سپلاني ځکه نه شو ورته ولاړ ، چي دَ ده له خلې څخه وَ هغه ور ټکونکي ته نابېره دَ رانتوتلو دپاره داسي خبره وتلي وُ ..

" راځه راځه .. دروازه خلاسه ده "

*****

## فصل ۱۶

# دَ لمر خدائی په مرګ ... دَفېلکن خدائی زېږېدنه

په څورلسم اپرېل 1998 ع سهار وختي سپلاني هم له خپلو جماعتي ملګرو سره په پنځه خاليزه کشتی ، چي څلور باميزه وه او " البګزېنډر دي ګرېټ" نائيل کروز نومېدله کي په خپل نامه باندي غوره شوي په 217 نمبرخوني کي چي څنګه سامان کښېښولو ، نو کشتی هم په نيل درياب کي مخته روانه شوه - نو ځکه هغه هم دَ کشتی په چهت باندي له درځنو سپلانيانو سره ولاړ دَ نيل درياب دَ دواړو څنډو په ښېلابېلو منظرونو کي خپل وجود په پنځو هغو شيانو کي کرار کرار سنجولو ، چي دَ فرعونانو دَ عقېدې په سمون انسان امر کوي - لکه زړه ، سايه ، عکس ، نوم او روح -

حقه خبره وه ، چي دا پنځه واړه شيان سپلاني دې وخت درلودلو - خو فرعون ځکه نه وُ ، چي هغه دَ ساه اخيستلو سره سره سترګي هم غړَولې - او په سترګو کي يې هرښکاره شي ته دَ پرون په لور لاري لنډَ ولې .. روان وُ - هو ، په هغو لارو باندي ، چي دې وخت دَ ښي لاس له هغه ستر فرعوني ټېمپل څخه نېغه په لوړو ژورو کي له دې شنه رود نيل سره سره مخته دَ هغو غونډيانو په لور غزېدلې لګيا وې ، چي حضرت موسی عليه السلام ته يې نه يوازي دَ هغه دَ وخت له ظالم فرعونه پناه ورکړي وه ... بلکې هغه مبارك يې له سره څخه دَ فرعون او دَ هغه دَ لشکر تباهي هم په دې شنه رود نيل کي په خپلو سترګو ليدلي وه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

سېلاني له سوچه بيرته دَ نيل تك شين او ژور درياب څخه هغه وخت وَ نبي لاس ته ولانګلو ، چي هغو دوْ ښځي غټو پانړ وزمه ناستو دَ " مېمنون " په نامه مشهوره مېمنون بُتانو تر ميان په هغه لور روان وْ ، چرته چي دَ فرعونانو دَ فرعون رعمسيس الثاني شان نخښه ابو سېمبل په نامه په غره کي څلور غټ بُتان له ليري څخه برېښي - هم ځکه خو چي کله سېلاني له ملګرو سره په ګډه له کشتۍ څخه لا سم وچي ته کُوز شوی نه وْ ، چي بيا له خياله دَ هغو څلورو ناستو تراشل شوْ بتانو تر ميان په جوړي لار کي دننه په غره کي جوړي ماڼۍ ته ور ننوتی هم وْ - چرته چي دَ رعمسيس الثاني ته دوْ خدائيانو " عمون را " او " را حراختي " دَ هغه په مړانه باندي دَ برياليتوب تُوره ورکوله -

سېلاني به دَ هغې زمانې دَ يو کاتب په حېثيت لا نور هم دَ دې ابوسېمبل په دېوالونو باندي دَ فرعونانو دَ فرعون دَ مړاني قصيدې رقم کولې ، چي ښسنك مورتي ، چي دي وخت دَ منوېلا له پېغلي خور يولا سره په ځنګ کي دَ هغه تر شا را روان وْ دَ هغه په اوږه لاس ږدلو ورسته وئيلو ..

" کريمنل .. کريمينل رعمسيس "

سېلاني که څه هم دَ خيال له ټاپوګانو راستون شوی وْ ، خو تر هغه له مخه بيا پېغلي يولا هم په ماتو تورو کي واي ..

" بيګ بيګ کريمينل رعمسيس "

" هو ، په دې کي شك هم نشته - لاکن .. "

دَ خپلي خور دَ ماتي انګلسي خبري په ځواب کي چي ځنګه منوېلا خبره تر دې ځايه لا سمه نه وه رسولي ، چي پېغلي عقود يې خبره داسي مخته ورسوله ..

" لاکن وْ ډېر زورَور او مصريان يې تر اوسه احسان هم مني "

" هغه ځنګه ؟ "

سېلاني چي ځنګه خله ورته سوال کړه ، نو دَ هغې په ځای ډاکتر پو واي ..

" هغه ځکه ، چي دَ قاهره دَ اهرام مصر ورسته دغه خو هغه لويه وسيله ده دَ هغوئ دَ معاش "

او بيا چي ځنګه ډاکتر لومائي ورسره دا خبره خوښه کړه ، نو مديحه مصرۍ هغه دواړه په ملا وينښتلو ورسته وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا رعمسیس ستاسو بُدها نه دی - بلکې رعمسیس دَ کاڼي جوړ یو بُت دی او بس ...."

" ولي چي زموږ رازق او خالق خدای دی .. او خدای تر هر څه او هر چا غټ دی "

راناشامۍ چي دَ مدیحه مصرۍ خبره مخته داسي تائید کړه ، نو بُوباهم وار لاس ته کولو ورسته واي ..

" یس ګاډ از ګرېټ "

داخبره څه وه؟ چي سپلاني ته هم نابېره ځان دَ یو څو لمحو دپاره داسي وړوکی غوندي وَبرېګنبدلو ، لکه هغه چي هم ستره ګناه کړي وي - خو بیا چي یې ځان له دې ملګرو سره په حاضره زمانه کي وَ سنجَولو ، نو په ځان ورته خندا ورغله - لاکن خندلو یې ځکه نه شولو ، چي دې وخت ملګري روُف دَ هغه پام دَ هغو اتهو ببخي غټو ولاړو بُتانو په لور اړَولو ، چي دَ هغوئ دواړو اړخونو ته مخامخ ولاړ وُ - او هغوئ یې په میان کي هغې خواته روان وُ .. چرته چي راڼۍ نېفرتاري په یو دېوال باندي دَ نقش شوي عکس په سمون دَ وسا په بڼه په نرۍ لاکن خوږې موسکا کي له ظالم رعمسیس الثاني څخه دغه مئین سپلاني جوړَولو لګیا وه - چي په دې حاضر وخت کي یې یو ځل بیا له وسا سره په ګډه دَ فرعوني پرون تړلي ګنډي څېړلې -

_ 2 _

له ابو سېمبل څخه دباندي راوتلو ورسته دَ پریاني یوې غټي دوُړي دَ دې کنډ والو په لور چُورلکونه څه خوړلو ، چي سپلاني یو دم په سوچ کي ورك شو ..

" دا خو دَ هتیتیس لښکر نه دی ، چي رعمسیس ورته ماته ورکړي وه ؟ "

دې سوال یې لا سم په مزغو کي غزوني نه وې کړي ، چي هغه دَ ځواب په لټون یو ځل بیا وَ فرعوني تاریخ ته څه وَ دانګلو ، چي په خپلو سترګو یې دَ هیتیتیس او دَ رعمسیس الثاني لښکري له یو بل سره مخامخ وَ هم لېدلې - او بیا سم دستي دَ فرعوني تاریخ له کادېش جنګ څخه هم دوې لوستي مخته یو بل جنګ وَ نښتلو - هو ، دا هغه جنګ وُ چي رعمسیس الثاني په کي په یوه لاس نه بلکې په دواړو لاسونو ځکه جنګېدلو ته هڅېدلو ، چي دَ هغه دَ دُښمنانو شمېر دَ کادېش دَ جنګ څخه نه یوازي یو په دوه زیات وُ ، بلکې دې ځل یې دَ اسپو دَ زیات شمېر پرته نېزه بازان هم یو په لسه زیات راوړي وُ -

اوس به لا دَ ابو سېمبل په ماڼۍ باندي دَ هیتیتیس دَ اسپو دَ ګرد خوربدلو ، چي دَ رعمسیس الثاني ژغ یو ځل بیا دَ تنا غوندي په فضا کي خپور شو ، چي وئیلو یې ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" منم ، چي زما دَ عسکرانو په وړاندي ستاسو شمېر زيات دی - لاکن نن زه په دواړو لاسونو باندي جنگېږم"

خو هغه له دې خبري مخته دوه توري نور ځکه نه وَ وئيلو ، چي دُښمنان نه ، بلکې دَ هغه خپله محبوبه راڼۍ نېفرتاري دَ خپلي اسپي دَ پښو دَ گرد په لوخړکو کي راښکاره شوه او دَ هغه وَ مخته يې سينه راکښلو ورسته په قهرناکه ژغ کي ورته وئيلو ..

" زه هم منم ، چي ستا راڼۍ يم - خو ته هم ښه خبر يې ، چي زه دَ هيتيتيس دَ قبيلې هغه دولس کلنه شهزادگۍ خو هم يم ، چي تا دَ کادېش په جنگ کي دَ متو په زور تر لاسه کړي وه"

" لاکن ما کوم بد کړي دي لتا سره ، چي زما دَ وژلو په نيت راغلي يې؟ "

" تا چي کوم بد کړي دي .. په هغو باندي ته خپله ښه خبر يې "

اوس به لا رعمسيس الثاني څه ورته وئيلو ، چي راڼۍ نېفرتاري وَ خپلو عسکرانو ته په ابوسېمبل باندي دَ برېد کولو حکم څه ورکړو - چي قيامت ته نيږدې نيږدې منظر جوړ شو او په دوُړو کي انسانان څوکه څوکه په سايو کي بدلېدل شروع شولو - زياته به لا دَ راڼۍ نېفرتاري په ښه کي زېږېدلي وساعربلور دَ خپل ژوند ملگري رعمسيس په ښې کي نغښتي سېلاني پېښتون زوی ځانته دَ ماتولو په نيت تُوره دَ هغه دَ مرۍ په لور غزَوله ، چي ناڅاپه دَ سوپيس په سلام باندي هغه دَ سوچ له حصاره څه راوَ وتلو - چي دَ هغې په ليدلو يې سترگي وازي ورته په دې خبره پاته شولې ، چي هم دغه څېره خو وه ، چي تر اوسه دَ وسا په اوږو باندي نښتي وه - نو ځکه خو يې ورڅخه په وهېدلي انداز کي پوښتنه وکړه ..

" سوپيس .. خېر خو دی ؟ "

" هو ، خېر دی "
او بيا چي يې سېلاني په خولو کي لوند خيښت وَلېدلو ، نو يې په تندي باندي لاس ورته ږدلو ورسته ورڅخه تپوس وکړو ..

" سېلانيه ..! څه چل دی ؟ ناروغه خو نه يې ، چي دا دومره خولې درباندي ماتي شوي دي ؟ "

" يَه يَه ښه يم .. بس مازي مي ساه را تنگه شوه په دې سختي گرمۍ کي"

هغه به لا خبره سرته رسوله چي دَ هغه له شا را رواني راناشامۍ په ملا وَ ټکولو او ورته واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا خو لا دَ لمر ګرمي ده بچو.. چرته په اورونو کي سېځل "

دَ هغې په خبري باندي چي سوپیس دَ زړه له اخلاسه وَخندلو ، نو سبلاني لا نور هم په سره ګرمۍ کي په کپ داسي اخته شو ، لکه هغه چي له جنته وَ دوزخ ته وړل کېږي - ولي چي نن له سهاره دَ هغو دواړو په خپلو کي ملګرتیا نه یوازي دَ هغه سوچ بند وُ ، بلکې بېسنك مورتي هم دَ لاس په اشارو باندي دَ هغو دواړو په ګډ ګډ ګرځېدلو باندي دَ حېرانتیا اظهار ځو ځله وکړو -

لنډه دا ، چي کله سبلاني هم دَ لوستونکو له ډلي سره ملګرى دَ غره په لمن کي په یو غټ پانګ کي تراشل شوي تېمپل ، چي دَ " دیرالبهاري" نومېدلو په لور روان وُ - نو یې وَ ښي لاس ته په رواني سوپیس کي که دَ لومړنۍ بادشاه وزمه فرعوني رانۍ هاتشیپسوت خوئیې سنجولې - نو یې وَ کینږ لاس ته ورځرمي ښکلي شامۍ پېغلي رانا هم دَ دې سیمي دَ نوبیان فرعوني عهد دَ شهزادګۍ مېریریت په شان نه یوازي ناز او نخرې کولې ، بلکې دَ وسا په فرعوني ښائست باندي یې دَ سبلاني له مخه داسي نیوکي هم کولې..

" وسا هم لکه دَ نوبیان فرعوني رانۍ امانیشا خېتو.. چي خپل ښائست یې دَ سبلاني په زړه او روح باندي دَ قبضې دپاره داسي اوزار کړو ، چي هغه اوس سړى هم نه شو پاته"

که څه هم له سبلاني سره دَ رانا دَ دې خبري ډېر ښه ځواب وُ ، خو بیا یې هم نه غوښتلو ، چي هغه دَ هغې په لاس کي هم هغسي ګډاګى شي لکه څو هفتې وړاندي چي سوپیس ورسره لوبي کولې - نو ځکه یې هسي وار تېرَولو په نیت ورته په موسکا کي وئیلو ..

" سړى هم په خپل ځای دغسي سړى وي لکه ښځه چي ښځه وي "

هغه چي دا خبره په څومره ښه نیت کړي وه ، نو هغوئ دواړو هغومره دَ سوچ په سمون دَ خپل خپل ښځینه شان خلاف دهمکۍ ګڼلي وه - ځکه خو راناشامۍ ورته وئیلو ..

" ښځي ته په کار دی ، چي ځان دغسي په سړي وَ مني لکه "

" لکه یو چا چي ځان په چا منلى دى ، ستا مطلب دغه دى رانا ډئیر؟ "

دَ سوپیس سوالیه اشاره که څه هم دَ هغه په حواله دَ وسا په لور دَ خوږې دهمکۍ په رنګه وه ، خو سبلاني په دې ورته په وړو وَخندلو ، چي دَ هغوئ دا مجلس یو رنګه په ټوکي کي واړَوي - لاکن هغوئ هم ښځي وې.. هو ، دَ هغو ښځو په رنګه چي سړي یې ځانته په ډېرو ماناوُ کي ښځي کړي وي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره دا نه وه ، چي ګني سپلاني له سوپيس څخه څه ويره محسوسوله ، بلکي خبره دا وه ، چي دَ رنا شامۍ ورسره داسي ملګريتا دَ ده په مزغو کي بلا وسوسې زېږولې - ولي چي سپلاني په دې خبر وُ ، چي سوپيس کله هم دَ هغه په زد چاته لاس وړاندي کړی دی - نو هغه يا هغې ده ته دَ زړه دُوك ضرور ور اچولی دی - نو ځکه خو هغه نن ګوره چي څله په رانا شامۍ کي سوپيس او دَ هغې هوس سنجولو ؟

_ 3 _

دَ فيلائي له فرعوني کنډواله وزمه ټېمپل ، چي دَ خدائينې اّئسيس په نامه شهرت لري څخه شاته پرېښولو ورسته سپلاني هم له لوستونکو ملګرو سره دَ يونانيانو دَ اېډ فو نامي ټېمپل په لور رهي شو - او بيا چي څنګه څنګه دَ هغه ټېمپل په لور واټونه لنډېدلو.. نو دَ سپلاني په مزغو کي هم دَ ډاکټر وسا هره فرعوني څېره په هغسي تادۍ ګونځلکه کېدله لګيا وه -

وجه يې څه وه ؟ په دې خبري باندي دَ سپلاني سرهم تر هغه دمه پوري نه خلاسېدلو ، چي ترڅو يې دَ ګمان په هنداره کي له وسا څخه تپوس نه وُ کړی -

" اوس زه هغه نه يم ، چي ته يې لټوې سپلانيه"

" نو بيا څوك يې ته ؟ "

دَ وسا دَ رډي خبري په ځواب کي چي څنګه په مات زړه باندي سپلاني دا خبره سوال کړه ، نو هغې په لومړي ځل داسي په کلکه وَ خندلو ، لکه راڼۍ عامون هېڼ هېبس چي په غاورانه موډ کي دَ مينځو په بد رګه کي خند ېږي - نو ځکه خو سپلاني ورته په سترګو کي سترګي نه شوی اچولی - او داسي يې سنجولو لکه هغه چي يې زړه دَ هغه له مخه تر پښو لاندي کوي - او دی خوار چپ له روڼو اوښکو تويَولو نور هيڅ توان دَ کولو نه لري -

" نو بيا تا له ماسره دومره غټه ټوکه څنګه وکړه؟ "

" ټوکه نه ..بلکې تاريخي جبر بوله جبر "

سپلاني به لا نور نور زړه ماتی کېدلو ، چي وسا دَ خدائينې اّئسيس چي په ضد کي يې تاريخ بله ښځه بيا له هغه دمه تر دې دمه نه شوه پيدا خپل غاښونه داسي وَ چيچلو ، چي سپلاني دَ اّسوان په اېډفو ټېمپل کي دَ پنځلسم اپرېل کال 1998ع په لومړني سهار دَ ننوتلو سره سم بيا خپل ځان دَ فرعونانو له تاريخ څخه په يوناني تاريخ کي په ويښو سترګو باندي داسي خوب کړو ، چي نور خو نور.. وسا لا هم له خياله داسي مخ ورڅخه واړَولو - چي هغه په کومومبو ټېمپل کي دَ هغوئ دَ " فېلکن ګاډ" په وړاندي په ژړا سر شو او په چيغو چيغو يې ورته وئيلو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا ظلم دی اې دَ امن او سوکالۍ علامې .. هو ، کوم ظلم چې دَ فرعونانو له لاسه په ما باندي روا نه شو ..هغه ستا دَ سترګو وړاندي څله کېږي ؟ "

که څه هم کاڼي ټول چپ وُ ، خو فېلکن ګاډ په خپلي اوږدې خولۍ کي دَ کوټلو وختي او موسمي کرښو له لاري هغه ته په پټه خله دَ هغه دَ ارتقاء منزلونه ښئيلو - ګوا ، هغه يې دَ ميني دَ خدای هوريس په لاره کرار کرار دَ هغې ښځي په لور وړلو ، چې دَ قلوپطره په نامه يې دَ خپل يوناني عهد سلسله دَ هغه وخت په سرتېرو روميانو کي دَ ميني په سودا داسي کړي کړه چې دَ مصر فرعوني تاريخ يې په مينه نوښته کړو -

" لاکن دَ وسا دَ بې وفائۍ سودا څله دَ سپلاني په مزغو کي رك هغه وخت ځای وَ نيولو ، چې فرعوني تاريخ تر يونانيانو رسېدلو ؟ "

دا هغه سوال وُ چې په دې بله ورځ يې سپلاني رك هغه وخت ځواب تر لاسه کړو ، چې کله په کشتۍ کي دَ جوړ سوئمنګ پُول په څنډ ه پرتي اوږدې سپيني چوکۍ کي پروت دَ سن باتهـ کولو په وخت له خياله يو ځل بيرته له فېلکن ګاډ سره مخامخ شو ، چې ورته يې وئيلو ..

" وسا خپله ارتقاُ تر قلوپطره پوري راوَ رسوله ، خو سپلانيه ..ته لا هغسي په قديم فرعوني تاريخ کي ورګېر يې .. "

" مطلب دا ، چې هغه اوس ما نه پېژني؟ "

" هو ، ځکه چې تا لا ورسره دَ هغې دَ خوښي څېره نه ده اغوستي "

" نو بيا زه کومه څېره واغوند م وايه .. ، چې هغه ما پرې بيرته وَپېژني؟ "

دَ يونانيانو فېلکن ګاډ به لا اوس سپلاني ته دَ وسا دَ خوښي څېره ور په ګوته کوله ، چې دَ هغه سترګي دَ منوېلا مورتي ، تېرو ورځو کي له ابانيه څخه راغلي دَ هغې خور پېغلي يولا او فلاويا په ژغونو باندي ځکه خلاسي شولې ، چې هغوئ لمبېدلې کمي او چېږېدلې زياتي - نو هم ځکه خو دَ اوبو سره دَ بې کچه ميني له سوبه سپلاني په خته شوي موډ هم دَ هغوئ په ضد ورسره لامبلو ته جوګه شو -

ژړی لمر دَ غونډيانو تر شا پُټولو ورسته چې سپلاني دَ خپلي خوني په لور لاندي په زينو کي کُوزېدلو ، نو داسي اعلان په سپيکرانو کي کېدلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نن دَ نائيل ترېپ ورستۍ ورځ ده - نو ځکه به ټولو سپلانيانو ته دَ کشتۍ دَ سټاف له خوا مانښامنۍ ورکول کېږي ، خو په دې شرط ، چې هر کس به دَ مصر په فرعوني ، عربي ، رومن يا يوناني ژواکي جامو کي يوه جامه حتماً اغوندي - دَ خپلي خوښي جامې په لس مصري پونډه له واډروب څخه دَ دې پارټۍ دَ پاره تر لاسه کولی شی"

اعلان څه وُ ، چې دَ واړډ روب له مخي دَ خلګو کتارونه وَ درېدلو -

_ 4 _

څنګه چې په کشتۍ کي لائټونه بل شولو ، نو په وړو براندو و کي يې يوې بلې خواته خلګ په رقم رقم تاريخي جامو کي راښکاره کېدل پئيل شولو - او سپلاني چې غټ عربي کميس يې اغوستی وُ او په سر يې سره تُرکۍ خولۍ ايښي وه هم چې څنګه دَ کشتۍ وَ پراخ بام ته ور وَختلو ، نو ملګرو ورباندي دغسي له خندا شنه شنه کېدلو ، لکه په هر چا چې هر يوه خندلو - لاکن منو ېلا په رومن جامه کي ، يولا په فرعوني لباس کي او راناشامۍ دَ مصري ببلي ډانسري په کميس کي تياري له آسمانه راکښته شوي حُوري ښکاره کېدلې - او نه يوازي دا ، که منګولين پېغلي التانګريل او روُف تُرکۍ - جامې اغوستي وې .. نو دَ عراقۍ پېغلي عقود او تهائي سوپيس عربي اوږده کميسونه په تن وُ

" نن دي دا زړه درسره ژغوره ، چې بې قابو نه شي "

" بې فکره شه ، زه هم سړی يم "

" دا خو به نن شپه ښکاره شي ، چې ته څومره سړی يې ..؟ "

رانا به لا نور څه هم دَ سپلاني دَ غټې خبري په ځواب کي وئيلو ، چې سليم يمني يې تر څنګه شو او ورته واي ..

" رانا .. ته خو نن دَ دې سپلاني شېخ ... "

" دَ محل مينځه ښکارې .. "

دَ سليم يمني خبره سپلاني په خندا څه مکمله کړه ، چې هغې غاښونه داسي ورته وَ چيچلو ، لکه هغه چې دَ لوړ مصر دَ نوبيان رانۍ ناويداماك وي ، چې جلال به يې جمال ته نوره ځلا وربخښله - نو ځکه خو سپلاني هم په ډېر خوند او پسخوند سترګي سر تر پايه ورباندي وَ ځغلولې او له سليم يمني سره دَ هغه مېز په لور رهي شو ، چې ترته محمد عبدالرحمان او ايتهوپين ملګری تفېرا ناست وُ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

" یاره سپلانیه ..! نن خو سم سك عربی برېښې "

دَ عبدالرحمان دا خبره لا سمه سرته نه وه رسېدلي ، چي ډاکټر تفېرا واي ..

" لاکن ظلم دا ، چي دَ دې هر څه پرته هم یوازي دی "

" یوازي څله .. هغه ښځي دَ چا دپاره دي؟ "

سلیم یمني چي دَ بېلابېلو نسلونو دَ پري وزمو پېغلو په خوا دَ لاس اشاره کولو سره سم چي دا خبره خنګه وکړه ، نو دَ سپلاني سترګي دَ راناشامۍ په لور داسي ور کړې شوې ، چي که یې وسا دَ خدائیني نائیت په ښه وَ مزغو ته نه وی راغلي ، نو کېدلی شو ، چي هغه دې وخت وَ راناشامۍ ته هم دغه وئیلي وی ، چي ..

" ته هغه یې چي ما لټولې.. بله نه یې "
هرڅه هرڅه .. خو دَ دې پرته هم ، چي سپلاني څومره څومره دَ وسا په خیالونو کي ځان لاهو کولو ، نو هم هغومره یې هلته په لیري ولاړي مستي شامۍ کي سترګي ښخېدلې - ولي چي هغې اوس له خیاله دَ سپلاني په زړه کي له منوېلا ، یولا ، ایمرنشا او نورو درځنو پېغلو سره په ګډه ببلي ډانس کولو تابیا کړي وه - هغه به لا نور هم بې خوده کېدلو ، چي تفېرا یې پام دَ هغې پېرنګۍ په لور ور واړَولو ، چي دې وخت په ډیسکو فلور باندي یوازي رقصېدله او بلا خلګو داد ورکولو-

سپلاني نه غوښتلو ، چي دَ خپلو نورو ملګرو په شان دَ ایمان په سودا دَ هغه محفل خراغ شي ، چي له اوله په کي په درځنو شمعې بلېدلې - نو ځکه دَ نیمي شپې وَ خواته چي یې خپله عربي جلابیه وَ وارډ روب بوای ته بیرته ورکړه ، نو یوه سایه یې دَ وهم تر هاند ه داسي ملګري شوه ، چي هغه یې دَ ټولو سترګو څخه په امان دَ هغه تر خوني چي څنګه وَ رسولو ، نو هغه سایه هم په تیارو کي داسي ورسره ګډه شوله .. چي ورکه شوله - او بیا پیدا ځکه نه شوه ، چي دَ لمر لومړي څرك د سهار زېری له داسي سوال سره ملګری راوړلو ..

" برایه شپه چا ماته وَخوړله او چا بری موند ه کړو ؟ "

که څه هم سیوري په رڼا بدل شوي وُ ، خو دَ تېرو شوُ تورتمونو بهیر له ځان سره هر څه هرڅه دَ ضمیر دَ ملامتیا او دَ سترګو دَ حیاء تر هاند ه وړي وُ - نو ځکه خو چي کله ملګري له کشتۍ څخه کُوزېدلو ، نو سپلاني او رناشامۍ په وار وار شاته داسي کتلو لکه هغوئ چي په کشتۍ کي هرڅه پرېښي وُ -

_ 5 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام اووه بجې چي ځنګه الوتکه دَ لوکسور ښخه دَ قاهره په لور والوتله ، نو سپلاني دَ دې تېرو څو ورځو دَ ستړيا وسا کولو په ځای داسي سنجوني کولې ، لکه هغه چي دَ فرعونانو له زمانې وَ يوناني او بيا دَ روميانو تر عهد پوري په زرګونو کالونو مزل لنډلو ورسته دَ عربيانو په زمانې کي ور ننوتلو ته هڅوال وي - او خبره وه هم دغه رنګه - ولي چي دې وخت هغه خپل ځان دَ دې عهد يو داسي خوشبخته ځوان ګڼلو - چي دَ وسا عربلور غوندي ښائسته پېغلي يې په قاهره ائيرپورټ باندي لا ره کتله - نو ځکه خو يې دَ هرسوچ سرکه له هغې ښخه پئيل کېدلو ، نو په وسا باندي ختمېدلو هم -

سپلاني نن ډېر خوشاله وُ او بيا بيا يې ګهړۍ ته هم په دې کتلو ، چي ژر تر ژره دا سفر تر قاهره پوري لنډ شي ، چي هغه دَ وسا په ليدلو سترګي او مازغه وسا کړي - هم ځکه چي جهاز په پاوُ بالا اتهه بجې ماښام ځنګه قاهره ته ورسېدلو ، نو سپلاني هغه لومړی مسافر وُ ، چي دَ ائيرپورټ ښخه دباندي وَ وتلو -

" ډېر مي يادېدلې "

" قسم په خدای چي زما هم"

سپلاني دَ وسا لاس په لاس کي نيولو ورسته چي داسي ورته قسم وَخوړلو ، نو هغې هم په لومړي ځل دَ ټولو خلګو له مخه دَ عربي رسم و رواج په سمون خپل غوښی دَ هغه له غوښي سره لګولو ورسته په ډېره مينه وئيلو ..

" خدای دي زموږ مينه له بد و سترګو وَساتي "

" هو ، آمين "

سپلاني به لا نور څه وئيلو ، چي ترشا عقود ، رانا او ډاکټر پُو هم رارسېدلو سره سم په خپل خپل انداز کي دَ حېرت اظهار وکړو.. خو ملګري پُو تر دې هانده لا هم وَ وئيلو ..

" دا سپلاني او وسا خو جوړ قلوپطره او مارک انتهوني دي"

که څه هم په دې خبري باندي ټولو ملګرو څه ، چي وسا هم وَخندلو - خو بيا هم سپلاني وُ ، چي دَ مارک انتهوني په توري باندي يو دم په سوچونو کي داسي ډوب شو ، چي روان خو وُ له هغو ملګرو سره ، لاکن دا خبره يې بيا بيا مزغو ته راتلله ، چي ..

" دَ قلوپطره په ژوند کي خو دَ هغې دَ يولس کلن ورور پسته جوليس سيزر لومړنی سړی وُ ، چي راغلی وُ - دا مارک انتهوني خو دويم وُ"

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې سړه ساه اخیستلو ورسته که څه هم وسا ته دَ سترِیا بهانه کړي وه ، خو دا خبره یې آخیر پای په داسي سوال باندي دَ زړه په کور کي دَ وسوسې غوندي کوربه کړه ..

" ګوره چي دغه څُوري او نازکه وسا به دَ هغه په غرئیزو سیمو او زیږو پښتنو کي ژوند په خوشالۍ تېر کړي ؟ که به په هغه باندي هم دَ جولیس سیزر په شان کاني کېږي ، چي په روم کي ورباندي ظالم برُوټس دَ عسکري چړې په ګوزار کي وکړې او هغه یې نه یوازي له قلوپطره څخه دَ همېش له پاره بېل کړو ، بلکې له ژوند ه یې هم آزاد کړو"

سېلاني په داسي سوچونو کي راګېر وُ ، چي دَ سي ډي سي په بس کي یې څنګ ته ناستي وسا ورسره څنګلي جنګولو ورسته په خوږې موسکا کي وئیلو ..

" لا خو اول ماخُستن دی .. ځو به کارنیج ته "

" کارنیج ته او اوس؟ "

" هو ، ډاکټر پُو ته به خپل بېګ ورکړې ، هغه به یې وَ رَسوي "

" لاکن "

" لاکن واکن دي نه منم .. پوهی شوې "

او بیا یې په دې بل سیټ کي ناست پُوسامنانګ ته وئیلو ..

" ته به مهرباني وکړې .. دَ سېلاني بېګ به له ځان سره یُو شې "

" ولي ؟ سېلاني ناجوړه دی ..که څه ؟ "

پُو چي څنګه دا خبره په ټوکي کي وکړه ، نو له هغه سره په دې بل اړخ سیټ کي ناست احمد بابا واي ..

" اې پُو .. نه وینې ، چي څو ورځي ورسته سېلاني له دې وسا سره لیدل کوي "

" زه هم پوهېږم ..لاکن دوئ په فلېټ کي څله نه سره ویني ؟ "

" هغه ځکه چي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ شا له سیټ څخه مدیحه مصری چي لا دومره نه وئیلو ، چي ورسره ناست بُوبُا جوُف ، چي خپله هم دَ ګامبیا مسلمان وُ ، وار داسي لاس ته کړو ..

" هې ډاکټر پُو.. دا دواړه مسلمانان دي او دَ واده له مخه یوازي نه شي سره لیدلی "

" دا څنګه کیسه ده ؟ "

" دا داسي کیسه ده .. پوهی شوې مسټر پُو"

دَ پُو دَ سوال په ځواب کي چي مدیحه دا خبره وکړه ، نو دَ مخ له سیټه منوبلا هم په ډکه خله خندا کي داسي وار وکړو او ملګرو تر مقعطم پوري پاته نوره لاره دغسي په خوند خوند تېره کړه - لکه ماشومان چي له ډېري مُودې ورسته کورونو ته روان وي - خو چپ له راناشامی چي هلته مخته غلي غوندي ناسته وه او په مړو مړو یې دَ وسا په لور سترګي داسي اړولې ، لکه هغه چي ورته په زړه کي غله شوي وي او یا یې سپلاني په هغې نه پیرزوُ کېدلو -

*****

## فصل ۱۷

# دَ ګلوبل سائن په نوم دَ رُوحونو تړون

دَ لوکسور او آسوان دَ نائیل کروس دَ ورستی شپې دَ پېښي په باب دَ برایه لیدلي خوبونو دَ وسوسو سره ملګری چي سپلاني دَ خپل ضمیر سره په غال غال کي څنګه نن سهار تر خپل کلاس روم پوري وَ رسېدلو ، نو چپ له هغه بل هیڅوك نه وُلا راغلي - هم په دې خو له خیاله هغه خپل ځان دَ وسا له مخه وړوکی وړکی څرګند ولو- او اوس به یې له وسا څخه دَ خپلو تېروتنو مافي اخیستله ، چي ناځاپه دَ هغې رانا شامی په سلام باندي دَ سوچ له حصاره راوَ وتلو- چي له جوره یې ځان دَ خپلي پاکي میني ګناهګار ګڼلو - نو ځکه خو سپلاني یې دَ سلام ځواب لا هم نه کړو بیا - خو هغه سپین سترګي وه ، چي له خپلي خوا یې ورته وئیلو ..

" دا دَ اقوام متحد ه دَ ابادی فنډ دَ هغې مونا غنیم لیك دی ، چي تېره میاشت یې له ما او تا سره دلته په یوه ورکشاپ کي دَ دمشق ته وربللو خبره کړي وه"

او بیا چي یې څنګه لفافه وَ سپلاني ته وړاندي کوله ، نو یې په خپل وازکي انداز کي تپوس هم ورڅخه وکړو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ته له ما خفه يې لا ؟ "

که څه هم سپلاني ځواب نه کړو ور، خو هغې خپل بېګ په ډېسك باندي رډلو ورسته له هغه سره په څنګ کي کښېنستله او بيا يې څوکه ورته وئيلو ..

" ګوره سپلانيه..زما مطلب له تا سره دَ ټوکي کولو و'..نه چي ..."

" پليز ما يوازي پرېږده "

" لاکن په دې بد و کي خو ته هم راسره سم شريك وې "

" هغه څنګه ؟ "

سپلاني په تريو تندي چي داسي تپوس وکړو، نو هغې ورته وئيلو ..

" هغه ځکه .. چي تا به وَما ته بيا بيا چېلنج راکولو او راته وئيلو به دي ، چي زه يوه کم همته ښځه يم "

" هغه خو ما ټوکه کوله "

" زه منم .. چي تا هم ټوکه کوله او ما هم .. خو په ناپوهۍ دغه ټوکه کي رښتيا شوله "

په سپلاني باندي دَ هغې خبري ډېري بدي لګېدلې ، خو دا يې هم نه غوښتلو ، چي لا نوره يې ځانته وَروربدَوي - نو ځکه يې په مات زړه تپوس ورڅخه وکړو ..

" رانا ..! اوس بيا ته څه وئيل غواړې؟ "

" فقط دا ، چي ما ماف کړه او بس "

سپلاني په دې ټکو باندي که څه هم خوشاله شو، خو لږ يې ځانته پچه رډلو په نيت ور باندي بيا داسي وار وَکړو ..

" لاکن زه اعتبار نه شم درباندي کولی "

" ولې؟ "

" ځکه چي ته په دوستۍ کي هم دَ دُښمني روئيې رواکوې "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" یَه .. داسي خبره نه ده .. ته غلط پوهی شوی یې "

" دغسي خبره ده .. ځکه چي ښځه یې "

دَ سپلاني له خلې دا خبره له ډېره خشمه نابېره څه وَ وتله ، چي رانا وَ هغه ته په اوږه څُوك ورکولو ورسته وئیلو ..

" ګوره ګوره .. بیا هغه ته یې او هغسي خبري ، چي کوې یې "

" څنګه خبري ؟ "

" زما دَ غېرت دَ راوېښولو خبري "

" ښه ښه .. ته هم غېرت لرې .. واوُ "

" سپلانیه .. دا خو هغه خبري دي چي سړی ... "

دَ سپلاني دَ حېرت په ځواب کي به هغې لا نور څه وئیلو ، چي ډاکټر جهان شوقي ، چي دَ شماریاتو پروفېسره وه په کلاس روم کي ور دننه شوه - نو ځکه راناشامی ورته په کراره وَ وئیلو ..

" سپلانیه!!بس که .. ډېري نخرې مه کوه "

" ښځه نه یم ، چي نخرې به کوم "

" لاکن بیا خو نو نر شه او دا حقیقت هم وَ منه ، چي تېروتني له انسانانو کېږي .. له فرښتو څخه نه "

او مخته که څه هم سپلاني هیڅ نه وَ وئیلو ، خو دَ هغوئ تر میان روئیې دَ سوله په خوا رواني شوي وې - ځکه چي په کلاس کي یې تر خپلو په پټه خبري هم داسي کولې لګیا وُ - لکه هغه دواړه چي ډېر سره نیږدې وي - هو ،که څه هم دومره نیږدې نه وُ ، خو چي کله کلاس ختم کېدلو ، نو دواړو یو بل ماف کړي وُ-

_ 2 _

که څه هم دَ نن ورځ دَ کال 1998ع دَ مئ دَ میاشتي 27مه او دَ نورو ورځو په شان توده او لمرینه ورځ وه ، خو دَ شپې په لور یې لنډېد ونکو لمحو دَ سپلاني او وسا زړونه له سینو څخه وَ حلق ته ځکه راوړلو ، چي نن په دې انټرنېشنل سټوډېنټس ډي باندي دَ سي ډي سي دَ ډائریکټرهشام مخلوف په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښه او دَ  یو - این - ایف - پي - اې  له خوا دَ هغوئ کوژده دَ ګلوبل سائن په توګه لمانځل کېد ونکي وه - په کوم کي چي دَ 65 هېوادونو سفیران یا سفارتکاران دَ هر کال په رنګه رابلل شوي وُ - له اول ماخُستنه بیا دَ هوټل شېفرډ په لسم پوړ کي جوړ ښېخي غټ هال له سفارتکارانو او دَ سي ډي سي له لوستونکو ډك شوی وُ -

نه یوازي دَ دې دستورې په سمون ټول لوستونکي په خپلو قامي جامو کي ملبوس وُ ، بلکې هر لوستونکي دَ خپل خپل هېواد مشهوره خواږه هم راوړي وُ - تر لس بجو پوري دَ  نائیل ټېلیویژن چټې پېغلي اناوُنسري ایمن په خپل خواږه ژغ کي مصري سند رغاړي رابلل او هغوئ درست هال له سند رو په سر اخیستی وُ .. چي یو دم  لائټونه مړه شولو او دَ ټائټانیك دَ سند ري له نري میوزیك سره سره  یوې بلي خواته رڼاګاني بلېدل پیْیل شوې -

هرکس حېران وُ په دې نابېري خاموشۍ او رومانوي ماحول په غوره کولو باندي ، چي په میوزیك کي دننه دَ نائیل ټېلیویژن اناوُنسري داسي اعلان وکړو  ..

" واي ..چي نړۍ ډېره وړه شوي ده ، بلکې دَ کلي هومره شوي ده ، چي یو کس یې دَ خپلي خوني له کهړکۍ څخه هم ښه په آسانۍ کتلی شي"

او بیا یې دَ څه خاموشۍ ورسته مخته وئیلو  ..

" نن په دې نړۍ کي دوه انسانان ، بلکې دَ بېلو هېوادونو څخه اړه لرونکي دوه مئینان دا ثابتول غواړي ، چي هغوئ دَ هېوادونو تر میان راکښل شوي کرښي نه مني او ټوله نړۍ خپل وطن ګڼي .. نو زه بلنه ورکوم  ډاکټر وسا عربلور او سپلاني پښتون زوی ته چي هغه دلته ستېج ته راشي ، چي موږ ټول ورته په ګډه دُعا کولو سره سره مبارکي هم وړاندي کړو - ولي چي هغوئ دَ واده په رښته کي تړل کېږي"

او بیا دَ سیلین ډئیون په خواږه ژغ کي دَ  ټائیټانك فلم مشهوره سند ره ( مائي هارټ ویل ګو آن )په کي خپره څه شوه ، چي دَ لائیټ ګېرډ که له بامه په سپلاني او ډاکټر وسا باندي سمه کړل شوه ، چي  هال دې وخت په خپلو روائتي جامو کي دَ ډاکټر هنا او دَ وسا دَ مورکۍ سره ګډ دَ ستېج په خوا روان وُ او درست هال ورته په وازو سترګو کتلو لګیا وُ -

ستېج ته دَ رسېدلو ورسته چي څنګه سپلاني وَ وسا ته او وسا وَ سپلاني ته دَ کوژدې ګوتکي ور واچوله ، نو دَ عربو دَ دستور په سمه  للوللو للو للو غوندي ساندي منال سوډانۍ ، خدیجه ، مدیحه ، خاتونه ، ثریا  ، او نورو پیْیل څه کړې ، چي په درست هال کي دَ عربي تمبل سره سمي نارې سورې شروع شوې - او بیا له هر لوري مبروك .. مبروك غوندي نارې دَ هغوئ تر غوږونو راتللې او هغوئ له ډېري خوشالۍ په ډکو سترګو دواړه لاسونه پورته پورته کولو او دَ ټولو شکریه یې ادا کوله -

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوې خواته ملګرو په وسا او سپلاني باندي ګلونه ورَولو ، نو بلې خواته دَ نورو رابلل شوْ مېلمنو له خوا دَ خپل خپل هېواد روائتي نخښي ورباندي تر هغه وخته پوري پیرزوْ کولې ، چي دَ نائیل ټي وي او قاهره رادیو ټیمونو له هغوئ څخه دَ دې یادګار واده په باب پوښتني کولې . نه یوازي دا ، بلکې ځینو ملګرو لکه صلاح ، سلیم یمني ، مدیحه ، هنا ، نادیه اُردنۍ ، رانا شامۍ او ځیني نورو لکه ډاکټر مجدي او ډاکټر وهبي دَ هغوئ دَ واده په باب خپل تاثرات هم ریکارډ کولو -

مخته بیا څه وْ ؟ وسا او سپلاني لاس په لاس دَ دې ځای دَ رسم په سمه مېز په مېز سلامي اخیستلو په نیت دَ ملګرو په جلوس کي ور روان شولو - او هر مېز ته چي رسېدلو ، نو له هغه ځایه به په بېلا بېلو دعاګانو او مبارکیانو لمانځل کېدلو - لاکن دَ چائینا سفیر او دَ البانیا لومړي سفارتي سېکرېټري خو لا ورته دَ هغوئ وَ هېوادونو ته دَ ورتلو بلنه هم ورکړه -

دَ منوېلا ، یولا ، بېسنك ، عقود ، منال او ډاکټرپُو رول په خپل خپل ځای ، خو سوپیس نن وَ سپلاني ته دا ور ثابتولو ، چي هغه دَ اشنا دپاره دَ میني قرباني هم ورکولی شي - که څه هم دَ هغې په داسي کولو وسا ډېره خوشاله وه - خو سپلاني دَ هغې دَ دې کار تر شا یو ځل بیا دَ هغې نیت ته په ځیر ځیر ځکه کتلو ، چي هغه دَ دې تهائي بلا ګۍ په ځناوري داړو کي له اوله چیچل شوی وْ - نو ځکه یې دا دعا په زړه زړه کي کوله ، چي هغه دي دَ مسلمانۍ له لاري بې لاري نه شي - دَ کومي خطر چي نن سپلاني هغه وخت سنجولی وْ ، چي کله هغوئ دَ چائینا سفیر له مېزه چي کله دَ آذ ر بائیجان دَ مېز په لور تللو ، نو سوپیس یې په غوږ کي دَ مبارکۍ ورته کولو په حقله داسي وئیلي وْ ..

" نن زه درته دَ دې واده مبارکي نه وایم "

" څله ؟ "

" ځکه چي زه نه غواړم ، چي دَ خپلو ارمانونو جنازه دَ ټولو له مخه اوچته کړم "

" ګوره سوپیس دا جنازه ستا دَ ارمانونو نه بلکې ستا دَ یوه دوست دَ خوشالیانو یوه ستره موقعه ده "

" هو .. ده خو ، لاکن"

که څه هم هغې مخته هیڅ نه وْ وئیلي ، خو سپلاني ورڅخه دا مطلب اخیستی وْ ، چي ګني هغې تهائي لېوې بیا خپل غاښونه ورته تېره کړي دي - ولي چي هغه دَ الازهر یونیورسټۍ لوستونکی وراره مسټر نوا ، چي دا یې په مسلمانۍ باندي روږدولي وه هم نن سبا ورسره نه ښکاره کېدلو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا ، چي دَ شپې دوې بجې خواته چي کله ټول خلګ له خوارو خوړلو څخه وَ رهېدلو ، نو دَ لېب ټاپ او دَ دوُ کمپیوټرانو لاټرۍ سرته رسېدلو ورسته دَ یو- اېن - اېف - پي - اې دَ علاقائي مشر ډاکټر سکاټ او دَ عرب لیګ له خوا ډاکټر وسا او سپلاني ته وَ الجزائر ته دَ تګ راتګ ټکټونه سپارلو دَ اعلان کولو ورسته دَ نائیل ټي وي اناوُنسري داسي لا هم وَ وئیلو ..

" زه دَ نائیل ټي وي له خوا دې نوي جوړې ته دَ مبارکي وئیلو سره سم دا یقین دهاني ورکوم ، چي دَ نن دا پروګرام به دَ ګلوبل سائن تر ټائیټل دلاندي ډېر ژر په نائیل ټي وي باندي وړاندي شي او که څوك هم دَ دې پروګرام کاپۍ تر لاسه کول غواړي ، نو هغه کولی شي چي رابطه وکړي"

او بیا یې دَ خپرو په منځ کي ټولو مېلمنو ته خواست وکړو ، چي هغوئ دي دَ خپل خپل قامي او ژواکي رقص یو څو په زړه پوري ښودني کولو کي دَ نن دا تقریب نور نور دروند کړي - او بیا چي یې له شا مغرب وزمه مصري میوزیك څنګه وَ ژغېدلو ، نو درست هال په ډیسکوټیك کي بدل شو -

لنډه دا ، چي که چا رقص نه هم کولو ، خو دَ ټي وي دَ کېمرو وړاندي یې بدنونه ښورَولو لګیا وُ - خو ډاکټر پُو او دَ مورتي فېمیلي هر غړي خو دومره ځانونه ستړي کړو ، چي یو وخت وسا وَ خپل سپلاني اشنا ته داسي هو وَ وئیلو ..

" ګوره ګوره هغه ستا وَ دوستانو ته ، چي تر تا لا هم زیات داسي خوشالي کوي لکه هغه چي پرېدي نه بلکې ستا دَ کور خلګ وي"

" دي خو هم .. ولي چي دا زما دَ میني هغه خوړلت دی ، چي که یې یوې خواته ښه ښه دوستان را پیدا کړو ، نو بلي خواته یې یوه ډېره ښائسته انجلۍ هم زما په نامه وَلیکله"

سپلاني دَ وسا په لور دَ کتلو په وخت چي داسي څنګه وَ وئیلو ، نو هغې په شونډ و باندي نرۍ لاکن ډېره دَ سکون خوږه موسکا خپرولو ورسته دَ هغه لاس په دوارو لاسونو کي دَ نیولو ورسته دَ څپ کولو په نیت چي خلې ته وړلو ، نو یې فقط دومر وَ وئیلو ..

" هو ، خدای دي دغه انجلۍ هم بې تا نه کړي "

**ـ 4 ـ**

که یوې خواته وسا دَ سپلاني په برخه شوي وه ، نوبلي خواته بیا هغه سوپیس وه او دَ هغې دَ تنګولو اشارې - لاکن دې ځل یې بلېك مېلنګ څه څه په پړدې کي کولو - ګوا داسي ورځ نه وه ، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې به په سپلاني باندي ځان نه ليدلو او يا يې فون نه ورته کولو - سپلاني که څه هم ورڅخه اوس نه وېرېدلو ، خو سترګې يې خلاسي ځکه ساتلې ، چي هغه دَ هغې په شېطاني چلونو باندي ښه خبر وُ -

يوه ورځ داسي هم راغله ، چي سپلاني په خپل فلېټ کي يوازي ناست وُ ، چي سوپيس پېښنه ورته را وکړه -

" يوازي يې ؟ "

" هو ، يم خو "

" نو بيا غواړې چي مبارکي دَ واده درکړم ؟ "

" هو ، راته وايه .. زه به يې قبوله کړم "

" لاکن ته به څه راکوې ؟ "

سپلاني دَ هغې په دې خبري باندي بدن مېړي مېړي شو او ورته واي ..

" څه چي ته غواړې "

" ګوره سپلانيه ..! اختيار ماته مه راکوه ،ګني لتا به مي ته غوښتی يې "

" نو بيا زه څه درکړم؟ "

هغې ورته وئيلو ..

" ستا چي څه نه راباندي ربلېږي ، بس هغه راکړه "

" نو بيا دَ نن ماښام ډوډۍ ته له ما او وسا سره وَخوره "

دا خبره څه وه ؟ چي هغې په سر باندي تړلی سکارف يوې خواته وَغورځولو او له خشمه تکه سره شوه ..

" مه اخله ماته دَ هغې منحوسي نوم "

سپلاني چي دَ هغې دا حالت وکتلو ، نو يې په کراره ورته وَ وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ګوره سوپيس .. ته اوس لا دَ حق په لاره باندي روانه شوي يې .. داسي خبري اوس لتا سره خوند نه کوي"

سپلاني به يې لا نور خاطر دَ سر په سترګو اخيستلو ، چي هغې ګامونه دَ هغه په لور اوچت کړو ، او اوس به يې هغه دَ هوس وَ ځامو ته جوړَولو ، چي دَ دروازې ببيل وَشو او ببسنك له خپلو لونړو فلاويه او وينډي سره دننه راغلو - له سوپيس سره يې هېلو هاى کولو ورسته په ماته ګوډه انګلسۍ کي سپلاني ته وئيلو ..

" منوبلا او يولا دوارړه منځني ښار ته تللي دي - او ماته يې هم اوس دَ ورتللو دپاره فون کړی دی - نو ځکه که ته دلته يې ، او نه ځې بلي خواته ، نو دا انجوني دلته درسره پرېږدم"

يو وار لا سپلاني په زړه کي وئيلو ، چي هغه هم ورسره لاړ شي، خو بيا چي يې خپلي پښتو ته پام شو ، نو يې ورته وئيلو ..

" هو هو دا انجوني دلته اېله کړه "

او هغه چي څنګه دباندي وَ وتلو ، نو سوپيس څوکه غوندي وَ سپلاني ته وَ وئيلو ..

" زه خپله تحفه غواړم او هغه هم زما دَ خوښي تحغه "

" لاکن څه ؟ "

" ساده مه جوړېږه .. ته ښه پوهېږې "

دومره وئيلو ورسته چي دباندي وتله ، نو يې دا خبره هم وکړه ..

" وېرېږه مه - دا به ورستۍ تحفه وي .. خو غواړم يې دَ وسا سره دَ واده تر شپې له مخه "

**_ 5 _**

ماځيګر پنځه بجې په ډاکټر طه حسېن شارع کي دَ پرېذيډنټ هوټل سره جوختي پلازې کي په دريم پوړ باندي جوړ دَ عرب ليګ دَ ريسرچ سېل وَ دفتر ته چي څنګه سپلاني وردننه شولو ، نو وسا او دَ هغې ملګري فلسطينۍ پېغلي عوله ډېر په مينه ورته هرکلي وَ وئيلو - او هغه لا کښېنستی نه وُ ، چي وسا ورته دَ مستر داؤسوډاني ، چي دَ منال ډېر ښه دوست او دَ ميني په سپېسي تړلی ملګری وُ ليکل شوی پېپر ورته مخي ته ږدلو ورسته وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا پښپر وګوره .. چي مسټر داوْدَ قاهره دَ هغو پښغلو په باب ليکلی دی ، چي په يونيورسټيانو کي سبق واي"

" څه داسي خاص خبره ده په کي؟ چي تر کوفي راکولو هم له مخه دا دومره اوږد پښپر راباندي لولې "

سبلاني چي دا خبره له نازه ځنګه تر سره کړه ، نو دَ وسا ملګري عوله په موسکا کي ورته واي ..

" چي خپله يې وَلولې ، نو سترګي به دي وازي پاته شي ، چي دلته حالت څه دی ؟ "

هو ، هغې رښتيا وئيلو - ګوا چي سبلاني يې لوستل شروع کړو ، نو تر هغه پوري يې سر نه کړو پورته ، چي سرته يې نه وْرسولی - ځکه خو يې بيا وئيلو ..

" زه خو په دې پښپر کي دومره ورك شوم ، چي په کوفي مي هيڅ خوند نه واخيستلو"

او بيا يې پښپر په مېز باندي يوې خواته ږدلو سره سم سر ښورَولو ورسته وَ وئيلو ..

" دروغ ورته وئيلی نه شم - ولي چي سائنسي سټډي ده او منلی يې هم نه شم ، چي په سلو کي له ۷۰ څخه تر ۸۰ پوري دَ مصر دَ يونيورسټيانو انجونو به تر واده له مخه سېکس کړی وي اوهغه هم له څو څو ځوانانو سره"

" هو ، دغه خو هغه خبره ده ، چي زما زړه يې هم نه مني "

عوله لا خبره سمه پوره کړي نه وه ، چي په مېز باندي پروت ټېليفون وَ ګړنجېدلو او هغه په فون باندي له يو چا سره داسي اخته شوه ، چي سبلاني او وسا ته يې دَ تللو په وخت په مخه ښه لا نه وَ وئيلو -

چي کله سبلاني څه وخت ورسته دَ امريکن يونيورسټۍ وَ مخي ته له وسا سره تېرېدلو ، نو يې زړه دَ داوْسوډاني خبره لړ لړ ځکه وَمنله ، چي دې وخت په درځنو پښغلي او ځوانان جوړه جوړه ښکاره کېدلو - او کېدلی شو ، چي هغه تر ډېره وَ هغوئ ته کتلي وی ، که وسا ورباندي داسي وار دَ خبري نه وای کړی ..

" پيدا دي هم کړه داسي يوه انجلۍ چي تر ما ښائيسته وي؟ "

" شته خو .. لاکن ستا خبره بېله ده "

" په څه بېله ده؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ځکه چي ته مصری نه یې او بس "

" ولي مصریان په سر باندي شکران لري که څه ؟ "

دَ ډاکټروسا دَ دې واړه تپوس په ځواب کي سپلاني یوه اوږده تمهید ته دَ هغې دَ حُسن دَ ستائیني په باب ملا وَتړله او ورسره سره دَ هغو ګوټونو دَ دوکان په لور رهي شو، چي دَ وسا له قوله په کي دَ سږیانو ښه ګوټونه هغې تېره هفته لیدلي وُ -

*****

## فصل ۱۸

# دَ اژدها په پوستکي کي نغاړلي سوپېس

" سبا به ته او وسا وَ الجزائر ته ځئ "

" هو، ځو خو "

دَ سوپیس دَ تپوس په ځواب کي چي څنګه سپلاني دا درې توري له خلې وَ ایستلو، نو هغې په لغازي موسکا کي ورته وَ وئیلو ..

" ګوا هلته به تاسو باقاعده اسلامي واده کوئ "

" کېدلی شي "

" کېدلی نه .. بلکي دا حتمي خبره ده ، چي سبا سبا چي تاسو څنګه وَ رسېږئ ، نو به له ائیرپورټ څخه نېغ وَ مېرج هال ته ځئ"

" زه نه یم خبر .. ".

او بیا یې څه سوچ کولو ورسته ورڅخه پوښتنه وکړه ..

" لاکن ته څه خبره شوې ؟ "

سپلاني یو دم له حېرته سوال ترې وکړو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ډئير ...!. ته ځانته ډېر هوشيار واې ، خو زه هم سترګي ويښي او غوږونه خلاس لرم او نور خو نور بلکې .. "

که څه هم سوپيس خبره تر سره رسولو په ځای دلته پرېښوله ، ولي چي سپلاني دَ هغې په داسي وينا کولو سر خلاس شو ، او بيا يې مخته ورته وئيلو ..

" نو بيا دُعا راته کوه ، چي خدای دي يې دَ خبر واده کړي "

" وي به دَ خبر.. خو که تا بې خبري په کي نه وکړې جوړه"

" زه به په خپل واده کي څله بې خبري کوم ؟ "

سپلاني به نوره خبره مخته وړله ، چي سوپيس په مکرجني موسکا کي ورته وَ وئيلو ..

" نو بيا خو دَ سبا ترغرمي پوري له تا سره لا ډېر وخت شته او زه نه غواړم چي خواست درته وکړم - ولي چي ته خپله ښه پوهېږې چي زه څه او ولي غواړم ؟ "

دومره وئيلو ورسته چي يې ټېليفون ځنګه بند کړو ، نو سپلاني له ډېلا بېلو ويرو سره يو ځل بيا داسي مخامخ شو ، چي ګهړۍ ته يې په وار وار کتلو - او په فلېټ کي يې يوې بلي خواته ګرځېدل داسي پئيل کړو - لکه هغه چي ځان دَ سوپيس دَ غوښتتني په حق وخت ټاکنه يا يې په ضد باندي دَ خپلو جذبو پارَونه ورستئيو پولو ته رسوي - چي ډاکټر پُوسامنانګ له خپلي خوني دباندي راوتلو ورسته له هغه څخه تپوس وکړو ..

" څه پرېشاني ده دوسته سپلانيه ..؟ "

" هيڅ نه .. بس دا سوچ مي کولو ، چي سبا به هلته په الجزائر کي په واده کي څه راسره کېږي؟ "

" هغه به کېږي ، چي له هر چا سره کېږي او بيا له تا سره خو يو ځل مخ کي هم شوي دي "

" يو ځل مخته هم شوي دي .. مګر څه ؟ "

سپلاني به لا دَ پُو په دې خبري باندي نور پرېشانه کېدلو ، چي هغه ورته دَ لومړني واده خبره څه وکړه ، چي دَ هغه زړه په ځای شو او بيرته يې دَ سوپيس په دهمکۍ باندي داسي غور شروع کړو ، چي .. هغه ته په کار دي ، چي له هغې سره نن په نېغه خبري وکړي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه خو دَ مازیګر لمونځ کولو سم دستي بیبا سپلاني له داسي وسوسو سره دَ سوپیس دَ فلېټ په لور روان وُ ..

" که هغه یوازي وه ، نو به هم دَ هغه په حق کي نه وي ښه او که فلوریتا وه نو به هم "

او بیبا یې په خپل ځان ځکه وَ خندلو ، چي فلوریتا خو په هسپتال کي داخله وه - او پرون سهار لا هغه لیدلي وه - لاکن ځنګه ځنګه چي هغه دَ سوپیس دَ فلېټ په لور لاره لنډَ وله ، نو هغسي هغسي یې وېرې نوري نوري مرګحاله کېدلې - خو بیبا هم پښتون وُ او خپلې هوډې اخیستی ورته روان وُ -

_ 2 _

" راځه راځه سپلانیه .. ما دي هم انتظار کولو "

سوپیس وَ سپلاني ته لاس ورکولو ورسته په موسکا کي چي داسي وَ وئیلو ، نو سپلاني پوهی شو ، چي نن یې بیبا خبر نه شته - نو ځکه یې غېرت او همت سره ملګری کړو او ورته یې په مصنوعي خندا کي وَ وئیلو ..

" هو ، ولي نه .. ته خو زما هغه خواخُوږي یې ، چي دَ دوستی په نوم ډېره خوږه دُښمني کوې "

" په دې کي خو شك هم نه شته چي ته زما دوست نه بلکې اشنا یې .. پاته شوه دَ دُښمني خبره - نو په هیڅ اړه هم دُښمني نه وایم چي دَ میني جنون دی جنون"

او بیبا سپلاني په صوفې باندي کښېنستلو ورسته شاوخواته سترګي ځغلولو سره سره په مصنوعي موسکا کي ورته وئیلو ..

" وایه سوپیس .. دا یم درته راغلی یم "

" مننه دَ راتلو دپاره .. خو خبره دا ده ، چي "

" بیبا څه خبره ده ؟ یو خو ستا له دې بلېك مېلنګه تنګ راغلم "

" بلېك مېلنګ ..؟ دَ کوم شي بلېك مېلنګ ډارلنګ ؟ "

مخامخ ورته په وړوکي مېز باندي کښېنستلو ورسته چي هغې دومره له خلې لا سم ایستلي نه وُ ، چي سپلاني هم لږ غوندي ورته زیږ شو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" تا خو ماته په سینائي کي وئیلي وُ ، چي ته به بیا ما نه تنګوې"

" نو اوس ما کله تنګولې وایه ..؟ زه خو په خپلي خبري باندي ولاړه یم .. دَ معاهدې خلاف ورزي خو بیرته تا وکړه"

" څنګه خلاف ورزي ؟ "

سپلاني په حېرانتیا ورڅخه تپوس وکړو -

" هغه دا ... هو ، که ستا یاد وي چي زما او ستا تر میانه دا خبره شوي وه ، چي ته به له ډاکټر وسا سره په پټه باندي په کورټ کي واده کوې .. نه چي داسي په ښکاره او ډهول دمامو کي لکه دا وه چي دي کړو"

سپلاني به لا دَ دې خبري په ځواب کي څه وئیلو ، چي هغې مخته په دړدېدلي غوندي اداکارانه ژغ کي ورته خله داسي وکړه ..

" آخیر زه هم زړه لرم ، انسان یم .. داسي دَ سترګو وړاندي دَ جهان له مخه دَ خپل زړه قتل چرته سهلی شم "

" لاکن ما دا هر څه په ارادي توګه نه دي کړي - دا خو دَ هشام مخلوف او ډاکټر سکاټ خوښه وه ، چي زموږ واده دي دَ سټوډنټس انټرنېشنل ډې په ورځ اعلان شي"

هغې په سړه سینه دا خبري اورېدلو ورسته دَ هغه په سترګو کي سترګي اچولو سره سم ورته ګویانه شوه ..

" نو اوس دا بیا زما خوښه ده چي .. "

" چي څه وکړي ګ؟ .. "

" دا.. چي تر وسا له مخه دي دَ ځان کړم "

" دا څه وایې ..؟ زه خو دَ وسا په نوم دَ هغې دَ مېړه په توګه په دُنیا کي اعلان شوی یم او سبا به باقاعده واده هم کوُ"

سپلاني به لا نور څه وئیلو ، چي هغې داسي په پسخوندي موسکا کي وار لاس ته کړو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لاکن زه خو دي دَ همېش دپاره نه ، بلکې تش دَ يو او آخيري ځل دپاره دَ ځان په نوم ليکم .. هو ، هغه هم دَ جهان له سترګو پټ ..

دا خبره څه وه ؟ چي دَ سپلاني مازغه ورته وَ ينښېدلو او په زوره يې مخته پروت مېز ټکولو ورسته چي څنګه له خلې څخه دَ " ناممکن" توری وَ ايستلو ، نو هلته دَ فلوريتا له خوني يو ژغ راوَوتلو ..

" څوك دي دباندي چي په زوره خبري کوي؟ "

" زه يم زه فلوريتا ډئير او دا سپلاني دي حال پُوښتلو له راغلی دی "

" فلوريتا..؟ هغه تر پرون سهاره پوري په هسپتال کي نه وه "

" وه په هسپتال کي .. پرون ماښام خو راغلي ده"

اوس به سپلاني شکر کولو چي سوپيس هغه تر لاس وَ نيولو او بيا يې له ځان سره ګنډلی چي دَ فلوريتا دَ خوني په لور څنګه وړلو ، نو څوکه لاکن په لکرجني لهجې کي ورته وَ وئيلو ..

" ګوره تا ته دَ ډېري ځالاکۍ کولو ضرورت نشته.. زه په دې هم خبره يم چي ته له رناشامۍ سره په نائيل کروس کي ملا وُ شوی وې - لاکن ما هيچاته نه دي وئيلي "

" دا څه واې ؟ "

" صحيح وايم ، ولي چي هغه خو هم ما "

سوپيس په دې ځای خبره ختمولو ورسته چي څنګه څوکه غوندي دَ فلوريتا دَ خوني ور وَټکولو ، نو سپلاني له خپل تندي څخه خولې وچولو ورسته ورته وئيلو ، چي ..

" ګوا هغه هم ستا پلان وُ "

" دغسي يې ګڼلی شې "

او بيا يې دَ فلوريتا له خوا دَ " يس" او " نو" انتظار کولو بغېر خوني ته سپلاني له لاسه نيولی بوتلو -

**_ 3 _**

له فلوريتا سره هېلو های کولو او دَ هغې دَ ناروغۍ په باب پوښتنه کولو ورسته سپلاني چي له فلېټ څخه دباندي راوتلو ، نو سوپيس ورته وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لا خو لومړی مابنام دی - تر سبا پوري غونډه شپه تر میان ده "

سپلاني یو ځل هغې ته او بیا شاوخوا کتلو ورسته چې څنګه سر په هغې باندي دَ افسوس کولو په نیت وَ ښورَولو ، نو سوپیس دَ اجازې ورکولو په نیت لاس ورته غزَولو په وخت بیا وَ وئیلو ..

" څنګه وه رناشامې ؟ "

" زه لعنت ورباندي لېږم "

" له زړه واې او که دَ زړه برسېره په خله ؟ "

او بیا یې خپله وئیلو ..

" نر یې ، خو دَ نر غوندي خبري هم کوه "

داسي وئیلو ورسته یې سپلاني ته دباندي دیکه ورکولو ورسته یو دم داسي په زوره دروازه بند ه کړه ، لکه هغې چې دَ سپلاني دَ وژلو او دَ وسا دَ تباهې باقاعده اعلان کړی وي - نو ځکه خو بیا سپلاني وُ او دَ رنا شامې په باب دومره کرکه ، چې دَ حد ټاکنه یې نه شوله کولی او غوښتلو یې ، چې اوس اوس یې فلېټ ته ځان وَ رسوي او ښه ورباندي زړه سپك کړي -

که څه هم دې وخت سپلاني دَ رنا دَ فلېټ په لور نه وُ روان ، خو په زړه کي یې دا خبره جوړه کړې وه ، چې هغه به وَ منوېلا مورتي ته دَ هغې او دَ سوپیس دَ دوستۍ په باب واي ..

" لاکن اوس خو به څوك هم دَ سوپیس په ضد خبره نه مني ، ولي چې هغه خو نن سبا دَ یوې ښې مسلماني په حېثیت پېژندل کېږي"

دا خبره چې یې څنګه وَ مزغو ته راغله ، نو یې سم دستي دَ سوپیس په دهمکۍ کي تر اوله هم زیاته ویره وَ سنجَوله - نو ځکه خو خپل فلېټ ته لا نه وُ رسېدلی ، چې له هغې سره یې نن نن په یکړی کي لیدل دَ ځان او دَ خپلي میني په حق کي وګڼلو - او په نه ساعت کي دَ ښې لاس په کوڅه کي جاروتلو او په غټو ګامونو یې تر هغه لیري کال بُوتهـ پورې ځان ورسولو ، چې اکثره به یې ورڅخه خپل هېواد ته فونونه کولو -

" سوپیس زه له تا سره نن ماخَستن یولس بجې خواته چرته یوازې لیدل غواړم"

" ډېر ښه ، ډېر ښه .. لاکن یولس بجې خو ماخُستن نه ، بلکې شپه وي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

په " شپې" باندي زور ورکولو په وخت که څه هم سپلاني دَ هغې په اشارې پوهی شوی وُ ، خو بیا یې هم په یولس بجې باندي ځکه تکرار کولو ، چي هغه خبر وُ ، چي تر دې له مخه خو هغه له وسا او ملګرو څخه ځان هم نه شو خلاسولی -

" لاکن چرته به سره وینو ؟ "

" په هغه کارنیچ کي جوړ په لورز پوائنټ باندي ، چي ته هره شپه له وسا سره لیدل کتل کوې "

" ښه .. نو ته په دې هم خبره یې ؟ "

هغې دَ خندلو ورسته ورته وئیلو ..

" هو ، دا لا څه ؟ چي زه په دې باندي هم خبره یم ، چي وسا نن سبا فلیټ ته دننه هم درځي "

ټیلیفون ږدلو ورسته دَ سپلاني په زړه کي نور خو نور ، بلکې دا ویره هم ورننوتله ، چي ..

" چرته ډاکټر وسا خو هم دَ هغې تهائي ډریګون ملګري نه ده ؟ "

بیا یې مخته په ځواب کي داسي سوال له ځانه وکړو ..

" که یې وسا ملګري نه ده ، نو بیا زما او دَ هغې په هر پروګرام دا سوپیس څنګه خبرېږي ؟ "

او دَ څه سوچ کولو سم دستي یې خپله دَ دې راپورته شوي خبري په ځواب کي داسي شك ظاهرکړو ، چي ګني ..

" دا زما او دَ وسا نیږدې ملګري خو هم چرته دَ هغې دَ لاس خلګ نه دي ؟ "

که څه هم سپلاني دا خبره په یقین سره نه کوله ، خو بیا چي یې دَ سوپیس وَ چالاکۍ او مکر ته پام شو ، نو له ګمانه یې په هره هغه څېره کي دَ سوپیس سترګي تر نظره څه شولې ، چي دَ سي ډي سي درستي انجوني یې دَ هغې په حصارکي ورګېر شوي وګڼلې - نو ځکه خو یې دَ رنا په باب دَ جوړ کست په سمون وَ منوېلا مورتي ته هم هیڅ په دې نه وَ وئیلو ، چي هغه خو هم په هغو پېغلو کي یوه وه ، چي له سوپیس سره یې لږ یا ډېر مراسم درلودلو -

_ 4 _

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا خو دَ شپې وَ یولس بجو ته پنځلس منټه پاته وُ ، چې سپلاني له فلېټ څخه دباندي وَوتلو او اوس به یې دَ کارنیچ په لور ګامونه اوچتولو ، چې ډاکټر وسا له پېغلي منال سوډانۍ سره ملګري په منډ ه منډ ه ورته راورسېدله ..

" وسا .. خبر خو دی ، اوس خو تللي وي - څنګه بیا راغلې ؟ "

" هو ، خبر دی .. دې منال راته یوه ښه مشوره دَ واده دَ پارټۍ په باب راکړي وه - هغه مي له تا سره " څېړله

" لاکن پارټۍ ته خو لا ډېر وخت پاته دی "

" ته پرېږده لاکن واکن .. درځه چې کارنیچ ته ځو - هلته به یې فېصله کړو "

او بیا چې یې څنګه سپلاني تر لاس نیولی دَ کارنیچ په خوا روان کړو ، نو سپلاني ته په زړه کي هغه راپیدا شوي دَ نن ماښام شك ریښتونی غوندي رابرسېره شو - خو بیا یې هم خپله آخیري هڅه داسي وکړه ..

" کارنیچ څله؟ درځئ ، چې زما په فلېټ کي کښېنو "

که څه هم منال ورسره دا خبره خوښه کړي وه ، خو وسا وه ، چې ضد یې کولو او سپلاني یې اخر هم دَ کارنیچ وَ هغه رېسټورېنټ ته وردننه کړلو ، چې هغه او سوپیس به اوس دَ څو منټه ورسته په کي ملاوېدلو -

هغوئ درې واړه لا سم نه وُ کښېنستي چې سوپیس هم راورسېدله - په موسکا یې له منال او وسا سره لاس ملاولو ورسته چې سپلاني ته لاس وَ غزولو ، نو یې نابېره له خلې ورته دَ هېلو های په ځای " سي یُو" څه وختلو ، چې بیا که څه هم هغو درو واړو په دې تېروتني خندلو ، خو سپلاني ښه پوهـ شوی وُ - او دَ سوپیس خشم یې دَ هغې دَ پراخ تندي په نرئیو ګونځو کي لیکلی حرف حرف لوستلو - خو وئیلی یې هیڅ ځکه نه شو ، چې هغه ځان دَ دې وخت دَ دغو درې واړو په قبضه کي ګڼلو - نو په دې خو پټه خله ناست وُ او له وسا سره یې هره خبره خوښوله - لاکن چې به یې کله سوپیس ته پام شو ، نو ځان به یې په مړو کي وَ شمېرلو او سترګي به یې کُوزي کړې -

که څه هم په کارخو دا وُ ، چې سپلاني دَ سوپیس سره دَ کړي قول په سمون اوس په دې وېرېدلی ، چې چرته هغه دَ خپل ضد دِ نیمګړي پاتېدلو له سوبه هرڅه هرڅه وَ وسا ته نه وَ وای - لاکن هغه وُ ، چې داسي هیڅ قسم ویره یې زړه ته ځکه نه راتله - چې هغه دَ نن دا ملاقات دَ سوپیس ، وسا او منال تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه اتفاقي نه بلکې ارادي تصور کولو - هم په دې خو يې چې ځومره ترهه له سوپيس څخه کېدله .. په هغومره کرکه يې هغو نورو دوُته هم په داسي نيت کتلو لګيا وُ لکه هغوئ چي ځان ځانته بېلي ځېرې نه .. بلکې دَ هغې تهائي ماربچکي دَ ځېرې خد وخال وي -

دَ ګهړۍ ستني دَ شپې له دولس بجو څخه اوښتي وې ، چي هغوئ څلور واړه څنګه خپلو خپلو فلېټونو ته په يوې بلي کوځې کي ځله وَ ويښل شولو - نو سپلاني دَ خپلي وسا او منال دَ ايمان په باب راپيدا شوُشکمن شيطاني سوچونو باندي دَ تُوکلو ورسته مخته په خپله کوځه کي تېر شو-

ګوا سپلاني هم يو ځل بيرته خپل ځان په هغوخوشبختو کي وګڼلو ، چي ژوندي وُ - لاکن يَه.. هغه دومره هم خوش قسمته نه وُ - ولي چي هغه څنګه وَ خپل فلېټ ته په ختلو پوړيانو کي بالا ختلو ته تابيا وکړه ، نو له شا ورپسې سوپيس ګوره چي په کومو پټو لارو باندي ورته را وَ رسېدله او ژغ يې ورباندي وکړو ..

" سپلانيه .. زما خو زړه غواړي ، چي په چاړې باندي دي غوښه بوټۍ بوټۍ کړم او اومه اومه يې وَخورم "

" څله ؟ بيا مي څه کړي دي ډئير ؟ "
سپلاني چي دا خبره کوله ، نو يې بدن له ډېري ويري داسي رپېدلو لکه په هغه باندي چي سوپيس نه بلکې يوې بلاګۍ دَ هغه دَ خوړلو دپاره غژبوژۍ کړې وي -

" څه دي نه دي کړي ..؟ "

سوپيس دا يو ځو توري له خلې څخه چي کله ايستلو ، نو يې  څنګ ته وَ هم رسېدله.. او مخته په لنډ و لنډ وساهګانو کي ورته واي ..

" تا خو دا سوچ کړی وُ ، چي هغه زما دُښمنه وسا به دي راځخه خلاس کړي "

" يَه داسي خبره نه وه.. ته غلطه پوهی شوي يې "

وسا په رپېدلي ژغ کي ورته چي داسي په عاجزۍ باندي خپل عذ ر وړاندي کړو ، نو هغې تر لاس نيولو ورسته ورته وَ وئيلو ..

" زه غلطه نه .. بلکې تا نه غوښتلو چي .. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوپیس چي څنګه په اوچت ژغ کي دا خبره لا سمه سرته نه وه رسولي ، چي سپلاني یې په خلې باندي لاس یو دم ږدلو ورسته ورته وئیلو ..

" سوپیس .. ځوکه ژغیږه - خلګ خو نو مه راباندي خبرَوه پلیز "

" نو بیا درځه چي ځو "

هغې دَ سپلاني لاس له خلې لیري کولو ورسته ورته په پُوسکي کي وَ وئیلو ..

" هو ، ځو به "

سپلاني هم ورسره خوښه کړه - خو بیا چي هغوئ څنګه په لومړۍ پوړۍ باندي ګامونه ږدلو ، چي دلاندي له خوا په پوړیانو کي دَ ګڼو خلګوژغونه ی‌ې تر غوږه شولو .. کوم چي دَ هغوئ دَ پښو دَ دربې په ملګرۍ کي بالاراختل څه شروع شو ،چي سپلاني یو دم سوپیس له لاسه نیولو ورسته بیرته بالا کش کړه –

" دا منوی‌لا فہمی‌لی ژغونه نه دي ؟ "

" هو ... ماته هم داسي ښکاري"

ډېر ځوکه غوندي چي سپلاني دَ سوپی‌س دَ خبري ځنګه تائی‌د وکړو ، نو زغونه له هغوئ ځخه دَ نی‌م چهت تر واټنه هم زی‌ات ورنی‌ږدې شوي ؤ –

" اوس به چرته ځو ... بالا هم په پوړهی‌انو کي ژغونه دي چي دلاندي راروان دي ... اورې سپلانیه !! "

سوپی‌س چي دغه خبره لا سرته سمه نه وه رسولي ، چي سپلاني ژر ژر په رپېدلو لاسونو باندي په کی‌لی‌ دَ فلېټ دروازه خلاسه کړه او بی‌ا ځوکه غوندي له سوپیس سره ګنډلی داسي ورننوتلو ، چي دَ فلېټ په څنګ خوني کي په خوب وی‌ده ډاکټر پو سامنانګ لا هم ورباندي پوهی نه شو –او هغوئ دواړه لاس لاس ورسره جوختي خوني ته ننوتلو -

*****

## فصل ١٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په الجزائر کي دَ وسا او سپلاني واده

دَ ائيرالجيريا په الوتکي کي څنګ په څنګ ناست وسا او سپلاني نن غرمه په يولس بجې دَ يوې هفتې دپاره الجيرز ته ځکه روان وُ ، چي نن ماښام يې هلته دَ واده ورستی رسم دَ عربي دستور په سمه لمانځل کېدلو - دَ کوم دپاره چي يې مور اوخور هاجره له مخه لا تللي وې -

" الجيرين خلګ عربيان دي .. لاکن رسم او رواج يې ښځي زيات فرانسيسي دی "

" ستا مطلب دا ، چي زمونږ دَ واده دا ورستی رسم به ... "

سپلاني به لا خپله خبره دَ وسا دَ خبري په حقله نوره سوال کوله ، چي هغې دَ خوږې خندا کولو ورسته وئيلو ..

" داسي څنګه ممکن ده .. واده خو به په اسلامي طريقه کېږي ، زما دَ خبري مراد دا وُ ، چي لباس او دَ پارټۍ ستائل او اهتمام به فرانسيسي وزمه وي"

دومره وئيلو ورسته هغې دَ سګيلاني په لېچ باندي ځکه نوکان ورجګ کړلو ، چي دَ هغه له خلې نابېره يوه کريکه دَ خندا دَ هغې په دې خبره نه ، بلکې ناڅاپه په دې خبري سوچ کولو باندي وتلي وه - چي هغوئ به څو واره له يو بل سره ودېږي ؟ نو ځکه خو چي يې دغه خبره دَ وسا دَ پوښتني ورسته ورته وکړه ، نو هغې هم وَخندلو او مخته يې وئيلو ..

" واده کول څه ټوکي نه دي او يو واده خو لا بل هم پاته دی "

" يا خدايه خير .. هغه بيا چرته او تر کوم ژواکي اثر دلاندي؟ "

" ولي پاکستان ته به نه ځو څه ؟ "

" هو ، رښتيا ... "

سپلاني چي داسي وئيلو ، نو يې بله خبره ورياده شوه او وسا ته يې مخ ور اړَولو ورسته وئيلو ..

" ولي په پنځلس تاريخه خو هم لا زما او ستا يو واده په قاهره کي کېد ونکی دی "

" هغه واده نه دی .. بلکې دَ ملګرو له خوا پارټۍ ده "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره څه وه ؟ چي سپلاني ته بیا هغه ماربچکه ور په زړه شوه او یو ځل بیا له وسوسو سره ملګری په دې سوچ کي ډوب شو ..

" چرته خو به هغه بیا له ما څخه نور څه نه غواړي؟ "

" لاکن هغې خو قول کړی و ، چي هغه به بیا هغه نه زهیرَوي "

"په هغې څه باور..؟ هغه خو دَ ډ رېګون بچۍ ده "

دا هغه وسوسې وې چي سپلاني یې یو ځل بیا تر هغو پوري له هره خوند ه ایستلی و - چي کله په الوتکي کي وَا لجئیرز ستیې ته دَ کُوزېدلو اعلان نه وُشوی - نو ځکه هغوئ هم له نورو مسافرانو سره سم سیټ بېلټونه وَتړلو - او جهاز دَ سمند ر په غاړي باندي جوړ دَ سوربخونو بامونو خواره واره ښار برسېره یوې بلي خواته ګرځېدلو ورسته په بومیدین ائیرپورټ باندي څه کښته شو ، چي سپلاني ته په کي دَ اسلامي طور طریقو او عربڅواکي اثراتو په ضد په سرو مغربي هاف سکرټونو کي نرۍ دنګي پېغلي په لومړي ځل څه ښکاره شوې ، چي هغه دَ وسا په هغو خبرو باندي یقین شو ، چي هغې ورته په جهاز کي کړي وې -

دَ ایئرپورټ دننه چي کوم هسك سړي سلام کولو ورسته چي دَ هغوئ بېګونه تر لاسه کړلو هغه دَ وسا وروکی ورو مهدي و ، چي هغې به هرکله یادَولو - او بیا چي څنګه دَ مهدي په راهنمائي کي وسا او سپلاني له ائیرپورټ څخه دباندي وَوتلو ، نو تر دوُ درځنو زیاتو سرو او سپینو ورو او غټو سرېیانو او ښځو ، چي په کي څلور پنځه پېغلي او وړې انجوني هم وې په هغوئ باندي داسي راټول شولو ، چي په یو څو منټو کي یې دَ سپلاني او وسا غُوځیان بیا له ډېرو مچو سره او شنه واړَولو - نو ځکه خو چي سپلاني او وسا دَ هغې دَ اخښي جلالي شګیګن په ګاډۍ کي شاته دَ هغې دَ مور سره یو اړخ بل اړخ ته کښېنستلو ، نو دَ مخ په سیټ کي له پلار جلالي سره ناستي وړې پرۍ وزمه څورلس کلني لُور امینه ..هند دَ بیا بیا " هاوْ ار یُو" " هاوْ ار یُو" کولو ورسته سپلاني هم ورته وئیلو ..

" آئي ایم فائن .. وسا از فائن اېنډ ټل مي هاوْ ار یوُ تو؟ "

لاکن دَ دې مختـه چي هغه په " شکون" او " فېن " غوندي تورو باندي له وسا سره شروع وکړو ، نو سپلاني پوهی شو ، چي دَ هغې نوره انګلسي نه ده زده او نه یې دَ پلا ر زده وه - نو ځکه هغه له وسا څخه پوښتنه وکړه ، چي ..

" داسي راته ښکاري ، چي دلته هیچا ته انګلسي نه ورځي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هو ، چې زما له ورور عبدالقادر ، ترلې هودا او دې ماشومانو ، چې اوس يې زده کوي لګيا دي "

سپلاني به لا اوس دَ وسا دَ خبري په ځواب کي څه وئيلو ، چي جلالي مخ شاته اړَولو ورسته واي ..

" مي ، يُو ګو نادي سيدي فرج اوکې "

" اوکې اوکې "

سپلاني چي داسي ورته اوکې تکرار کړو ، نو وسا له خندا تکه شنه شوه او په خندا خندا کي هغوئ ته په الجېرين ژبي ، چي په کي عربي او فرانسيسي نيمه نيمه ورګډ ه وه کي وئيلو ..

" داسي راته ښکاري ، چي په دې يوې هفتې کي به دا سپلاني يا خو الجېرين ژبه زده کوي او يا به لېونی کېږي"

او بيا يې سپلاني ته دغه خبري چي څنګه وکړې ، نو هغه هم ورته په ټوکي کي داسي ځواب بيا کړو ..

" دَ لېونتوب امکانات زيات راته ښکاري"

" هو ، بې شکه .. نه يوازي ژبه ، بلکې دلته هر څه ستا له کلچره بېل او بدل هم دي "

سپلاني هم سرلا سم ورسره ښورولی نه وُ ، چي هغې وَ هغوئ ته په خندا کي څه وئيلو ورسته سپلاني ته وَ وئيلو ، چي ..

" ما وَ دوئ ته وئيلو ، چي نور خو نور .. دلته به هغه دَ پستې ډوډۍ په ځای فرينچ برېډ ګوا اوږده او سخته ډبل روټۍ هم خوري"

هغې لا خبره سرته نه وه رسولي ، چي امينه هند مخ ور اړولو ورسته په خندا کي په ماتي ګوډي انګلسۍ کي داسي په جټهکو جټهکو وئيلو ..

" مي ..کوك ...خُوبس يُو "

" خُوبس ؟ "

هغې لا په خبرو کي تندکونه خوړلو ، چي وسا له خندا داسي شنه شوه چي له خلې يې دوه توري نه ختلو ، نو ځکه امينه هم ورسره ملګري شوه او دواړو لا خندلو ، چي جلالي واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لأ لأ  موُش خُوبس .. بربد بربد کوك امینه .. يُو "

" ښه .. نو دا وسا او امینه په دې خبري خاندي ؟ "

" یس یس "

جلالي لا دومره وئیلي وُ ، چې وسا وَ سپلاني ته واي ..

" ماته هم داسي ښکاري ، چې دلته به لېونی شې "

او بیا یې مخته وئیلو ..

" دَ دې ځای اشارې هم ډېري له مشرق څخه بدلي دي "

" نو دَ دې مطلب دا شو ، چې "

" يَه يَه .. داسي خبره هم نه ده ، زه به په خپله کورنۍ کي یو څوك لا دَ ټرانسلېټر په توګه پیدا کړم "

دَ ټرانسلېټر په توري امینه هند یو دم په ماشومه خنداکي واي ..

" مي مي ترانسلپتر ګوود .. وېري ګوود "

" بس بس ما او تا نو بیا ښه یو بل سره پوهی کړو "

سپلاني چي دا خبره دَ هغې په لهجه کي په ماتو ماتو تورو کي څنګه وکړه ، نو وسا واي ..

" هو ، امینه او دَ دې ورور سید علي به دي له لاسه نیسي او دَ ړاند ه او کاڼه غوندي به دي ګرځوي "

" هو ، چې ورك نه شم "

" زه هم په دې خبري وېرېږم "

او بیا خود لکه چي هغوئ ته یې په الجیرین ژبه کي داسي وَ وئیلو ..

" زه په سپلاني وېرېږم ، چي ورك نه شي "

هو دَ دې خبري په ځواب کي خو یې مورکۍ هغې ته وئیلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ګوا ولاړ به وي په هغه کوڅه ، چې چرته یې کور وي ، خو پیدا کولی به یې ځکه نه شي ، چې نه دی دَ چا په ژبه پوهېږي او نه بل دَ ده په ژبه"

دا مجلس چې کېدلو ، نو هغوئ په هواري او صفا هائي وې باندي لاربا ، الحراش ، البراکي ، قسطنیه ، القبه ، حسېن داي ، حېد ره ، بن عکنون ، بوزریعه ، زرالد ه ، دالي ابراهیم او بلید ه ، الجزائر وسط البلد او الشراقه نامي ښاري برخو ته تلونکي لاري شاته پرېښولو ورسته وَ ښي لاس ته ګرځېدلو سره سم یوه عسکري ګېټ ته ودرېدلو - او جلالي وَ عسکر ته واي ..

" مورِ دَ جنرل محمد زناخري دَ کور خلګ یُو "

دومره یې لا سم نه وُ وئیلي ، چې هغه عسکر ژر ژر ګېټ پرانستلو او چې موټر مخته رهي شو ، نو وسا وئیلو ..

" سبلاني ته خبر یې .. چې زما دَ خور خدیجه مېړه ګوا زما اخنبی په فوج کي په څلورو سترو جرنېلانو کي یو دی ؟ "

" ښه ښه "

هغه به نور دَ حېرت اظهار کولو ، چې هغې ورته مخته وئیلو ..

" او دې شاته په مورِ پسې راروان شین بخون کار دَ هغه دَ زوی اُسامه زناخري کار دی "

سبلاني شاته سر اړولو ورسته چې لا " هو" ورته سم نه وُ کړي ، چې وسا مخته واي ..

" دَ خدیجه درې زامن دي ، چې اُسامه ، لامین او بلال نومېږي .. لُور نه لري "

ګاډیاني چې دَ مخامخ سمند ر په څنډ ه باندي جوړ نادي سیدي فرج نامي کلب ته سمي نه وې رسېدلي ، چې امینه هند هم دَ خپلي کورنۍ پېژندګلوي له سبلاني سره داسي وکړه ..

" پاپا جلالي او ماما هاجره پرته درې خوندي سمیره ، غنیه او حیات په چپه ورور فرید چې دې وخت په روس کي دَ فلائټ انجینئیرنګ سبق واي تر هغې مشران دي او سیدعلي یې کشر ورور دی"

_ 2 _

واده څه وُ ؟ له اسمانه حوري په مځکي باندي راکښته شوي وې چې دا غټ هال یې په رنګونو او ښائستونو باندي داسي شاعرانه کړی وُ ، چې کله هلته په غټ ستېج باندي دَ ګلونو په میان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاني له وسا سره ناست وُ ، نو يې زړه غوښتلو ، چي ور ولاړ شي او له هغو درځنو پېغلو سره يه اتڼ اخته شي ، چي دې وخت دَ الجېرين سندرغاړو په سندرو او سازونو باندي لکه دَ سمند ر دَ اوبو ځپې کرارکرار څنګېدلې -

" هغه په سپين کميس کي دَ ګونډ و تر سره پته پېغله چي رقص کوي هغه دَ امينه پېغله خور حيات ده او ورسره نورو دوُ پېغلوکي يوه زما دَ ورور انجنئير عبدالقاد ر سکاني لُور زبيد ه او بله زما کزن بشيرا ده..او دا هسکه پېغله چي ويډيو کېمره يې په اوږه يېنې ده او فلم جوړَوي زما بله ترله هودا نومېږي"

وسا چي څه وخت څوکه غوندي دا خبره ورته کوله ، نو جنرل محمد زناخري له خپلي مائينې خديجه، چي دَ وسا خور وه سره ملګرى راغلو او دَ دې ځاى دَ رسم په سمون يې له هغوئ سره پرتو چوکيانو باندي کښېنستلو ورسته ويډيو جوړه کړه - ګوا هغوئ لا نه وُلاړ شوي ، چي انکل عمر له خپلي مائنې سره ګوډ ېدلى راورسېدلو - مختنه ډاکټر هادي له مائنې جهيد ه او قادرسکاني له زوى زوهېب او مائنې راديه سره ځانونه دَ توفيق او هودا په کېمرو کي دَ وسا او سپلاني په خوشاليانو کي ور ګډ کړلو -

" دا واده دى که ستا فېشن شو ، چي ګهړى ګهړى دي تر واډروب پوري په يوې جامې کي وړم او په بلي نوي جامې کي راوړم "

په څلورم ځل چي سپلاني له واډروب څخه وسا دباندي هال ته لاس په لاس راويستله ، نو يې دَ کېمرو په فلشونو کي څوکه ورڅخه پوښتنه څه وکړه ، چي هغې په څنګلي وهلو ورسته په موسکا کي ورته وئيلو ..

" داسي خو کېږي دلته ودونه "

او بيا دواړه دَ سټېج په لور روان شولو - لا کښېنستي نه وُ ، چي دَ وسا دَ کورنۍ تر دوه درځنه زياتي پېغلي او سړي درباندي رامات شولو او شاوخوا يې دَ عکسونو اخيستلو په نيت ودرېدلو ..

" ګوود مېريج ار نو ګوود ؟ "

" يس ګوود وېري وېري ګوود "

سپلاني چي دَ امينه دَ وړې ژبې په ځواب کي هغسي په وړو ماتو تورو ځواب بيا کړو ، نو حيات او زبېد ه هغې ته وړه ديکه ورکولو ورسته په خپله خپله لهجه کي دا يوه خبره داسي تکرار کړه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ناتي ناتي امینه .. شي نات ګوود .. ببېد ببېد ګرل "

دا خو لا ښه وُ ، چي زوهېب، بلال او سید علي راغلو ، ګني دې پېغلو به له سپلاني څخه بېژوګی جوړ کړی وُ - او وئیل یې ..

" دونت مائند .. دې ار ببېد ببېد ګرل "

لأ لأ .. موش ببېد ګرل .. ګووود ګووود ګرل "

دَ حیات په دې خبري باندي چي ټولو په یوه صلاح ځنګه وَخندل ، نو سید علي رامخته شو او بیا یې ټولي انجوني داسي وَ شړلې لکه هغوئ چي ډېري اړامي وي او هغه خپله ډېر ښه .. خو په دغه دوران کي مشره خور هاجره ورته راورسېدله او په ډکه خله خندا یې سپلاني او وسا ته مینه ورکولو ورسته تر منځه له پېغلي سمیرا سره په ګډه داسي عکس واخیستلو لکه هغې چي دا دواړه سره یو کړي وي - دغه رنګه اُسامه ، بلال ، غنیه ، مهدي او له زاړه بوعالم څخه تر پېغلي هودا او زهره پوري ټه ، چي رك تر واړه عماد پوري هر یو ستېج ته دَ عکسونو اخیستلو په نیت په خپل خپل وار را ورسېدلو -

لنډه دا ، چي دَ شپې درو بجو خواته ځنګه دا مېله دَ موسیقۍ سره سمه دوام ته وَرسېدله ، نو دَ جنرل زناخري زوی اُسامه په ګاډۍ کي وسا او سپلاني دواړه دَ هغه بیچ هاوُس په لور بوتلو ، چرته چي به هغوئ دا درسته هفته تېرَوله -

_ 3 _

" زما پلا ر چي حمید ه سکاني نومېدلو دَ دې هېواد یو نامي باکسر وُاو په ډېرو نېشنل مقابلو کي یې برخه اخیستي وه .. خو چي کله دَ فرانس خلاف دَ خپلواکۍ جنګ پیئیل شو ، نو زما پلار په کي دَ لومړي صف مجاهد وُاو هغه شهید شو ، خو زما نه یادېږي .. ولي چي زه ډېره وړه وم"

په دې بله ورځ سهار وختي دَ بیچ هاوُس په برانډه کي دَ سمند ر دَ شنو څپو سېل کولو په وخت چي وسا دَ کوفي مګ په لاس کي نیولی چي ځنګه داسي وئیلو ، نو سپلاني ورڅخه پوښتنه وکړه ..

" نو بیا چي دا هېواد آزاد شو ، نو تاسو سره حکومت څه کومك وکړو ؟ "

"په جنګ کي زما له " بابا " سره مورکۍ " ماما " هم ملګري وه.. دَ خپلواکۍ تر لاسه کولو ورسته حکومت زما پلا ر قامي شهید او مورکۍ غازیه ډیکلئیر کړه او موږ ته یې دَ مځکو راکولو پرته په سرکاري نوکریانو کي مراعاتي کوټه هم وَټاکله"

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې دَ کوفي غټ غوړپ تر غاړي تېرَولو ورسته وئیلو ..

" موږ له اصله تُرك يُو "

" تُرك .. هغه څنګه ؟ "

دَ سپلاني دَ حېرانتيا ورسته هغې وَ وئیلو ..

" هغه داسي .. چي ډېر پخوا زما ور نیکه له هغو تُرکیانو سره دلته راغلی وُ ، چي په دې هېواد یې قبضه کړي وه"

" نو دَ دې وطلب دا شو ، چي تاسو دَ تُرك له هغه خاندانه سره اړه لرئ ، چي باچهان پاته شوي دي ؟ "

هغې نورې څنډلو ورسته وئیلو ..

" زه نوره نه یم خبره .. خو دلته دَ سکاني فېمیلي یوازی کورنۍ دا زموږ کورنۍ ده او سکانیان په تُرکي کي اوس هم په ډېر شمېر آباد دي"

وسا به لا نور څه دَ خپلي کورنۍ په باب وئیلو ، چي دَ هغې ورور عبدالقادر سکانیاو جلالي سره له بلال ، زوهېب ، زبید ه ، سیدعلي او امینه هند ورته راورسېدلو او بیا دَ خېرخېریت دَ حال احوال کولو ورسته خبري دَ الجزائر دَ دولس سوه کلومیټره ساحلي سیمي په لور لاړې غبرګي شولې - چي دَ هغوئ په قول درسته کوستل ائیریا په ښاري سیمو آباده ده او نوره علافه چي په کي رېګستاني صحراګاني زیاتي دي کي ګېس او تېل دومره زیات پیدا کېږي ، چي دَ هېواد 95 فیصده آمدني ترې تر لاسه کېږي -

خبري به لا نوري کېدلې ، چي سیدعلي او امینه په ګډ و باندي داسي ضد وکړو ..

" درځئ چي وَ لامبو "

" هو ، سپلاني انکل او وسا تاتا به هم له موږ سره وَ لمبېږي "
که څه هم ډاکټر وسا ورسره دا خبره نه منله ، خو بیا چي څنګه سپلاني هم دَ هغو ځوانانو په ضد ورسره خوښه کړله ، نو په نه ساعت کي ټولو دَ سمند ر وَ شنو اوبو ته ځانونه وَ هم سپارلو - لنډه دا ، چي څنګه څنګه وخت مخ په وړاندي څکېدلو ، نو دَ وسا دَ کورنۍ ځوانان او پېغلي دَ لامبلو په نیت په اوبو ورګډېدلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دلته دَ بيچ په دې برخه کې تش ستاسو دَ کورنۍ له خلګو په چپه نور ولې نه ښکارې ؟ "

سپلاني چې له ډېره وخته په دې خبرې کې سوچ بند وُ آخير هم چې له وسا څخه پوښتنه وکړه ، نو هغې ورته وئيلو ..

" هغه ځکه ، چې دا ائيريا دَ جنرل زناخرې دپاره غوره کړل شوې ده او بل هغه په نيږدې دوستانو عزيزانو باندې هم ستا دَ تحفظ له لارې په لامبلو نن سبا بندېز لګولې ده ..

" لاکن په ما باندې څله هغه وېرېږي ؟ "

" په دې ، چې تر اوسه لا زمونږ په هېواد کې حالات دَ مذهب پرستانو دَ تخريبي چارو له سوبه موافق نه دي او هغوئ کله کله غېر ملکيان اغوا يا مړه کوي"

وسا چې داسي وَ وئيلو ، نو سپلاني ورته واې ..

" نو بيا ماته احتياط ساتل په کار دی "

" هو ، بېشکه "

او بيا يې دَ خندلو ورسته وئيلو ..

" هغسې هم دَ دُښمنانو کمی نه شته "

که څه هم هغې دا خبره هسې وکړه ، خو سپلاني داسې وګڼلو ، لکه هغه چې هم دَ سوپيس په رنګه په هر څه باندې خبره وي -

_ 4 _

" سپلانيه .. وايه هلته ستا په هېواد کې هم ښځې او سړي په بيچونو (ساحلونو)کي يوځای سره لامبي "
؟

" يَه .. کله هم نه "

" ګوا دَ فېميلې خلګ هم تر خپلو داسې په ګډ ه نه لمبېږي لکه نن چې زما دَ فېميلي خلګو لامبلو ؟ "

له بيچ څخه بيرته څنګ په څنګ دَ بيچ هاوُس په لورې دَ تللو په وخت دَ وسا دَ دې تپوس په ځواب کې لا يو ځل دَ سپلاني په زړه کې راغلو ، چې ورته وَ واې ، چې .. دَ هغه په هېواد کې ښځې په بيچونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندي لمبېدل څه .. چي نرګاړي لاهم له جامو سره دَ نورو خلګو وَ مخ ته شي لمبېدلی - خو دَ وئيلو همت يې کېدلی شي چي په دې نه وکړو ، چي چرته هلته دَ تګ له مخه هغه زړه ماتي نه شي - نو ځکه يې خبره په سره وَ پېچله ..

" اول خو زما په هېواد کي بيچونه نه شته او بل هلته دريابونه ډېر دي .. ګوا په پنجاب کي ، چي چرته يې په څنډه و کي خلګ په دوبي کي لمبېږي"

وسا دَ هغه په دې خبري لکه چي دَ هغه دَ هېواد دَ خلګو په باب دَ روايت پسند ی هغه شك په يقين کي بدلېدلو ته تابيا وکړه ، چي هغې څه وخت مخکي په قاهره کي دَ پاکستان په هکله دَ يو ليدلي ډاکومنټري په باب داسي کړې و ه ..

" ښکاري راته داسي لکه ستاسو دَ هېواد او دَ انډينو تر منځه نه يوازي توپير ډېر ګران کار دی بلکې دَ ژوند لاري چاري يې يو رنګه څه چي لا هم هغسي پخواني او روائتې دی"

لاکن هغې هم مخته هيڅ ځکه نه وَ وئيلو ، چي امنه هند په چپه دَ هغې دَ کورنۍ نورو ماشونانو يو ځل بيرته سېلاني په ځان دَ رقم رقم داسي تپوسونو له سوبه حريان کړی وُ ، چي هغه نه دَ خپل دانش دَ ورستنۍ هڅي پرته هم نه ورباندي پوهېدلو - خو ورسره سم په اوتو بوتو کي ګڼېدلو ځکه ، چي دَ هغوئ په سترګو کي يې دَ ځان په باب ښېخي زيات احترام او مينه له ورايه داسي سنجوله - لکه هغوئ ټوله چي نه يوازي سره سپين ښېتانه وي بلکې دئ هم له هغو ښځه اړه لرونکی يو الجزائری وي .. خو بيا هم تر خپلو په خبرو څه چي په اشارو باندي لا هم نه سره پوهېدلو - هم ځکه خو دَ دې هرڅه پرته هم دَ سېلاني په ذهن کي دَ وسا دَ تپوس ګوا " په بيچونو باندي دَ ښځو دَ لامبلو " په رڼا کي دَ ځواب په لټون کي دا يو سوال دَ وسوسې په توګه وار وار راپورته کېدلو ، چي ..

" چرته په پاکستانی روايتي قفس وزمه ټولنه کي دَ اوسېدلو له سوبه به دغه وزر داره پری وسا له ډېري ساتنګی يوه ورځ له بيرته دَ هغه دَ خوب او خيال وَ ټاپوګانو ته کوچېږي خو نه ؟ "

هو ، که څه هم هغه دَ هغې په ميني باندي ښېخي زيات غره او باوري وُ .. خو دَ هر څه پرته يې هم دَ هغې وَ وزرونو ته اور پوري کول ضمير ګوره چي څله نه منلو -

*****

## فصل ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تپازه کي دَ انتهوني په نیت شک

" دا روډ دي دُوش مراد نومېږي ، چرته چي وَ دې ښار ته راغلی هر سپلاني یو ځل خامخا راځي "

دَ یوه اروپائي طرز جوړ روډ دواړو څنډ و ته دَ جوړو دوکانونو تر میان جلالي موټر مخته وهلو سره سم دا خبره چي ماته ګوټه په انګلسيې او عربيې کي څنګه سرته په تندکونو وَ رسوله ، نو يې څه مخته په یو دوُ سړکونو باندي یوې بلي خواته راګرځولو ورسته یو وخت چي دَ ښائسته سپينچکي بندرګاه سره په څنګ څنګ کي تېرېدلو ، نو دَ موټر دَ شاپه سیټ کي ناستي وسا سر راغزولو سره سم وئیلو ..

" له دې ځایه فرانس او اټلي ته هم کشتیاني ځي راځي "

" ښه .. نو فرانس ته رسېدلو دپاره څومره وخت اخلي ؟ "

وسا له جلالي څخه پوښتنه وکړه او هغه دَ سوچ کولو ورسته په عربي کي ورته وئیلو ..

" اتهلس یا نولس ګنټهې او یا تر دې هم لږي "

سپلاني چي دا واورېدلو ، نو يې وسا ته کرار غوندي وَ وئیلو ..

" وایه .. کله به په فېري کي فرانس ته ځو ؟ "

" اوس نه .. بیا کله "

خو جلالي وار لاس ته کولو ورسته وئیلو ..

" سبا خو به که خبر وي تپازه ته ځو "

لا به يې نور وئیلو ، چي وسا یوه غټ بلډ نګ ته اشاره کولو ورسته وئیلو ..

" دا دَ ملټري میوزیم دی ، چرته چي دَ هغې دَ پلار عکس هم دَ شهیدانو په ګروپ کي لګېدلی دی "

" دَ جمیله الجزائري عکس هم "

جلالي له وسا سره دا خبره هغه وخت زیاتوله ، چي يې موټر وَ کېڼ لاس خواته دَ ټرېډ سېنټر بلډنګ په لور ګرځولو - او بیا دَ څه ساعت ورسته په یوه غره باندي دَ بوزریعه په لور ختلو لګیا وُ - چرته چي دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

انکل بوعالم کور دی - او په نه ساعت کي بیا هغوئ په یوه ښائسته او پراخ کور کي تر ګڼو ونو دلاندي دَ زاړه بوعالم او دَ هغه دَ زامنو توفیق ، رفیق او لوڼو بشیرا ، جهیده او نیږور لیلا مخي ته ناست په خوړو ګپو اخته وُ ..

" وایه وسا .. دا سپلاني دلته په دې هېواد کي څنګه محسوسوي ؟ "

په خپلي ژبي کي چي زاړه بوعالم داسي تپوس له وسا څخه وکړو ، نو هغې په ټوکي کي ورته وئیلو ..

" خپله ورڅخه پوښتنه وکړه "

هغه ورته په خلې کي پاته درې څلور واړه غاښونه سپینولو ورسته وَ وئیلو ..

" بیا نو په کار دی چي رفیق ورڅخه پوښتنه وکړي "

" زه څله ؟ هر چا ته په کار دی چي خپل کار پخپله وکړي ..څنګه سپلاني ؟ "

" هو ، دا هم صحیح خبره ده "

سپلاني چي داسي ورته خبره بیا کړه ، نو توفیق واي ..

" بیا خو ما او پاپا ته اشارې راپاته شوې .. "

او له دې سره سم ټول په خندا خندا په لاسي جوړ کېکونو باندي ور سم شولو او په ډکو خلو یې نور مجلس مخته بوتلو -

**_ 2 _**

سهار وختي چي څنګه وسا او سپلاني ناری وکړو ، نو دَ جلالي په موټرکي دَ تپازه په لور چي رهي کېدلو ، نو امینه او سیدعلي هم ورڅرمه شولو -

" دا کوسټل هائي وې دَ دې هېواد له یوه سره تر بله سره پوري داسي تللي ده ، چي ټول کوسټل ښارونه یې له یو بل سره پئیلي لري"

سپلاني لا خبره سرته نه وه رسولي ، چي امینه هند واي ..

" ډېر پخوا تپازه ښار دَ رومیانو مهم ښار پاته شوی دی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ته څنګه خبره شوې ؟ "

سپلاني دَ هغې دَ ذهني صلاحيت تللو په نيت چي څنګه تپوس ورڅخه وکړو ، نو هغې وئيلو ..

" داسي زمونږ دَ سکول په کتابونو کي ليکل شوي دي "

بيا سپلاني دَ سيدعلي په خوا سترګي اړَولو ورسته له هغه څخه تپوس وکړو ..

" څنګه سيد علي .. امينه درست واي ؟ "

هغه هم په ورو باندي خندلو ورسته وئيلو ..

" هو ، هغه درست واي.. داسي دَ پنځم ټولګي په کتاب کي هم ليکل شوي دي "

لنډ ه دا ، چي په پاوُ بالا يوه ګنټهه کي هغوئ دَ تپازه وَ واړه لاکن ډېر صفا او ښائسته ښار ته دننه شولو- او بيا په کي دَ ګرځېدلو ورسته چي دَ رومنو وَ کنډ والو ته ورچپ شولو ، نو سپلاني له خياله يو ځل بيرته جوليس سيزر شولو او ورسره روانه وسا يې دَ قلوپطره په بڼه کي وَ سنجوله - نو ځکه خو يې بيا بيا چي ورته کتلو ، نو وسا ورڅخه پوښتنه وکړه ..

" نن څه خاص خبره ده په ما کي ، چي داسي راته په ځيرځير ګورې هان ؟ "

" دغه .. چي زه ستا په څېرې کي خپل پرون وينم "

" پرون که سبا ؟ "

" يَه يَه پرون "

هغې په څنګلي ويښتلو ورسته په خوږې موسکا کي ورته وئيلو ..

" پرون نو کله زه له تا سره وم "

" هو ، دغه خو ګورم "

او بيا يې خبره په بله ځکه واړَوله ، چي دې وخت ورته امينه هند او سيدعلي ډېر په حېرانتيا داسي کتلو ، لکه هغه چي واقعي جوليس سيزر وي او دَ هغوئ تاتا وسا قلوپطره - هو ، دغه څه خو سپلاني هم په وسا کي دې وخت سنجَولو ، لکه هغه چي له دې رومن کنډ والو سره نه يوازي بلد ه وي بلکې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي کله له جوليس سيزر سره په لومړي ځل روم ته تلله - نو هم په دغې لاري خو تللي وه - ولي چي دا ښار تېپازه دَ هغې زمانې دَ ماريطانيه دَ صوبې دَ نوميديا ( تننی الجزائرهېواد) نامي سيمي يو ډېر مهم ښار وُ او په دې لاري به رومن وَ افريقې ته تلو راتلو-

" دا ځای زما هرکله دَ خوښي ځای پاته شوی دی "

وسا چي دا خبره لا سمه سرته نه وه رسولي ، چي جلالي هم دَ هغې دَ دې خبري تائيد کولو ورسته وئيلو ..

" هو ، چي کله وسا دلته په الجزائر کي وه ، نو دا به ډېره ډېره وَ دې ځای ته راتله "

هغه چي څنګه دا خبره وکړه ، نو سېلاني سر ورسره ښورَولو ورسته وئيلو ..

" ښه .. ځکه خو چي کله مورِ دې هېواد ته راتلو ، نو دې راته وئيلي وُ ، چي تېپازه ته به خامخا تا وړم "

سېلاني لا خبره سرته نه وه رسولي ، چي امينه هند رامخته شوه او واي ..

" تاتا وسا.. وايه چي دا ځای دي څله دومره زيات خوښ دی "

" شايد په دې.. چي دا به يو ځو جنمه مخ کي په دې ښار کي اوسېدلي وي "

دا خبره چي څنګه سېلاني په خندا کي وکړه ، نو وسا په نرۍ موسکا کي داسي وئيلو ته چمتو شوه ..

" ستا مطلب دا ، چي زه دَ قلوپطره دويمه ښه يم ؟ "

" که داسي نه وای ، نو به زما ملګرو په يوه صلاح دَ فلوريتا په کرسمس پارټۍ کي هغه شپه قلوپطره نه وای درته وئيلو ...."

" هغه خو يې مازې ټوکي کولې "

دَ سېلاني خبره پرې کولو ورسته چي هغې داسي وَ وئيلو ، نو وړوکی سيدعلي رامخته شو او واي ..

" تاتا.. تا تا دلته خو هسپانيان هم اوسېدلي وُ "

هغه چي څنګه دَ هسپانيانو توری له خلې ايستلو ، نو امينه هند يو دم وره وئيلو ..

" زما هسپانيان ډېر خوښ دي .. دربغه چي زه هم هسپانۍ وی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هسپانۍ خو يې اوس هم "

" رښتيا انکل ؟ "

دَ سپلاني دَ خبري برسېره چي هغې داسي تپوس وکړو ، نو هغه ورته وئيلو ..

" کټ مټ خو هسپانۍ يې .. هغسې هسکه درخته ، سپين رنګ او هسپانۍ سترګي لرې "

او بيا نور دَ هغې ماشومي زړه ښه کولو دپاره يې دَ هغې دَ پلار په لور مخ اړولو ورسته پوښتنه وکړه ..

" څنګه جلالي زه صحيح وايم ؟ "

" هو ، ته صحيح واې "

او مخته جلالي بيا خبره داسي زياته کړه ..

" دغه زما لور امينه هند دَ ډاکټر وسا دَ کوچنيوالي رښتوني کاپي ده "

" هو ، زما دَ کوچنيوالي عکسونه چي وګورې ، نو په ما او دې امينه کي به هيڅ توپير نه وکړې "

" ښه ښه اوس پوهی شوم"

سپلاني چي داسي لا سم وئيلي نه وُ ، لکه هغه چي په غلا باندي وَ نيول شي او يو دم يې پوښتنه وکړه ..

" لاکن په څه پوهی شوې ؟ "

سپلاني يو ځل هغې ته او بيا امينه هند ته کتلو ورسته په شاعرانه انداز کي ورته داسي ګويان شو ..

" په دې .. چي ستا او دَ امينه په څېرو کي ماته نه يوازي دَ تُرکو ښائست ، بلکې دَ هسپانيانو دَ سترګو خُمار، دَ عربيانو جلال ، دَ بربرو رنګ ، دَ روميانو خوند او دَ يونانيانو هرڅه هرڅه ښکاري"

" دَ يونانيانو هرڅه هرڅه ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسا چي دَ سپلاني دَ خبري اورېدلو ورسته داسي په يونانيانو باندي دَ حېرانتيا اظهار وكړو ، نو هغه ځوكه غوندي ورته وَ وئيلو ..

" ولي .. ته قلوپطره نه يې څه ؟ "

" كه زه قلوپطره يم ، نو بيا ته څوك يې ؟ "

" زه زه يم "

" ګوا نه جوليس سيزر او نه مارك انتهوني ؟ "

وسا هم دَ هغه دَ ټوكي په ځواب كي په خندا باندي داسي تپوس څه وكړو ، چي سپلاني يې يو ځل بيا په امتحان كي واچولو - او هغه پخپله په زړه كي له ځانه سوال وكړو ..

" هو ، كه هغه قلوپطره ده ، نو بيا زه څوك يم ؟ "

مخته بيا چي تر څو پوري هغه دَ رومنو په دې كنډ والو كي له هغوئ سره يوې بلي خواته ګرځېدلو - نو په ځان ځان كي يې په دې سوچ وينه وچه كړه ، چي هغه سيزر دی او كه انتهوني ؟ خو ځواب يې تر پايه هم نه كړو تر لاسه -

_ 3 _

جوليس سيزر چي دَ اسكند ريا څخه په لومړي ځل قلوپطره روم ته وړله ، نو په كشتۍ كي ورسره جنرل مارك انتهوني هم سپور وُ - چا چي نن تر اوله زيات په غلو سترګو وَ قلوپطره ته ځكه بيا بيا كتلو ، چي هغه ښېغله يې په لومړي ځل په رومن ګڼو جامو كي ليدلي وه - نو ځكه يې په زړه كي دا خواهش سر راپورته كړی وُ - او په زړه زړه كي يې وئيلو ..

" كشكې دا تنكۍ ښېغله دَ هغه په څنګ كي ناسته واى ، نه چي دَ 56 كلن سيزر په څنګ كي "

خو بلي خواته سيزر هم په دې خبري باندي شكي شوی وُ ، چي انتهوني نن څه زيات دَ هغه سره دَ هغه په خوني يا كاريګه ورونو كي ښكاري - لاكن دا شك يې بيا هم نه كولو ، چي ګوندي هغه يې دَ ملګري قلوپطره دَ ميني په رنځ رنځوره شوی دی - كه څه هم هغه يو دوه ځله هغوئ دواړه له يو بل سره په خوند و خندا كي په ګپه كولو باندي ليدلي هم وُ -

كشتۍ چي كله دَ تپازه په څنډې باندي جوړ له پروني ليدلي ښار سره وَ درېږي ، نو قلوپطره ..
واي

(c) ketabton.com: The Digital Library

" واؤ ... ډېر ښه - دا خو هغه ځای دی ، چي ما په خوب کي ليدلو "

په لومړي ځل دَ تېپازه په مځکي باندي ګام لګولو ورسته شاوخوا ته کتلو په وخت چي يې دا خبره څنګه کړه ، نو جوليس سيزر ورته واي ..

" زما ښائسته رانۍ !! دا هم زموږ تر تسلط دلاندي سيمه ده "

"اوولا .. دا خو لا نوره هم ښه خبره شوه "

" هو .. دا او داسي نوري نوري سيمي زما او ستا دَ ميني داستان نکل کولو ته زموږ لاره ګوري "

قلوپطره يوې بلي خواته سترګي ځغلولو ورسته يوه اوږده غوندي دَ سکون ساه له يو حسرت سره تړلي اخيستلو ورسته واي ..

" نو ښه به نه وي ، چي موږ دَ روم تخت دلته راوړو او له دې ځايه خپله باچهي سمبال کړو ؟ "

سيزر په ځواب کي ځکه خله بند ه وساتله ، چي دا خبره يې دَ خپل قامي مفاد په حق کي ښه نه وَ ګڼله ، خو مارك انتهوني چي دې وخت يې شاته را روان وُ ، ورته رامخي ته شو او سر ټيټولو ورسته يې ورته وئيلو..
" څنګه چي ملکه عالم غواړي .. هغسي به کېږي "

دا خبره څه وه ، چي دَ جوليس سيزر په وجود کي اور بل شو او په سخته لهجه کي يې جرنېل انتهوني ته داسي وَ وئيلو ..

" غلی شه انتهوني !! دومره غټي قامي فېصلې داسي په آسانۍ نه سرته کېږي "

مخته که څه هم جنرل انتهوني وَ جوليس سيزر ته ځواب وربيا نه کړو او غلی غوندي يوې خواته وَ درېدلو ، خو دَ رانۍ قلوپطره په لور يې په مړو ورکتلو ورسته په سترګو کي داسي ورته وَ وئيلو ، چي ..

" اې ښکلي رانۍ .. زما له تا سره دا لوظ دی ، چي داستا خواهش به اوس دَ خپلي دې بې عزتۍ په بدله کي ضرور سرته رسوم او دغه ستا زوړ جوليس سيزر به ستا له ژونده داسې راباسلوم لکه .. لکه تا چي له ده سره کله هم ليدل کتل نه وي کړي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا هغه لومړۍ لمحه وه ، چي سيزر دَ مارك انتهوني په خراب نيت پوهی شوی وْ او خپلي رانۍ قلوپطره ته يې په برګو برګو ځکه کتلو ، چي هغه دا هر څه په خپلو سترګو وَليدلو ، چي کله انتهوني دَ هغې په لور ورکتلي وْ ، نو هغې هم په ځواب کي ورته شونډي داسي موسولې وې لکه هغې چي دَ سيزر تر انکاره دَ انتهوني اقرار زيات خوښ شوی وي -

نو ځکه خو سپلاني دَ سيزر ښه خپلولو ورسته ورته يو دم پښتون شو او په کړو يې دواړو ته کتلو ورسته چي څنګه غاښونه وَ چيچلو .. نو څه ګوري ؟ چي هغه دَ روم په محل کي بيا له قلوپطره سره په څنګ کي ناست دی - او دا سوچ ګرزي چي هغه به دَ هغې له زړه جنرل مارك انتهوني څنګه باسي ؟ ولي چي دَ ده له خياله اوس دَ هغوئ تر منځه شکي مراسم دَ ميني تر يقيني حدونو پوري رسېدلي وْ -

هغه لا په دې باب سوچونه کولو .. چي يو وخت دربان حال ورکړو ، چي بروټس ، څوك چي دَ جوليس سيزر په خاص وفادارانو کي يو وْ دَ راتلو دپاره چي څنګه خواست لا سم نه وْ کړی - چي دَ هغه له خوا سر په اثبات کي وَ ښورېدلو -

" وايه بروټسه .. خلګ له ما خوشاله دي که يَه؟ "

" هو .. باچا سلامت !! ټول خوشاله دي "

" زما دَ فوج جرنېلان هم ؟ "

" هوهو .. دَ روم په کوڅو ، محلتونو او محل دباندي او دننه ټول خلګ لتا خوشحاله دي او ستا اصلاحاتو او فتوحاتو ته په درنو سترګو ګوري "

دا خبره اورېدل څه وْ ؟ چي هغه خپل سر په وياړ پورته کړو او بيا يې له څنګه ناستي قلوپطره په اوږو باندي لاس اچولو ورسته يو غاورانه انداز ورڅخه بيرته تپوس وکړو ..

" زما دَ روم خلګ دَ مصر دَ فتح کولو او دَ دې مصرۍ رانۍ په باب څه واي ؟ "

بروټس يو وار دواړو ته وَکتلو او بيا يې سر کښته کولو ورسته په احترام وئيلو ..

" دَ روم ټول خلګ دَ مصر په فتح کولو ډېر خوښاله دي ، خو ،اې دَ عظيم روم ستر باچا سلامت ..."

" خو څه ؟ وايه بروټسه ..!! "

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیزر چي څنګه دا تپوس وکړو ، نو بروټس ورته په ډېر احترام په کُوز سر څو ګامه رامخې ته شو او یو دم يې يوه غټه چاړه راوَ ایستله او اوس به يې لا دویم وار ورباندي کولو ، چي دَ سیزر له خلې له آه سره سمه داسي ګیله هم ورته وَ وتله ..

" بروټسه ته؟ "

" هو .. زه ، ستا تر ټولو وفادار دوست "

او بیا مخته سیزر هیڅ ځکه نه وَ وئیلو ، چي دَ هغه اروا دَ هغه له بدن څخه بېلېدله لګیا وه او بلي خواته دا هر څه هرڅه قلوپطره په خپلو سترګو وَلیدلو ، چي هغه په وینو کي لړلی په مځکي باندي پروت له درده لوټ پوټ کېدلو - خو هغې ورباندي دوې اوښکي هم نه کړې تويه او نه يې لاس ور وړلو ، ولي چي دَ پور پرې کولو سم دستي دَ جولیس سیزر له وجوده ورته دَ خپل ګران ملګري سپلاني اروا دَ جنرل مارك انتهوني په بڼه کي راپورته شوه او هغه يې غوزی ته داسي ورټوله کړه ، لکه دا هر څه چي ضدي جرنېل دَ هغې په خوښه دَ بروټس په لاس کړي وي -

دا خوب چي سپلاني څنګه وَ سرته وَ رسولو ، نو وسا ورباندي دَ زړه له اخلاصه خندلو ورسته داسي وار وکړو ..

" دا خو دي داسي خوب لیدلی دی ، لکه دَ شېکسپئیر ډرامه "

" دَ شېکسپئیر ډرامه ؟ "

" هو ، که څه هم اورمرو داسي خو نه وه ، بېله سټوري يې وه - خو دَ سیزر ډائیلاك دَ بروټس په داسي وحشي حرکت باندي څه څه دغسي وُ لکه تا چي وَ وئیلو"

سپلاني چي داسي دَ وسا له خلې څخه واورېدلو ، نو په حېرانتیا کي ورته واي ..

" لاکن ما چي دا ډرامه کله په دې سترګو باندي لیدلي او لوستلي نه ده ، نو بیا داسي خوب څنګه ما وَ لیدلو ؟ "

" ... کېدلی شي ، چي ته هم په اول جنم کي رومن باچا وې "

" رومن باچا او زه ؟ "

سپلاني به لا نور حېرانېدلو ، چي هغې وار لاس ته کړو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا ته چي ماته په بيا بيا قلوپطره واې ، نو خپله خو هم "

دومره وئيلو ورسته يې مخته هيڅ څکه نه وَ وئيلو ، چي هغه خپله هم دَ سيزر او دَ مارك انتهوني په مابېن کي سوال پاته شوي وه - اوس به دَ ګيستې هاوُس په براندۀ ه کي ناست دغه دوه مئينان نور ژغېدلو ، چي زوهېب ، غنيه ، حيات او امينه هند له عبدالقادر سکاني او دَ هغه مائينه راديه هم سره له موسکاګانو ورته را وَ رسېدلو -

**_ 4 _**

" دا ته په تاريخ کي دومره زياته دلچسپي څله اخلې؟ "

وسا داسي تپوس له سېلاني څخه کولو ورسته له امينه سره په خپلي ژبي کي دوې خبري کولو پسته مخته وئيلو ..

" زما مراد دا دی ، چي ته خو سوشيالوجستې يې "

" او شاعر هم "

" شاعر هم ؟ "

وسا دېر په حېرت له سيدعلي څخه دا تپوس وکړو ، چي هغه څنګه خبر شو په دې خبره چي سېلاني شاعر هم دی - سيدعلي چي يو شرمناکه هلك وُ ورته په وړه ژبه کي وئيلو ..

" پرون يې په سامان کي ما کتاب هم ليدلی وُ "

" هو ، هغه کتاب..چي ورباندي شلاشلا ميل غوندي توري ليکل شوي وُ "

" شلا شلا ميل نه ، بلکې شلېدلی امېل "

سېلاني په نرۍ خندا کي دَ هغه اصلاح کولو ورسته به لا مخته څه وئيلو ، چي سيدعلي په رېګ باندي دَ امينه په لاس جوړ کړل شوی کورکی چي کله مات کړو ، نو تر امينه هند زيات ورباندي سېلاني خوا بد ه کړه او ورته وئيلو يې ..

" سيد علي..جوړ کورونه دَ ماتولو دپاره نه بلکې دَ رغَولو دپاره وي "

هغه به لا اوس سوري کولو ته خله جوړَوله، چي وسا واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا خو دَ رېګ څخه جوړ شوی کورکی وُ - که ده نه هم وای مات کړی ، نو دَ اوبو دې څپو به وران کړی وی"

خبره یې لا سمه نه وه سرته رسولې ، چې یوه مسته څپه تر هغوئ پورې را ورسېدله - نو ځکه خو امینه وئیلو ..

" ګوره .. تاتا صحیح وئیلو "

" هو ، دا ستا تاتا هره خبره کره کوي لاکن ..."

سپلاني به لا دَ امینه دَ خبرې په ځواب کې دَ هغې دَ تاتا وسا په باب نور څه وئیلو ، چې وسا په خندا کې وَ وئیلو ..

" هو ، زه په دې وجه خبرې وچې کوم ، چې په خوبونو باندې ګړسره یقین نه لرم "

" لاکن خوبونو خو بیا هم سړې ته راځي "

" راځي دي "

" نو بیا به یې منو هم قلوپطره ډئیر "

دَ سپلاني له خلې دَ قلوپطره توری نابېره څه وختلو ، چې هغې وَ خندلو او په خندا خندا کې ولاړه شوه او امینه هند یې تر لاس نیولې چې دَ سیدې فرج دَ سمند ر دَ راغلې څپې سره بیرته ملګرې چې کله دَ ژورو اوبو په لور رهي شوله ، نو یې وئیلو ..

" سپلانیه !! خو زه لا تر اوسه هم یونوم ځکه نه شم درکولی ، چې ته خپله ښه خبر یې "

" لاکن په څه ؟ "

او بیا چې دوه درې ځله دا وړوکی تپوس سپلاني تکرار کړو ، نو هغې هلته له لیرې څخه ځواب داسې وربیا کړو ..

" ته چې خپل ځان څه ګڼې .. هغسې شه وَ ماته "

" زه ځان څه ګڼم ؟ .. څه یم ؟ او څوك شم وَ دې ته؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه سوالونه وُ ، چې هغه دَ وسا دَ وړوکي سوال په ځواب کي له ځانه وکړل .. خو دَ ډېر سوچ کولو ورسته چي يې يو هم تر ځوابه پوري نه وَ رسولو ، نو په پاسته لاکن تاوده رېګ يې ملا اولګولو او شنه آسمانه ته يې داسې په ځير ځير کتل شروع کړو .. لکه هلته بالا ښخي بالا په خلاګانو کې چرته يو ځاآ دَ دې سوالونه ځوابونه ليکلي پراته وي - لاکن هيچرته ورته يو توراَ هم ليکلاَ چي تر سترګو نه شو .. نو ځکه خو سپلاني يو ځل بيرته په خپل فکر کي وَ ځانته دَ هر راپورته شوي سوال په ځواب کي سوال پاته شو - او بيا په رېګ برسېره څو کرښي په ګوتو باندي ايستلو رايستلو ورسته دَ ماشومي امينه دَ لاس جوړو هغو وړوکورکيانو ته په کتلو ګوره چي خله څير شو ، چې څو ساعته مخ کي لږ سيد علي او ډېر دَ سمندر مستو څپو وران کړي وُ -

*****

## فصل ۲۱

# دَ سوپیس له خوا دَ بریالیتوب جشن

" څنګه دا غونډ ه هفته تېره شوه .. خو ګرسره پرې پوهی نه شوم "

دَ ائير الجبريا په الوتکي کي ناست سپلاني چي وَ وسا ته داسي خبره وکړه ، نو هغې له مخه ژېړي زلفي په دواړو لاسونو شاته اړَولو ورسته په وياړ ورته وئيلو ..

" دا زما او زما دَ کورنۍ له تا سره مينه وه ، چي ته يې په يو څو ورځو کي وګټلې"

" هو ، ته صحيح واې لاکن ... "

" لاکن څه ؟ "

" دا چي .. زه خو نو هم سړی وم "

دا دَ سړي خبره چي يې څنګه له خلې وَ وتله ، نو هغې وَ سپلاني ته داسي سترګي ور واړَولې ، چي هغه ته په وسا کي دَ راناشامۍ څېره تر سترګو شوه او يو دم يې په وړو ورته خله ويړه کړه - لاکن هغې ورته وَ وئيلو ..

" يې خو سړی.. لاکن ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لاکن څه؟ "

هغه دَ سوچ کولو ورسته په موسکا کې ورته ګویانه شوه ..

" هغه داسې .. چې زه خو هم ښځه یم "

" ته هم ښځه یې؟ "

سپلانې دا خبره دَ وسا په باب نه ، بلکې له خیاله دَ رانا په اړه له خلې څه وَ وتله ، چې وسا لږ غوندې مانېجنه شوله او مخ یې ورڅخه په بله واړَولو -

" دا مې څه ورته وَ وئیلو ؟ "

سپلانې به لا نور ځان ملامتولو ، چې سوپیس یې په مزغو کې لوړه سپره شوه او هغه یې یو ځل بیا له وسا څخه دومره لیرې بوتلو ، چې هغه که هر څومره نارې ورته وهلې ، نو هغې نه اورېدلې - او بلکې یو وخت داسې هم راغلو ، چې هغې له پرسه هغه چاړه راویستله او په هغه باندې یې ګوزار هم وکړو ، خو هغه له ښه بخته ژوندی پاته شو -

" ته زما په ژوند کې هغه څلورم سړی یې ، چې زه یې وژل دَ خپل ژوند لوی مرام ګڼم "

دومره وئیلو ورسته چې هغې په غاوره انداز څنګه خله خندا ته جوړه کړه ، نو سپلانې یې اژدها وزمه داړې تر سترګو څه شولې ، چې له خلې یې داسې وَ وتلو ..

" یه یه یه .. ته ما نه شې وژلی "

لا به یې نور ځان له سوپیس څخه پېچلو ، چې وسا ورباندې ژغ وکړو ..

" سپلانیه! څه کیسه ده ؟ "

سپلانې چې اوس یې بېرته دَ هوش وَ نړۍ ته کوچ راکړی وُ له تندې خولې پاکولو ورسته خبره داسې واړوله ..

" وسا ګوره ګوره چې ما یوازې نه پرېږدې .. زه بې تا هیڅ نه یم "

" رښتیا؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا چې یې بیرته له نازه دَ هغه په اوږو سر ږدلو ، نو په الوتکې کې دَ قاهره په ائیرپورټ باندې دَ کُوزېدلو اعلانونه کېدلو لګیا وُ -

_ 2 _

نن دَ کال 1998ع او دَ جون دَ میاشتې پنځلسمه نېټه وه ، چې سبلاني دَ سي ډي سي دَ ګرلز هاسټل په غټ هال او کاریډ ور کې دَ سي ډي سي دَ درستو لوستونکو پرته خورا ډېرې مصرۍ ، فلسطینۍ ، عمانۍ او سوډانۍ پېغلې چې دَ وسا او منال خوندکیانې وې هم دا پارټۍ په خپلو ښکلاګانو باندې که یوې خواته درنوله ، نو بلې خواته سوډانۍ سندرغاړې نوال ، چې له سند رو وئیلو سره یې سم بېلې او سوډانې رقص هم کولو محفل دومره تود او ښائسته کړی وُ - چې روسۍ پېغلو له مستۍ باګې شلولې او په ګېرډکو کې په ډېر هوسي انداز رقصېدلې -

دَ ملګرو له خوا دَ وسا او سبلاني په اعزاز کې دَ اهتمام شوې دې پارټۍ خوند او خوشالي په خپل ځای - خو زیاتره ښځې او بنې په هغه زاړه رنګ کې مونېدلې .. چې له سوپیس ، چې نن بیرته په خپلې لومړنۍ بڼې کې راغبرګېدلو ته چمتو شوې وه - ګوا څنګه څنګه چې په مستۍ کې راتله ، نو هغسې یې مسلماني بڼه هم ورو ورو بدلېدله لګیا وه - او هغه وخت خو ټول ملګرې حق بق او وازه خله پاته شولو ، چې کله هغې دَ تهائې رقص په ورستنئیو مستو لمحو کې سکارف هم بیرته په مځکه باندې وَغورځولو او په لُوڅ سرباندې یې په زلفو وسا وینښتل پئیل کړه - داسې چې یې کولو ، نو سترګې یې په سبلاني کې ښخې کړې وې او په تهائې ژبه کې یې خود لکه چې داسې توري ایستلو ورته ..

" وَ دې کتلو زما دَ زړه دَ ماتولو انجام ، چې دا ستا دَ خوښې انجلۍ مې هم په تا باندې ترڅان لومړۍ نه شوه پیرزو؟ "

او سبلاني به دَ خلې دَ ځواب په ځای سترګې داسې کُوزې کړې لکه هغه چې هم دا مني او واي ..

" ما ماته خوړلې ده درته .. اوس که ته ما وَ کرار ته پرېږدې "

نو هم ځکه خو مخته بیا هغې خپلې زلفې په دهمالې انداز کې یوې بلې خواته څنډلې او په وازه خله یې په انګلسۍ کې دا سې په وار وار وئیلو ، چې ..

" ما جنګ وَ ګټلو .. ما جنګ وګټلو "

خلګو که څه هم دَ سوپیس وَ دې حرکت ته دَ هغې دَ نادانۍ او لېونتوب نوم ورکولو ، خو سبلاني دَ سوپیس داسې ناڅاپه مستې او خوشالي دَ خپلې ماتې خوړلو په ځواب کې دَ هغې له خوا جشن ګڼلو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خبره وه هم دغه رنګه - لاکن هغې ورسته بيا په ډېر هنر باندي دَ دې خبري مانا دَ ملګرو له خوا راپورته شوُ تپوسونو ته داسي ځواب کوله - چي دَ هغې له دې خبري څخه مراد دَ وسا او دَ سپلاني دَ جنوني خوشالي ليدلو څخه وُ -

که څه هم دَ سوپيس دا خبره نورو ملګرو وَمنله او هغه يې دَ دې ميناکي جوړې ربښتوني خواخُوږي وګڼله ، خو په داسي کولو باندي هغې دَ سپلاني وَ زړه ته يو ځل بيا دُوك تر دې هانده ور اچولی وُ ، چي هغه ته به کله کله شيطاني وسوسو داسي فکر هم ور په برخه کړو ، چي ګني ..

" سپلانيه.. چرته له وسا سره په واده کولو کي دهوکه خو نه شوې ؟ "

او يا ...

" دې دواړو پېغلو خو چرته دَ يو بل په اوړو باندي خپلي څېرې نه دي کرلي ؟ "

دَ هغه وهم به هغه وخت لا نور دئ په سوچ کي واچولو ، چي وسا ته به يې پام شو - کومه چي نن تر ضرورت زياته او په وار وار داسي په سوپيس باندي غوړېدله ، لکه هغه چي يې خور وي .. سکه خور -

هو ، ولي نه .. دا خو نو يو سپلاني خبر وُ ، چي دَ هغې دَ خوشالۍ تر شا يوه غټه اونه هېرېد ونکي قربانۍ پرته وه - نو ځکه خو چي هغې څومره څومره خوشالي کوله .. نو هغومره به سپلاني ورته په زړه زړه کي ينښېدلو - ولي چي اوس که څه هم سوپيس له سپلاني څخه لاس اخيستی وُ ، خو له خپل شيطاني فطرته مجبوره وه - او کله کله به يې سپلاني په وړاندي داسي اشارې هم وکړې ، چي که څه هم ورسره ناستي وسا ورباندي خوند ونه اخيستلو - لاکن سپلاني ورباندي سم دلاسه مړ کېدلو او ژوندی کېدلو -

هر ملګري غوښتلو ، چي دا وخت دي په هغه ځای تم شي او نور نور په محفل کي تاوُ راپيدا شي - خو يو سپلاني وُ ، چي ځان يې له دې حاضر وخته هم هغسي په تادۍ خلاس غوښتلو ، لکه دَ خپلي ماضي له ګيړدکو څخه چي يې په منډه ځان رابهر کړی وُ - او بيا بيا يې ګهړۍ ته کتلولګيا وُ -

" دا نن وخت ځله مخته نه ځي؟ "

يو وخت سپلاني له ځانه دا سوال څه وکړو؟ چي ځواب يې هغه خنجر راوختلو ، چي په خپل وار باندي تهائي ماربچکي سوپيس وَ ډاکټر وسا ته دَ تحفې په توګه پيرزوُ کولو په وخت وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا نه یوازې زما دَ هېواد جوړه ښائسته چاړه ده ، بلکې دې چاړې په ما باندې ډېر لوی احسان هم کړی دی - نو ځکه هیله کوم ، چې دا به تل تر تله زما دَ نخښې په توګه له ځان سره خوندي ږدې .. هو ، کېدلی شي ، چې په بد وخت کې تا ته هم په کار درشي"

او بیا چې وسا له سوپیس څخه هغه خنجر تر لاسه کولو ورسته څنګه سېلاني ته وسپارلو ، نو دَ سېلاني له خلې اېله چیغه نه وَ وتله - ولې چې هغه له خیاله یو دم داسې محسوس کړو ، لکه دا چې چاړه نه ، بلکې دَ هغه اژدها غاښ وي .. چې تهائیانو ورباندې ایمان راوړی دی او سجدې ورته کوي - نو ځکه یې خپل ښي لاس ته پراته مېز باندې چې کله ږدله ، نو یې په زړه کې دې وسواس هم ځای ونیولو ، ګوا ..

" چرته دغه چاړه خو به ماته هم دَ بروټس ظالم هغه خنجر نه ثابتېږي ، چې په دوستۍ کې یې دَ جولیس سیزر ځیګر پرې پژلی وُ ؟ "

هغه به لا نور نور له هغه خنجر څخه دَ راتلونکې وخت دپاره وسوسې سازَولې ، چې رانا شامۍ هم ور مخته شوه او ډاکټروسا ته یې دَ عطرو دَ یوې شیشۍ سره سمه دَ شیشې جوړه غټه پیاله څه ورکړه ؟ چې سېلاني ته خپله وسا هم له خیاله دَ قلوپطره په هغې ورځې کې ور ننوتې محسوسه شوله ، چې کله یې دَ زهرو ډک جام په غاړې باندې له ژوند څخه دَ فرار غوښتلو په نیت اړَولو -

_ 3 _

که څه هم سوپیس دَ ملګرو دَ توقعاتو په سمون بیرته سکارف تړلو ته چمتو شوې وه او په پارټۍ کې خپل هغه لېونتوب ته یې له وسا او سېلاني سره دَ بې کچې مینې نوم ورکولو - خو سېلاني اوس لا نور هم له هغې څخه ځکه وېرېدلو ، چې چرته هغه په دې پاته خو هفتو کې دئ دَ جهان او وسا له مخه رسوا نه کړي - نو ځکه به یې دَ هغې بې ځایه احترام کولو -

واي .. چې مار کله دوست کېدلی نه شي - او سوپیس هم په خوئیو کې ماره وه - ځکه خو که یې څه هم اوس سېلاني نه تنګولو ، خو چې له کله دَ هغې او رانا شامۍ تر مابېن په کلاس کې غال شوی وُ - نو هغې په بېلا بېلو چلونو باندې رانا په لږ وخت کې دومره وَ چیچله - چې یو ورځ هغې تر سېلاني پورې ځان ورسولو او په ژړا باندې چې یې هغه ته کومه کیسه تېره کړه - نو په هغې کیسې کې نه یوازې دَ رانا رسوائي وه ، بلکې دَ سېلاني نوم هم ورسره ګنډلی برېښېدلو - نو ځکه هغوئ دواړو په ګډه ، لاکن له ټولو ملګرو څخه په پټه دا فېصله وکړه ، چې که په هغو دواړو کې په چا باندې هم سوپیس تور وَ لګولو ، نو دا بل به یې پوره پوره کومک کوي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه هرڅه ، خو دَ فېصلې ورسته هم راناشامۍ او سپلاني دَ سوپیس له شره په امان ځکه نه شولو ، چې هغې اوس یو نیم ځای داسي خبري هم کړي وې ، چې ګني ..

" سپلاني او راناشامۍ نن سبا پټ پټ له یو بل سره لیدل کتل کوي "

او خلګو دَ هغې خبري په دې وجه هم منلې ، چې هغه په ښکاره ښه باندي تر یوې تقوا داري مومني لا هم زیاته پاکه مشهوره شوې وه - خو په دې خبري کي هم اوس شك نه وُ پاته ، چې رانا او سپلاني به ګای ګای تر خپلو تش دَ هغې له شره دَ ژغورني په غرض ملاوېدلو -

دَ ګلوبل ډپلومه کورس هم زیاته په ورستنئیو ورځو شپو کي وُ او امتحانونه هم سرته رسېدلو لګیا وُ ، چې سوپیس یوه ورځ په فون باندي وَ سپلاني ته له هغې سره دَ راتلونکي الوداعي پارټۍ دَ مخه دَ لیدلو خبره څه وکړه ، چې هغه دَ سوي زړه تاوُ ورباندي په دې هیله وَ ایستلو ، چې که هغې یې دَ بلېك مېلنګ هڅه وَ هم کړله ، نو راناشامۍ به یې کومك وکړي - خو بیا چې یې په دې بله ورځ وَ رانا ته خبره وکړه ، نو هغې ورته وئیلو ..

" له دمشق څخه زما مور راغلي ده - نو ځکه دا به ښه خبره نه وي ، چې په اخیر کي ورته خړمخي شم "

هغې یې که څه هم دَ فېصلې په سمه ملګري نه وه کړي ، خو سپلاني ته ئې دا وئیلو ، چې هغه به له سوپیس سره اول تعلق جوړ کړي او بیا به په ډېره نرمۍ باندي خبري ورسره وکړي - ګوا په دې به یې یو رنګه ست کړي ، چې هغسي نه وکړي - دَ کوم څه کولو دهمکۍ چې یې هغه ته ورکړي ده -

_ 4 _

ټول کال په خپل ځای ، خو دا یو څو ورځې داسي وې ، چې په سپلاني کي یې وینه وچه کړي وه - نه یې دَ شپې آرام کولی شو او نه یې په سترو لمحو کي سکون په نصیب وُ - ولې چې راناشامۍ هم په نن او په سبا کي وخت ته دیکه ورکولو سره سره سپلاني دَ سوپیس سره دَ روغې جوړې کولو په نیت کي داسي ساتلی وُ ، چې نه یې کار کولو او نه له لاري وتله - نو ځکه خو بلې خواته دَ سپلاني زړه دا منلي وُ ، چې سوپیس به بل سبا په الوداعي پارټۍ کي هغه حتماً رسوا کوي او هرڅه هرڅه به ټکي په ټکي واي - ولې چې اوس سوپیس له سپلاني څخه دَ تېري هفتې دَ هغو سخنو شکنځاوُ ، چې هغه په فون باندي ورته کړي وې له سوبه ډېره خوابدي وه او ګرسره یې له هغه سره خبري څه ؟ چې دَ هغه په خوا کتلو لا هم نه -

دې وخت به هم سپلاني په فلېټ کي ناست نوره وینه دَ راتلونکي هغو بد و لمحو په باب وچوله ، چې راناشامۍ ورته په فون باندي وَ وئیلو ، چې نن مازیګر به هغه له ده سره دَ سوپیس په فلېټ کي په پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بجې ويني - نو ځکه خو هغه ته څه اُميد پيدا شو او اوس که څه هم درې بجې وې ، خو ژر ژر يې تياري شروع په دې سوب کړه ، چي هغه دَ وسا له راتګ څخه دَ مخه مخه له فلېټ څخه وتل غوښتلو -

پنځه بجو ته لا شل منټه پاته وُ ، چي سپلاني دَ سوپيس وَ فلېټ ته ور دننه شولو - سوپيس که څه هم لاس ورکړو ، خو دَ هېلو هاى کولو په ځاى يې فقط داسي ورته وَ وئيلو ..

" اورېدلي مي دي ، چي سبا نه بل سبا دَ پارټۍ ورسته ستا فلائټ دى "

" هو ، په هغه ورځ دى ، لاکن دَ نيمي شپې وَ خواته "

په دې باب مخته خبره ځکه نه وَ شوله ، چي رانا هم ورته دغه وه ، چي راورسېدله - خو دَ حېرانتيا خبره دا وه ، چي هغه له دباندي څخه نه ، بلکې دَ سوپيس له خوني څخه راووتله - او هغه هم داسي په خندا ، چي سپلاني ته يو دم احساس وَشو ، چي هغه بيا غولېدلى دى - لاکن بيا چي رانا له سوپيس سره خبري شروع کړې ، نو دَ سپلاني زړه لږ په ځاى شو - ولي چي هغې نه يوازي دَ سپلاني سائيډ نيولو ، بلکې ورسره سمه جنګېدله هم - خو سوپيس وه ، چي يوه خبره يې هم نه منله او دغه يوه خبره يې کوله ، چي هغې له ځان سره دا کست کړى دى ، چي ..

" هغه به له سپلاني څخه سبا نه بل سبا جامې ضرور باسي اوبس"

" لاکن سوپيس په دې کي ستا له بدنامۍ سره سمه زما بدنامي خو هم کيږي - تا دا سوچ کړى دى ؟ "

راناشامۍ دا خبره ډېره په تکرار سره ورته کوله ، لاکن سوپيس هيڅ نه منلو او لا نوره نوره په خپلي هوډې باندي ټينګېدله لګيا وه - او وئيلو يې ..

" هر څه چي کيږي ..هغه دي وَ شي - خو دې ځل زه دا غاور سپلاني دَ ډاکټر وسا او جهان له مخه داسي بې عزته کوم ، لکه ده چي زه په فون هغه ورځ بې عزته کړې وم "

او بيا که به هرڅو سپلاني ورته وئيلو ، چي په فون باندي خو تش دَ هغې او ده تر مابين خبري شوي وې - هغه نو اوس څله دومره زياتوب کوي ، چي دئ په جهان کي په نه څه باندي رسوا کوي ؟ او بلکې دا ټول څه هم په هغه وخت کي کوي ، چي زياته درست ملګري خپلو خپلو هېوادونو ته ځي لګيا دي -لاکن هغې ماربچۍ به ورته وئيلو ،چي ..

" تا له ما سره لږ بد نه ، ډېر .. بلکې بېخي دېر بد کړي دي "

يو ځل لا سپلاني ته په زړه کي راغلو ، چي ورته وَ واي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ځه مخه دي خلاسه ده .. چي څه کوې ، هغه وکړه "

خو بیا چي به یې له خیاله وسا زړه ته راغله ، نو به یې ځانته وئیلو ..

" زما په رسوائي خو به هغه هم دَ خپلو هغو خوندکیانو له مخه کچه شي ، چي هغې ورته دَ سپلاني دَ ښوالي په باب ډېري دعوې کړې وې"

نو ځکه به غلی پاته شو او هر څه به یې په رانا شامۍ باندي پرېښولو-

لنډ ه دا ، چي څنګه څنګه وخت مخ په وړاندي له ساعتونو څخه دَ منټونو او ګنټهې په لور تېرېدلو ، نو رانا په خبرو خبرو باندي نه یوازي سوپیس او سپلاني ته هنداري ښئیلې ، بلکې ورو ورو دَ هغوئ تر منځ واټنونه کمولو کي بریالۍ کېدله هم لګیا وه - او بیا چي کله دَ هغوئ تر منځ دَ کرکو دَ روئیو په ځای خوږې موسکاګاني پئیل شولې - نو هغې سیانه رانا شامۍ هم دَ مور سره وسط المدینه ته دَ تللو بهانه څه وکړه ؟ چي سپلانې یې هم وَ سوپیس ته یوازي پرېښولو-

خو چي هغې کله له سوپیس سره په سترګو سترګو کي خبري کولو ورسته څنګه په ډکه خله خندا کي دباندي ګامونه رېدلو ، نو سپلاني داسي وَ سنجولو ، لکه په دې درست ګېم کي چي له سوپیس سره دَ هغې هم لاس وي - هم په دې خوهغه وَ رانا ته دَ خدای په امانۍ وئیلو دپاره لاس پورته کولو په وخت له ځان سره کرار غوندي داسي په سوالیه انداز بُونېدلی وُ ، چي ..

" اې سیانه رانا.. دا کېدلی شي ، چي زما دَ ضمیر په سودا کولو باندي به تا هم برې موندلی وي ؟ "

_ 5 _

" هغه چاره او دَ عطرو شیشۍ سره له پیالې څه شوه ؟ "

نن دَ هغوئ دَ واده دَ یوه نیمي میاشتي پسته هم سپلاني چي کله خپل سامان تړلو ، نو یې لا دا خبره هغسي دَ سوال په شان په مزغو کي ګرځېدله او هڅه یې کوله ، چي په هغه بېګ کي یې وَ لټوي ، چي دَ هغوئ دَ واده دَ پیرزوئینو سره ګډ په کي دَ وسا دَ واده کالي او جامې هم پرتې وې - بس که نه وُ موجود په دې بېګ کي ، نو هغه وُ دَ سوپیس خنجر او دَ راناشامۍ له خوا ورکړل شوي دَ عطرو شیشۍ او پیاله .. چي ګوره کومو پریانو وړي وه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم په وار وار هغه وَ ډاکټروسا ته وئیلي وُ ، چې هغه دي ټول سامان او دَ ملګرو تحفې ښه په احتیاط وګوري ،چې ورڅخه پاته نه شي - خو په هر ځل به یې دَ هغې له خوا دغه یو ځواب اورېدلو ، چې ..

" هر څه هرڅه په بېګ کي موجود دي او بې غمه دا بېګ هم له ځان سره پاکستان ته وړه "

ځکه ، چي دَ هغې دَ ایم فل دَ تهیسس زباني ټیسټ لا پاته وُ او هغه به څو میاشتي ورسته ورپسې - ورتله

هو .. سېلاني که څه هم نن یوازي په الوتکي کي سپور بیرته خپل هېواد ته روان وُ ، خو ډېر خوشاله په دې وُ ، چې هغه دَ سوپیس له حصاره دَ همېش دپاره خلاسېدلو - او په زړه زړه کي یې وئیلو ..

" خېر دی .. وسا به هم دَ خپل قول په سمه په نهم اکتوبر را وَرسېږي "

خو ، الوتکه لا سمه وَ اسمان ته نه وه ختلي ، چې یو دم یې دَ ورکي شوي چاړې اودَ عطرو دَ شیشۍ سره سم دَ پیالې دَ غائبېدلو په باب سودا په مزغو کي څنګه راپورته شوله ، نو بلا ډېري وسوسې او ویري یې هم له ځان سره ګنډلي پاکستان ته داسي بوتلې ، چې بیا دَ وسا تر ورتلو پسته هم دَ هغه په زړه کي تر هغې ورځي پوري کوټېدلې ، چې دَ وسا په ورتګ په هغه بل بېګ کي یې دواړه شیان په خپلو سترګو باندي لیدلي نه وُ - چې هغې له ځان سره راوړی وُ -

سېلاني پښتون زوی که یوې خواته دَ وساعربلور په خپلولو باندي ډېر خوشاله وُ او ورباندي هوَسېدلو - خو بلي خواته یې دَ هغې په خوني کي پرتو شیانوکي دَ سوپیس تهائي ماربچۍ له چاړې او دَ رانا شامۍ له پیالې نه یوازي تراهه کېدله ، بلکي خپله څېره یې هم په کي شپه او ورځ داسي لیدله - لکه هغه چې پیرزوئیني نه ، بلکې دَ ده او دَ وسا دَ مرګ سامان وي - ګوا که یې دَ رانا شامۍ دَ عطرو په شیشۍ او پیالې کي دَ وسا ساه بند ه سنَجوله - نو هم دغه رنګه یې دَ سوپیس چاړه هم دَ خپل مرګ وسیله ګڼله -

هو ، شاید چې وجه هم دغه وه ، چې که څه هم هغه خپله مینه په زرګونو کړیانوکي پئیلي ورستۍ کړې وګڼله ، خو دَ لیدلوخوبونو ، روزلو ارمانونو ، کړو سوچونو ، ورځرمه شوُ وسوسو او فکرونو ، نیمګړو آرزوګانو ، خوبولو خیالونو ، زېږېدلوامېد ونو او دَ پېړیانو پېړیانو په شمېر دَ سترو مزلونو زنځیر یې لا ګوره چې څله نه پوره کیدلو ؟

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۲۲

# دَ سپلانی په هیواد کي ساه تنگه وسا

ځومره چي په پاکستاني ټولنیز ژوند کي وسا عربلور ساه تنګي شوي وه او دَ دې ځای دَ
خلګو وَ روئیو او خوئیو ته څه ؟ چي په هرڅه هرڅه باندي ورته دَ حېرت ګوته په غاښ وه .. نو هغومره
به یې زیات په مینه ځان دَ پښتني کلچر برخه کولو هڅه شاید چي په دې خبره کوله ، چي هغې له
سپلاني سره دَ هغه تر توقعاتو هم زیاته مینه کوله - هم ځکه خو دَ سپلاني په کورنۍ کي هغې ته داسي
یوه لانجه هم نه شوله جوړه ، لکه قلوپطره ته چي دَ جولیس سیزر په کورکي په لومړي ځل ورننوتلو کي
له نورو غړو ځخه څه ، چي دَ هغه له لومړۍ ښځي ځخه لا هم ډېره تنګه شوي وه - بلکې هغې ډېر ژر دَ
سپلاني په کورنۍ کي ځان دَ یوې مهم غړي په توګه ځای هم کړو -

یاني لکه ځنګه چيَ قلوپطره په روم کي دَ رومنو په زړونو باندي دَ حکمرانۍ کولو په غرضي
نیت خپلي موسکاګاني جارَولې او غوښتلو یې چي دګرست روم هم دغه رنګه لاس ته کړي لکه دَ روم
والي جولیس سیزر چي یې ځانته مات کړی وُ - هو .. دلته که څه هم هغسي کیسه وه او دې ډاکټر وسا
دَ سپلاني دَ زړه دُنیا قبضه کولو ورسته دَ میني په نوم ببرغونه دَ هغه په کورنۍ کي دَ هر واړه او لوی
کس په زړه کي په نه وخت کي لګولي وُ .. خو جذبې یې غرضي ګرسره نه وې - ولي چي هغې له سپلاني
سره سُوچه مینه کوله او دې میني هغه هري قربانۍ ته ډېر په خوشالۍ تړلې وه - هغه ډېره خوشاله وه او
په هېره یې لا هم دَ سپلاني او دَ هغه دَ کورنۍ په باب معمولي ګیله هم نه راتله -

هرڅه هرڅه .. خو بلي خواته سپلاني نه غوښتلو ، چي هغه دي فقط دَ کور دَ څلور دېوالونو
بندیوانه ښځه پاتي شي - ولي چي که څه هم وسا هیڅ نه ورته وئیلو ..خو هغه خبر وُ ، چي وسا نه یوازي
دَ پراخي فضا مارغه وُ، بلکې یوه ښه ډاکټره او ماهر آبادیات هم وه - نو ځکه خو هغې ډېر ژر بیا دَ
ځیني انټرنېشنل این جي اوګانو سره کار کولوکي دَ افغانستان دَ ښځو او ماشومانو دَ روغتیا او
ښېګړي دپاره په " ومیز کمیشن" پېښور کي په ډېره خوشالۍ او همت باندي دَ ستري مدیري په ځیر
کار ته داسي شپه او ورځ یوه کړه - چي په لږ وخت کي دَ افغان وطن دَ هغه تورتمي دور ځناوري روئیو
ځیچلو ښځو په پُرهارونو باندي دَ ملهم ږدلو په صله کي که یوې خواته دَ ښې طبیبي په توګه په نړۍ
کي نوموړي کېدله لګیا وه - خو بلي خواته دَ دې انساني همد ردۍ په بدله کي دَ سپلاني دَ هېواد ځینو
مخفي او ښکاره ادارو له خوا نه یوازي دَ انکم ټېکس ، فارن سروس ټېکس او لا ګوره چي په څه څه
نومونو دَ کتابي او لاسي قانون له لاري ورڅخه دومره ناروا شکوني شروع کړل شوې ، چي یوه ورځ چي
دې هېواد دَ دغو تورمخو دَ زور زیاتۍ څخه ساتنګي شوله .. او وَ سپلاني ته په یې نبغه وَ وئیلو ، چي
..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" سپلانیه ! ماته داسي ښکاري لکه ستا په هېواد کي چې زه هغه یوازینۍ بهرنۍ ښځه یم .. چا چې له یو پاکستاني سړي سره واده کړی دی "

" يَه يَه وسا ! داسي خبره نه ده .. بلکې بلا ډېرو خلکو دلته له بهرنئيو ښځو سره ودونه کړي دي لکه عمران خان چې له پيرنګۍ جمائمه خان او ..."

دَ وسا دَ پوښتني په ځواب کي چې څنګه سپلاني دومره لا سم نه وُ وئيلي چې هغې وار لاس ته کړو او وَ يې وئيلو ..

" لاکن هغې خو هم پاکستان او عمران پرېښولو "

دا خبره چې څنګه هغې په لغازي موسکا کي سر ته وَرسوله نو دَ سپلاني په بدن کي دَ برېښنا يوه نرۍ څپه اوځغلېده او دَ يوې نامعلومي امکاني ويري له لاري يې مخ ور واړولو ..

" پوهی نه شوم وسا ! .. چې ته څه وئيل غواړې ؟ "

" هيڅ نه .. هيڅ نه "

وسا يو دم داسې وئيلو ورسته يو دوه ګامه ورمخته شوه او په وچو موسېدلو شونډو کي يې ژبه داسي ورته ګويانه کړه ..

" ويريږه مه .. زما ژوند او مرګی به لتا سره وي او زه به کله هم تا يوازي نه پرېږدم ، خو اې زما خوږه سپلانيه ..."

" خو .. خو څه ؟ وايه وسا "

سپلاني چې داسي تپوس په حېرانتيا ورڅخه اوکړو ، نو دَ هغې په سترګو کي نرۍ روڼې اوښکي يو دم راجرګه شولې او په اوږدې سړې ساه کي يې هغه ته داسي وَ وئيلو ..

" زه خو والله چې ستا دَ هېواد له دې خفيه ادارو تر پوزي پوري راغلي يمه "

او بيا يې په ژړَغوني انداز کې خبره داسي مخته بوتله ..

" سپلانيه ! داسي مياشت نه شته چې زه دَ يوه نا يوه آزمائشي رپورټ يا سوال ځواب څخه نه تېرېږم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ياني دَ دې دومره روا او ناروا ټيکسونو ورکولو پرته هم "

" هو .. پوهېږم نه چې ولې؟ "

دومره وئيلو ورسته يې په وړو سلګيانو کي خپل سر دَ سېلاني په اوږو کښېښولو او دَ ماشومي جنۍ په شان په ژړا سر شوه - سېلاني ..که څه هم دَ خپل هېواد دَ ادارو په ناوارو روئيو خبر و او پخپله هم دَ وسا سره دَ شريعت محمدي دَ لاري روا کړل شوي واده په جُرم کي تر هغې لږ نه وُ تنګ کړل شوی - خو بيا يې هم هغې ته نه يوازي تسلياني ورکولې بلکې په خپل هېواد باندي پرده اچولو هڅي يې هم داسې کولې -

" وسا جاني ! ته زړه مه وړوکی کوه - زما دَ هېواد خلګ بد نه دي .. دَ دې ادارو خلګ هسي خپله تسلي کول غواړي او داسي خو په هر هېواد کي کېږي - او بيا نن سبا خو په درسته دُنيا کي حالات ښه هم نه دي"

خو هغه وه ، چي په سرو سرو اوښکو ژړېدله او بيا بيا يې ورته وئيلو ..

" منم منم هرڅه منم .. لاکن له ما څخه دا قانوني خلګ پيسې ولي بيا بيا غواړي ؟ "

" ښه ښه .. نو مطلب دا ، چې تا هغوئ په پيسو روږدولي دي؟ "

او بيا يې په سر لاس ورتېرولو ورسته لا نور څه ورته وئيل غوښتلو چې هغې ورته په هټکيانو کي په وړه خله وَ وئيلو ..

" نو زه څه وَکړم .. چي پيسې نه ورکوم ، نو هغوئ رقم رقم دهمکياني راکوي او داسي لا هم راته واي چي که دي پيسې نه کړې پرې .. نو هغوئ به په ما باندي داسې او هاسي تورونه اوکېسونه وَتپي ، چي هغه به ټول عمر ځان نه کړي ورڅخه خلاس"

" ښه ښه .. خبره تر دې ځايه رارسېدلي ده لاکن ..."

" لاکن څه ؟ ته هم دَ هغوئ له مخه هيڅ نه شې کولی او نه زه غواړم چي تا له هغوئ سره په لا نجو کي اخته کړم - ولي چي هغوئ خو ستا په سر باندي هم ما ته دهمکياني راکوي او واي .. چي موږ به ستا مېړه هم جېل ته بوزو "

" په څه باندي .. ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخته سپلاني بله هيڅ خبره له خلې څخه ځکه نه ورته وَ ايستله ، چي هغه خپله خو هم په وار وار له داسي امتحانونو څخه تېر شوی وُ او لا دَ هغې په ميني کي تېرېدو لګيا وُ - نو په دې خو يې يوه سړه ساه نابېره وَايسته او دَ زړه له سوخته يې داسي آه له خلې څخه راوَوتله ..

" خدائی پاك مو سړي کړه اې دَ شېطان لعين په لاره روانو نام نهادو مسلمانانو .. تر تاسو خو شنه کافران لا هم ښه دي - دَ زړه ترس خو لري - آخر په کوم جُرم مو موږ نيولي يُو ؟ "

او بيا يې وسا په سر ځپ کولو سم دستي پخپله هم دَ دې هېواد دَ غړي په حېث دَ خپل راپورته کړل شوي سوال ته دا خبره په ډکو سترګودَ ځواب په هيله داسي سوال کړه ..

" په دې جُرم چي .. موږ دَ خدائی او دَ رسول الله صلی الله عليه واله وسلم په لاراو ليکه شرعي واده کړی دی؟ او که زموږ قصور دا دی چي دَ مروجه ملکي قانون له لاري دلته ژوند کولو ته جوګه شوي يُو ؟ "

او بيا يې په زړه زړه کي دَ وسا هغه خبره چي څه ساعت وړاندي يې کړي وه لاهم په داسي صداقت تسليمه کړه چي ..

" ښه ښه .. اوس پوهی شوم .. چي زما په دې ملك کي بهرنی واده شوي ښځي ولي نه تم کېږي ؟؟ "

_ 2 _

غرض دا ، چي ډاکټر وسا په قانوني توګه دَ پاکستانی کېدلو په جرم کي نيول شوي هغه وخت لا نوره هم له دې هېواد څخه زړه ماتي شوه ګ چي کله يې له هغې څخه دا حق واخيستلو ، چي ګني هغه په حېث دَ يوې ډاکټري دَ انسانيت خذمت نه شي کولی - ياني .. که څه هم حکومت دَ هغې دَ ايم ډي ډګری په باقاعده توګه دَ ايم بي بي ايس برابره تسليم کړي هم وه - ګوا لنډه دا ، چي ډاکټر وسا دَ پاکستان شهريت تر لاسه کولو پرته هم پاکستانی تسليم نه کړل شوه -

نو ځکه چي وسا عربلور دَ خپل دې نوي اسلامي هېواد چي ورته دَ اسلام کلا هم وئيل کېږي کي دَ اوسېدولو په جرم چي دَ هغه ځای دَ خلګو له غېر انساني روئيو څخه تر نپسه شوه ، نو يې يوه ورځ دَ اوښکو په بهير کي دا فېصله هم وکړه ، چي هغه به دا هېواد پرېږدي - ولي چي هغې نه غوښتلو ، چي خپل صلاحتونه په يو داسي هېواد کي ضائع کړي ، چرته چي دَ سړيتوب په نوم لا هم دَ خلګو په تنديانو کي ځناوري ګونځي راغونډ ېږي - چرته انسان او دَ هغه دَ استوګني سوال ؟ چي ځواب يې دَ نړی دَ هيڅ يو چا په خوب کي لا هم په ممکناتو کي نه شي راتلی - نو هم ځکه خو سپلاني حق بق پاته شو - چي نه يې هغه په تللو پيرزوُ کېدله او نه يې دا غوښتلو ، چي هغه دي پاته شي - ولي چي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله خو هم که یوې خواته دَ خپلوانو په روئیو سرکُوزی او دَ هېواد په نامه باندي دَ خپل عزت په تول کي دَ هغې له مخې ډېر زیات سپك شوی وُ .. نو بلي خواته دَ هغه سپېڅلي پښتني احساسات او جذبات هم دَ یوې بهرنۍ مسلماني ښځي سره په واده کولو کي دومره ژوبل ژوبل کړل شوي وُ ، چي کوم طبیب ته به یې هم دَ ګنډلو دپاره دَ ځیګر په کاسه کي وړاندي کولو ، نو هغه به یې پرهارونه لا نور نور په نُوکانو باندي شاید چي په دې سوب ور پڅلو - چي دَ هغه طبیب په تولنه کي په لومړي ځل خو داسي دَ قانون له لاري انساني او مسلماني کار شوي وُ ، چي په کي یو انسان وَ یو بل انسان ته دَ خدای او دَ رسول په لاره باندي دَ تللو دپاره اوږې ورکړي وې - هو ، که څه هم هیڅا په خلې باندي ورته بد کار نه وئیلو ، خو خوښ یې په دې سوب نه وُ، چي داسي کار بې دَ هغه امن پرست او په هره مانا انسانیت ته نیږدې انسان چي خلګو به ورته لېونی او بې لاري شوی سپلاني وئیلو په چپه بل هیڅا خو په هېره سوچ کولی هم نه شو -

سپلاني ته دَ خپل هغه خواخُوږي دوست دا وینا په بیا بیا یادېدله چي څو کاله مخ کي یې هغه وخت ده ته په ډېر تکرار داسي کړي وه ..

" سپلانیه .. ښه به دا وي ، چي دا خپله بهرنۍ مائینه دي دَ خپل اکا لور په ریکارډ کي ښکاره کړه او پرېږده دَ هغې دا دَ شهریت ستونځي"

خو ده کله دَ چا منلو او په وار وار به یې په انساني او قانوني دلیلونو باندي له هغوئ سره داسي بحث کولو ..

" زه هیڅکله نه غواړم چي دَ اسلامي شریعت له لاري خپله شوي مائینه په غېر قانوني لارو باندي ځانته حرامه کړم ..

هغه دوست که به هر څو دَ سپلاني سر په دې خبره خلاسولو ، چي په دې هېواد کي سم او قانوني کار ته په بده سترګه کتل کېږي ، او دغه قانوني شهریت به یوه ورځ دَ هغه په غاړي کي ور لوېږي .. خو هغه دَ قانون په ضد هیڅ یو کار ته نه جوړېدلو او په دې خبري یې ټینګار کولو چي هغه به دَ وسا دَ پاره پاکستاني شهریت ضرور دَ قانون له اُوږدې لاري تر لاسه کوي - او په څنګه څنګه سترو او کړکېچنو لارو باندي یې تر خپلي وسا پوري چي څنګه دَ هغې دَ شهریت زېرې راوړلو ، نو له هغې ورځي سره سم یې دَ واده دَ رښتې رسۍ په غاړي کي زیندۍ کېدل هم شروع شوه - کومه داسي اداره وه ، چي هغوئ یې اوس نه تنګولو ؟ خو لکه څنګه چي هغوئ دواړو قانون ته احترام لرلو ، نو هم هغسي دَ هېچا په سودابازۍ کي ورګېر هم نه شولو - نو ځکه خو هغوئ اوس خپل پاتې ژوند ته اوږې دَ ضمیر دَ اطمینان تر حده ورکړي وې او په اغزنو لارو باندي یې مزل کولو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو آخير تر کومه پوري؟ هغوئ هم انسانان وُ .. له غوښو څخه جوړ نازك انسانان - ګوا دغه دوه مئينان چي کله ستړي شولو ، نو په ډکو سترګو يې يو بل ته ور وکتلو او په اثبات کي يې سر داسي وَ ښورولو ، لکه هغوئ چي دې ژوند او په ژوند پوري اړ دَ دې انسانانو وَ ځناوري روئيو ته ماته خوړلې وي -

هو .. خبره وه هم دغه رنګه - هم ځکه خو چي کله وسا دا هېواد دَ پنځو کالو دَ استوګني ورسته دَ کال 2003ع په مئي مياشتي کي پرېښولو لګيا وه ، نو يې په ډکو سترګو وَ سېلاني ته په اسلام آباد ائيرپورټ کي دَ غاړي وتلو ورسته داسي وئيلو ..

" زما ګرانه سېلانيه .. ته ښه خبر يې ، چي زه په خپله خوښه نه ځم ، بلکې دلته په دې هېواد کي زما دپاره دَ اوسېدلو ځای نه شو پاته"

او بيا يې په نره له سترګو اوښکي پاکولو ورسته په دړدېدلي ژغ کي زياته کړه ..

" ژاړم په دې نه، چي لتا څخه ليري کېږم ، بلکې ما دَ شهريت هغه ښائسته سند او دغه زرغون پاسپورټ ژړَوي ، چي ماته يې حق دَ پاکستاني کېدلو راکړی دی "

اوس که څه هم سېلاني په سترګو کي اوښکي ورته جرګه کړي وې او په زړه زړه کي دَ خپل يار هغې خبري ته پښېمانه کېدلو ، چي هغه به په ډېره خوا خُوږې ورته وئيلو ، چي ګني ..

" دا قانون به يوه ورځ ستا او دَ مائنې په غاړي کي زېندی شي - ومنه .. او دا انجلۍ دَ خپل اکا لور څرګنده کړه "

خو اوس وخت دَ هغه له لاسه وتی وُ .. هيڅ يې نه شو کولی - ولي چي دَ هغه شېرينه وسا چي دَ ده ژوند يې وسا کړی وُ اوس په وړو وړو سُلګيانو کي دَ ورستي ځل دپاره ورته لاس لا سم پورته کړی نه وُ ، چي بيا دَ ائيرپورټ په لومړي انټري ګېټ کي دننه کېدلو ورسته په دويم ګام دَ پاکستاني کسټم اهلکارانو دَ هغې وَ ژېړو وېښتو ته کتلو سم دستي دَ هغې په بېګونو کي ګوره چي څه لټولو؟ چي تر نيم ساعته پوري يې سيلاني له دباندي څخه په شيشو کي ننداره کوله - او داسي يې سنجَولو ، لکه هغوئ ياني دَ قام محافظان چي دَ وسا نه ، بلکې دَ هغې په لاس کي دَ ده دَ هېواد دَ پاسپورټ جنازه په نره باسي - او بيا له کسټم ائيريا څخه لا سمه مخته نه وه تېره شوي ، چي دَ يوې بلي اداري دوه کسانو يې داسي په چسپاندۍ لاره وَ نيوله، لکه جوړه چي هغې دَ پاکستاني پاسپورټ او شناختي کارډ په ځای دَ هغوی دَ هېواد په نوم دَ مرګ فرمانه په لاس کي نيولي وي -

نوهم ځکه خو هغې درې پاوْه ورسته دَ ډيپارچر لانچ څخه په فون باندي وَ سېلاني ته وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" خیال مې نه کېږي ، چې بیا به کله هم په دې پاسپورټ باندې سفر وَ کړم - ولې چې دَ خپلو خلکو دَ لاسه یې دَ بې عزتۍ دا حال دی ، نو ګوره چې لا نور هېوادونه به یې څه حشر کوي"

او بیا یې مخته دَ ښه ډېر ژړلو ورسته په تندکونو کې وئیلو ..

" دا مطلب نه ، چې زه به بیا نه راځم .. راځم به .. ضرور به راځم او بلکې هر کال به راځم - خو سپلانیه .!!. ستا دَ هېواد په پاسپورټ نه ، بلکې په خپل پاسپورټ او هغه هم په لګول شوي ویزې باندې ..."

" ګوا وسا .. ته نه غواړې چې بیا ځانته پاکستانۍ وَ وایې؟ "

" هو ، هیڅکله هم نه .. ولې چې زه ډېره درنه وم چې په خپل پاسپورټ او دَ خپل هېواد په نامه راغلې وم - خو اوس ..هو ، اوس ته خپله ښه پوهی یې ، چې ستا دَ هېواد نوم زه څومره وَ زورَولم - ستا په یاد شي سپلانیه وایه ؟ "

" هو.. وسا ، زما ډېر په یاد شي ډېر ښه.. په یاد شي "

سپلاني به لا په ډډن ژغ کې نور څه ورته وئیلو ، چې هغه دَ ماشومې بچۍ په شان په ژړا سر شوه او څو ګهړۍ ورسته یې فون یو دم داسې ناڅاپه کښېښولو ، لکه یو ځل چې بیا له هغې څخه یو چا دَ هغې دَ قومیت تپوس کړی وي - او یا هغې دا تابیاکړې وي ،چې هغه به له خپل مئین سپلاني څخه هم په دې خبره دَ میني او ویني رښته شلوي ، چې هغه خو هم که نسلاً نه، اصلاً خو پاکستانی دی - هم ځکه خو سپلاني په لومړي ځل له ځان سره وَبُوښېدلو ..

" زه لکه چې بیا یوازې شوم؟ "

او بیا یې له سترګو څخه اوښکې لا سمې پاکې کړې نه وې ، چې دَ واهمې تخیلاتو په بهیر کې یو چا ورباندې ژغ وکړو ..

" سپلانیه اې زما خوږه سپلانیه .. !! "

" وسا ..!! خوږې وسا ته ... ؟ "

خو هلته هیڅوك نه وُ .. بلکې دا دَ سپلاني دَ زړه ژغ وُ ، چې په ورستي ځل یې ده ته دَ وسا په خواږه ژغ کې هغه تېر شوي وختونه ورپه یادولو ، چې ده به دَ خپل ژوند آواز ګڼلو - او هغې ته به یې له ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ميني دَ ژوند نوم وركولو - خو نن هغه \" ژوند \" دئی بيرته په هغسي مړو كي ورگډ كړلو چي ده دې وخت په ائيرپورټ كي دَ ساه اخيستونكو انسان وزمه ځناورو په شكلونو كي ليدلو لگيا وُ - او په وار وار يې ستركي دَ هغو خلكو په لور اړولې ، چي ځانونو ته دَ قام محافظان په ډېره نره واي - نو ځكه خو له ټرمينل څخه چي څه وخت دَ كاړيانو دَ پاركنگ په لور روان شو ، نو يې سينه موړېلو ورسته فقط دومره گيله تر خلې وَ وتله ..

" چي كور وَ سړي ته اور شي .. نو هغه به څنگه كور وي ؟ "

او په هم دغه ساعت يو سړی ورته رامخي ته شو او پوښتنه يې ورڅخه وكړه ..

" ټېكسي خو نه غواړې ؟ "

" يَه يَه ..خپله گاډی لرم "

سپلاني چي په كومي لاري له وسا سره گډ تر ائيرپورټه پوري راغلی وُ ، نو له دې خوا په هغې لاري باندي يوازي داسي په ماتو احساساتو روان وُ لكه هغه چي هر څه شاته پرېښي وي - هو .. هغه شپه ده ستركه تر بل سهاره پوري په دې نه كړه پته - چي په هغه كي پروت جوليس سيزر دَ خپلوانو دَ لاسه په چړو باندي داسي ويښتل كېدلو ، چي هغه به څنگه دَ يوه لاس نيولو ، نو بل لاس به بيا ورته راغزېدلی وُ او ظلم لا دا هم ، چي دَ احساساتو طبيبانو يې په پُرهارونو باندي دَ ملهم ږدلو په ځای مالگي لا جلا دُوړَولې لگيا وُ - هم ځكه خو په دې بله ورځ دَ لمر له لومړي ځرك سره سم چي په هغه كې مېښته رومن جوليس سيزر څنگه پور پرې كړو - نو سم دستي په كي دَ جنرل مارك انتهوني اروا داسي په شان وَ زېږېدله - چي هغه يې له نوُ عسكري حوصلو سره بيرته ځوان او په هوډو كي پښتون كړو - هغه چي څومره دننه مات شوی .. رامات شوی وُ ، هومره خپلي پښتو په ظاهره په منافقانه موسكا روږدولی وُ - ولي چي هغه خو لا ماته نه وه منلي -

**_ 3 _**

كه څه هم وسا له سپلاني څخه ليري لاړه ، خو دَ هغې په مينه كي هيڅ كمبوت نه راغلو - او بلكې دَ هغې له خوا دَ سپلاني دَ زړه ساتني چاري لا نوري نوري هم سپوا شوې - په دې خو مات زړی سپلاني هم يو ځل بيرته له نوُ هيلو او غښتلو جذبو سره ملگری دَ هغې په توقعاتو باندي پوره ختلو ته چمتو شوی وُ - او كله چي به هم هغه ورته راتله او يا به دئ ورتللو ، نو دَ ليري والي احساس به يې تر منځه نه وُ پاته -

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلگ هم په خپلو اندازو ځکه غلط نه وُ ، چي داسي يې وئيلو ، چي ګني وسا دَ همېش دپاره سپلاني پرېښولو - ولي چي هغوئ دا ليدلي وُ ، چي سپلاني دَ ډېري موديې ورسته يو ځل بيرته دَ يارانو په محفلونو کي زيات ليدل کېدلو او تر اوله يې شاعري او ادبي چاري هم سېوا شوي وي - لاکن رښتيا خبره دا وه چي حقيقت دَ دې خبري برعکس وُ او هغوئ تر اوله هم نور يو بل ته نيږدې شوي وُ - داسي ورځ نه وه ، چي هغوئ به تر خپلو په انټرنيټ باندي په ګنټهو ګنټهو چېټنګ نه کولو - په کال کي درې يا څلور ځله به حتماً دَ هغوئ تر منځه دَ دوُ يا درو هفتهو دپاره ملاقاتونه کېدلو - ګوا کله په الجزائر کي ،کله په پاکستان ، ترکي ، مصر يا په شام او اُردن کي - خو دَ يوه کال ورسته وَ پاکستان ته دَ هغې په تګ راتګ کي کمبوت په دې سوب راغلو ، چي يو ځل بيا ښېلابېلي حکومتي اداري په حرکت کي راغلي وې او دا يې نه غوښتلو ، چي دغه دوه مئينان دي په آزادۍ باندي له يو بل سره وَ ويني - نو ځکه يې په يوه نا يوه بهانه دَ سپلاني او وسا په کردار او حرکاتو کي خلي لټولو په نيت دَ هغوئ تر منځه بېلتون ځکه غوښتلو ، چي هغوئ يې دَ جېبونو ډکولو مروجه دستور نه منلو - خو ترکومه پوري ؟

لاکن دَ وسا په نه راتلو هم لانجه سرته نه وَرسېدله ، بلکې دَ حکومتي ادارو له خوا له سپلاني څخه لا پوښتني نوري هم سېوا شوې - ګوا که څه هم هغه په کال کي يو ځل الجزائر ته له وسا سره ملاقات کولو دپاره تللو ، نو هم دَ هغه په دې تګ او دَ وسا په نه راتګ خفيه اداري پرېشانه وې او له هغه څخه به يې دَ هغې دَ کار او روزګار په حقله تپوسونه څه ؟ چي داسي هم په همدردۍ لاکن منافقانه انداز پوښتلو ، چي ..

" ستا مائينه ځله له تاسره ملاقات کولو ته نه راځي؟ "

بيا که به هرڅو سپلاني ورته وئيلو ، چي هغه هلته په يو امريکن اېن جي او کي کار کوي ، نو ځکه دَ هغې دَ مشغولا له لاري دئ ورته ځي راځي - خو دغه دَ ميني او سرېټوب په جرم نيول شوی مجرم په رښتياوُ وئيلو باندي هم سپين نه شو او بلکې لا نور نور دَ خپلو ناکرده ګناهونو په دلدل کي ښخېدلو لګيا وُ - ياني هغه اوس تر ډېره هانده ذهني مريض شوی هم وُ - لاکن دَ دې پرته يې هم دَ خپل زړه سر وسا ته خله په دې سوب هم نه پرېکوله ، چي هغه نه غوښتلو ، چي دَ ده دَ هېواد په باب هغه دَ کرکي تر هانده رائې حتمي کړي - ګوا هرڅو که به وسا له هغه څخه دَ ژوند دَ شپو او ورځو په باب کولو ، خو ده به په زميني رښتياوُ باندي دَ قامي ننګ او ناموس ژغورلو په ايثاري جذبو له دروغو څخه کار اخيستلو او ورته وئيلو به يې ، چي هرڅه ښه شوي څه، چي ډېر ښه شوي دي - نو ځکه به هغې دَ خدای شکر ايستلو ورسته وئيلو ..

" خدای دي لا نور ښه کړي دغه دَ خپل هېواد او قام په نره دَښمنان "

بيا که به څه هم سپلاني دَ هغې له دې دعا ورسته آمين وَ وئيلو ، خو په زړه زړه کي به يې وئيلو ، چي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغه ورځ به خود دَ قيامت ورځ وي ، چي دا ځناور به سړي کېږي "

ورځي شپې دَ خوړو او ترخو تر منځه که څه هم په ښکاره .. په ډېر خوند تېرېدلې، خو سبلاني په وجود کي نيم هم نه وْ پابته شوی - ولي چي هغه دَ وسا په ميني کي په قلندري جذبو باندي چي څومره ځومره دَ خدای او دَ خدای دَ مخلوق په لور په مستی‍ باندي لاري لنډوَلي ، هم هغسي هغسي دَ هغوئ تر منځه مينه خپل ورستني معراج ته رسېدله لګيا وه - او په هغه ورځ دغه دوه مئينان لا نور هم په يوبل کي دَ همېش دپاره پېوند شولو ، چي کله دَ هغوئ دَ ژوند په وچي سارا باندي په لومړي ځل اسمان خپله څېره په ګڼو اوريځو کي پټه کړه - او بيا دَ تناګانو سره سمه چي څنګه ناڅاپه ورباندي برېښنا وَ پړکېدله - نو يې دَ ارمانونو په څانګي باندي يو داسي ښائسته ګل وَ غوړېدلو ، چي مخته بيا دواړه دَ هغه ګل دَ ساتني او روزني دَپاره ماليار شولو -

دَ هغوئ تر مينځه لُور دَ کال 2003ع په جولائي مياشتي کي په نهه ويشتمه نېټه دريمه څه شوله ، چي دواړه په خپل خپل ځای باندي تکميل هم شولو - لاکن دَ ګلالی‍ لُور چي دَ هديل برېښنا افضل خان په نوم يې دَ هغوئ دَ ميني دَ نخښي په توګه په الجزائر کي دَ ژوند لومړی‍ ساه اخيستي وه ، هم هلته دَ عربي رسم له مخي دَ وسا دَ مورکی‍ او خور هاجره په نګرانی‍ کي دَ روزني په نيت ځکه ورکړل شوه - چي پلار يې په پاکستان کي دَ خپلو ناتوانو مور او پلار په چوپړ وهلو او مور وسا يې په عراق کي دَ وخت زپلو ښځو په غم کي ورګېر خپلي ورستی‍ هڅي کولې - ولي چي دغه خو هغه وخت وْ ، چي امريکا صد رصدام په کوم ناروا جرم کي بنديوان کړی وْ .. تر هغه هم يو په لسه يې عسکرانو په عراقيانو ظلم روا کړی وْ -

*****

فصل ۲۳

# په بغداد کي دَ وسا دَ مرګ خبر

سبلاني نن سبا په دې خوشاله وْ ، چي په دريمه ورځ هغه دَ يوې مياشتي دپاره اُردن او الجزائر ته له وسا سره دَ چهټيانو تېرَولو په نيت روان وْ - نو ځکه يې دا هڅه کوله چي خپلي لُور برېښنا خان ته ښې څخه ښې او ډېري جامې ور وړي - ولي چي وسا ورته دَ داسي کولو وئيلي وْ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دَ خدای لکه چي دا خوشالي په سپلاني باندي نه وه پيرزو ، چي تر تګ درې ورځي له مخه دَ وسا ټېلي فون دَ يوه غټ درز کېدلو سم دستي دَ هغې په چيغه باندي دَ دې خبري ورسته پرې شو ، چي وئيلو يې ..

" هدي‌ل برېښنا زما په رنګه ده ..... "

" هم ځکه خو دَ سپلاني له خلې هم ناڅاپه داسي وَ وتلو "

" هم ځکه خو يې ته ګار کړې "

او بيا يې دَ ټېليفون رسيور له لاسه څه وَ لوېدلو ،چي په سترګو يې توره تياره راغله -

هو .. بيا که سپلاني هرڅو دَ فون کولو دپاره هڅي وکړې ، خو په رابطه جوړَولو کي بريالى نه شو - لاکن هغه دَ لبونيانو غوندي دَ ټېلي فون ډائيل بيا بيا ترځولو ، چي مخته پراته ټېلي ويژن په اُردو لګېدلي چېنل کي يې هغې نرۍ پټۍ ته پام شو ، چي په سکرين باندي يې دَ ډرامه ښکاره کولو په وخت ورو ورو چلېدله - نو ځکه سپلاني په زوره زوره وئيل پېيل کړه ، چي ورباندي ليك وُ ..

" بغداد مين ايك اور خودكش حمله ، جس مين 23 جانين ضائع اور 47 افراد زخمي .. "

او بيا دَ دې برېکنګ نيوز په اړه په دويمي ورپسې پټۍ باندي نوشته وُ ، چي ..

" يه خودكش حمله *آئي ايم سي* كې هيډكوارټر كي نزديك هوا "

دومره وئيلو ورسته دَ سپلاني له خلې يوه تېره چيغه وَ وتله - او بې خُوده ځکه شو ، چي وسا خو دَ دې آئي ايم سي مشره مديره وه -

مخته څه وُ ، چي سپلاني دَ لبونيانو غوندي بيا په سرو سترګو که يوې خواته دَ ټېلي فون ډائيل بيا بيا ترځولو ، نو بلي خواته يې دَ خپلي لُور په نامه داسي کرکه هم ليکله ..

" برېښنا ته څه راغلې ، چي مور دي هم وَ څټله "

او بيا يې په وړو سلګيانو کي وئيلو ..

" خداى دي زما ديد درسره نه وکړي اې منحوسي برېښنا .. زه له تا کرکه کوم کرکه .. هو کرکه "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو ځله يې نورلا دَ ټېلي فون ډائيل دَ وسا دَ کور په نمبر هم چي به څنګه وَ ترځولو ، نو بيرته به يې رسيور ځکه کښېښولو ، چي هغوئ په دې هم نه وُ خبر چي هغه نن سبا په بغداد کي ده ..که په عمان کي - ولي چي پرون خو وسا ورته دَ نيټ له لبري په چېټنګ کي وئيلي وُ ،چي ..

" ما مورکۍ ته هغه بله ورځ دا وئيلي وُ چي ما په عارضي توګه خپل دفتر وَ عمان ته شيفټ کړی دی "

او دَ خپل دې دروغ په جواز کي يې دا وئيلو ،چي ..

" ماما نن سبا ډېره ناروغه ده او زه نه غواړم چي زما له سوبه ورته شاك وَرسېږي "

سپلاني چي به دَ هغې دا خبري په زړه شوې، نو به يې حالت لا نور هم په دې خبري احساسولو باندي خراب شو ، چي دَ پروګرام په سمه درې ورځي ورسته به دَ هغه دَ رسېدلو شپې ګنتهې ورسته خو به په الجېريا کي دَ وسا وَ مخي ته دَ هغې دَ کورنۍ له غړو سره هغه هم ائيرپورټ ته ورځي .. لاکن څنګه ؟ هغه خو لاړه ګار شوله .. دَ خدای په کار شوله - خو بيا چي هغه هم نه شي را ، نو به يې له هغوئ سره چرته لټوي ؟ او دَ هغې دَ ناخبرتيا په باب به هغوئ ته څه واي ؟

دا درې ورځي څنګه تېري شوې؟ په دې باندي يو خدای خبر وُ او بل سپلاني ، چي دَ وينښتلي مارغه په شان داسي تېرېدلو ، چي نه رغېدلی شو او نه الوتلی - هر څو که به يې زړه ته دَ هغې دَ ژوند ی پاته کېدلو تسلياني ورکړې ، نو يو دم به داسي سوالونو هغه بيرته په وير کولو وَپارَولو ، چي ..

" هغه که ژوند ی ده ، نو فون ولي نه کوي ؟ او په انټرنيټ باندي ولي له ده سره رابطه نه کوي؟ "

هو ، هغه چي له هري خوا مايوسه شو ، نو يې دغه ورستۍ آرزو په زړه کي په کوټېد و شو ه، چي بس ژر تر ژره الجزائر ته وَ رسېږي - چي که نور نه ، نو دَ هغې له کورنۍ سره يې دَ مړيني غم خو ښه وَ ژړَوي -

**_ 2 _**

له اسلام آباده تر دوبۍ او بيا دَ سوريا(شام) تر دمشق پوري پرله پسې فلائټونو چي هغه څومره ستړی کړی وُ - تر دې زيات هغه ته دَ زړه دُوك هغه وخت وَ لوېدلو ، چي دَ دمشق په ائيرپورټ باندي په څلورنيمي بجې ياني قضا ماځپښين خواته کُوزېدلو سم دستي يې په سپيکرانو باندي دَ خپل بل فلائټ ائير الجېريا له خپل اصل وخت ، ګوا له نهه نيمي بجې ماخُستن څخه هم دولس نيمي ګنتهې ځنډ اعلان تر غوږه شو -

" ګوا دا غونډه شپه به دلته تېرَوم؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې بل سوال په مزغو کې دا راپورته شو ، چې ..

" دلته به کوم څه ؟ "

نو څکه دَ څه سوچ کولو ورسته یې ځان دَ ویزا په کاونټر باندې ناستې هغې کلرکې ته ورسولو ، چې یو خو انګلسي نه ورتله او بل یې وَ سپلاني ته په ټرانزیټ ویزا ورکولو باندې غوټ ځکه یَه کړو ، چې دی پاکستانی وُ - خو دَ ډېر بحث کولو ورسته چې هغه بیا خپل حال ټول ورته تېر کړو ، نو یې دَ سبا تر اتهو بجو پورې ویزا په کاغذ لیکلې ورکړه - او دَ هغه پاسپورټ هغې له ځان سره خوندي کړو -

دَ دمشق ښار په صالحیه نامې ائیریا کې په یو هوټل کې خونه نیولو ورسته یې یو دوې ګنټهې سر وَلګولو - خو آرام نه ورتلو ، نو ځکه یې پام په بله اړَولو په نیت چې څنګه لاندې راکوز شو ، نو یې ټېکسي وَ نیولو او هغه ته یې وَ وئیلو ، چې ..

"دا ښار را باندې وَګوره او بس"

او بیا سم دستي ټېکسي دَ مزا او حمیدیه په لور پېښنه وکړه ، چې مشهوره شاپنګ ائیریاوې دې - دلته هلته راګرځولو ورسته ټېکسي ډرائیور ورته وئیلو ، چې که دائی وَغواړې ، نو زباداني او یُوبرُوت نامې ځایونو ته هم تللی شې - خو خبره دا ده، چې دا دواړه علاقې دَ دمشق بهرنۍ برخې دې او په تګ راتګ کې به څه زیات وخت لګېږي - خو سپلاني ورسره خبره خوښه کړه -

چې دَ دولس نیمې بجې خواته یې سپلانی دَ هوټل مخې ته کُوزَولو ، نو ټېکسي ډرائیور ورته وَوئیلو ..

"دا صالحیه نامې علاقه هم دَ غټو شاپنګ سټورونو پرته بلا نورې زړخوشیانې لرې لکه ښه ښه رېسټورېنټونه او .. "

ډرائیور به لا نور څه وئیلو ، چې سپلاني یې خبره په دغه ځای پرې کړه او کرایه ورکولو ورسته یوې بلې خواته په دې وَګرځېدلو ، چې دا شپه یو رنګه سهار کړي - خو شپه وه ، چې ګرسره نه تېرېدله - لنډه دا ، چې یوه نیمې بجو خواته چې خپلې خونې ته راتلو ، نو دَ سوریا تر نیم درځن زیات عربي او یو اخبار دَ انګلسۍ ژبې په لاس کې وُ او بیا تر دوې بجې پورې یې یوې بلې خواته په دې وجه اړَولو ، چې دَ بغداد دَ هغې نه هېرېدونکې بم چاوډنې پېښې عکسي تفصیل په کې وګورې او یا نوم دَ ډاکټروسا - ولې چې وسا خو دې وخت دَ رضاکارانو په خاص شخصیاتو کې یوه وه - لاکن دَ اخبارونو دَ پاڼو اړولو را اړولو پرته هم هیڅ آئیډیا یې نه کړه ترې لاسه .. نو ځکه یو وخت لکه ماشوم په چوکۍ باندې وید ه شوی لا سم نه وُ- چې دَ سهار په اویکنګ کال یې سترګې خلاسې شوې -

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسته شپه په وېښه تېرولو ورسته چي سهار په لس بجې دَ ائیرالجېریا الوتکه پورته شوه، نو دَ سپلاني په بدن کي هیڅ سپك نه وُ پاته شوی او نرۍ نرۍ تبه یې هم کېدله - دائی په دې سفر باندي تر هغه وخت نه شو پوهـ ، چي الوتکه دَ واړه ستاپ په نیت دَ اُردن په ښار عمان کي نه وه کُوزه شوي - لنډه دا ، چي دَ څلورنیمو ګنټهو دَ مزل کولو ورسته چي دَ دې ځای دَ وخت په سمه په دوې بجې ماځښین په بومیدین الجئیرز ائیرپورټ باندي ځنګه کُوزه شوله - نو سپلاني له تګه داسي لوېدلی وُ ، لکه دَ مودو مودو مریض چي وي - خو بیا یې هم شا وخوا سترګي غړَولو ورسته له ځانه داسي څوکه غوندي تپوس وکړو ، ګوا ..

" ګوره چي وسا به زما وَ مخي ته راغلي وي او که به زه دَ هغې وَ ګور ته ورځم ؟ "

او بیا یې یوه اوږده سړه ساه اخیستلو ورسته ګوره چي په بې خودۍ کي څنګه ترکاونټرونو پوري ځان وَرسولو ؟

یو وخت چي سپلاني په هوش کي راغلو او سترګي یې وَغوړَولې، نو څه ګوري ؟ چي هغه ته دَ وسا اوخنبي جلالي او ورور اینجینئیر عبدالقادرسکاني اوړې ورکړې دي او څوکه څوکه یې دَ هغو دوُ موټرانو په لور بوتللو لګیا وُ .. چي په کي دَ هغه وَ مخي ته دَ هغو دوُ په چپه مهدي ، هاجره، رادیه ، امینه هند ، سمیرا ، زوهېب او سیدعلي هم راغلي وُ - خو وسا په کي نه وه - نو ځکه دَ هغه په زړه کي دا خبره یقیني شوه، چي وسا دَ همېش دپاره ورځخه بېله شوي ده - اوس به یې دَ هغې په باب تپوس ته خله جوړَوله ، چي په ملا ټکولو ورسته قادر ورته وئیلو ..

" سپلانیه .. ستا ډېر زیات ټمپرېچر دی "

" څه وايې ؟ او ما پرېږدئ ، چي خپله درسره تر موټره لاړ شم "

خو هغوئ پرې نه ښودلو ، ولي چي سپلاني شاوخواته کتلو ورسته چي خپله وسا تر سترګو نه شوه ، نو ئې وَ قادر ته په مړو کتلو ورسته په سترګو کي اوښکي مېلمنې شوې او لا ئېې سم دَ هغې دَ مرګ تپوس ورځخه نه وُ کړی ، چي یو ځل بیرته سر ورباندي وَ ځنېدلو -او بې هوشه شو-

سپلاني چي دَ وسا مرګ ئې یقیني ګڼلی وُ بیرته له هوشه لاس په سر شو ، خو بیا هم هغه اورېدلو ، چي عبدالقادر او جلالي وَ نورو ته لګیا وُ وئیلو یې ، چي ..

" هله هله ژر یې در واخلئ ، چي وَ دې نیږدې اسپتال ته یې بوځو"

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو .. په دې ساعت دَ سپلاني زړه دا خبره منلي وه ، چي وسا هغه دَ همېش همېش دپاره پرېښودلو او لاړه مړه شوه - نو ځکه خو دَ هغه په سترګو توره تياره راغلي وه - دَ هغه هيڅ نه وُ په ياد ، خو بيا هم له ځان سره په وار وار بُنېدلو او وئيلو يې ..

" وسا .. زما خورې وسا.. ما کله ته دَ عراق په بمونو پيرزوُ شوې"

او بيا به له ځان سره دَ وهېدلو ورسته داسي په سُلګيانو سر شو ..

" برېښنا ډېره منحوسه ثابته شوه .. زه له هغې نفرت کوم .. نفرت نفرت"

نه يوازي دا بلکې .. وسا وسا وسا غوندي تکراري ټکو سره يې سُلګۍ نوري هم تېزي شوې -

دَ وسا درسته فېميلي ډېره پرېشانه وه او هيڅوك په دې نه پوهېدلو ، چي په سپلاني باندي څه وَ شو ؟ او دې وخت په درځنو ښځې او ځوانان دَ هغه دَ ببۀ شاوخوا ته دَ اسپتال په ايمرنجنسي روم کي ولاړ وُ - او هر يوه له ولاړي ډاکټري څخه پوښتنه کوله چي سپلاني به کله په هوش کي راځي ؟ خو هغې دنګې ډاکټري به په وار وار هر يوه ته په خپله ژبه کي وئيلو ، چي ..

" هيڅ دَ خطرې خبره نه ده.. دا ځوان به ډېر ژر په هوش کي راشي"

خو بلې خواته سپلاني وُ، چي څنګه به ئې سترګي په نيم بې هوشۍ کي خلاسي شولې، نو شاوخواته مړې سترګي اړَولو ورسته به ئې وسا چي تر سترګو نه شوله ، نو بيرته به بې حاله شو - ولي چي وسا په هغو خلګو کي نه وه - نو ځکه به دَ هغه په ذهن کي دا سوال هغه بيرته بې خُوده کړو.. چي ګني که څه هم هيڅوك نه ژاړي ، او وسا مړه نه ده ، نو دَ هغه دَ تپوس کولو دپاره څله نه ده راغلي ؟ او بيا به ئې خپله دا خبره حتمي کړه، خود لکه چي هغه مړه ده .. هم ځکه خو نه شته په دې خلګو کي -

**_ 3 _**

دَ سپلاني سترګي هغه وخت سمي خلاسي شولې، چي دَ اسپتال په ايمرنجنسي روم کي ډاکټرلاميه وړه برېښنا خان ورته رامخي ته کړه او ورسره ولاړي خديجه وئيلو ..

" سپلاني سپلاني .. دا ګوره .. دې خپلي شهزادګۍ ته "

" شهزادګۍ ؟ ياني برېښنا .. منحوسه برېښنا خان "

دَ سپلاني په سواليه برېښنا باندي ډاکټر لاميه چي دَ وسا دَ کشر ورور مهدي مائينه وه ورته په موسکا وئيلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هوهو ، ستا ښائسته لُور هدی‌ل بریښنا خان"

خو سپلاني دَ هغې په خوا لا سم وه هم نه کتلو ، چې مخ یې ورځخه واړَولو ..

" مه یې راښکاره کوه دا منحوسه.. زه ورځخه کرکه کوم کرکه "

او بیا یې سترګې یوې بلې خواته غړولو ورسته دَ زړه له دردہ بیرته اوترلې او یوه اوږده سړه ساه یې لکه ماشوم له سلګۍ سره ملګري کړه - ولې چې اوس خو دَ هغه زړه دا خبره باقاعده منلې وه ، چې وسا مړه شوي ده .. دې وخت که څه هم څو لاسونه دَ هغه تر سره او سینې پورې دَ تسلۍ ورکولو دپاره رسېدلي وُ - خو هغه دا دومره لویه سانحه نه شوه په اسانه سهلی - ځکه چې یو ځل بیا ډاکټرلامیه په ماتي انګلسۍ کې دَ سپلاني پام دَ بریښنا خان په خوا ور اړولو ورسته چې څنګه هغه ماشومه ورته رامخې ته کړه نو سپلاني له خلې داسې لاس واخیستو ..

" لیري یې کړه .. مه راښکاره کوه دا اروا څټلې "

ټولو ولاړو خلګو یو بل ته لا سم په حریانۍ نه وُکتلې ، چې سپلاني مخته خپله غصه داسې کش کړه ..

" .... دا منحوسه ده منحوسه .. بلکې دَ بلا بچۍ ده - موږ ټوله به داسې اوخوري لکه"

خبره یې لا سمه سرته په ستړي غصه کي نه وه رسولي ،چې نابېره یې یو ژغ تر غوږه شو ..

" دا څه واي سپلانیه..؟

دا ژغ څه وُ ، چې سپلاني په پلنګ کي سپك راکښېنستلو او دَ راغلي ژغ په خوا یې مخ اړولو سره سم له خلې ځخه ووتلو ..

" وسا ته .. ته وسا ژوندۍ یې ؟ "

او اوس به لا سپلاني دَ وسا په خوا ور دانګلو ، چې هغه ورته په غټو ګامونو رامخې ته شوه او هغه یې په بېړه باندي بیرته څه سملولو ، چې ورباندي راغونډ و شوُ خلګو یو بل ته داسې په حېرانتیا وَکتلو ، لکه په سپلاني چې دَ لېونتوب دوره راغلې وي - لاکن وسا ښه پوهېدله ، چې داسې شاك هغه ته څله رسېدلی وُ ؟ خو وئیلې یې بیا هم ځکه نه شو ، چې هغې نه غوښتلو ، چې په دروغو باندي برسېره یو بل دروغ وَ واي - نو ځکه یې دَ سپلاني په غوږ باندي خله ږدلو ورسته څوکه ورته وئیلو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دا زما بخت وُ سپلانیه !! چي زه بچ شوم ، ولي چي دَ بمونو دَ چاوْدنو په وخت زه په دفتر کي نه ، بلکې ورسره جوخت په خپل ګیسټ هاوْس کي وم"

او بیا یې په هغه باندي غوزې اچولو ورسته دومره ورسره په ګډه وَ ژړلو ، چي دَ ټولو ولاړو خلګو دا پوره یقین شو ، چي سپلاني لاړو .. زیاته لېونی شو - هم ځکه خو دَ هر چا په سترګو کي اوښکي راغونډې شوي وې -

دَ دوْ ګنټهو دَ ضروري علاج کولو ورسته سپلاني خپله لوُر برېښناخان په غوزې کي اخیستي له خپلي شېریني وسا سره څنګ په موټرکي ناست چي دَ الشراقه په لور رهي شولو ، نو دَ ګاډیانو شمېر له دوْ څخه پنځه شوی وُ - ولي چي جنرل محمد زناخري، ډاکټر هادي او انکل عمر هم په خپلو ګاډیانو کي بچیان دَ سپلاني دَ حال وَ پوښتلو ته راوړي وُ -

_4_

" ما خو ټول حال نن سهار وَ مورکۍ او نورو ته دَ هغې پېښي په باب ځکه وَ وئیلو ، چي زه وېرېدمه، چي دا خلګ تا په رښتیا باندي لېونی نه وَ ګڼي"

او بیا یې برېښنا ورته سپارلو ورسته دَ مورکۍ په ژغ چي دباندي ګامونه رېدلو ، نو یې ورته په خندا کي وئیلو ..

" برایه شپه خو داسي خرکېدلې، چي ټوله خونه دي په سر اخیستي وه"

" ولي نه ..."

اوس به لا هغه هم وَ وسا ته دَ خپلو تېرو درو ورځو او شپو بې خوبې ځواب کوله ، چي په غوزې کي ناستي برېښناخان یې پام دَ خپلي ماشومي خندا په لور داسي واړَولو ، چي هغه څپ کولو ورسته له سینې سره وَلګوله او له زړه یې داسي دُعا ورته وَوتله ..

" خدای دي ژوندۍ او خوشاله لره - ته خو زما او دَ وسا دَ میني نخښه یې زما خورېې لُوري "

او بیا چي یې په غوځیانو باندي بیرته څپ کوله ، نو وسا خوني ته ورننوتله او په مخامخ چوکۍ کي دَ کښېنستلو ورسته یې چي په ډېر حسرت دَ پلار او لور وَ میني ته ور وکتلو ، نو یې له سترګو څخه څو څاڅکي اوښکي په باړخوګانو باندي شاید چي په دې احساس کښته ایله شوې، چي هغې نوی ژوند له دې ځایه خو پېئیل کړی وُ - هم دغه وجه وه ، چي وسا تر اوله زیاته په سپلاني باندي غوړېدله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتلو يې ، چې له نوي سره دَ هغه په ژوند کې دومره مينه وَليکي ، چې هغه لومړۍ مينه يې پرې هېره شي -

که څه هم اوس سپلاني او وسا تر خپلو نوی ژوند آغاز کړی وُ - خو بيا هم دَ سپلاني له فطرته دَ سپل جنون او دَ وسا له فطرته دَ زړو آثارو سره بې کچه مينه نه شوه کمه - ګوا هغوئ غوښتلو ، چې تر خپلو دومره مينه وکړي ، چې دَ تاريخ برخه وګرځي - ګوا چې بيا يې راتلونکو مئينان په پاته شوُ پُلونو باندي تر هغو پوري دغسي جوړه جوړه وَرسېږي ، لکه هغوئ چې خپله هم دَ مخته وتو مئينانو په لاره تر دې ځايه پوري رارسېدلي وُ -

هو ، نوهم ځکه خو دَ الجبريا دَ زړَو تاريخي کنډ والو او دَ بېلابېلو ساحلي ښارونو دَ ښائستو سمند ري څنډ و په رېګونو باندي بيابيا نه يوازي راګرځېدلو بلکې دَ خپلي ميني پُولي پراخولو په نيت خلوص رقم کولو او جذبې تاوْولو په اراده به کله کله دومره مخته هم وَوتلو ، چې له يو بل څخه دَ ورکېدلو ويرو به بيرته دواړه په راستنېدلو مجبور کړلو - او دا لومړی ځل وُ ، چې هغوئ چرته هم په سپل باندي تللو په وار دَ خپلي کوګرنۍ نور غړي دَ نورو کلونو دَ سپل په رنګه نه وړلو - ولي چې هغوئ غوښتلو ، چې يو بل او په خپلو کي هغه لُور احساسه کړي چې له تېر يوه کاله يې دَ پلار او مور تنده په هاجره ، سميرا ، ډاکټرلاميه او امينه هند باندي ماته کړې وه - او تر اوسه لا سمه له هغوئ ياني حقيقي مور او پلار سره بلده شوي هم نه وه -

دَ ماشومي برېښنا خان په موجودګۍ کي که يوې خواته وسا هوسېدله ، نو بلي خواته يې پلار سپلاني چې خپلي لوُر ته دَ " رُوح " ياني دَ هغه او دّ وسا دّ مينې رُوح .. نوم ورکولو کله کله دَ خواړه رقيب په توګه هم وَسنجوله او ګيله به يې داسي دَ وسا څخه وشوله ..

" وسا .. له کله چې زموږ تر ميان دا برېښنا خان راغلي ده .. ته ماته توجه کمه راکوې "

" يقينًا .. چي کله اولاد اوشي .. نو ښځه دَ سړي تر مائنې زياته دَ اولاد مور شي "

خو سپلاني به ورته وئيلو ..

" منم منم .. لاکن دَ دې مطلب دا خو هم نه وي چي .. "

" سپلانيه ..! ډېر اړام نه شوې دَ دې برېښناخان دَ کېدلو ورسته؟ "

" زه نه يم خبر وسا ..خو زه خپل وخت غواړم، پوهې شوې ؟؟ "

" ښه ښه مړې .. ته خو هم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا او داسي نوري دَ ناز ګيلې چي له اصله دَ میني معاملې وې دَ هغوئ تر منځه کېدلې ، خو هغوئ به دې ته دَ میني نوم ورکولو - او په دې کي شك هم نه وْ .. ګوا دَ هغوئ تر منځه دَ برېښناخان راتګ مينه په يو نوي پړاوْ ډهېره کړي وه او دې پړاوْ .. يو نوی ژوند په نوي بڼه کي ورڅرمه کړی وْ .. ځکه خو سپلاني له وسا سره دَ شارجه او دُوبي دَ تفصيلي سپل کولو ورسته هغه له ځان سره سمه پاکستان ته راوړله .. هو په دې نيت ، چي دَ خپلوانو په ذهنونو کي دَ راپورته شوْ سوالونو ځواب وکړي - ګوا هغوئ بېل شوي نه بلکې له يو بله دَ ځينو مجبوريانو له سوبه لري شوي دي -

*****

## فصل ۲۴

# په بحرالمیت کي دَ ازلي مینی ... ابدي یُون

که یوې خواته دَ خلګو په ذهنونو کي دې خبري سر راپورته کولو چي .. ګني ډاکټر وسا .. ولي پاکستان ته نه راځي ؟ چرته خو هغې سپلاني دَ همېش دپاره نه پرېښولو ؟ هو .. هم ځکه خو بلي خواته يې په زړونو کي دَ هغوئ ترمیانه دَ ابدي فراق زېږېدلی شك لا نور نور هم يقين ته نيږدې په دې شو ، چي دَ سپلاني په بهرنئيو دورو کي هم تر اوله کمبوت راغلی وْ - هم ځکه خو به هر ملګري او هن چي دَ کور غړو به لا هم په وار وار پوښتنه ورڅخه کوله چي ..

" څه چل شوی دی ستاسو تر میانه ..؟ چي نه ته ډېر ډېر ورځې او نه هغه درته راځي "

دَ سپلاني په حال يو لوی الله خبر وْ او يا هغه پخپله ، چي دا فراق .. دَ هغه او وسا تر ميانه هغوئ په خپله خوښه نه .. بلکې هغو حکومتي مجبوريانو راويستی وْ - چي په پاکستان کي يې دَ خپل شرعي واده دَ اولي ورځي څخه تر هغه وخته پوري ورڅخه په ګډه تنديان ټکولو ، چي وسا په عزت ورڅخه کوچ نه وْ کړي - ياني چي کله دَ قانون په نامه دَ تورو خواستګرو زړونه دَ وسا له خوا مايوسه شولو ، نو يې دَ هغې دَ تللو کسر دَ خپل هېوادوال سپلاني څخه ايستلو کي پئيل کړو - نه يو ورځ وه او نه دوې .. دَ دې چارواکي خواستګرو لاري دَ هغه په لور لنډېدل شروع شوې - خو سپلاني هم په خپل ضد کي له چا کم نه وْ - ګوا دَ هغو خواستګرو يوه ناجائزه او بې تحريره خبره يې هم نه منله - بلکې دَ يو ايماندار شهري په توګه به ورسره په قانوني لارو مخ مخته روان وْ - هغوئ چي به هر څو ورته تلکي په بېلا بېلو قانوني بهانو درولې .. نو هغه به يې په شکنجو کي نه راتلو - ولي چي هغه په دې خبر وْ ، چي هغه له وسا سره واده دَ شريعت محمدي له لاري کړی دی او خدای پاك به حتماً دَ هغه کومك کوي - نو ځکه يې دَ خپل هېواد دَ قانون په احترام کي له دغو چارواکي قواوْ څخه چي به کله دَ عدالتي نوټس

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلب کولو خبره تېزه کړه .. نو خبره به دَ يو ځو ورځو دپاره سړه شوه - خو دَ ختمېدو په ځای به لا نوره توده ځکه شوه چې زړو چارواکي ځېرو به نوي ځېرې واغوندلې .. او بيرته به له نوي سره دَ قانون په نامه يوه نوي شرمېدلي لوبه دَ سپلاني په حق کي روا شوه -

اوس چې کله دَ خواستګرو دَ پيسو راټولو لاري څنګه په مکمل توګه بندي شولې ، نو هغوئ دَ سپلاني او وسا تر ميانه دَ سفرداسي داسي ناروا خنډونه دَ قانون په نامه درول شروع کړو - چې کله په ځنګلي قانون کي هم تاريخ نه دي رقم کړي - نو ځکه خودَ خپل عزت ساتلو په غرض وسا او سپلاني تر خپلو وصالونه نه يوازي ډېرکم کړي وُ بلکې سپلاني به په کال کي يونيم ځل .. لاکن وسا به په خپل پاسپورټ دري څلور ځله دَ يوې غلې په شان ورته په پټه راتله .. هو ، په دې هيله چې کېدلی شي يوه ورځ دَ عظيم خدای پاك له خوا دَ دې ځناورو په زړونو کي لږه انساني همدردي پيدا شي - او په دې پوهی شي ، چې هغوئ دَ يو څو پيسو دپاره نه يوازي دَ خپل هېواد نوم او عزت تر پښو دلاندي کوي لګيا دي بلکې اسلام ته هم تاوان رسوي - نو ځکه خو يوه ورځ دَ ټېلي فون له لاري ډاکټر وسا دَ خپل ګران مېړه سپلاني مينه په شدت سره احساسولو ورسته دَ زړه له سوخته ورته وَ وئيلو چې ..

" سپلانيه ..! که له ما يوه ورځ خپله ماشومه لوُر برېښنا خان دا تپوس وکړي چې .. ماما ماما .. زما پاپا چرته دی ؟ ولي نه راځي ؟ نو وايه .. زه به څه ځواب ورکوم ؟ "

او بيا يې دَ څه لمحو دَ چپيا ورسته په ډېر ژغ کي خبره داسي سرته اورسوله ..

" هو .. ولي چې ماته داسې ښکاري چې يوه ورځ به ستا دغه ګران هېواد تاته له خپلي لوُر سره هم دَ ليدلو اجازه نه درکوي او يوه نا يوه قانوني بهانه به درته جوړه کړي"

دَ وسا په دې خبرو کي دَ سپلاني دَ هېواد په باب يو لوی لغاز پټ وُ .. خو سپلاني يې ځواب بيا هم ځکه نه شو کولی چې هغې صحيح خبري خو کولې - ولي چې دَ سپلاني سره چې خپل هېواد او هېوادوالو دَ قانون په نامه کوم بد کړي وُ او يا يې کولو - دَ هغو بدو په رڼا کي وسا په خپلي وينا کي صادقه وه ، چې داسي يې وئيلو - نو ځکه خو سپلاني هم په بې ساخته توګه ځواب کي ورته وَ وئيلو ، چې ..

" هو .. برېښنا خان بچی، که په رښتيا داسي پوښتنه يوه ورځ وکړي نو ورته وايه چې .. ستا پلار په جېل کي بنديوان دی "

" جېل ؟ .. په جېل کي خو هم کله کله له خپلوانو سره دَ ليدلو کتلو مواقع ورکول کېږي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر وسا په ژړغوني ژغ کي داسي په مهرومۍ باندي وار څه وکړو ، چي سپلاني نیم هم نه شو پاته او په اندرون کي دومره مات رامات شو چي دَ نه غوښتلو پرته یې هم په زړه باندي یو غټ کاڼی ږدلو ورسته ورته په ماته خله ورته وَوَئیلو ..

" اې زما خوږې وسا ..! نو بیا داسي ورته وَ وایه چي هغه په یوځنګل کي وحشیانو تړلی دی .. چي کله راخلاس شي ، نو به راشي - ګني دُعا ورته کوه بچۍ .. چي وحشیان یې ستا دَ پلار کېدو په جُرم کي مړ نه کړي"

لنډه دا ، چي یو خواته که دَ وسا او سپلاني تر میانه زمیني فاصلې سېوا شوي وې ، نو بلي خواته یې دَ خدائی پاك په کومك او رضا زړونه لا نور نور په یو بل کي ګنډلو ته دَ انټرنیټ دَ لاري هوسېدلو ..
پسخېدلو او هن چي دَ وینو په اوښکو ژړېدلو لا هم - او دغه رنګه دَ دوُ زړونو تر میانه دَ پاکي میني ناروا فراق یو نوی غېرانساني باب دَ هغه انسانانو په مخ دَ څاپېړو وهلو په نیت په راتلونکي تاریخ کي رقم کېدل پیئیل شو .. چي ځانونه یې تر هیڅا هم کم دَ خدای پاك اوحق په لاره نه ګڼلو - که څه هم حقه دا وه ، چي دغو انسانانو ښکاره په ښکاره ناحقي کوله دَ شیطان په خوښه .. خو دَ رحمان او رحمانیانو په زد - او هغه هم داسي په نره ، چي مثال یې دَ تاریخ په غښتلو وحشیانو کي نه پیدا کېږي -

_ 2 _

دَ اوږدو زمیني فاصلو پرته هم چي وسا او سپلاني څومره څومره یو بل ته نیږدې کېدلو ، نو هم هغومره دَ هغوئ تر میانه برېښنا خان دَ خپلي میني له شدته په کي دریمه کېدله - یاني اوس دَ دواړو دَ میني اصل محور برېښنا خان ګرځېدلي وه .. نه چي یو بل ته دَ اول په رنګه دَ میني موسکاګاني - هم ځکه خو اوس به هغوئ یو بل ته انټرنیټ په لاري مینه او دَ میني سلامونه زیات لېږلو او ملاوېدلو به کم کم -

دا خبره چي څومره سپلاني په زړه بده اخیستله .. هغومره وسا دې ته دَ شدیدي میني نوم ورکولو - ورځي په هفتو او هفتې په میاشتو بدلېدلې لګیا وې .. او دغه رنګه یو کال هم تېر شو - سپلاني داسي محسوسولو لکه وسا چي له هغه څخه برېښنا خان لیري ساتل غواړي - ولي چي دَ وسا چکرونه پاکستان ته کم او الجزائر ته زیات شوي وُ - او بلکې کله کله به یې لا داسي خبري هم وکړې ، چي ..

" مور ته دَ برېښنا خان دپاره په الجئیرز کي یو ښائسته کور جوړول په کار دی "

" هو .. ولي نه .. لاکن دا کور چي تا په پاکستان کي جوړ کړی دی ..نو"

" نو څه ؟ هغه به کله دلته او کله هلته اوسېږي "

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره که یې څه هم درسته کوله ، خو سېلاني داسې سنجولو لکه هغه چې اوس له ده څخه فرار غواړي - خو بیا چې به یې بلې خواته دَ هغې وَ میني ته پام شو ، نو به یې په خپلو شېطاني وسوسو وَخندلو -

وسا او سېلاني غوښتلو ، چې دَ خپلې میني اوومه او دَ واده شپږمه کلیزه په اُردن یا ترکۍ استنبول کې وَلمانځي - او هم دغسې وَشولو .. هغوئ دواړو په استنبول کې سره اولیدلو - دَ ترکې دَ تاریخي آثارو برخه جوړېدلو پرته دَ سائپرس دَ ټاپو وزمه هېواد کتلو ورسته دواړو مئینانو ورسته ډېر ژر بیا اُردن ته پېښنه په دې سوب وکړه - چې دَ عمان په ښار کې دننه دَ المدرج الرومي ( رومن تهېټر) په هغو تاریخي پوړیانوکې له یو بل سره په څنګ کې کښېني او دلاندې په جوړ ستېج باندې هغه ټول څه دَ زړه په سترګو وَ ویني، چې رومیانو به دَ ورځې په رڼا کې ورته دَ بېلابېلو لوبو او غونډ و نوم ورکولو - خو دَ شپې مال به په کې دَ دې سیمې پېغلې دَ هغوئ په خوښه رقصېدلې -

دا هرڅه دَ هغوئ په ژوند کې نوي نه وُ، خو هغوئ ځانونه دائمي کولو ته په بیا بیا ځکه چمتو کولو ، چې هغوئ له یو بله بېلتون نه غوښتلو - ولې چې دَ هغوئ یوالی دَ اوسنۍ زمانې په سترګو کې خنډ شوی وُ - دَ زمانې تر ګوزار له مخه هغوئ غوښتلو ، چې دَ تاریخ داسې برخه وګرځي، چې تر ابد ابده یاد پاته شي - نو ځکه هغوئ دَ میني دَ دې ابدي تړون په غرض هر څه هرڅه په داوُ وَلګولو - او ژر تر ژره په تاریخ رقم کولو سر شولو -

هم په دې خو دَ تاریخي آثارو سره تړون پیدا کولو په نیت وسا او سېلاني دَ اُردن هېواد دَ جرش نامي پخوانۍ رومن ستې دَ تاریخي اوال پلازه او دَ کولونادید سټریټ وَ ربړېدلو کالمونو ته له خیاله په ګډه اوړې هم په دې نیت ورکړې ، چې دَ رومن تاریخ دَ دې کالمي ښار هره ستنۍ دَ خپلې میني ولاړه نخښه وګرځوي - خو بیا یې هم ځیني هسك کالمونه له نړېد و نه وَ ساتلو او په مات زړه دَ دې جرش ښار له پخواني ادریان آرك نامي غټ ګېټ څخه دباندې دَ ننۍ دُنیا په لور راوختلو -

بیا دغه رنګه هغوئ دَ عمان څخه 262 کلومیټره لیرې دَ پېټرا نامي تاریخي ځای په لور پېښنه څه وکړه ، چې دَ الدائیرنامي ښخي ستر او زاړه یادګار پرته دَ پېټرا دَ غرونو په پاڼونوکې تراشلو ودانیانوکې جوړې دَ یوې بلې غټې او نوموړې ودانۍ الخازني ( ټرېژري ) نامي ودانې په براند ه کې وسا عربلور په لومړي ځل ځانته په ډېر ویاړ قلوپطره وئیلو ورسته له سېلاني سره ګډ چې کله عکس اخیستلو ، نو یې هغه ته په ځای دَ جولیس سیزر په ډېره مینه مارك انتهوني هم وئیلې وُ - خو چې کله هغوئ له دې ځایه څخه دَ قد یم عربو دَ لاسې جوړ شوُ خدائیانو او خدائیګوټو په لور دَ دوُ تنګو پاڼونو تر میان تېرېدلو ، نو که یوې خواته وسا څوکه څوکه بیرته دَ رومي تاریخ څخه دَ عربیانو وَ تاریخ ته وردانګلو لګیا وه ، نو سېلاني هم کرار کرار په نره پښتني څېره اغوستلو ته جوګه شوی وُ - او دَ وسا په غوزۍ کې ناسته ماشومه برېښنا خان کېدلی شي ، په دې سوب مانېجنه وه ، چې مور او پلار یې خپلې هغه خوږې مورنۍ او پلارنۍ ښې بدلولې وې .. چې هغې دَ خپلې زوکړې په لومړۍ ورځ خپلې سترګې ورباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاسي کړي وي - نو ځکه يې ځان دَ ماشوم احساس له لاري دَ خپلوانو په ځای دَ اغيارو په لاس کي سنجولو او په زوره زوره داسي ژړېدله چي ازانګې يې دَ غرونو دَ پاڼونو تر منځ په دې جوړي شوي تنګي ګټ وزمه ناوېکي يو ويرجن غوندي فرياد تر ليري ليري پوري خورولو لګيا وُ -

**_ 3 _**

دَ پخوانۍ زمانې څخه راغبرګ شوي دغه دواړه مئينان .. که څه هم دَ ننئيو څېرو په اغوستلو نور نور ښائسته شوي وُ .. خو په روئيو کي يې ورو ورو دَ لباس تر حده اخلاص هم ځای نيولو ته جوګه شوی وُ- يو بل ته يې موسکاګاني هم له اوله سېوا شوي وې ، خو دَ ميني هغه بې ساخته او ساده خوړلت يې نه درلودلو - نو ځکه خو به يوه نيمه داسي مرڼه هم کله کله دَ هغوئ تر ميانه راغله ، چي دَ ژبو په سرونو به يې يو بل ته خبري لړې تېزي شولې - لاکن کرکه بغض او کينه يې لا سمه تر ميان نه وه راغلي او نه په دې دواړو کي يوه دا غوښتلو چي ګني دَ بېزارۍ اظهار وکړي - ياني دَ هغوئ ازلي مينه دَ دې زماني دَ سياسي او دُنياوي اخلاص په رنګه دليل ته کرار کرار داسي حاجت منه کېدله لګيا وه ، چي کله به هم يوه مئين وَ بل ته دَ ميني لفظي اظهار نه وکړو .. نو دې بل به خله ګيلې ته جوړه کړه - او ورته وئيل به يې ..

" ښکاري راته داسي لکه زه چي دي هېر شوی يا هېره شوي يم "

او مخته که به دې بل مئين هرڅو ورته دَ ميني قسمونه خوړلو .. خو دَ منلو په ځای به ورته ګيله من اشنا دَ خپلي ګيلې لکۍ دَ خفګان تر حده اوږده کړه او مخ به يې دَ يو څو دقيقو دپاره په بله ورڅخه واړولو -

لنډا دا ، چي دَ نوي دور په حال او خيال کي مست دغه وسا او سپلاني په لوړو ژوروکي جوړ دَ عمان په سپينچکي ښارکي يو څو غرمې دَ وسط المدينه په تنګو بازارونو کي په سوداګانو کولو او مازيګريان دَ جبل الحسېن ، زاهران ، عبدلي او شميساني په لارو کوڅوکي په سېل کولوکي تېرَولو ورسته يوه ورځ په وادي موسا کي ځکه ورسم شولو - چي هغوي غوښتلو ، چي خپلي ټولي تاريخي ښې او زنګ وهلي مخونه چرته تر خاورو دلاندي کړي - ولي چي هغوئ مينه دَ انتها وَ انتها ته رسولي وه -

سپلاني که څه هم له خپل پرون څخه دَ ښتو شلولو په حق کي نه وُ ، خو دَ وسا دَ خواهش په وړاندي يې داسي کولو ته هم ملا وَ تړله -لاکن له بده مرغه .. دَ اُردن په ناوُکې چرته چي به خاوري وې ، هلته به دَ کډ والو عربيانو توري کېږدۍ ولاړي وې او بيا چي به چرته خلګ تر ليري ليري پوري نه وُ ، نو هلته به خاوري هم نه وې - ګوا هر لور به زيږه کاڼي ، ژغل او پلني پرشي وې - نو ځکه خو هغوئ څه نور وړاندي په وادي موسی کي تللو ورسته لاره بدله کړه او په وادي لوط کي ورچپ شولو - خو له بد ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغه دلته هم هغسي کيسه وه - نو ځکه خو هغوئ دواړه چي ښه ستړي شولو ، نو يې پنډي له اوږو څخه په لويه لاره کي وَ غورځولې - او اوس به بيرته دَ شا په لور ستنېدلو ته چمتو کېدلو ، چي مخامخ يې په توربخونو ډم شوْ ولاړو اوبو باندي سترګي وَنخښتلې -

"وسا وسا ...!! دا هغه اوبه نه دي .. چي دَ حفرت لوط عليه السلام ښار يې په خپل شکم کي خوندي ساتلی دی ؟ "

سپلاني چي څنګه داسي خبره له خلې څخه يو دم وَ ايستله ، نو وسا دَ هغو شنو اوبو په لور کتلو ورسته ورته سر په اثبات کي ښورولو ورسته وَ وئيلو ..

" هو سپلانيه.. دا هغه بحرالميت دی ، چي په مړو اوبو کي يې هيڅ يو شی هم ژوندی پاته کېدلی نه شي "

" نو بيا "

" بيا څه .. ؟ "

*وسا عربلور دَ سپلاني پښتون زوی دَ* خبري په ځواب کي دومره وئيلو ورسته دَ خپلو پخوانئيو څېرو درنه پنډ ه په اوږو بار کړه او له ځان سره داسي وَ بُونېدله ..

" هوهو .. هم دغه خو هغه ځای دی سپلانيه ..! چي موږ يې په لټون کي ستړي شوي يُو "

" ګوا.. دا اوبه به زموږ ستړياګاني وسا کوي وسا ؟ "

دَ سپلاني په دې نابيره تپوس باندي چي وسا دَ هغه په لور سترګي ور اړَولو ورسته اوږده لاکن ډېره سړه ساه څنګه له خلې څه وَ ايستله ، نو دَ سپلاني په زړه کي ناڅاپه يوې ويري ځای وَنيولو اوخولې ورباندي راماتي شولې -

اوس به لا هغه تپوس ته خله جوړَوله ، چي وسا ګامونه مخته داسي په تادۍ اوچت کړو لکه هغه چي هرڅه هرڅه شاته پرېښول غواړي لګيا ده - په دې خو سپلاني هم دَ خپلو زَړو څېرو پنډ ه چي په کي دَ جنرل مارك انتهوني څېره هم مرګي حاله پرته وه په ملا باندي واړَوله او ورپسې هغې لور ته روان شو ، چي ورڅخه راستنېدل کله هم ممکن نه وي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ځکه خو چي څنګه هغوئ دواړه په اوبو کي ورګډ شولو ، نو دَ وسا په غوزې کي ناسته وړه بربښناخان چي په وار وار يې شاته دَ سپلاني پلار په لور کتلو داسي يو دم په ژړا سر شوله لکه هغه چي په چيغو چيغو کي ورته واي -

" بس کړه مامابس .. نوره مخته مه ځه .. مه ځه ، مه ځه ماما مه ځه .. مخته اوبه ډېري ژَوري دي او ګوره .. دَ پاپا لامبو هم نه ده زده ... هغه به ډُوب شي ماما"

لاکن وسا وه .. چې تم کېدله نه او مخ مخته روانه وه - ياني دا هغه ورستی ساعت وُو چي دَ سپلاني زړه وَچاوُدلو او اوښکي يې له سترګو څخه دَ هغه دَ هغې لمن په لور لاري جوړَول شروع کړې ، چي هغه له عمرونو عمرونو راهسې وَ خالق ته دَ خپل هغه ارمان پوره کولو دپاره نيوله لګيا وُ ، چي نن يې په مجسم شکل کي دَ سترګو وړاندي دَ فنا په لور بيرته ستنېد و بيرته - خو وئيلی يې بيا هم ځکه هيڅ نه شولو ، چي هغه دَ خپلي ازلي ميني په وړاندي په پښتني ننګ ابد ته لاري لنډَولې -

" وايه سپلانيه .! . سترِی خو نه شولې ؟؟ "

" يه يه .. ما خو لا ګامونه سم اوچت کړي نه دي "

سپلاني دَ وسا دَ هغه ورستني ، خو ډېر پسخوندي را غبرګ شوي نظر په ځواب کي چي څنګه له ځان سره داسي وَ بُونېدلو ، نو هغې ورته بيرته سترګي په ډېري حېرانتيا په دې را واړَولې، چي دائ اوس دَ خپلي ميني په جنون کي که څه هم په آخيري سلګيانو کي دَ ابدي رښتو وَ ساتلو ته هڅوال وُ ، خو په شونډو باندي يې دَ موسکا تاثر شايد چي په دې سوب لا خو بربښېدلو ، چي هغه په خپلو هوډو کي کلك پښتون وُ او پښتانه کله هم ماته خوړلو ته غاړه نه ږدي -

هر څه هر څه .. لاکن خپل ضد ته جوړېدلي وسا ، چي که څه هم دې وخت دَ خپل پرون څخه دَ فرار په کست دَ راتلونکي څرکېدونکي پرون په لور وَ تللو ته جوړېدلي وه .. او نوره نوره مخته داسي په غټو ګامونو روانه وه لکه هغه چي دَبقا نه، بلکې دَ فنا په لور ور رهي شوي وي .. خو بلي خواته سپلاني وُ ، چي دَ خپل صادق زړه سره په ښه نيت مل ښکاره کېدلو او ورپسې روان وُ - هم ځکه هغه يو دوه ځله وَ هم درېدلو.. هو په دې هيله چي وسا به يې په لور بيرته راستنه شي او دواړه به دَ وچي په لور لاس په لاس هغسي روان شي لکه څنګه چي په تېرو اووُ اتهو کلونو کي دَ دُنيا په وړاندي ښکاره کېدلو- خو کستناکه وسا وه ، چي ګرسره يې شاته نه کتلو او په غټو ګامونو مخته روانه وه - په دې سوب خو دَ ميني په رښتو کي ورسره تړلی سپلاني دَ نه غوښتلو پرته هم ورپسې دَ اوبو دَ بهاندو څپو په زد که يوې خواته ځوکه ځوکه ټکېدلو ، نو بلي خواته يې دَ اوبو دَ څپو له څرپې سره سم څُوکلېدلو څه ، چي نور نور په اوبو کي ډُوبېدلو هم لګيا وُ .. اوس که څه هم اوبه دَ هغه تر اوږو اويښتي وې او دَ هغه تش سر ښکاره کېدلو ، خو له خپل ښه بخته سپلاني ډُوبېدلو بيا هم ځکه نه ، چي دا حقيقت دی ، چي دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحرالميت اوبه ساداره نه ډُوبَوي - هو ، په دې سوب خو په هغو دواړو مئينانو کي يو هم نه شولو ډُوب ...او ځان ځانته يې دَ سمندر دَ مستو څپو په زد بيرته له ژوند سره دَ ساهګانو رښتې ساتلو په نيت له نوي سره لاسونه او پښې وهل پئيل کړو ..لاکن دَ بهاندو څپو سره سم مخته مخته وَتلو په غرض .. نه چي په خپله خوښه - خو دَ دې هرڅه پرته هم دَ برېښنا خان په خلې کي هم دغه يوه خبره وه چي تکرار کېدله ، ګوا ..

" پاپا .. ماما .. پاپا ماما "

او ماما پاپا يې په ماشومو سترګو باندي ليدلو چي دَ هغوئ ژوند دَ سمندر دَ څپو په شمېر نور نور کړکېچن کېدلو او دواړه له يو بل څخه دَ بحرالميت دَ سيند وزمه سمندر څپو ورو ورو لري کولو لګيا وُ - که څه هم *سپلاني پښتو نزوی* دَ شرق دَ وچي په لور او *وسا عربلور* دَ غرب دَ ګل ويني څنډې په لور مستو څپو دېکلو - خو پرته له دې دَ يو بل څخه بيا هم ځکه نه شو بېلېدلی .. چي هغه ماشومه لُور *هدی‌ل برېښنا افضل خان* يې تر ميانه دَ ژوند ورستی. لاکن ټينګه وسيله پاتې شوي وه - هم ځکه خو دواړو په وار وار دَ هغې په لور کتلو ... او هغه وه چي په ورو ورو سلګيانو کي يې کله مور او کله پلار ته داسي په ډکو سترګو کتلو ، لکه هغوئ چي دَ خپلي ميني دَ کيسې سر فقط دَ هغې دَ ژوند تر آغاز پوري دَ رسولو کست کړی وي .. هو ، شايد په دې چي هغه به دَ هغوئ دَ ازلي ميني دغه کسيه مخ مخته نه يوازي بوزي بلکې دَ سبا پسې راتلونکي بل سبا ته به يې هم په دې نيت او نصيحت سپاري .. چي دَ سپلاني او وسا دَ پاکي ميني کيسه تر ابد ابده پوري په دې رښتوني ثبوت وَ رسېږي چي "

" دَ مئينانو تر مينځ لاري خو وختي تړل کېدلی شي .. لاکن مينه تر مرې هيڅکله ځکه نشي نيول کېدلی چي مينه دَ هغې ابدي رشتې نوم دی .. چي ابد دَ ازل سره په تړلي وختي بحرانونو کي په " نهه نيوي " داسي لارو باندي وېښلی لري چي دَ تکميل په نېك غرض هره لاره دَ هغې "سلمي" لوي لاري په لور غزوني کوي چي .. دَ دې درست کائنات اول و آخر خالق او مالك پرې زېږونه کوي "

*****

# دَ تاريخي حوالو تصديق

*( دَ رښتوني کيسې دَ سوځوالي په غرض په ناول "پروني مخونه" کي ذکر شوي ټول تاريخي کردارونه ... نه يوازي دَ هغوئ سره منسوب شؤ منصبونو ، خوُيونو او غوره تاريخي واقعاتو سره ګنډل شوي دي بلکې تصديق يې دَ ځينو انسائيکلوپيډياګانو پرته دَ دې لاندېنئيو کتابونو او مجلو څخه هم تصديق ته رسول شوي دي* ـــــ افضل شوق )

- دُنيا کي قديم ترين تاريخ – باباۓ تاريخ ـ هېرو ډوټس – اُردو ترجمه – ياسر جواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

- انبیاي کرام نمبر – سیاره ډائجیسټ -

– تاریخ نمبر – سائنس مېګزین -

- ان سائیډ ګائیډ .. دي نائیل - مصر

- پیرامیډز- آئي ویټنیس ګائیډز - قاهره

- ایجپټ – کاسموس - لندن / قاهره ( مختلفي ګڼې )

- ساونډ ایڼډ لائټ شو ــ ( مصدقه سټېج ډرامائي تشکیل ) ویډیو او آډیو ټېپ -

- قاهرو – منسټري آف ټورزم ایجپټ - مصر

- لوکسور اینډ آسوان - منسټري آف ټورزم ایجپټ - مصر

- آسوان اینډ نوميبيا - منسټري آف ټورزم ایجپټ - مصر

- الېګزېنډریا – منسټري آف ټورزم ایجپټ - مصر

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library